


د افغانستان ملي تحريک
AFGHAN NATIONAL MOVEMENT
2013 ۱۳۹۲

# مهاتما ګاندي

## ژوند فکر او مبارزه

ليکوال: پروفيسور عبدالخالق رشيد

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مــهاتــما ګــانــدي

## ژوند، فکر او مبارزه

لیکوال:

پروفیسور عبدالخالق رشید

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: مهاتما ګاندي- ژوند، فکر او مبارزه

لیکوال: پروفیسور عبدالخالق رشید

خپرندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۱۸)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اهدا :

## شاغلي کرزي ته!

**چې که  د باندنیو ښکېلاکي او کورنیو فسادي ځواکونو**

**ناروا وې  یې په څنګ کې نه وي،**

## ښه ګاندین ملګری دی.

## رشید

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


سرلیک مخ

سريزه ---------------------------------------1

## لومړۍ څپرکی

ګاندي : ژوند او مبارزه----------------------------------7

## دويم څپرکی

ګاندي او عدم تشدد---------------------------------48

## دريیم څپرکی

ګاندي او سرحدي ګاندي----------------------------69

## څلورم څپرکی

ګاندی ديوشميراوسنيوهنديانو او نړيوالوپه نظر: -------------------90

## پنځم څپرکی

دګاندي مرغلرې----------------------------------210

ماخذونه : ---------------------------------------213

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملي کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

« که کوم شی تاسو تنګوي ، تا سوپه قهرکیدای شئ ،
خو ځان به نه ګناهګاروئ »   ( دمقدس کتاب زبور آیت )

# سر يزه:

فکرکوم نن سبا  به په نړۍ کې داسې ملت او داسې ژبه نه وي چې هغوی به دداسې یوه سترانسان  اویوه نومیالی (مهاتما ګاندي ) له نامه ، مفکورې او مبارزې څخه نه وي خبر ،  په دې چې دغه لوی انسان په خپل عصرکې په دې وتوانیده چې دانساني تقوا او ویښ فکري تمایل په مرسته په هغه پلو کې ودریږي ، هلته چې  دانساني  ذلت ،غلامۍ او بدمرغۍ په وړاندې په خپله پراخ انسانیت دمقابلې یوه پراخه او ناپایه جبهه جوړه اورامنځ ته کړې وه. هلته چې دتورتم په وړاندې درڼا ، دغلامۍ په وړاندې د آزادۍ اودخوارۍ پرضد دپرمختګ پوښتنه په جدي توګه نه یوازې هندیانو بلکه ټول محکوم انسانیت دخپل برخلیک ټاکلو اوخوندې ساتنې یوازنې لاره وبلله . اودغو ټولو نومونو او اصلونو پرهمدغه تاوده مهال  کې دمهاتما (لویی اروا ) ګاندي له تلپاتې نامه سره ځان ونښلاوه.
ګاندي اوس په  نړې کې یوازې دیوه خوار اوډنګرهندي مبارز نوم نه دی بلکه دغه نوم اوس دنړې  دعدم تشدد دمبارزې دتاریخ یولوی  اوژوندی ځپرکې دی ، هغه ځپرکی چې انسان اوس په دغه اتومي ناتارکې تربل هروخت هغه ته اړدی  اودهغه په لوریې تربل هروخت زیاته ورمخه کړې ده ، ځکه نو دابايد ووایو چې عدم تشدد دشلمې پیړې یوداسې مفکوروې بهیردی چې په ګرد بشریت پورې اړه لري او دیوه ګډبشري تلپاتې میراث په نامه سره یې  یادولای شو..
زه چې په دغوحالاتوکې دګاندي اودهغه داندوژوندپه  اړه  خبرې کولواویوخه لیکلو ته اړشوی یم ، دهغو یوځرګند لامل دادی چې نورنو زموږ په شاوخواکې تشدد او زورزیاتی دومره زیات شوی چې  دهرانسان تر زړه اوپښنولاندې مځکه لړزوي او سړی داویلای شي چې که دغه اوسني حالات  همداسې خپله لړۍ اوږده کړي ، نو لرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې دغه نړۍ به ډېره زر په يوه غميزه ونه واړې ، له لويديزه ترختيــزه ، بشــريت هره ګړۍ اوهره شيبه يوناځرګند تورتم او ديوه بل مخروطي ناتار بربادۍ ته ســترګې په لاره دی ،امريکايې وچه له شماله ترجنوبه په يــوه غــچ اخيســتونکي بهيربانــدې اوښتې او اوسنی سياسي تګلاره يې ددې لامل شوې چې نورنو ټولــه نــړې لــه دغــه پرمختللی هيوادڅخه دمخ اړولو په تکل کې شي . افريقا لاهم دلوږې اوخــوارۍ لــه منګولو نه ده وتلی ، لاهم پرمختللې نړې ته سترګې په لاره ده چې مرســته ورســره وکړي اودانسانی خواخوږۍ يوه انساني تګلاره بايدله دغې الماس توليــدونکې وچــې سره وڅارل شي . ايشياهم داسې درواخله ، دلته ددغې وچــې پــه زړه کــې عــراق ، فلسطين او افغانستان همدااوس په اورکې سوځي ، عراقي ملت دهيڅ په خاطر لولپه شو، دپاکستان په دننه کې هم يوبم مخ په چاوديدو دی داچې کله اوښنګه ؟ دې تــه به يوڅه نورهم سترګې په لاره شو، هندوستان هم که دګاندي تګلاره ونه څاري لــه يوه سخت ګواښ سره مخامخ کيدونکی دی، لوږه او دوګړو زياتوالی ، اتومي ليوالتيا او پرهغې وياړکول ددغه ګواښ لاملونه دي ، ايران هم دامريکايي غيرمستقيم ګواښ په وړاندې دځپل تقديرټاکلو په لورځپلې شپې ورځې شميري .

داټولې خبرې دي چې په نړۍ کې يې دنشه يې مافيا او اتومې وړتيا پراختياتــه لاره پرانيستې ده اوبشريت يې دې ته ناچارکړې چې بايد دځان دخوندي ساتنې لپاره لــه هغو ټولو هلوځلوڅخه کارواخلي هغه چې ددغه پراخ ناتاراودغې بدمرغې غميزې پــه مخنيوي کې له بشريت سره مرسته کولای شي.

موږ هم ناچاريو چې ديادوشويوناورينو دپای ته رسيدو لپــاره بايــد دبــودا ،عيســی ، ګاندی اوپاچاخان په لورسترګې وغړووااوددغه پراخ مکتب تګلارو او اصولو ته ورمخه کړو . بشريت اوس په دې پوهيدلې چې داوسني اتومي ناتارترچترلاندې دخونــدي ساتلو يوه لاره همدا نه زورزياتی دی چې بايد دهغــې پــه مرســته بشــريت وروزو ، بشريت خبرکړو اودا حقيقت يې بايد په مخکې کيږدو چې که تشددته دهرچامخــه کيږي اويانړيوال زورځواکي ځواکونه يې دځان لومړنی او وروستنی حق بولې هغوی بايد په دې هم پوه شي چې د دوی ددغه کار پايله له عامې بربادۍ پرته بل څه نه ده. بشريت ته دم ګړۍ يوازې همدغه دعدم تشددمعنويت ورپاتې دی چې په هغه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهر قام ، دهر ملت او هرې انساني عقیدې انساني وړتیا او مرام خوندي دي او دازموږ په عصرکې یوازنی رښتنی معنویت دی چې انسانیت ته تسل ورکوي او په ډاګه هغه دمولانا دفکری معنویت دکانې کرښه خبره یې پرسترګو دالهي ډالۍ په توګه راکاږي چې :

از دیو ودد ملولم انسانم آرزوست .

معنویت په رښتیا او رښتیاینی سره دڅ وند دستړي کاروان لارښونه کوي او په بـري سره یې دسرمنزل پولې ته رسوي ، دیوه هندي لیکوال خبره ده چې : « دربښــتیا او رښتیاینې مخ په سرو زرو پوښل شوی ، څوک چې غواړي دغه حقیقت ته په رښــتیا ینې سره ځان ورنژدې کړی ، نوکله چې له هغوسره تماس نیسي هغه خپله په ســرو زرو اوړي...»

( Prof. S.P. Kanal , *Quest for trust* , New Delhi , 1976 P 738)

دپورتنۍ نامې خبرې دلیکوال په نظرله دغې خبرې سره داټکی هم مل دی چې پـه سرو باندې اوښتل په خپل وار دومره ساده خبره هم نه ده لکه چې دلته یې سړی په ساده توګه لولي ، مانا داچې دغې رښــتیاینې تــه رســیدل پــه خپلــه دســړي پــه کړواواعمالوپورې تړلې اصل دی چې عملي کیدل یې یوه تیاري اوپوره قربـانۍ تــه اړتیالري ، قرباني په دغه ترڅ کې یوازنی شرط دی ، داسې چې بایــد پــه هراړخیــزه اوڅوبعدي توګه په پام کې ونیول شي .په دغه برخه کې زیاتره پوهان په دې بــاوردي او دګاندي په اړه هم داخبره کوي چې دګاندي لویه ځانګړنه داوه چې هغه بــې ادعــا سړی و ،چې په خپل ټول ژوند کې یې دادعا لپاره یوځل هم غږ پورته نه کړ، پــه دې چې ده نه غوښتل ځان له عامې هندي ټولنې لوړوبولې ،ددې لپاره چې هغه دخپلــې ټولنې په رښتیاوو باندې ځان پوه کړی وي ، تل یې هڅه کوله چې لـه خلکـو ســره دهغوی په شان وي ، دهغو په شان ژوند وکړي ،له هغو سره په هغه شان لکه څنګــه چې دوی دي په اړیکوکې وي اوپه هماغه شان لکه دی باید خپلو همنوعانوته ځــان وښیي .

دګاندي په نظر یوازې هغوی چې عمل اونظریې ســره یوشــي وي کــولای شــي پــه رښتیاینه باندې پوه اوبرلاسی شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي به تل له مورړ سره تلپاتې وي ، په دې چې ده دانسان لپاره دهغه دانسانيت دپايښت په خاطر په خپل زمان اوخپل چاپيريال کې ژورعاطفي فکروکړ، همداده چې دده په اړه ويل شوي دي :

« هغه زمورږ مورالي ايديالونه اوارزښتونه له يوې خوا رانوي کړل اوله بلې خوايې راتازه کړل ،ايی . ايم . فوسترپه دې باوردی اووايي چې هغه بايد زمورږ دعصر ترټولو لوړاواوچت انسان وبولو...

همداسې جي . اچ . هولمس بيا ګاندي دهند دستروياړ بودا او دستراستازي عيسى په شان لوړبولي ...

ددغو ټولوخبرو موخه داده چې ګاندي خپل تيرمهال له خپل اوس مهال سره په داسې يوه پياوړی ديالکتيک کې طرحه کړ چې دهغه بنسټ يې پر معنويت باندې کيښود ، هغه په معنويت باوري انسان و اوپرهغه يې دخپلې پياوړې عقيدې په توګه په ژوند کې کلک ټينګاروکړ، ان چې معنويت يې دشخصيت اوکرکتر دپياوړتيا رمز وباله دزغم وړتيايی پرې ورزياته کړه اودزغم درس يې ترهرڅه دمخه په خپل ځان باندې په خپل ژوند کې عملي هم کړ .

ما ډيرکاله په هندوستان کې تيرکړل دګاندي په اړه مې وليکل او په ډيروکنفرانسونوکې مې برخه واخيسته او اوس مې دادي يوڅه ګډې وډې دکتاب په بڼه هم پرې وليکلې ، په ډيروعلمي ناستو کی ډيرو پوه اوشعوري هندوانو له ماڅخه داپوښتنې وکړې : نورې خبرې نه وې چې پرګاندي اودهغه په مفکوره باندې دې په داسې وخت کې چې نورنوډيرې هندوانو هم خپل باورپرې له لاسه ورکړی ورمخه کړه ؟

دهمدغې پوښتنې په تړاو غواړم خپل لوستونکي ته داخبره وکړم چې ما په رښتياهم دغې ليکنې ته په داسې ناچاره شيبه کې ورمخه کړه لکه چې ګاندي جي په خپل وخت کې له ناچارۍ عدم تشدد دخپلې ستونزې دحل يوازنی رمز او راز وباله اوپرهغه يې ورمخه کړه . ګاندي به ويل چې انګريزان داسې څوک اوداسې ځواک نه دی چې هغه به دتورې په زورله ملکه وباسو، دده په نظر دايو ناشونی کار و، څکه يې په پای کې داخبره غوره وبلله چې له شعوري دښمن سره بايد په شعوري توګه مبارزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي ، په دې مانا چې هرڅوک که ټوپک ته لاس کړي نوبياهم مرګ دهغه لمنه نيسي ، دهغه ملت تباه کيږي اودښمن يې نورهم دځان لپاره پرهيواد باندې دواکمن کيدو لاملونه موندلای او ترلاسه کولای شي . ګاندي په دې پوهيده چې انګريز مقدوني سکندر او چنګيز نه دی او نه هم داسې څواک دی چې په پټوسترګويې پرهندوستان باندې خيټه اچولې ده. انګريز يوشعوري څواک دی ، شعوري عمل کوي ځکه نو دهغه په وړاندې مبارزه هم بايد شعوري وي نه جذباتي ...

زمالپاره هم دغه ټکی زموږ دعصراو زموږ دستونزې دحل په برخه کې دپاملرنې وړ شو . هغه چې بايد ددغه عصر دليونيو اويرغلګروځواکونوپاملرنه هغه ته راواړول شي ، دوی او موږ دواړه بايد ځان په دې باوري کړو چې :هغه څه چې سوله کولای اورامنځ ته کولای شي هغه جګړه نه کولای شي او نه رامنځ ته کولای او هغه څه چې نه زورزياتی يې کولای شي هغه زورزياتی اوتشدد نه شي کولای ، عدم تشدد يوه انساني تجربه ده چې سړی پرې دزړه له کومي باورکولای شي ، ځکه نو زموږ لپاره هم په دغه ترخ کې ترټولو ښه او دپاملرنه وړخبره داده چې بايد پردغې کانې کرښې باندې دځان اوخلکو باور داسې پياوړی کړو لکه چې ګاندي اودهغه ملګرو په خپل عصرکې دانساني غميزې دحل په خاطردغه بشپړه او رغنده تګلاره دستونزو دپای ته رسيدو په خاطر په عملي توګه رامنځ ته کړه اوعملا پرې مخ په وړاندې ولاړل .

په دغه رساله کې تاسې ګاندي پيژنۍ اودهغه تګلاره ، تاسې عدم تشدد اودهغه ښيګړې اودننۍ نړۍ په ستونزمن چا پيريال کې ددغې معنوي پديدې اړتيا درک کوۍ ، تاسې په دې پوهيږۍ چې په دغه نړۍ کې هټلر، استالين ، چرچل ، روزولت ، موسوليني اوترهغو راوروسته تارچر، ريګن ، بوش او په سلګونو داسې نور زورياتي چې په جسمي اوظاهري لحاظ دهرڅه خاوندان وو له يوه خوارځواکي سابه خوړونکي هندي مشرسره په يوه وخت اويالږ وړاندې وروسته عصرکې راوپړکيدل ، خو کوم څه چې هغوی وکړل او څه چې ده ترسره کړل ، هغه ګرده په همدغه عصرکې وو ، چا نازيزم وپاله ، چا دکمونيزم په نامه او چاهم دشونيزم او راوروستو مختورو خو د دموکراسۍ په نامه هم خپل اوهم دنورو سرونه مات کړل ،خو هغوی چې له نوموړو ايديو سره په يوه وخت کې له دوی سره ولاړ نه شول اود دوی برعکس يې خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوله ییزه تګلاره رامنځ ته او پرمخ بوتله ، هغوی نن دانسانیت پرآسمان باندې دهغو ستورو ځای غوره کړ چې دځمکې دکرې پرمخ په هره خوا اوهرځای کې هرچا اوهرې خوا ته روښانه ځلیږي او دهرچا مینه پرې راځي . ګاندي اوهغه مفکوره لـه همـدغو ستوروڅخه یوداسې ستوري دې چې په خپـل عصـرکې یـې لـه خپلـو یارانوسـره دژوندسوله ییزه بیړۍ د استعمار پرظالم زړه وروخیژوله او ځان یـې ترهغـه ځایـه پورې په بري سره ورساوه ،چې هلته یې دهرچاله خولې داواوریدل چې :

**هغه زړه به له توپانه په امان وي چې کښتۍ غوندې دخلکو باربردارشي**

ګاندي اودهغه شعوري تګلاره نن په ټوله نړۍ کې دهغوی لپاره چې دسرې وژونکـې اتم بم دغرور پر وزرونو نه دي ناست یوهوسا اوخوندي دمه ځای دی ، باید چې ددغه دمه ځای (ساتیاګرۍ ) تر چترلاندې دآزادۍ او تلپاتې هوسایۍ په لور دهغـوی پـه وړاندې چې په جګړه نازیږي ،انسان وژني ، دنورو پرهیوادو وربلوسي ،تمدن له منځه وړي اوانساني شتمۍ لوټي له ګاندي اودهغه له نومیالي دوست پاچاخان سره یوځای یوځل بیا دآزادۍ پرکاروان پسې روان شو. ځکه چې دا دبشریت او بیا زمـوږ لپـاره داوسني امریکایي یرغل چې لمنه یې نوره هم دختیز پرلور راخوریدونکې ده دنجات اوژغورنې یوازنۍ لارده . او ګاندي دغه هدف ته درسیدو په خاطر موږ ته په ( ځوان هند - ۱۹۲۹ کال دجنوري ۵ ) کې مشوره راکوي چې :

**« موږ باید دغلطیو ، درغلیو او نورو نیمګړتیاوو پرمخ یوازې دخوړو (خیتې ) له امله پرده وانه چوو ، په دې هم باید پوه وو چې که زموږ ورور هم زموږ معنویت اودهغه ودې ته په زیان رسولو باندې لاس پورې کوي باید چې ځان پرې ناګار او ناخبره ونه نیسو»**

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

*یو ورور باید په قصدي توګه دبل ژوندي موجود ژوند ترې وانخلي ...*

«بودا»

# لومړی څپرکی

# ګاندي: ژوند او مبارزه



**مهنداس کرم چند ګاندهې** دهنداوختیز دشلمې پیړۍ له نومیالیو لاربښوونکو ، آزادی غوښتونکواوسمونوالوڅخه و ، دده په اړه نن سبا دنړۍ په هره برخه کې لیکنې کیږي ، درناوی یی کیږي اوله افکارویی ځانونه خبروي ، ځکه نو زه دلته دده دانـــدو ژوند په بیلابیلو برخوباندې تته رڼا اچوم داسې چې دهغې په ترڅ کې به دده د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزيات په وار وار سره ځان ګرانو لوستونکو ته ددغه اثر دبيلابيلو څپرکو په ترځ کې دده له نړۍ ليد او فلسفې سره يوځاى راځرګند کړي .

ګاندي جي ته يې ټولنې دپلار په سترګه وکتل اود(بپو) په نامه يې يادکړ ،داځکه چې ده په خپل وخت کې دشلمې پيړۍ دنړيوال زوروزځواک په وړاندې دمبارزې يوه ځانګړې لاره چې هغه دنه زور زياتي ياعدم تشدد لاره وه غوره کړه اودايې دخپل قوم اوخلکو داوړدومبارزو ترټولو غوره ، بريمنه اوژغورندويه پايله اومبارزه وبلله ، دى که په خپل هيواد کې و اوکه په جنوبې افريقاکې ، په دواړو هيوادو کې يې دتيري اوتجاوز په وړاندې خپلو هلوځلو ته کله بشپړ او کله هم نيمګړې دوام ورکړ،همداوه چې نړۍ ډيرزر دده دمبارزې په حقانيت باوراوايمان پيداکړ اوملت يې دى دانګريزې ښکيلاک په وړاندې ديوه سرسپارلي او پياوړي لارښود په توګه دآزادۍ په خاطر په خورا ايماندارۍ اورښتيايني سره بدرګه کړ.

ده دنه زورزياتې مبارزه دانګريزي ښکيلاک په وړاندې پيل اوپرمخ بوتله ، اوخپله دغه تلپاتې تګلاره يې ددغه ښکيلاک په وړاندې په خپله ګجراتي ژبه د (ستياګرۍ) په نامه ياده کړه ،ګاندي دغه ويى له خپلې مورنۍ ژبې ګجراتي ژبې څخه راغوره کړ چې (سات ) يې د(رښتيا اومينې ) او(اګره ) يې د(صبر، زغم ، نرمښت، هوډ ) په ماناده . ساتياګره په عمومي لحاظ هغه غورځنګ شو چې په هغه کې دګاندي تګلاره هغه چې په رښتيايينه ، نه زورزياتي ، نه جنګيدوبانـدې ولاړه وه اودهرډول توپير( مذهبي ، ژبنۍ ، ملي ، رنګ اونورو ) ضد د انساني حقونوترلاسه کولو لپاره په ګوته شوې وه راپيل شوه ، ياپه بله وينا دغه تګلاره دخپل ماهيت له مخې هغه تګلاره هم ده چې دګاندي فلسفه ورته ويلاى شو،په دې چې ګاندي خپله ددغې تګلارې په اړه داخبره کوي چې ده داشان مبارزه په جنوبې افريقې کې پر هغه مهال چې هلته داپارتايد واکمني وه دهنديانود حقوقو ترلاسه کولو په خاطرپه عملي توګه راپيل کړه . دده په اند دايوازنۍ لاره وه چې دهغې په مرسته ګاندي او نورو هنديانو کولاى شول دمقاومت فلسفه دزورزياتې په وړاندې له يوې خوا راوهځوي او له بلې خوايې پياوړې کړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ساتياګره کې ولسې سرغړونه اودولسونو پوره يوالی اودزورزياتې په وړاندې مقاومت ددغې تګلارې زړی جوړوي. ددغې فلسفې يواصل داهم دی چې کـه ټـول ولس په آرامه توګه دخپلو حقوقو لپاره لاس يوکړي اوسره يوموټی شي ، په دې کــې شک نشته چې زورزياتی څواک به ددغه يوالي اوپيوستون په ترڅ کې دې ته غـاړه ږدي چې ددوی خبره اوددوی حق به مني اوله ناچارۍ به هغه لړی پای ته رسوي هغه چې په تشددسره ددوی اونوروانساني حقوق پايمالوي او ښکيلاکي زورزياتی زيږوي. سره له دې چې په هند اونړۍ کې يومهال يوزيات شمير نظروالو(په تيره مارکسستانو او انقلابی هنديانو ) دغه تګلاره ډيره زياته ګټوره اوبريالۍ ونه شميرله ، خـو زمـانې زموږ ترعصره داد ه راورسوله اوداېې راوښوده چې دغه تګلاره دداسې يوه ملت لپاره چې تش لاس و ، او په سووکلونه انګريزانو په مادي اومعنوي لحاظ ځپلی و ، دمبارزې ترټولو غوره او بريمنه تګلاره شوه . ددغې تګلارې کره کوونکو به په دغه اړه داخبره کوله او ويل به يې چې که ملت سره يوموټی شي ،کولای شي دخپل برخليـک ټـاکلو لپاره تورې ته هم لاس واچوي . لکه چې اوس په خپله په هند کې هم يوشـميرټولنې په همدغه نظردي .

خوګاندې بيا په دې باوري نه و، هغه به ويل چې ساتياګره يوه داسې تګلاره ده چـې هغه پوره قربانۍ ته اړتيا لري، ساتياګره له زغـم اوتحمـل سـره ملګـرې مبـارزه ده اوترټولو لويه ځانګړتيايې داهم ده چې په دغه سـوله ييـزه مبـارزه کـې لـه وينـو توييدوڅخه ډډه کيږي ، اومخه يې په شعوري توګه ددغې تګلارې داصولو لـه مخـې نيول کيږي .

ګاندي جي په دې باور وچې په زورزياتې سره رامنځ ته شـوې خوښـي او هوسـايی دڅوورځوخوشالي اوهوسايي وي ، خوکه نه زورزياتې له ژوند سره پټليزپه پـام کـې ونيول شي اوپه دغه ترڅ کې پرمخ بوتلل شي ،زغم يې زيات دی ، سره لـه دې چـې خوارۍ اوزيارته اړتيالري خو ميوه اوپايله يې خوږه اوتلپاتې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دګاندي دغه میراث په نړیواله کچه دنه زور زیاتي دپلویانو له خوا منل شوی او ستایل شوي دی ځکه چې دهمدغې تګلارې اوفلسفې برکت و چې دی دهغــې پــه مرســته دخپلې ټولنی دپلارګلوی پړاوته راپورته شو اوپه خپل همدغه نــه زورزیــاتي دریــځ سره دهرچا له خوا په ټوله نړی کي ومنل شو، ځکه دامریکاخارجــه ســکرتر ســي . مارشال (۱۹۴۸) ګاندي په خپل دغه سترانســانې ویــاړ بانــدې دانســانې ټــولنې اوتفکرلوی اوبریالی ویاند وباله .**

٭٭٭٭٭

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیژندنه:



**مهنداس کرم چند گاندي** د ۱۸۶۹ کال داکتوبر په (۲) دپور بندر پــه ښــارګوټي کــې وزیږید، پوربندر دلویدیز هند دګجرات ایالت اړوند ښاردی چې عربي سمندرګي تــه ورڅیرمه پروت دی ، دپلار نوم یې کرم چند اودمورنوم یې پوتلوبــایي ( دکــرم چنــد ځلورمه میرمن ، چې نورې یې مړې شوې وې، هندومذهب کله هم له یوې میرمنــې دزیاتو سپارښتنه نه کوي. ) مهنداس یا موهن دخپل پلار پــه ماشــومانوکې ترټولــو کوچنی و، په ۱۸۷۶ کال کې یې پلار چې دولتي مامورو له پوربندره راجکوټ ته بدل شو، مهنداس (موهن ) هم له ده سره همدغه ښار ته ولاړ، په عمومی لحاظ پــر هغــه مهال دغه سیمه داسې وه چې دلته دانګریزانو برلاسی لکه دنــورو ســیمو پــه شــان ډیرخرګند اودپاملرنې وړ نه و.

انګریزي ښکیلاک پرهمدغه مهال دخپل ماهیــت لــه مخــې یــوازې یــوه اوســاده ښکیلاکي بڼه نه درلوده ، د دوی ترسیورې لاندې عیسوي مبلغینو هم خپل بازار ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تود کړی و، په هره توګه چې کيدوني وه ، دوی په هندي ټولنه کې دخپل دين دخورولو کارپه خورا پياوړتيااوزړورتيا سره ترسره کاوه. په زياتو برخوکې يې دمذهب، اوژبې لپاره له خپلو ټولو مادي شونتياوواوامکاناتو څخه په سخاوت سره کار اخيست ، هندي ټولنه چې پر دغه مهال يوه وروسته پاتې ټولنه وه ، زياتو خلکو اوزياتو قشرونويې هڅه کوله چې له يوې لارې نه يوې لارې بايد له دغه نوې برلاسي اوښکيلاکې نظام او کلتور سره له يوې خوا ځان وتړي اوله بلې خوا دهغه منځ ته ځان ورننباسي ، دګاندي پلار هم چې په راجکوټ کې خورا نامتو اودلويې څوکۍ خاوند و داهيله درلوده چې زامن يې بايد خپل ژوند په انګريزي سبک او ستايل سره جوړکړي ، انګريزي ښوونه او روزنه بايد ولري او انګريزي ژبه يې بايد دخپلې روښانه راتلونکې په خاطر زده وي .

دهندوستان ټولنه له پاټکو اوطبقوڅخه جوړه ټولنه ده ، هره طبقه آن تراوسه پورې په دغه هيواد کې خپل ځای اوورتيالري ، برهمن په سرکې دي ، کشتريه اوسوداګرورپسې دي اوورستۍ پاټکې يې دټولنې وروستۍ ډله شودر دي چې دهرڅه بوج ددوی په غاړه دی ، دګاندي کورنی په لوړه طبقه کې راتله، چې د (وايسيا ) په نامه يادېږي. دوی زياتره ددولتي کارونو اوسوداګرۍ کړووړ مسوول وو.

مهنداس په خپل کورني چاپيريال کې دپلار په اندول دخپلې مور تراغيز لاندې رالوی شو،هغه خورا مذهبي ميرمن وه ، همداوه چې موهن هم په دغه برخه کې دموردتينګار له مخې له خپل هندو مذهب اومعنويت سره له ځانګړي احتياط څخه کاراخيست ياپه بله مانا دهغې دارادت له مخې يې له خپلې عقيدې سره مينه درلوده اوپه سمه توګه يې په دغه ډګرکې دخپلې مور په پله اومرسته ګام اېښوداځکه چې دهغې په باره کې داخبره شوې وه چې :

( دا به ترخپل عبادت مخکې دخپلې ډوډوی په فکرکې هم نه وه .)

ګاندي په خپلو يادښتونو کې هم دخپلې مور دغه درېځ خورا زيات يادکړی ، په دې چې هغه په خپله عقيده باندې خورا کلکه وه، دده په وينا دده مور به د (چتوماس ) اوږده روژه چې څلورمياشتې وه نيوله . همداځانګړتياوه چې دده زيات تمايل هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترخپل پلار دخپلې مورپر خوا شوی و.اومورېې ( پوتلوبايې ) دده لپــاره پرمعنويــت باندې د باور يوه په زړه پورې اومنلې بيلگه شوې وه.
په هرډول ،گاندي چې په کوم ښوونځي کې زده کړه کوله، هغه په انگريــزې ســســتم جوړشوی ښوونځی و، ترکومه ځايه چې اسناد ښي اويادی په خپله په خپلوآثــاروکې اشاره ورته کوې ،گاندې خورا چوپه خوله زده کوونکی و، ده په خپلو يادښــتونو کــې دغه ټکی بيان کړې چې گواکی دومره غلی زده کوونکی وچې له خپلو همزولو اوهــم ټولگيوالو سره يې هم خبرې نه کولې ، کله به چې له درسه خلاص شو ، نوبيا به يوازی خپل کورته راروان و، دی يوځای ليکی چې کله به يــې ښــوونځی رخصــت شــو، لــه خپلوکتابوسره به اخته و اوله هغو به يې سرنه پورته کيده اوتل به دهغو پــه لوســتلو بوخت و، په دوولس کلنی يې لومړنی دوره زده کړې پای ته ورسولې اومنځنــی دوره يې په راجکوټ کې پيل کړه، همداسې يې خپلې زده کړې په الفريــد ښــوونځی کــې وکړی ، د منځنيوزده کړو پرمهال پر دې وتوانيده چې لــږ بايدلــه شــرمناکی څخــه راووزې اوله نوروهمزولــو ســره بايــد ناســته پاســته پيــداکړې. شــيخ مهتــاب دده دماشومتوب له خوږو ملگرو څخه و، چې له هغه سره يې خورا زياتــه ناســته پاســته درلوده، همده ورته ويلې وو ، چې دمسلمانو اوانگريزانو پياوړتيا په دې کــې ده چــې دوی غوښې خوړونکي دي ، اوهندوان چې دومره کمزوري دي ، دهغو لامل همدغــه سابه ساک خوړل دي. داخبره پر ده باندې تريوه حده منطقي لگيدلې وه، ځکه به يې کله کله په زړه کې ورتيريده چې دی هم بايدپه دغه کار بانــدې لاس پــورې کــړې ، خودموراوپلار ويره يې ددې لامل شوې وه چې بايد له دغه کاره لاس په سر پاتې شي . مانا داچې ده کله هم ځان ته په غوښو خوړلوسره پياوړتيا ورنه کړه .
په ۱۸۸۳ کال کې يې په خاصوهندې مراسمو له کستوربانومې ښايسته نجلی ســره چې دواړه ديارلس کلن وو واده وکړ. وايې چې دواده تر وخته هم لــه کســتوربا ســره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواده کولوپه خبره نه پوهیده ،خوکله یې چې کورته درزي ورغی اودواده لپـاره یـې ددوی کچه اخیسته پوه شو چې ګواکې رښتیاهم دده واده دی او اوس به ضـرور څـه چل کیږي .

ددوی واده وشو، لکه چې دختیزو اوهندي ټولنو دود دی ،د دوی ژوندلکـه دښـارې اولویدیزو هیوادو دکورنیواوځوانانو په شان نه و، چې له واده وروسته دې زیاتو خرڅو اوپیسوته اړتیا ولري ، په دې چې دوی له واده وروسته له خپـل پلاراوکـورنۍ سـره یوځای اوسیدل اوهرڅه یې دهغوې پر غاړه وو. ده خپلـه میـرمن (بیـه) بللـه چـې وروسته یې په خپلو لیکنوکې هم په همدغه نامه سره یاده کړې اولیکلې ده. ان داچې په خپلو یادښتوکې داخبره هم ددې په باره کې ولیکله :

(c) ketabton.com: The Digital Library

( ده دنه همکارئ دمقاومت دنظريې اساسـات لـه دې څخـه زده کـړل ) . کسـتوربا دګاندي په ژوند باندې نيغه اغيزه درلوده اوله ده سره يې يوځای دګډ ژونددرندوپيټو ته اوږه ورکړه ، ګاندي دهغې په اړه داهم وويل : ( چې دازمانمايې برخه ده ) .

په ۱۹۸۵ کال کې دګاندي پلار مړشو، له دې پيښې سـره سـم پرهمدغـه مهـال د کستوربا زوی پيداشو، چې لنډه موده ژوندی و.



ګاندي چې کله ښوونځی پای ته ورساوه، يوشميرملګرو اودوستانو مشوره ورکړه چې بايد دلوړوزده کړو په تيره دحقوقو د زده کړې لپاره لندن ته ولاړشي ،دوی فکرکـاوه چې داکار به ددې سبب شي څوموهن دخپل پلار په قدموبانـدې ګـام کيـږدي. دده

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره پر دغه مهال داچانس و چې باید انګلستان ته ولاړ شي اوهلته خپلې زده کړې و کړي ، ځکه يې دغه کار ته ملا وتړله که څه هم مور يې له دغه هوډ سره رضـايت نـه درلود، ځکه هغې داخبره ورته کوله چې : (( چې انګلستان ته مه ځه ،هغه له فساده ډک هیواد دی ، چیرې چې خلکوهلته ایمان اواخلاق له لاسه ورکړی دي )).

دې داهم ورته ويلي وو چې ګاندي باید هلته ځان لـه غوښــې خوړلواوشرابوڅښـلو وساتې. هو، موريې داخبره ورته کړي وه ،هغې داهم اوريدلي يې وو چې څوک هلتـه ولاړ شي داډيره نادره ده چې دهغوی په خوی دې نه شي ، ځکه يې دده له تګ سـره خپل رضايت نه و ښودلی .

مهنداس ګاندې په ۱۸۸۸ کال له هنده دانګلستان په لور په داسې حال کې چې خپل دويم بچې (چې په همدغه کال زيږدلي و اوهرې لال نوميده ) اوکستوربايې پـه هنـد کې پريښودل روان شو، له دې امله چې ميرمن اوزوی يـې تـرې پـاتې شـول خـورا خواشينی و.

انګلستان ته لاړ، اوهلته يې په زده کړو پيل وکړ، سره لـه دې چــې ده پـه هنـدکې انګريزي ژبه لوستې وه ،خو په پيل کې له سختو ستونزو سره مخامخ شواوهلته يــې زيــاتې ســـتونزې درلـــودې ، همـــداوه چـــې ددرســـونو پـــه څنـــګ کـــې يـــې ديوشميرنامتوورځپاڼو لکه ډيلې تلګراف اوپال مال ګزيت اونور و په لوستلو باندې هم لاس پورې کړ.

دانګلستان چاپيريال دده لپاره په هراړخيزه توګه نوی اوله ستونزو ډک چاپيريـال و، دده خپله يادونه ده چې کله هلته ورسيد،په خپله ډوډوی خوراک حيـران و شــويې چې يوداسې هوټل ومونډ چې هلته له سبوپرته دغوښوپټه نه وه ، وربلد شو، اوخپلـه مړی به يې هلته خوړه . ورو ورو يې خپله هنديوالـه بيرتـه لـه سـره راونيـوه اولـه يوشميرهندواناودلندن دسبوخوړونکو له ټولنې سره يې ناسـته پاسـته پيداشـوه.

ګاندي له دغو ستونزو سره سره خپلوزده کړو ته ملاوتړلـه اوپـه پرلـه پسـې توګـه ديوشميرنامتوليکوالو لکه انګريزې شاعر (پرسي بايسشي شيلي ) امريکـايې شـاعر (هنري ديويد توريو اوروسي ليکوال تولستوی له آثارو اودهغو له اغيزوسره مخـامخ شو. دغو ليکوالو پر ګاندې باندې زياته اغيزه وکړه او ان چې دې يې دې تـه وهڅـاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي دمعنویت اومذهب په لور ورمخه کړي اوپه دغه ترخ کې دې نوي ګامونــه اوچــت کړي ، جالبه خو داوه چې کله دی لندن ته ورسید ، هلته دی له داسې خلکو اوکسانو سره مخامخ شو، چې هغو دهنــدي مــذهبې لارښــونو اوآثــارو پــه اړه ژورمعلومــات اوڅیړنې درلودې ،داسې او دومره چې دده لپاره دحیرانۍ وړوې ، په کومو مسایلو بــه چې هغوی دهندي مذهب په باره کې خبرې اوڅیړنې کولې په هغو باندې ګانــدي نــه پوهیده ،لکه چې خپله هم وایي چې خپل مذهبې کتا ب بهګوت ګیتــا یــې تردغــه مهاله نه ولوستی ، ده دلومړی ځل لپاره دخپل مذهب دغه کتا ب ولوست ، دلومړي ځل و چې په یوشمیر مذهبي اساطیرو،څیرو اوخدایانو لکه وشــنو، کرشــنا، ارجــن اوهمداسي د کایناتو اوجهان په باب دخپلو آثارو اوکتابوپه اهمیت باندې پوه شو. کله یي چې هندې سپیڅلي کتابونه ولوستل ، له مذهبي مسایلو سره یي نوره هــم مینــه پیداشوه ، اودخپلو دغو معنوي ارزښتونو په اهمیت لکه دنــورو ختیزوالــو پــه شــان پرهمدغه مهال اودغه لویدیز هیواد کې پوه شو او له لویدیزوالوېي دهغو اهمیــت او اغیز په پاملرنې اوغور سره واورید. ګاندي هلته پوه شو چې دی څوک دی ، اودکــوم معنوي ،کلتوري اوفرهنګي چاپیریال او ارزښتونو لرونکی دی. ، دی په همدغه مهال په شعوري توګه دبهګوت ګیتا زړه ته ورننوت اوپه هغه کې یــې دیــوه او واحــد ذات ننداره وکړه اوددغه تلپاتی کتاب په پاڼوکې یې باور پرې وشو.

ګاندي په ۱۸۹۱ کال خپلې ازموینې ترسره کړې ، ددغو دریو کالو په ترخ کې یې زیات شیان زده کړل ، دده لپاره په دغه موده کې یوشمیرڅیزونه اوټکې ددې وړوو چې ده ته دنوي درسونه ورکړي اودده په نویو بریاوو باندې د اغیزوښندي. ، دی په دې پــوه شو، چې دڅه شان کلتور ،معنویت اومیراث خاوند دی ، په دې پوه شو، چــې څنګــه کولای شي آزاد واوسي ، اوداپته هم ورته ولګیده چې په څه شان له څه ډول خلکــو په تیره بیا له انګریزانو سره څنګه چال چلند وکړي. .

دابايد ووایوچې کله ده ځان اوښکیلاک دواړه وپیژندل ، بیا په دغه اړه لــه تولــو زده کړیو تجربو اوبریاوو سره دخپل هیواد په لور راستون شو.

ګاندي هند ته راغی خوله بدمرغه چې موریې له نړۍ سترګې پټې کړې وې ، هغې چې ټول عمر یې دده په باره کې فکرکاوه اوویل به یې چې باید لندن ته ولاړ نه شي څکــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هلته خلکو خپل ایمان اواخلا ق له لاسه ورکړي دي، خو ګاندي برعکس له هغــه ځایه له ډیروښو اوو ړتجربو او پوره ایمانداری سره یوځای را ستون شو، اوهغــه څــه چې بې مور دده په باره کې فکرکاوه پرهغه لاره یې ګام کینښود ، پرګانــدي بانــدې دموردمړینې خبرخورا سخت تمام شو، داسې چې هغه یې دځان لپاره (یــودردونکی شوک ) وباله .

ګاندي له دې ټولو بریواوماتو سره سره بیرته راجکوټ ته راورسید ، ډیره موده لانه وه تیره شوې چې په راجکوټ کې یې هم ټیکه ونه شوه ،هغه ښاریې دیوې بلــې دورې زده کړې په موخه پریښود او د بمبې دښار په لور دهنددحقوقې ستم دزده کړې پــه مقصد وخوځید، په دغه ښار کې یې په پرله پســې توګــه خپلوکتنواوخیړنوتــه دوام ورکړ، دلته یې هم زیات شمیر تجربې ترلاسه کړي ، اوپرهغه څــه چــې تراوســه نــه پوهیده پر هغو یې هم ځان دچا خبره ملاکړ، داســې چــې پــه همدغــه وخــت کــې دیوشمیرجالبوکړنواو فعالیتوله مخې دیوشمیرکسانو دپاملرنې وړ هم شــو. ګانــدي دخپلو لیکنو له مخې هوډکړی و چې له دې وروسته به له خپلې میرمنې ســره خپــل ژوند اودندې ته دوام ورکوي ، ده غوښتل چې په دغه موده کې دده میرمن هم بایــد یوځه زده کړي اوپه دغه برخه کې دی باید مرسته ورسره وکړي.داdده وروستۍ ژمنه اوپریکړه وه. خوداچې تقدیر دانه وه ورته ټاکلې ، په خپل دغه مقصد باندې بریالې نه شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library




يوشميرهندي مسلمانو سوداګرو ، چې دجنوبې افريقې په ( ناتل ) کې چې انګريـزې مستعمره وه اوسيدل ده ته بلنه ورکړه چې له دوې سره هلته دنده ترسره کړي ، لـه هغو ی سره يې ومنله اوخپله مخه يې پر هغه خواکړه. په پيل کې يې کورنی اوميرمن يوځل بيا لکه دلندن دتګ پرمهال دلته يوازې پاتې شـول اوپـه خپلـه د۱۸۹۱ کـال داپريل په مياشت کي جنوبې افريقې ته روان شوچې دمی په مياشت کې دهغه هيواد دداربن ښارته ورسيد.

په جنوبي افريقې کې پر دغه مهال يوزيات شمير هندوستانيان اوسـيدل ، پـه دوی کي يوشمير داسې کسان هم ول چې هغوي په دغه هيوادکې خپله سوداګري اوخپل کاروبارو اوتجارت درلود، ګاندي پر دغه مهال په خپله وړتيا سره دا وپتيله چې ددوی له ګټواوحقوقو څخه ننګه اوساتنه وکړي اوځان بايد ددوی دمرستې کارته وګمـاري ، په جنوبي افريقا کې هندي ميشتو خلکو له ښکيلاکي رژيم سره په بيلابيلو برخوکې زياتې ستونزې درلودې ، په يوشمير ښارو کې دوی ان دشپې ګرزيدو حق نه درلـود، په زياترو ځايونو کې لکه دمريانو په شان چالچلنـد ورسـره کيـده ، ان چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورګاډي کې به ترخوسپينو ته خوندي اوددوی په زړه ځای نه و، ترهغــو دوی هلتــه دکيناستو اوسپريدو حق نه درلود، هغوی چې په سوداګرئ اونور کسبونو باندې اخته وو او شتمن هم وو له هغوی څخه درنه ماليه اخستل کيده، داشان نورې ستونزې هم وې چې ګاندي هلته دښکيلاکي قانون په وړاندې ددغو خلکو په ملاتړملا وتړله اولــه دوی سره يې ددوی دحقونو اوحيثيت داعادې په لټه کې خان له دوی سره يوکړ، اوله هغه څرګند توپيرسره چې ده له ښکيلاک سره درلود دکلکې مبارزې اومجادلې لپاره خپله پوهه او مهارت وکارول . دده هڅې دنژدې يوه کال په تــرخ کــې تــردې حــده ورسيدې چې هنديانو داحق ترلاسه کړ چې په اورګاډي کې دې پــه لــومړۍ درجــه برخه کې دسفرکولوحق ولري .

ګاندي په ډيره لنډه موده کې په جنوبي افريقې کې ديوه ښه وکيل ، يوه ښه منځګړې او يوه پوه مشر په توګه ځان راوځلاوه اوديوه ښه استازي او لارښــود پــه ځــانګړنو باندې نامتو اووپيژندل شو.

په ۱۸۹۴ کال کې د ناتال يوشميرمشرانو له ده څخه هيله وکړه چې دوی ته په دغــه سيمه کې دړايو ورکولو حق هم ترلاسه اوپه دغه لاره کې له دوی سره مرسته وکړي.
ګاندې ددوی داخبره ومنله اوزرېې يوجريان چې د ناتال دهنديانودکانګرس په نامــه يادشو راوباله. ددغه غورځنګ يوشميرهندو شتمنوګډون والو هڅه وکړه چــې دغــه جريان يوازې ددوی پر ګټو را وڅرخيږي ، خو ګاندې له دوی سره ددوی داطرحه ونه منله اودايې ورته په ګوته کړه چې په دغه جريان کې بايــد ټــول هنــديان ، شــتمن اوغريب ، هندو، مسلمان او عسيويان برخه واخلي . داکار سره له دې چې ديوشــمير شتمنوپه خوښه نه وډګاندي په غوښتنه او پخــه لارښــونه ترســره شــو، کــانګريس جوړشو ، اوکانګرس ګاندي دخپل سکرتر په توګه وټاکه. پردغه مهال هم ګانــدې پــه خورا مهارت ســره خپلــو هڅــو تــه دوام ورکــړ اوددغــه غورځنــګ لــه اهــدافو او غوښتنوڅخه يې په خورا هوښيارۍ سره ننګــه کولــه ، ان تــردې چــې اپارتايــدې حکومت ته يې هم داخبره وکړه چې ددوی کانګرس په خپله دهنــديانو اواروپايــانو ترمنځ دهم غاړئ اوتفاهم په ترخ کې ګامونه پورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي دخپلې دغې دندې په ترڅ کې پرهندیانو باندې داغړ هم وکړ چې دوی بایـد دخپل کلتور اوخپل زاړه فرهنګ سره په بې پروایې چال چلند ونه کړي ، دوی باید له هغه څخه بې برخې پاتې

نه شي اونه هم نوروته داوښيي چې ګواکي دوی له خپل فرهنګه پرته د نورو دکړو او دودونو زغمونکي نه دي . ګاندي په دغه ترڅ کې دمنځګړې لارې پلوې و. ده دامنله چې هم باید له نورو زده کړې اوهم باید خپل ارزښتونه هیرنه کړي. ان پرهغـه مهال چې ګاندي له هندوستانه دباندې و، ده دغه ستونزه په لویدیزکې لیده، دغه چې ان اوس هم په ټوله لویدیزه نړۍ کې دختیزو اوسیدونکو لپاره په یوې خواشـینونکې ستونزې باندې اوښتې ده ، اوس په امریکا ، کاناډا اواروپایی هیوادو کـې افریقـایی او آسیایی اوسیدونکي په خواشینونکې توګه له خپلې ژبې او خپلوکلتورونو څخه پردې کیږي ،داسې چې په دغو متمدنو اوپرمختللو ټولنـو کـې لـه دوی سـره هـیڅ ډول خواخوږي ددوی دفرهنګونواوهویتونو دساتلو په برخه کې نه شته او نه ښودل کیږي .

ګاندي جي ان یوه پیړۍ دمخه دهندیانو اونوروولسونو دغې ستونزې ته ځیرو ځکـه یې پرخپلوهندوستانیانو باندې غږوکړ چې دخپل تاریخ او خپلومعنوي ارزښتونو دغه مهم اهمیت ته ددغومتمدنو او پرمختللو ټولنو په زړه کې ځیروي اوهغه باید له یـاده ونه باسي ..

ګاندې په جنوبي افریقا کې دهندیانو له حقو اوګټوڅخه په خورا زړه ورتیاسره ننګـه وکړه ، ان تردې چې دخپل مسلک له مخې یـې پرسـپینوباندې داسـې قضـې هـم راوستې چې دهغوله مخې یې دوی قانون ته وسپارل اودخپلوبې عدالتیوله مخې یـې ترزندانه پورې ورسول، دغه کار اودغه مسلکي مهارت دګاندې په لاپیژندنه اوورتیـا باندې مثبته اغیزه وکړه اوپه ټوله جنوبې افریقاکې یې دی دیوه رښتنې اتل په بڼه را څرګندکړ. په دغه اړه څوخبرې دیادونې وړدي ، لومړې داچـې ګانـدي پـه جنـوبې افریقې کې دهندیانو له څرګند ملاتړ څخه برخمن و، دویم دا چې ګانـدي پـر دغـه مهال په دغه هیواد کې چې د بیلابیلو اروپایې توکمو ټاټوبې و اواوس دلته پـه یـوه سیالۍ کي سره اوسیدل په موخو، توپیرونو اونیتونو باندې دزړه له کـومې پوهیـده ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه دې باوري و چې که دوې له یوه اوبل سره نښلي باید په دغه نښته کې داسې نــه شي چې هندیان په پټوسترګو برخه واخلي اوپه راتلونکې کې دغه هیواد ورته ســور تنور شي . کله چې وایو ګاندي ښه لارښود و، ددغه ټکي مانا دانه ده چې ګواکې دی ښه توریالی و، نه ، دده لویي په دې کې وه چې له پوهې او تــدبیره یــې دژونــد پــه حساسو شیبوکې کار اخیست . په جنوبي افریقا کې هم دده طرح ســمه وختــه. پــر ۱۸۹۸ کال په دغه هیواد کې دجرمن آرو استوګنو او انګریزانو ترمنځ ددغــه هیــواد دنیولو اوپر دغه هیواد باندې دپوره برلاسي په خاطر جګړه ونښته،دغه جګــړه چــې ددغه هیواد په تاریخ کې د ( بویر وار ) په نامه یادیږي .   جرمن آرو اوســیدونکوچې دلته ترانګریزانو دمخه میشته شوي وو نه غوښتل چې انګریزان په دغه هیواد باندې برلاسي شې ، همدغه سیالي وه چې پرله پسې جګړه پــه خپلــه د اروپــایي ســپینو ترمنځ ونښته، په دغه جګړه کې ددغه هیواد د اســتوګنو قومونــو دریځونــه پــه دوو خواوو وو ، په دې مانا چې یوشمیر له انګریزانو اویوشمیر نور دهغو له مخــالفو ســره ودریدل ، ګاندې پر دغه مهال دادرک کړه چې انګریزان په دغه جګړه کې وړونکــې دي ، اوپه راتلونکې کې دوی پردغه سیمه باندې برلاسي کیږي، ده خپل دریځ پر دغه مهال دانګریزانو په ګټه غوره کړ اوله دوې ســره یــې دهنــدي توکمــو پیوســتون او خواخوږي په ډاګه کړه ، جګړې نژدې دری کاله دوام وکړ ، په پای کې پــه رښــتیاهم انګریزان بریالي شول اوخپل جرمن سیالان یې ددري کلنې جګړې په پای کــې لــه ماتې سره مخامخ کړل. ما نا داچې له انګریزانو سره دهندیانو ملاتــړ پــه خپلــه ددې سبب شو، چې کله په پوره توګه برلاسي شول ، نو بیاپې  هندیانو ته پاملرنه له یــاده ونه وته ،هماغه وه چې دګاندې یې هم دده د پوره پیوستون له املــه ســتاینه وکــړه اوددغې جګړې په مهمو مدالواوبهادریو یې سرلوړی کړ.له دغې بري وروسته هندیان په ګرد هیواد کې ددې جوګه شول، چې په ټولو برخــوکې دې د خپلــو حقونــو پــوره خاوندان وي. ددغه لوی بري په پایله کې ګاندې داپریکړه وکړه چې نور نو دغه هیواد باید پریږدي اودهند په لور دمخه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وکیل ګاندي هند ته راګرزي:

وکیل ګاندي د ۱۹۰۱ کال په اکتوبرکې دهند په لور راوخوځید . یوه خبره چې باید لـه پامه ونه غورځوو هغه دا چې ګاندي ته پر همدغه مهال له هند څخه دملي کـانګرس دګوند دمشرانو بلنه هم ور رسیدلې وه ، هغوی ترې غوښــتي وو چــې دی بایــد نــور هیواد ته راستون شي ، مانا داچې پر دغه مهال دګاندي هغه مهم رسالت چې دخپلو خلکو لپاره یې په افریقا کې درلود، هغه ترسره شو ی و اوپه دې هیله و چې نور بایـد په هیواد کې دننه دخپلو خلکو په تیره دمحرومو پـاتکودحقونواودهیواد دآزادی غـم هم وخوري.

ګاندي چې پر کوم مهال هندته راورسید په دغه وخت کې دهند کانګرس ګونـد پـه یوه پوره انګریزي ضد مخالف غورځنګ باندې اوښتی و ، هغه ددغه جریان کار اوکړه له نژدې ولیدل اوپه دې فکرکې شو چې ددغه جریان په سمه رغونه باندې بایـد پـه فکري اوعملي توګه لاس په کارشي . په دې مانا چې له دغه جریانه باید هغه توکونه چې نه شي کولای ددغې ټولنې انساني وړتیاوې په پوره توګه تمثیل اوځواب کړي له منځه یوسې ، ګاندي په دې پوهیده چې په دغه جریان کې بیلابیل افکار اوتمـایلات روان دي، هغه نه غوښتل چې دغه تمایلات باید تردې وروسته په دغه غورځنګ کې وده وکړي، په دغو تمایلاتوکې داسې څه هم وو ، چې هغو دهندې ټولنې له دودیز او تاریخې شته والي او ارزښتونو سره مخالفت درلود، هندیواله اومسلمانواله اوهمداشان انګریز واله داګرد توکونه وو چې باید هره یوه ته ځواب ورکړ شوی و ، ګاندې همدغـه حالت وڅوراوه ، ځکه یې وغوښتل هماغه تګلاره اوهماغه پالسي چې پـه افریقـایې کانګرس کې یې څارله دلته هم پلې کړي ،ده غوښتل چې کانګرسیان بایـد پـه دې باورمن کړي چې هند وستان دبیلابیلو خلکو، مذهبو ، ژبو، تاریخي اومـذهبې ویـاړو هیواد دې چې ددغه هیواد په بیلابیلو قومونو اومذهبو پورې اړه لري . ګاندي کـه پـه زړه کې هرډول و، دده له ښواولویوځانګړنو څخه یوه داوه چې ده لکه دیوشمیر مذهب پالو هندوانو غوندې چال چلند دنورو مذهبود پلویانو په تیره بیا دمسلمانو په وړاندې نه شو زغملای اونه یې ترسره کاوه ، په دې چې دی په دې پوهیده چې مسـلمان پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرډول دهند په ټولنه ، سیاست اوتاریخ کې داسې ځای لري چې له هغو څخه دیـوه عینې ، تاریخي اوربښتینې واقعیت په توګه سترګې نه شې پټیدای .
همداده چې سړی دده په اړه ویلای شې چې ګاندې بی شکه چې یوسیاسي سـړی و، خوله دې سره سره دده دایوه ښه ځانګړنـه چـې دهـرې عقیـدې پلـوی یـې دده دشخصیت په اړه له پامه نه شې غورځولای هغه داده چې دی پرمعنویت باوري اوهغه ته یې په هره بڼه چې و درناوی درلود . دغه لامل و چې ده د هند په ټولنه کې ددغې ټولنې ټولو مذهبي اومعنوي ارزښتونو ته په خورا درنښت سره کتل دابه بې ځایه نـه وي چې ووایودده دغه ځانګړنه اودغه لوی معنوي ارزښت اومعنـوي درنـاوی ده تـه دمرګ په بیه هم تمام شو.
ګاندې سره له دې چې په جنوبې افریقې کې دانګریزانو پوره باور دځان کړ، خو کلـه چې هند ته راستون شو،ده هغه تګلاره په هیڅ ډول دلته نه شوای عملي کولای ، پـه دې چې دلته انګریزي ضـد مبـارزه پـه ډیرشـدت او پـه اوچتـو ملـې او مـذهبې احساساتواوژمنو سره روانه وه، همداوجه وه چې دده دنده او ونډه یـوازې دسـازش اونه زور زیاتې په پوله ونه دریده ، داځکه چې له یوې خواآسیایي تمایلات او له بلې خواپه بیلابیلو سیمو اوهیوادو کې انګریزي خلاف مبارزې اوجګړې خلکو ته دا چانس ډیرلړ ورکاوه چې دګاندي په تګلاره اوفلسفه دې هغه چې په جنوبي افریقا کې یـې روانه کړې وه ګام کیږدي ، په چین کې د تریاکو جګړې ، دکوریا نښتو، په افغانسـتان کې دانګریزانو پرله پسې ماتو په خپله یوډول آسیایي ملې پاله روحیـه راپـارولې وه چې دزیاتو ملتو لپاره یې دخپلو برخلیکونو په ټاکلوکې مهمه دنده اوونډه در لـوده.
سره له دې چې ګاندې د نه زورزیاتې پلوې و، خوله دې سره سره یې دهیواد په هـره برخه کې زورزیاتي کیدل اودښکیلاک په وړاندې دخلکو توده مبارزه روانـه وه چـې انګریزانو په ډیرمهارت اودتوطیوپه زور سره دهغو دپټه خوله کولـو اومـاتولو لپـاره ګامونه اوچتول اوپرضد یې نه سترې کیدونکې هلې ځلې کولې . ګاندې ناچارشو چې ددغه تاوده بهیر په ترخ کې خپل ملت دخپل برخلیک ټاکلو یوشمیر مهمو اړخونو ته متوجه کړي ، هغه هند ته له راتګ سره سم په دې باورمن شو ، چې دهند دآزادۍ په لاره کې ترټولو ګټوره اومهمه تګلاره داده چې په دغه هیوادکې هرځواک بایدپرځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې دباور روحيه رامنځ ته کړي . دا دده له درسونو څخه و چې بايد خپل غريبان له خوارۍ وژغوري ،پوهې ته يې راوبولي ، په خپله ډوډۍ ماړه شي ، خپل واغوندي اوځان له هغو ناولتياووڅخه چې په ښکيلاکي ګټوپورې اړوندې وې وژغوري .

پرهمدغه مهال په زياترو ختيزو هيوادو کې دازادۍ غوښتنې مبارزې په خورا اوچت غږ سره رواني وې، په هندکې هم په کوم تدبير چې ګاندې دهند ټولنه دآزادۍ په لورلارښونه کوله هغه په خپله هغه تګلاره وه چې ډيرزرېې له خارجې ګټوسره ټکر رامنځ ته شو . اوهغوی يې دې ته ناچارکړل چې ددغه هيواد په اړه په نويوتګلارو ، پاليسيواو توطيو باندې لاس پورې کړي.

ګاندي په خپله مبارزه کې دايوه خبره دهندي طبقاتي ټولنې ټولو قشرونو اوپاټکو ته ورورسوله چې ددغه هيواد دغه ډيرکې غريبه ، خواره اوککړه طبقه دهندي ټولنې لويه برخه ده،چې په هيڅ ډول له هغو څخه سترګې نه شي پټيداې ،ددې پرځاې چې هغه ځان خوار او توهين شوی وانګيري ښه داده چې هغه بايد ځان ددغې ټولنې ديوه مسلم اومهم ځواک په توګه ددغه هيواد په برخليک کې په هراړخيزه توګه ګډ او دخيل وګڼي . ګاندي په خپل دغه درېځ باندې بې له شکه دهند ي ټولنې داکثريت دزړونو دترجمان درېځ ونيواوپه دغه برخه کې يې هغه تګلاره دځان کړه هغه چې دهندپه پراخه ورشو کې تردغه دمه يوازې مسلمانانو دخپلو اسلامي اصولو اوانسان ته ددرناوې اوبرابرۍ په نامه په دغه هيوادکې داسلام له پيله ترننه په پوره بې توپيرۍ سره عملي کوله ،ځکه نودهند ټيټه او له نظره لويدلې طبقه اودهغې پراخې پرګنې په پوره پيوستون ليکه پرليکه پرګاندې پسې ودريدې.

خوداچې انګريزانو خپل جالونه غوړولي وو، زياتو هندي لوړو کورنيو ته يې دهيواد په هره برخه کې دولتي څوکۍ، جاګيرونه اومنصبونه ورکړي وو ، په آرامه او سوکاله توګه دښه ژوند خاوندان شوي وو، هغوی په عمومي لحاظ اوس داسې حالت درلود چې ترانګريزانو دوی ډيرهند او ددغه هيواد دخلکو په وړاندې ليوان ګرزيدلي وو، دوی دخپلو هيوادوالو په وړاندې په دومره شدت او زور زياتې سره عمل کاوه چې انګريزانو هم نه کاوه. ګاندي دغه ټکي يوځه انديښمن کړ اوپه دې لټه کې شوچې ددغه درانه درد لپاره چې اوس دده په هيواد کې په يوه درانه ناسور باندې اوښتی با

(c) ketabton.com: The Digital Library

يد ددرملنې يوه سالمه لاره چاره ومومي . هغه غوښتل په دغه کارسره له يوې خوا دانګريزانو توطيې دده دملت اوخلکو په وړاندې تس نس کړې او له بلې خوايې داپه پام کې درلوده چې که دغه روحيه کمزورې شي ، دغه کاربه ددغه هيواد له ملي هڅون ، پاڅون او يووالي سره په زړه پورې مرسته وکړي .

ګاندي سره له دې چې پردغه مهال دکانګرس اوهند يانو په دې شان يوشمير کړو باندې خواشنی و ، لاېې يوکال په هند کې نه وپوره شوی چې دجنوبې افريقې دهنديانو کانګرس بيابلنه ورکړه چې په خپله کړې ژمنه چې ويلی وو چې زربه بيرته راځي وفاوکړي او بيرته بايد راشي ، ګاندي يوځل بيا په هغه لوري ورمخه کړه اوله خپلې کورنۍ سره هلته روان شو. دده له رسيدو سره سم په جنوبې افريقې کې داځل دده لپاره دکارکولولاره چاره اواره وه ګاندي اوس کولای شول چې دبوير دپلويتوب په نامه په يوشمير نورو ستونزو چې لا هم دهنديانو په وړاندې وې لاسبري شي، خوداچې ګاندې ته دده په وينا کوراوکورنۍ وردغاړې وو ناچار وچې دځان لپاره يې يوکار اويوه بوختيا موندلې واى ، ځکه نو دځان لپاره دکار په لټه کې شو. او داځل يې دځان لپاره ديوه کار موندلو په خاطرپه جهانزبورګ کې ژوند کول پيل کړل . اوپه عين حال کې يې ( اندين اوفينين ) انګريزي ژبې اوونيزه هم خپره کړه. ددغې اوونيزې چلوونکی ( منسوک لال نظر) دګاندي له هغو پيروانو و چې پرته له معاشه يي په دغه برخه کې له ګاندي سره مرسته کوله ، خوله دې سره سره يې بياهم هرڅه په خپله په ګاندي پورې اړوندول اودهغه په هڅوچليده .

ددغې خپرونی مطالب ترزياتې اندازې په قانونی اوحقوقو مسايلو پورې راڅرخيدل اوله زيات شمير خلکو سره يې په نوموړې برخه کې مرسته کوله ،ددغې خپرونې دخپريدو


په ترڅ کې له ده سره دده يوزيات شميراروپايي دوستان هم مله او دده په لاره يې ګامونه اوچت کړل .

ګاندی په دغه دوره کې هم په جنوبې افريقې کې دانګريزانو دواکمنۍ د ليوالو وملاتړو په ډله کې و. ګاندي په خپله دغه خپرونه کې پردغه مهال په يوشمير نورو مسايلو لکه نه زور زياتي هم يوشمير نړيوالې تجربې خپرې کړي . چې په پای کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر هغو تجربو باندې خپل نظرياتې سستم ودراوه اوپه جنوبي افريقې کې يې سره له دې چې دنه زورزياتي موضوع رامنځ ته کړه خوددغې نظريې دپياوړلپاره يې هغه تجربې چې په امريکا يې وچه ، هند ، چين او روسيه کې رامنځ ته شوې وې هم له پامه ونه غورځولې . ددې خبرې مانا داهم ده چې دده په نه زورزياتي فلسفه باندې ددغو هيوادو ديوشميرليکوالو او مخکښانو اغيزهم واوپه دغه برخه کې يې دهغوله تجربواوافکاروڅخه هم په زړه پورې ګټه واخيسته .

په جنوبي افريقې کې دګاندي د نه زور زياتي پرتګلارې باندې ان په هغه حالت کې چې ده په دغه هيواد کې دانګريزي واکمنۍ ملاتړ کاوه ، يوې خورا دردونکې جګړې چې هغه د ښکيلاکګرو انګريزانو او زولو قبيلې ترمنځ وه خپله پوره اغيزه پـه نښه کړه .



دا د زلو قبيلې جنګيالي دي چې په ۱۹۰۶ کال کې يوې غونډې ته راټول شو، دوی دانګريزانو له خو اپه وحشيانه توګه وځپل شول، چې دګاندی لپاره هم دردونکی چلند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داجګره د ځايي تورپوستو اوانګريزانو ترمنځ وه چې په خورا وحشيانه توګه يې دزولو قبيلې عام وژنه ددغې جګړې په ترڅ کې ترسره اودزولودغه پاڅون يې د تـورې پـه زور په خورا وحشيانه ډول غلی کړ، د زولوقبيلې وحشيانه وژنـه اوځپنـه د جنـوبې افريقې له هغوخواشينوونکو پيښوڅخه يوه ده چې ددغه هيواد په تاريخ کې د اتلوالو مبارزو يوروښانه ملې انځور دنړۍ د مقاومت تاريخ ته سپارلی شي . ګاندي بانـدې ددغې جګړې په ترڅ کې د نيول شويو بنديانو بې سوال اوځوابه وژنې اوتراژيدۍ هـم خپله درنه اغيزه درلوده ، هم داوه چې ده د زولو له عام وژنـې وروسـته د انګريـزې ښکيلاک مانا اومفهوم نورهم په سمه توګه درک کړل او هڅه بې وکړه چې لـه دغـې تاريخې او انساني غميزې څخه بايد دخپلې تګلارې او مبـارزې پـه تـرڅ کـې نـوې درسونه او تجربې ترلاسه کړي .همداوه چې بيا يې په خپله دا ياده کړه چې دا هسې يوه ساده جګړه نه وه بلکه دايو(وحشيانه انسانې ښکار) و چې انګريزې پوځيانو پـه بربري توګه په تش لاسو بې ګناه زولو خلکو باندې عملې کړ. زولو ګانـدي تـه نـوی درس ورکړ او ده ته يې د نه زور زياتې او زغم په ترڅ کې لومړی ديـوه انسـان او پـه راوروسته کې د يوه لارښود په توګه نوې روحيه ور وبښله او دده د نه زورزيـاتې پـه ژمنه او تګلاره باندې يې ژوره اغيزه وکړه.

څرګنده ده چې دنه زورزياتې فلسفه له ډيرپخـوا څخـه دختيزمعنويـت لـه خـورا مهموفکري ډاليوڅخه وه ، چې دلته يې دپيړيوپه اوږدوکې په خورا وړتيـا سـره وده کړې وه، دايوه انساني طرحه وه چې دانسان اودهغه دابديت په لوريې انسانی کړه وړه په ټولنيزه اواخلاقي وړتياسره دبشري ميـراث پـه توګـه راليږدولـی وو، ان داچـې دبيلابيلو مذهبواومعنويتونو موضوع هم شوې وه ، زردشت ، بودا اوله هغه راوروسته مسيح او محمد (ص ) دوی ټولوپه خپلوکرکترونو اوتعليمـاتو کـې دغـه آرتـه پـوره اهميت ورکړ اوپه هغه کې يې دبشريت تلپاتی والی ليده ، ګاندي هم په خپل عصرکې دنوموړيو لويو لارښونکو دغه تعليمات په معنوي بڼه وڅارل اودهغو په رڼاکې يې خپل خلک دزورزياتي په وړاندې چې پرهغه مهال پر هندوستان اودنړۍ په پراخـه برخـه باندې دانګريزانو له خوا عملآ روان و نه زورزياتي ته راوبلل اودغه لاره يـې دانسـان اوانساني ميراث دژغورنې يوازنې لاره وبلله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګاندې په نه زور زياتې فلسفه او مبارزه کې دا لاندې ټکې خورا مهم او دپاملرنې وړ وو:

۱ - د مخالف اودښمن په وړاندې کلک زغم اوصبر.

۲ - ساتياګري يا پياوړی وګړيز او خلقې مقاومت ، خونه د قهراو زور له لارې .

۳ - دنورو اوان دښمن نه توهين او همداسې دنورو د توهين په وړانـدې سـوله ايـزه پاريدنه ،

۴- له خپلو شتو او ګټوځخه دعامه ګټواو شتو په وړاندې تيريدل.

۵- د زورزياتې په وړاندې په رښتياينې سره پاريـدنې او تروروسـتې پـولې پـورې مقاومت .

ګاندې په افريقې کې د خپلې ساتياګري تګلارې لومړنی مزه هغه مهال وڅکلـه چـې کله يې د ( بلک اکټ ) په وړاندې خپله سرکښي په ډاګه کړه ، همداوه چې هنديانوپه دغه هيواد کې دغه قانون ته غاړه نه ايښوده او دهغو حقونو هيله يې کوله لکـه چـې نورو اروپايانو درلودل ، ګاندې دهمدغه حق اخستنې په ترڅ کې لارښود شـو اوپـه مظاهرو يې لاس پورې کړ، مظاهرې کوڅو ته راووتې پوليسو د هغو په وړاندې له زوره کار اخيست خو مظاهره کوونکو دغه زورزياتې ته په پټه خولـه ځـواب وايـه ، دغـو مظاهرو اوږده موده دوام وکړ، او په غيرمستقيه توګه ورو ووړپه کوڅـو اوبـازاروکې هنديانو له يوشميرقوانينو اواصولو څخه د سـرغړونې تګـلاره خپلـه کـړه ، ګانـدې دهمدغې عامه سوله ييزې پاريدنې په ترڅ کې زندانې شو، خو هنديانو دده دزنـدانې کيدو دغړ په اوريدو سره بياهم خپلې خاموشې سرکښې ته دوام ورکړاو پـه همـدې شان يوشميرنورهندي مشران اوعادي خلک هم د بلک اکټ په تـرڅ کـې پرګانـدي پسې زندان ته واچول شول.

دهنديانو پټه خوله سرکښي همداسې روانه وه ترهغو چې دجنوبې افريقې انګريزي مقاماتو دهندي چارو مسوول جنرال (کريستين سومتس ) په خپله زندان ته ورغی ، هلته يې له ګاندي سره وکتل او له هغه سره يې داژمنه وکړه چې دوې به په دغه اړه نوې کتنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپایله داشوه چې ګاندي اونور زندانیان له زندانه راخوشې شول اوهغه سرغړونه چې تراوسه دهندیانو له خوا روانه وه هغه هم پای ته ورسـیده خولکـه چــې دانګریزانــو عادت و ، ددغه کار پایله هم داشوه چې انګریزانو په خپله ژمنه وفاونه کړه او نه یــې ددوی غوښتنې ته عملي پاملرنه ورته وکړه، ګاندي پردغه مهال په خپله پــه خپــل سازش اوجوړجاړي کې چې له انګریزانو سره یې منلی ودخلکو ترګوابښ اوګوتنیــوي لاندې راغی، په دغه ترخ کې به غوره وي چې یوه بیلګه یې دلته دیــوې یــادونې پــه توګه ولیکو :

پردغه مهال دهندیانو دحقونو دغوښتنې په اړه په افریقا کې یوه لویه غونــډه جــوړه شوه چې دری زرو هندیانو په کې ګډون وکړ، په دغه غونډه کې یوه خبره داوه چې له انګریزانوسره باید دهرډول سازش اوجوړجاړي په نامه یوه خوله نه شواونه یې هرڅه باید په پټوسترګو ومنو، خو ګاندي له انګریزانو سره د راجسترشن خبره ومنله :(( د ګاندي خبرو اووینو ټول خلک آرام کړي وواوددغه سازش خبره تولو ومنله خو یوازنې ځوک چې په دغه ټکي راوپارید هغه هماغه ۶ فوټه دنګ پټان میرعلم و چې له خپل ځایه راپورته شو اوپه ګاندي یې د (۱۵۰۰۰) پونډو بډې خبره چې ګواکي ده اخیســتی دي رامنځ ته کړه ، او ویې ویل چې ، خدای شاهد اوواحد دی چې زه بــه هغــه ســړی ووژنم چې هغه داومني چې موږ باید ځانونه راجستر کړو .

خو ګاندي یې خبره په نرمۍ سره واخیسته او ورته ویې ویل چې :« زه بــه لــومړنی ځوک یم چې ځان به راجسترکړم »(۱)

ګاندي خپل کار کاوه او په پرله پسې توګه یې په دغه ترخ کې دخپل غورځنــګ پــه پیاوړتیا کې له بیلابیلو لارو چارو کار واخیست ان تردې چې ددغه جریان پرله پسې مظاهروته دهندي ټولنې ښځو هم رامخه کړه او دحکومت پرضد یــې دخپلــو ملکــې حقوقو داعادې لپاره خپل غږ پورته کړ.

په ۱۹۱۳ کال کې دګاندي میرمن کستوربا په خپله ددغه غورځنګ له یو شمېر نورو ښځو سره په مظاهروکې برخه واخیسته اودایې وښوده چې په دغــه غورځنــګ کــې یوازې نارینه نه ، بلکي ښځې اودهغوی برخه اخیستنه هم دیادونې اوپاملرنې وړ ده . دګاندې په غورځنګ کې بې له شکه د ښځو ونډه او برخه اخیسته یو مهم اصل و، ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې باور درلود چې ښځې دده دمبارزې په ډګرکې دده ارمان او ايديال په ښه توګه او سرې سينې سره عملي کولی شي ، دی په دې هم باوري و چې ښځه په ډېرو برخوکې د ملي خدمت اوملي مبارزې خورا ښه نښه کيدای شي . همداده چې بايد دپوره حقوقو په ډګر کې دهغې کړو وړو ته په درنه سترګه وکتل شي او دژوند په ټولو برخوکې بايد له نارينه وو سره مساوي ونډه او برخه ولري .

ګاندي د ۱۹۱۳ کال په نوامبرکې يوځل بيا په افريقې کې دپياوړو مظاهرو له امله زنداني شو، په دې چې مظاهرواوپاريدنو خونړۍ بڼه غوره کړه زيات کسان ټپيان او يوشميرووژل شول. ددغووژنو انعکاس په شاوخوا هيوادو اوسيمو کې ديوه وحشيانه عمل په توګه خپورشواوانګريزان يې په نړيواله کچه له يوې پراخې غندنې سره مخامخ کړل ، انګريزانو هم ګاندي زيات په زندان کې ونه شو ساتلی په دې چې دوی ته دهنديانو خبره يوازنی په افريقا کې سرخوږی نه و، بلکه پر دغه مهال چې دوی پرهند باندې واکمنې کوله ، دهغه ځای دپاريدنو او ستونزو سوال هم ورسره و ځکه يې ګاندي له زندانه را ويوست.

په عين حال کې ګاندي په دې بريالی شوخودجنوبي افريقې واکمنان دې ته ناچارکړي چې په بلک اکت کې بدلون رامنځ ته کړي .

ګاندي په خپله پر دغه مهال دهغو پوښتنولپاره ځواب ومومند چې يوشميرخلکو به هلته اودلته دده دتګلاري د ماتې په اړه کولې ، ده ځرګنده کړه چې ساتياګري ، دزغم، او صبر تګلاره ده چې يوه ورځ نه يوه ورځ به په يوه ځرګند بري باندې پای ته رسيږي . ګاندي وروسته په دغه ټکي باندې رڼا واچوله اوټولو ته يې دا په ډاګه کړه چې په جنوبې افريقې کې دده ددغوهڅوهدف د نه زورزياتي دتګلاري دودول وو هغه تګلاره چې دانسانانو لپاره ددوی دستونزو او غمونودحل په ترځ کې يوازنی خوندي تګلاره ده ، ده داهم په ډاګه کړه چې کيدای شي انسانان ديووالی او تحمل او همداشان دزغم له لاري خپلو فردي اوټولنيزو ستونزو ته له دغه لارې هم دحل لاره پيداکړي او هم دپای ټکي ورته کيږدي.

ګاندي د ۱۹۱۴ کال ددسامبر په مياشت کې له جنوبې افريقي څخه بيرته هند ته راغی ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

---------- ---------------------------------------------

(1) Calvin Kytle Gandhi Soldier Of Nonviolence 1982. P 93 U.S.A

situation.



انګرېزي واکمن په دغوشپوورځوکې له افریقې څخه هندته دده په راتګ باندې خورا خوشاله وو ، ان داچې کله دی له دغه هیواده راووت انګریزي جنرال داخبره ورپســې وکړه چې : « هو، دغه سنت زموږ له سواحلو ولاړ .هیله من یم چې دغه تګ به یــې د تل لپاره وي ...»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ګاندي بیادکور په لور:

ګاندي له جنوبې افريقې څخه لکه چې نوردتل لپاره خپل هیواد ته راغــی انګریزانــو فکرکاوه چې ګواکي نوريې دوی له غمه بې غمه شول اوهغه څه چــې ده پــه جنــوبې افريقاکې ترسره کول دهغو لړۍ به هم نوره په دغه هیوادکې له ده وروسته پــای تــه ورسیږي .خو داسې نه شوه ، په پیل کې ده غوښتل چې په هندکې هم خپلې مبارزې ته لکه دجنوبې افريقې په شان دوام ورکړي ، خو په دغه کارکې دده نژدې دوســتانو لکه ګوپال کريشنا ګوکهیل ده ته مشوره ورکړه چې دده له پاره تــروار دواره تــودې مبارزې داښه ده چې دهندي ټولنې ټولې هسکې ټیټې وګوري ، لــه هغوســره ځــان اشناکړې ، بیابه له هغه وروسته سره ګورو. هغه داهم ورته وويل چې تريوه کاله بايــد دی ځان دټول هند په سفرباندې بوخت کړي اودغه هیواد بايد پــه هراړخیــزه توګــه دزړه له کومې داسې لکه څنګه چې ددغه هیواد مادی او معنوي جوړښت دی وګوري ،ګاندې داکاروکړ اوله راتګ سره سم دټول هند په سفر باندې ووت ، او ترکلي کلــې پورې يې دخلکو له بیلابیلو قشرونو اوپاټکوسره لیدنې کتنې وشوې ، ده ته داروښانه شوه چې دهند ترقي او پرمختګ ترزياتې اندازې ددغه هیواد په بزګرانــو پــورې اړه لري ، اوپه دې باورشو اوداېې وويل چې له دغې لارې کیدای شې موږ دخپل هیــواد دپرمختګ په باره کې فکروکړو، ده داهم وويل چې زموږ ټولنــه نــه شــې کــولای د اوسنیو اسانتیاوو او ټولنیز شعور په پام کې نیولو سره په هغه لورپه چټکۍ سره ګــام اوچت کړي لکه چې انګریزان پرې اوچت شوي دې، دده ټینګار په دې و چې دهیواد دخلکو دژوند دسطحې په پام کې نیولو سره بايد دپرمختګ يوپلان تــرلاس لانــدې ونیول شې . دادګاندي اند وايدياوه چې زياتو ملګرو ان نهرو هم نه ورسره منله او نــه په دغه برخه کې ورسره يوه خوله وو. په دې چې هغوی فکرکاوه چــې هنددوســتان اوس ددې توان لري چې په تخنیکی او صنعتی برخه کې پــه هغــه شــان لکــه چــې پرمختللې نړۍ روانه ده په اسانۍ سره چټک ګامونه پرته له دې چې دخپلــې ټــولنې ټولنیزو ستونزو اووروسته پاتې والي ته وګوري پورته کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي دهندپيژندنې ددغه اوږده سفر (ياترې ) په ترځ کې دهندي ټولنې او ارزښتونو په پام کې نيولو سره دخپل ژوند ډول هم دهغو په شان برابرکړ، په احمدآباد کې په سابرمتې اشرم[*] کې استوګن شو، ده نور دلويديزکالي اولباس وانه غوستل ،دهغـوی کړه وړه يې ګرد سره پر يوه خوا پريښودل اود ساده ژوند په لور يې ورمخه کـړه. پـه کليوبانډوکې يې خپل مرام په سراسرې توګه ترخلکو پورې ورسـاوه او هـم يــې لـه هغوې څخه  دهغوی دردونه او رازونه واوريدل. په سامبرمتي اشرم  کې يې لکه هندو سادو غوندې ساده ژوند او هم هغه کالي  دځان له پاره غوره کړل چې دژونـد ترپايـه يې هغه په وياړسره اغوستل، ګاندي دځان لپاره هغه جامې غــوره کــړې لکــه چــې يوهندو روحاني يې اغوندي همدغه لامل و چې دخلکوپه منځ کې په مهاتمـا  بانــدې نامتو شو.

دګاندې لپاره ددغه شان ژوند پيل کول او په دغه شان  اوسيدل په دې مانانه وو چې ګواکي ده دژوند له اساسي مسايلو چې په سرکې يې دهنددخلکو برخليک و، په يوه خوا شو، نه ،دده لوې کمال په دې کې و چې خپلې ټولنې ته ددوی پــه شــان اوددوی دخپل ژوند او دوديزجوړښت له لارې ورننوت ، داکارپه دغوشپوورځوکې چــې نــړۍ نوې د پرمختګ په لور سترګې خلاصې کړې وې ډيراسانه کار نه و، خګاندي وچې په دغه کار سره يې هم دخپلې ټولنې دبيلابيلو قشرونو تل ته لاره موونــده او هــم يــې هغوی چې په لوړو منصبوباندې وو او په وياړ يې انګريزي قانون چلاوه په خپــل دغــه حيرانوونکی عمل سره  ګوته په غاښ کړل . په دې مانا چې ګاندي که په عــين حــال کې له

---

(*) سابرمتی اشرم دهنددګجرات ولايت داحمدآباد دښارچې ددغه ولايت پلازمينه هم دی په زړه کې دسابرمتی سيند پرغاړه پروت دی ،دغه ځای اوس هم په شنو ونو پټ دی او دګاندي دژوند دډول اړين څيزونه او شيان لکه دهغه کالی ، څرخه ، سترګۍ اونورهلته خوندې دي . هره ورځ په لسګونو سيلانيان او زړه خوږي مينه وال دسابرمتي دغاړې دغه اشرم ته ورځی اودهندددغه نوميالی مشرمهاتماګاندې روح اوياد ته خپل درناوي څرګندوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library






دګجرات په احمدآباد کې دسامبرمتي اشرم چې دګاندي ځاني شیان ، سترګی ، قلم او لیکنې ، اوهمداسې دده نــامتو څرخه په کې ساتل کیږي .

**یوې خوا لوړې اوحاکمې طبقې ته یوګوابن شو، خو له بلې خــوایې دټــولنې دډیرکــې دملاتړ او پیوستون په ترخ کې دمها تما ( ستره اروا) لقب هم دځان کړ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یوه ټکې ته موباید پام راواړم اوهغه داچې دغه لقب ده ته له پیله چا نه وورکړی بلکه ګاندي په دغه ویاړ هغه مهال سرلوړی شوچې کله ده ځان په پوره توګه دیوه ساده هندي سادوپه شان ټولنې ته راویوست دمهاتما لقب هم په پیل کې دده له پاره دیوه مذهبي تبرک له مخې ورکړ شوچې وروسته یې ملي بڼه غوره کړه ، په هند کې داشان لورینه همدا اوس هم برهمن پاټکې پرهغوی چې له اصله په برهمنه طبقه پورې اړه ونه لري نه کوي ،زما دسترګو لیدلې خبره ده دهند جمهور ریس نارایانن ( د نویمې لسیزې په پای کې ) ته د( بې جي پې) یوشمیر مشرانولکه اډواني اونورو چې دده دولس مشرۍ په وخت کې یې حکومت جوړکړ اودوزیرانو په توګه یې کار ورسره کاوه په ډېرو وختوکې لاس نه ورکاوه په دې چې هغه له کوزنۍ طبقې څخه و. خو دګاندي له پاره داویاړ په خپله دخپل هیواد له پاره ددغه هیواد دراتلونکی په لور یوه نوې بریا او دټولنیزبرې په لورنوې هیله شوه .**

**په لویدیز کې کې دګاندې څېړونکې په دې باره کې هم فکرکوی او وایی ، کومه ملي اوسیاسې طرحه اوتګلاره چې ګاندې دهند له پاره ترلاس لاندې ونیوه ، ایا دداسې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه مهم کار له پاره يوه پوره اقتصادي پروګرام ته هم اړتياوه که نــه ؟ پــه دغــه اړه ترټولو دمخه داځواب دويلووړ دي چې ګاندي په لنډه موده کې دخپل هيواد د ډيرکي (اکثريت ) ملاتړ ددې جوګه کړ، چې اقتصادي ملاتړ دهم په هندکې ترلاسه کړي ، په دغه اړه يوشميرملي اقتصادي سرچينې ددې له پاره تيارې شوې چې ګاندي دې پــه هراړخيزه توګه ملاترکړي، (بريلا ) ډله په دغه برخه کې لومړنی مرستندوې ځــواک و چې له ګاندي سره يې خپل پيوستون وښود اودده له اقتصــادي تګــلارې يــې خپــل اقتصادي ملاتړاوتيارى دزړه له کومې څرګند کړ.

خوله دې سره سره هنديانو ترهرڅه دمخه ګاندي ديوه ستانه او روحاني مشرپه توګه ومانه اوداسې درناوى يې ورته وکړ چې تراوسه پورې د يوشمير خلکو اودهندو مذهب پلويانو په منځ کې ده ته په خپل وخت کې داوتار په سترګوکتل کيږي .

بله مهمه خبره چې دده په اړه يې بايد په پام کــې ونيســو هغــه داده چــې دهنــدد نامتوشاعراوليکوال رابيندرانات ټاګور چې نوې يې په ۱۹۱۳ کې د نوبل جايزه ترلاسه کړې وه کمپاين دده له پاره بې اغيزې نه و، هغه ګاندي د Great Soul in peasants's) grab ( په نامه سره يادکړ. مانا داچې دعامه اومذهبي اړخونو ترڅنګ ټاګور هــم دده په اوچتيااو لوړتياکې خپله پوره ونډه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مهاتما ګاندي او رابندراناتهه ټاګور:

له ۱۹۲۹ کال څخه را په دې خوا په هند کې دکانګرس هلې ځلې په خورا پیاوړتیا سر دېرمختیا په لوري شوې ، ګاندې هم په دغه ترڅ کې ترډېره حده ځان فعال وښود ، له همدغې مودې را په دې خوایی ددووموخوله پاره دسرته رسولو سریزه پیل کړه ، یو داچې دمالګې خبره یې را پورته کړه اود ایې په هندیانو باندې ومنله چې دوی باید دانګریزې فابریکو جوړه کړې مالګه وانه خلي ځکه ده ویل چې دا دهرهندي حق دی چې دهند په دومره زیاته مالګه کې دوی باید په مالګه پیسې ورنه کړي. دویمه خبره چې ګاندي کلکه ونیوه هغه د ۱۹۳۰ کال دجنوري ۲۱ نیټه وه چې ده دهند دآزادۍ دورځې په نامه اعلان کړه ، ده ددغه کار په ترڅ کې پرتولو هندیانو غږ وکړ چې په نوموړې نیټه باید ددغې ورځې په درناوي سره په یوموټې والي سره خپل غږ پورته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي په دغو کالونو کې ددغه شان غوښتنو دعملی کولو په ترخ کې په خورا جدیت سره عمل کاوه، چې لاملونه یې دوه وو ، یوداچې انګریزانو پر هغه وعده باندې چې دلومړی نړیوالې جګړې په ترخ کې یې کانګرس ته دهند دخپلواکی په اړه ورکړې وه وفا ونه کړه ،ګاندي هم داژمنه منلې وه، اوهمدغې شیبې ته سترګې پــه لاره و، خــو کله چې له جګړې وروسته خبره برعکس شوه، په دغــه حــال کــې دې دکــانګرس دمشرانو او یوشمیر خلکو ترانتقاد لاندې راغی ځکه چې ده په کا نګرس زور اچولی و، چې باید دجګړې ترپایه انتظار وباسي ،ده داکاراوخپل پیوستون د دویمــې نړیــوالی جګړې په ترخ کې هم له انګریزانو څخه څرګندکړ. په داسې حال کې چې دده داکــار دکانګرس ډیرکې مشرانویوه ناکامه هڅه وبلله. دویمه داچې انګریزان په دغــه کــار سره ترجګړې وروسته نورهم پرځان غره شول ، دخپلو ژمنو پروایــې ونــه ســاتله ، دهند په بیلابیلو سیموکې یې سوله ایز پاڅونونه په خونړیوپاڅونو واړول او دهندیانو پاریدنوته یې دتورې اوټوپک په زور ځواب



ګاندي اودکانګریس ملګري یې پرهغه مهال چې دی ددغه ګوند مشر اولاړښود دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وركړ . په جلیانواله[*] پيښه کي يې په سلګونو بې ګناه خلک ووژل چې ددغـه سـتر ناوړين پړه هم دهند زياترو مشرانو پرګاندې اودهغه پـه تګـلاره بانـدې وراچولـه . همداوه چې ګاندي دهمدغولاملونو اونيوکوله امله خورا جدي شو، دهند ويسراى تـه يې له ګواښه ډکه ليکونه ور واستول او په هغوکې يې دهند دآزادۍ او دهنـد پرځـان ډاډه کيدلو خبرې دهغه اونوروانګريزى واکمنانانو ترغوږ و رسولى . همدغه هلې ځلې وې چې انګريزان يې ددې له پاره تيارکړل چې بايد په لندن کـې دهنـد پرموضـوع باندې دښه نيت خبرې پيل کړي .

په ۱۹۳۱ کال کې ګاندي دلندن په لور حرکت وکړ. ګاندي لندن ته ولاړ اوهلته يې لـه انګريزانو سره خبرې پيل شوې ، ګاندي له انګريزانو څخه هيله وکړه چې بې لـه دې چې دى اوخلک يې نور هرتالونو او پاريدنوته زوروركړي ښه به داوي چې هندته پـه خپله خوښه آزادي ورکړي، انګريزې پارلمان هم دهند په راتلونکې باندې خبرې پيل کړي، يوه انګريز مشر ساموېل ګاندي ته وويل :

" one must hate sin but … lover the sinner"

Gandhi said : " I think it is justi as badfor their [ English] character to be ruled. I want to save my british friends from the sine of colonialism and exploitation."

---

(*)جليانواله باغ دهند دپنجاب ولايت دامرتسرپه ښارکې دى چې په دغه سيمه کې انګريزانو په بې ګناه پاريدونکوباندې په ۱۹۱۹ کال وحشيانه ډزې وکړې اودهغې په ترځ کې يې تر پنځوسوو زيات بـې ګنـاه لاريون کوونکي ووژل . دهمدغې پيښې لامل وچې دهنددبنګالي ژبې نوميـالى شـاعرټاګور دانګريـزي مقاماتو له خوا د (سر) لقب ونه مانه اودهغه د ردولو په ترځ کې دويسراى په نامه وليکل :

"The time has come when badges of honor make our shame glaring in their incongruous contest of humiliation, and I ,for my part whish to stand, shorn of all special distinction, by the side of my countrymen , who for their so-called insignificance, are liable to suffer a degradation not for human beings"

وګورئ بنګلا ادب په اردو ژبه ۷۵۲ مخ ) (

(c) ketabton.com: The Digital Library



گاندي دا عکس په لندن کې په ۱۹۳۱ کال کې اخیستی ، پرهغه مهال چې هڅه کولـه انګریـزان پــه دې قانع کړي چې دوی باید هندوستان ته خپلواکي ورکړي .

گاندي چې له لندنه را غبرګ شو، انګریزانو هم دپخوانی ویسرای پرځای نوی ویسرای (لارد ویلینګ ډون ) هندته را واستاوه ، ددغه ویسرای له مهمو او عملې دندو څخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه داوه  چې دهندیانوپه ستوني  کې باید دآزادی غږ غلی کړي. اودایې هم  دنده وه ،هغوی ته چې دازادی نارې اوسورې وهې بایدسزا ورکړي ، ده ترهرڅه دمخه دهندیانو دآزادی غوښتې پلان ته په سپکه سترګه وکتل ، ټول هغه فعالیتونه چې دآزادی په لاره کې ترسره کیدل دهغوی دمخنویې په لټه کې شو، په لومړي ګام کې یې دهند دګانګرس فعالیت ته دپای ټکی کیښود، هغه یې غیرقانوني اعلام کړ اودهغه زیاتره مشران ان دګاندي په ګډون  یې زندانو ته واچول .



ګاندي اودهغه څرخه چې دښکیلاکي تولیداتو دنه اخیستلو په ترڅ کې یې خلکوته سپارښتنه کړه .

د ګاندي اونورو مبارزینوزندان ته تګ وچې دهیواد په یوه اوبله خواکې  دپاریدنو لړی وارپه وارراتوریده ،دزندان پرهمدغه مهال  دانګریزانو له سیاسته ، ګاندي ته هم داځرګنده شوه چې دوی هند ته آزادی ورکولوخیال نه لري ، بلکه غواړي چې په دغه هیواد کې ددووډلو هندوانو اومسلمانو دبیلتانه خبره را پورته  او په همدغه شان دغه بیلتون ورو ورو نور هم دپیاوړتیاپه لور لارښونه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي چې تر ۱۹۳۴ کال پورې په زندان کې و، په همدغه کال له زندانه راووت ،له راوتو سره سم يې له سياسته هم ځان په يوه خوا کړ، په دې مانا چې دکوم سياسي مقام لرونکې نه واونه يې غوښتل چې دمقام له مخې يې بايدخلک درناوی وکړي . له همدغه مهاله راپه دې خوا يې دسياست له پاره خپل بل نژدې ځوان ملګرې چې پر دغه مهال يې دسياست له پاره هم ځواک اوهم وړتيا درلوده را مخې ته کړ چې هغه پنډت جواهرلال نهرو و.

ګاندي سره له دې چې پردغه مهال په سياسي لحاظ هڅه وکړه چې ځان له سياسته پريوه خوا کړي خوله دې سره سره يې هم هلې ځلې په خپله پياوړتيا سره پرمخ تلې ، ده په عقيدتې اواردادتې لحاظ هم په داسې حالت کې ځان واچاوه چې دټولو عقايدو دپيروانو هم باورپرې کيده اوهم يې د شک په سترګه ورکتل ځکه چې ده تل دخپلې عقيدې په اړه دا خبره کوله :

(( زه يوعسوي يم، يويهود يم، يومسلمان يم او هم يوهندو يم .))

زه فکرکوم چې دګاندي دنه زورزياتي دمفکورې خبره هم ترډيره حده له همدغه ټکي سره تړاو لري ، په دې مانا چې دګاندي له امله دنه زورزياتې نظريه په نژدې يوه پيړۍ کې په يوه نړيواله مفکوره باندې واوښته، دنړۍ په بيلا بيلو برخو او وچو کې يې ديوشمير خورا مهمو او نوميالو کسانو، پوهانو ، مورخينو او آن روان پوهانو پاملرنه ځانته وروا ړوله ،دغه مفکوره اونظريه سره له دې چې نړۍ يې بيلګې له پخوا څخه په خپل تاريخ کې درلودې ، خو داچې دغه مفکوره او نظريه په خپل عصروزمان کې څوک په څه شان دخپلې ښيګړې له پاره کارولی شي ، دمسالې اهميت په همدغه ټکي کې دی ، په يوه نظردنه زورزياتې فلسفه په دغه عصرکې چې ګاندې را پورته شو نژدې دخلکو له ياده وتلې او له پامه لويدلې خبره ښکاريده ، خو ګاندي په دغه ځانګړې زمانې شيبه کې چې بشريت دوې نړيوالې جګړې په هراړخيزه توګه زغملې وې په دې وتوانيده چې له دغه سترانساني ميراث څخه ديوه زورزياتې قام په وړاندې په ميړانې سره کارواخلي ، ده دآسيايي اند اوژوند له دغې معنوې تجربې څخه ښه کار واخيست . په دغه اړه داهم ده چې ،ګاندي اودهغه زمانې سره له دې چې دغې مفکورې ته د نه زورزياتې نوم ورکړ ، دخارجي ځواک په وړاندې يې د يوې حربې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه وکاروله خو په هیوادکې دننه یې ونه شو کولای چې دغه مفکوره او ایده په هغه شان لکه چې دباندنې ښکیلاک په وړاندې یې په عمل کې پلې کړه عملي کړای شي . ترکومه ځایه چې زه ګاندي او دده قام اوآن دده طبعیت پیژنم ، ده ونــه شــوکولای چې خپل ولس دنه زورزیاتې په فلسفه باندې باورمن کړي ، نهرو، او دهند دخپلواکۍ دغورځنګ زیاتره مشران له ده سره دده په فکر روان نه شول، همداده چــې ســړی ویلی شي چې ده په کورنۍ کچه هغه هم دهنــددنیمې وچــې دویــش پرمهــال ونــه شوکولای عدم تشدد په رښتیاهم په عملې توګه دیوې داسې وسیلې په توګه چې په رښتیایې هم دخلکو له پاره نیغ په نیغه دسوکالۍ زیرې له ځان سره میراث کړي وي رامنځ ته کړي ،دده یوشمیرکره کتونکي په دې اړه داهم وایی چې هند دده دنظریاتو پراساس نه جوړشوی او نه خپلواک شوي ځکه ، هند چې کوم زورزیاتي دګاندی پــه عصر کې وګالل دهغوبیلګه دهندپه تاریخ کې خورا لږ لیدل کیږي، دخپلواکۍ پرمهال چې په هرځای کې خلکو دنه زورزیاتي په مفکوره عمل کــړی هلتــه دیــوې مثبتــې پایلې زیری ، خلکو نه لیدلې او نه یې محسوس کړی،دوی وایي چې هند دګانــدی او دده د عدم تشدد ترسترګو لاندې وویشل شو، په لکونو انسانان دتشدد قربانی شول اوپه دغه څرګند تیرې او تجاوزکې یې هرڅه له لاسه ورکړل چې اغیز یــې تراوســه پورې په زیاترو هندې سیمواو کورنیوکې پاتې دی، په کلکتــه ، امرتســر، پښــتونخوا اودهند په نورو سیموکې چې کومې پاریدنې وشوې اوپه خونړۍ توګه وځپل شــوې ، هغه تړولې دهمدغه عدم تشددترسیورې لاندې دهندپه نیمه وچه باندې وتپل شوې .

دګاندي کره کتونکي په دغه اړه یودلیل داهم وایي چې ګاندي دخپلې مبــارزې پــه ډیرووختونوکې له انګریزانوسره په سازش اوجوړجاړي کې پاتې شوی ، په دې مانا چې په جنوبې افریقي کې هم ده دهغه هیواد د روا مقــابلې او مقاومــت ملاتــړ ونــه کــړ، برعکس دزولو دپاخون پر محال یې دانګریزانو په ګټه ودریداوخوله یې پټــه ونیــوه ، همداسې دهند دویش پرمهال هم ګاندې داسې نه ښکاري چــې ګــواکی دی دعــدم تشدد ترسیورې لاندې هرڅه ته ګوري ، بلکه داسې ښکاري چې دی یــوازې دخپــل ځان اوخپلومحدودوګټو په خاطرددغې سترې انسانې داعیې ( عدم تشدد اوآزادۍ ) پراخه دایره په لوی لاس دیوه قام او یا یوه مذهب ترکچې پرې راتنګــه کــړې ، پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې حال کې چې بودا داسې نه و، پاچا خان چې له ده سره يوځای په دغه ډګر کې را پورته اولوی شو ، پرګاندي باندې دانتقاد په ډګرکې ودريد،

دهغه انتقاد پرګاندي اوخپلو هندي ملګرو باندې له همدې امله و، چې ګاندي دغه لوی انسانی ارزښت ته په خورا وړه دايره کې وکتل ، همداوه چې پاچاخان دهند دآزادۍ له دغه ډول خپلواکۍ سره لکه چې ګاندي اونورو دهند دنيمې وچې دويشل په بيه ترلاسه کړه مخالف و، په دې چې هغه پوهيده چې داډول آزادي نه دهندو ، نه دمسلمان او نه هم دانسان په ګټه ده اونه هم له هغو بنسټونو سره برابره ده لکه چې نه زورزياتي يې سپارښتنه کوله . .

دګاندي او نهرو په اړه دا يوه خبره دپاملرنې وړ ده او هغه داچې ددغودواړو مشرانو د سياسي اواقتصادي دريځونو ترمنځ يولړ توپيرونو وو ، په دې مانا چې ګاندي سره له دې چې په يوه پرمختللې ټولنه کې زده کړه وکړه او دعصر دپرمختګ هرڅه يې په خپلو سترګو وليدل ، په جنوبي افريقې کې يې د توکميز توپيررنګ او خوند په عملي توګه محسوس اووليد ، هغه تجربه ورسره وه ، خو له دې سره سره يې هم ونه شوای کولای چې ديوه داسې چا په بڼه دې دټولنې مخ ته راووځي چې دزړو اړيکو او روابطو سره دي په تمامه مانا اوياتريوه حده خدای پامانې وکړي او د نوي هند له پاره دديوه پرمختللې سستم د رامنځ ته کولو غږ په اوچته توګه پورته کړي ، ددې خبرې مانا داهم ده چې ده ونه شوای کولای ځان د هندي ټولنې له زاړه چوکاټه يوپه يو په يوه نوې لور ورمخه کړي، همداوه چې نه يې له ښکيلاک سره په نره غږه ورکړه ،او نه يې دهند دمذهبي نظام نيمګړتياووته په په هغه انتقادي سترګه وکتل لکه چې د شلمو کالو په ترڅ کې په خپلو ليکنو کې ورته کتلي وو ، اونه يې هم په عين حال کې نوي تمدن ته ديوې حتمي او اړينې پديدې په توګه دخپلې خرخې په انډول زړه ښه کاوه . همداوه چې ترننه پورې ګاندي ته دنوې هند ، دپرمختللي او عصري هند بنسټ وال نه شي ويل کيدای ، په دې چې دهند د غه بې ساری او په چټکتياسره پرمختګ دده له افکارو او انديښنو سره په تضاد کې و،بله خبره داهم وه چې ده نه غوښتل هند دې په داسې يو ناڅاپې تخنيکی بري باندې ورمخ شي دنوي هند تخنيکی وده او

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پرمختیا ترډیرې اندازې پورې دنهرواوسرسیداحمدخان ، ابولکلام آزاد،سوبهاش بابو اونوروسیاسې اوعلمې مخکښانوله نظریاتو سره تړاو لري .**
**اودګاندي دڅرخې برعکس دپرمختګ دغه حرکت دهند ددغه وخت شرایطو اوزمانې دپېنډت نهرو غاړې ته ورواچاوه ، هغه ځوک چې پــه هرڅــه کــې یــې عصــري فکـر اونظریات دګاندې له نظریاتو سره په مخالفت کې را وپړکیدل، نهرو نه غوښــتل چــې دګاندې نظریات دې دنوې هند دپرمختګ او پیاوړتیا په بهیرکې ګردســره لــه پامــه وغورځوی خوله دې سره سره یې خپله تګلاره درلوده اودژونــد ترپایــه پــورې یــې دهغې د عملې کولو په ترڅ کې ګامونه پورته کړل ، نهرو له ګاندي سره یولړتوپیرونــه درلودل ، نهرو مذهبې مشر نه و، اونه یې په دغه ټکي باندې ټینګار کــاوه ، کلــه کــه سرې دده نظریات لولې نودا پوښتنه ورحل کیږي چې ده پــه رښــتیې توګــه دنــوي اوخپلواک هند په زړه کې دنوې تمدن اوپرمختګ داسې بنسټونه کیښودل چې دهغو پرستنه ترنن پورې حرکت کوي ، اوپرهماغه لاره کې نن سبا دآسیا په جنــوب کــې دیوه لوی او پیاوړې صنعتې او ان اتمې ځواک په توګه ځان په خــورا پیاوړتیــا ســره ځلوي.**
**مقصد دادی چې ګاندي به ویل چې دهند دترقی پلان باید لــه کلیــو را پیــل شــې ، خونهرو په دغه تګلار باندې باور نه درلود ، اودایې یوه نیمګړې او دترقی له اساســاتو سره مغایره مفکوره ګڼله . ځکه خو یې په هیواد ترهرڅه دمخه د هند دترقۍ په لاره کې د دغه هیواد تخنیکي او ساینسې بنسټونو ته خپله اود خپل حکومت او حکومتی پالیسۍ پاملرنه راواړوله . چې له ده وروسته دهند نوي**
**نسل دپیاوړي تعلمیی پالیسۍ په مرسته دهغه دنومیالۍ لور اندراګاندي پــه مشــرۍ دپیاوړي هندلپاره عملي کړه .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اندارا ګاندي په ځوانۍ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دويم څپرکی

## ګاندي او دعدم تشدد فلسفه

ستا له ستمونو د وره چا وته فریاد کړم
وله مې په غشو ما همت درته نیـــــولی
(اشرف خان هجري)

دنه زورزیاتی ، یاعدم تشدد په اړه تراوسه پورې په هنداونوره نړی کې ددغې پــوهې اومفکورې پوهانوخورازیاتی لیکنې کړې دي ، نه زورزیاتی داسې څه او داسې تګلاره نه ده چې هغه به په رښتیاهم ګاندي رامنځ ته کړې وي ، همداده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



*This photo, taken on January 27, 1948, is believed to be the last photo of Gandhi alive. He was assassinated four days later.*

موږ دغې تګلارې ته دهغه ایجاد نه شو ویلای ، ګاندي په خپله هم په دغه اړه په دې نظردی چې عدم تشدد دومره لرغونی او پخوانی دی لکه چې زموږ پـه شـاوخواکې دغه غرونه دي ، مانادا چې دغه تګلاره له انساني نیچرسره مـل رامـنځ تـه شـوې اودهغه له پرمختیایي بهیرسره یې یوځای په انساني چاپیریال کـې دیـوې تلپـاتې پدیدې په توګه وده کړې ده .په دغه اړه عمومي باورداری چې کیدای شي دمعنویـت دغه روښانه اوښیرازه کرونده اوږدمدتي چاراوعمل تـه اړتیـاولري ،اوکیـدای شـي ترڅوپښتونواو نسلونو پورې ځان وغزوي ځکه نوداپه خپل حساب سـره کومـه بـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښته پدیده نه ده .دا یوه اوږده لار، یواوږد سـفردی ،چـې دخپـل لاروي دعملـي تجربواوکړنو په ترخ کې ځان دبډایی ترپولې پورې رسوي .
دبشر ټولې معنوی هڅې ددغې تګلارې ستایوالې اوخرګندویې دي ، داسـې معنـوي اثراوآسماني کتاب به نه وي چې هغه دی پردغه ایدیااومفکوره باندې ستایل شوی نه وي ، ځکه نو دادهرانسان ویاړ دی چې ووایی نه زورزیاتی یوه انساني هڅـه ده چـې انسان ته له ډیرپخواځخه دانسان دیوه ستراوویاړن معنوي اوانساني میراث په توګـه ورډالی شوې چې ترننه پورې یې دپالنې حق او ویاړ په یوه وړه انفرادي دایـره کـې دخیړنې او وینې وړ نه دی .
نه زورزیاتی یاعدم تشدد دهرمذهب پیاوړې اودپاملرنې وړلومړنی اوپیلنی سـرلیک دی . که دنړې له هرمعنویت اومذهب څخه دغه آر لرې کړې ، هلته نورداسې څه چې هغه باید معنویت اوروحانیت وبلل شي نه پاتې کیږي، په دغه اړه زه پـه دې بـاوریم چې نه زورزیاتی ترهرڅه دمخه دغه لاندې ټکي په خپله غیږ کې رانیسي :
نه زورزیاتی مینه ده،
نه زورزیاتی ځوانمردې ده ...
نه زورزیاتی د ټولو معنوی کتابو پیلامه ده ...
نه زورزیاتی دهر ټولنیزچلند له پاره هوډدی ...
نه زورزیاتی دانسان اوانسانیت ترټولو پیاوړې وسله او توره ده...
نه زورزیاتی دانسانی ارزښتونو ساتندویه او پاسوالو مفکوره ده...
زموږ په عامه ژبه او ورځنې ژوند کې دعاموخلکو یوه خبره چې خورا عامه ده اوکولای شو هغه دنه زورزیاتي جوهراوزړی وبولو لکه چې وایي : ( ګذشت اوبخښـل دمیړنـو ځانګړنه ده ) .
داټولې هغه اشارې دي چې سړی یې په یوه سرسری نظر دهـرې تـولنې او تـولنیز بهیرپه ترخ کې لیدای شي، خوکه چیرې موږ لرنورهم دانساني آثارو او میراثونو تل ته ورننوزو ، هلته تردې هم زیاتې خبرې په دغه اړه لیدای او لوستلای شو، په دې چـې دغه تګلاره له یوې داسې هستۍ څخه راپیل کیـږي چـې هغـه لایزالـې ده ،ځکـه نوداویلای شو هغه خدایی اوتلپاتې هستې ده چې په خپلوټولو آسـماني کتـابوکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې سپارښتنه کړې ده ، داسې سپارښتنه چې يوازې دانسانی پوهې پــه يــوه تــاکلې مرحله کې انسان دهغې په عملي کيدو او غوره کيــدو بانــدې لاســبرى شــوى دى ، همداده چې نن هم دبشريت په وړاندې دغه تګــلاره دژونــد پــه يــوه لــوړ پړاوکــې دپاملرنې اويادونې وړده.

نه زورزياتی دخپل ماهيت له پلوه دبديواوناوړتياوو پرضد يوه هڅه ده چې دهغې پــه مرسته انسان کولای شي ديوشميرســتونزو لکــه ډار، عقــدې ، قهراوتيــري پرضــد دانساني پوهې اوپوره شعوري تياري په درشل کې شي . که ډار دتــل لپــاره پرژونــد باندې برلاسی وي ، دهغه ترسيوري لاندې هرډول انساني هڅه مري ، کله چې انسان له هڅې ولويد دهغه لپاره مرګ ترهر څه دمخه دورکې سنګرنيولی او پــه هغــه يــې سپاري .

که انسان عقده اوسرټمبګې له خپل کرکتر سره مله کړي ، نو نه يوازې به ځان تباه او برباد کړي چې ان بشريت به هم دخپلو عقدو په ماتم اوښکيل کې داسې رااپسارکړي لکه حيوان ...

قهر هم داسې درواخله چې زياتې بدمرغۍ رامنځ ته کولای شي او څومره ســتونزې چې فکرکوی له دغې بدمرغې پديدې سره ملګرې دي چې پای يــې پــه تيــري او تجاوز باندې اوړي ...

په علمي توګه دنه زورزياتي دفلسفې يوه ځانګړنه داهم ده چې دغه تګلاره انسان ته دپوهې او منطق په لور لوړتيا وربښي ، دغه فلسفه په همدغه ټکي باندې ټينګارکوي او وايي چې داانساني موخو ته د رسيدو يوازنۍ معقوله لاره ده چې دهغې په مرســته پرته له جګړې ، ډار، اوځورونوسړی هدف تــه رســيدای شــي . پــه يوشــميرفرهنګو اوکلتورونو کې دالاره زياترو پوهانو درياضت په نامه هم يــاده کــړې ، ګانــدي هــم دهمدغې لارې په اړه په دغه ټکي باوري و.

اودغه عملی رياضت يې دځان ځانګړنه کړې ده ،دی په دغه اړه وايــی چــې ددغــې برياد ترلاسه کولو په مخه دی يوازې تريوه حده پردغه لاره تللی دی ځکه نوليکي :

(( څه شی چې ماغوښتل هغه ترلاسه کړم ،اوڅه چې ما په دغه ديرشوکالوکې په هغه لورګام اوچت کړ، هغه زما فنافی ذات وه ، چې ماغوښتل خپله له خدای سره مخــامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شم او ترموکشا پورې ورسيږم ، زه وهڅيدم او ددغې مـوخې پـه لوروړانـدې ولاړم اوهغه مې وڅارله ، په هغه څه کې چې زه يې په ويلو او ليکلوکې ويلای شم اوڅه چې زما سياسي افکاراوکړنې دي ، هغه ټول
پرهمدغه ټکي باندې دريږي ))۔[1]

ګاندي په دغه مفکوره باندې سړي ته داوربښيي چې روحانيت ددې لامل کيږي چــې انسان په انسانيت ورګډکړي ،اوکيدای شي انسان دهغه په رڼاکی دژوند اصلي مقصد هم دڅان لپاره په عملي توګه غوره اومعلوم کړای شی اوهــم دنــورو لپــاره، داســې ښکارې چې نه زورزياتی په دې نه زده کيږي چې سړی بايد په کــوراوانزواکې ورتــه کينی ،بلکه دازده کړه ترهرڅه دمخه دې ته اړتيالري چې دهغې په ترڅ کې يوڅوک بايد دخپل څان خوند او رنګ درک کړي ، څان بايد وپيژني اولــه هغــه څخــه بايــد دغيرضروري خطراو مرګ په وړاندې ددفاع اولامل په لټه کې شي اودهغه په زړه کې بايد د سختيوله هرډول سره څان بلد کړي .

ددغې ايدې له مخې کله چې دوه کسه سره جنګيږي او يوبل سره وهــې ، يــوزورور اوبل کمزوری دی ،دوی دواړه جګړه ماردي ، دلته دنه زورزياتي سوال نه رامنځ تــه کيږي ، په دغه ترڅ کې نه زورزياتی هغه دی چې يوکس له دغو دووتنوڅخه دمقابلی پرځای دڅان ددفاع په لټه کې هلې ځلې وکړي ،په دغه ترڅ کې په څرګنــده ســړی ويلای شي چې زورورهغه څوک چې زورزياتی کوي نه دې ، بلکې زړوراوزورور هغــه دی چې څان له
ظلم او زورزياتي څخه پرته له کټ مټ عمل څخه ژغولاشي .

دنه زورزياتی مفکوره لکه څنګه چې يادونه يې وشوه ، له ډيرپخوا ترننــه دانســانی تفکر په تاريخ کې دانسانانو لپاره دپاملرنې وړ موضوع وه ، په دغه اړه دهندي ګروهی سپيڅلی کتاب ( بګوت ګيتا ) ترټولو پخوانی کتاب دی چې ددغې مفکورې اړونــدې نښې نښانې له خان سره لري ، ګيتا په دغه اړه يولړيادونې لري چې دهغو لــه مخــې

---

[1] Ghandhi .M.K An Autobiography introduction P. 11

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی کولای شي ووايي چې دا به لومړنی اثروي چې دعدم تشدد په اړه يې يادونې ته په خپلودرسونوکې ځای ورکړی دی ، په ګیتا کې راغلي دي :

« اجازه ورکړئ ، اوسختې خبرې يې په سره سينه واورئ ، اجازه ورکړئ ، اوهیڅوک مه توهینوئ ، یوه قهرجن سړي ته دااجازه ورکړئ چې دزړه خبره ووايي اوپرمخ يې قهرمه ورغبرګوئ ، هغه پريږدئ چې په قهرکې ځان وغوړوي او هرڅه وويلی شي ...»

له دغوتلپاتې خبروراپه دیخوا په (۵۰۰م ) پیړی کې ساکايي شهزاده بودا دخپل معنويت په هڅه کې چې په بشپړه توګه دنه زورزياتي پربنسټ وه یوځل بیا په دغه لړکې ځا ن راوپړکاوه او په ځانګړې توګه يې په دغه اړه وویل :

« یوورور باید په قصدي توګه دبل ژوندي موجود ژوند ترې وانخلی ، دځان دژوندي پاتې کیدو په خاطر باید بل ژوند ي موجود ونه وژنو... »

دنه زورزياتي په اړه ترهرڅه مهمه خبره داده چې دهند په نیمه وچه کې ددغې مفکورې خرګند اخځ بیاهم بودايي درسونه دي ، چې دزياترو مذهبوله خوا په خپل وخت کې ځارل شوي اووده ورکړه شوي ده .

*"When people will forget the Gautama Buddha, there will come another Buddha who will be called Maitreya. That is the Buddha of compassion and peace."*

جن بل پخوانی مذهب دی چې په اصولوکې يې په نه زورزیاتي باندې خورا زيات ټینګارشوی دی ، زیاتره پوهان په دې باورهم دي چې پرګاندي باندې هم ددغه مذهب داغیزې له لارې دنه زورزياتی اغیزو چې دی يې په دغه مفکوره باندې دژوند ترپایه استوار او پابندوساته ، جن مذهب تربودیزم هم په دغه ترخ کې جدي دی لکه چې په دغه اړه وايي :

ټول ژوندي له دردونو اوځورونوځوريږي ،
همداده چې څوک باید هغو ی ونه وژنی ...
دادعقل اوپوهې ترټولوښه او په زړه پورې خبره ده چې :
هیڅ شی باید ونه وژل شي ،

یاداچې :
دوسلې زور هغه څه نه شي کولای ، هغه چې سوله يې کولای شي ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کله چې ته کولای شې خپل هدف په خوږه ترلاسه کړې ، نو بیادزهرواچولو ته اړتیـا نشته .**

( وګور ئ : نیتیرا کایام نتیا ، دجن مذهب لارښونکی کتاب ، ۲۰۳ مخ )

جن مذهب په خپلو تعلیماتو کې په نه زورزیاتي باندې زیات ټینګار کوي او اساسـی اصول یې په همدغه تګلاره باندې ولاړ دي ، دغــه مــذهب اودهغــه اصــول هــم نــه زورزیاتی هسې دیوې سرسري پدیدې په توګه نه مني او نه یې تبلیغوي ، پــه دغــه مذهب کې هرپیرو بایدنه زورزیاتی یا عدم تشدد په عمــل اونظرکــې دخپــل ژونــد معنوي رمز وګنی ، په دغه برخه کې دوی څومره چې په سابه خوړلو بانــدې ځانونــه پابندې ګڼی په همدغه اندازه دخپل معنوي ژوند دلارښوني لپاره هم په نه زورزیاتی باندې ځانونه پابندبولي .

په هندې ژبه کې د ( اهنسا ) دویی مانا هم نه ټیپ کول او نه وژنه ده ، خوپــه پراخــه مانا دغه ویی د نه څوروني په مانا هم کارول کیږي .خویوځه چې باید په دغه ترڅ کې په پام کې ونیول شي ، هغه دادی چې په لاسی او قصدي توګه به نه وي .

نه زورزیاتی دګاندي له نظره هم په دوه لحاظه تعبیراوتفسیرشوی دی ، یوددغه اصل مثبته ځانګړنه ده او بله یې منفي ، منفي یې کیــدای شــي ، داوې چــې دهرژونــدي موجود لپاره دغه اصل کارول شوی دی ، مانا داچې هر ژوندي موجود ته باید په مادي اوجسمي اوهمداراز په فکري اومعنوي لحاظ زیان ونه رسول شي ، په دغه ترڅ کې د زیان رسونکي اونه زیان رسونکي موجودخبره نه مطرحه کیږي .

خوترکومه خایه چې ښکاري دګاندي مراد په دغه ترڅ کې یوازې په مثبته خــوا کــې دی ، هغه په دې باوري دی اووایي : « زه به کله هــم هغــه څــوک چــې بــدکوي او ناوړتیاوې یې پرفکر باندې برلاسې وي ونه شم زغملای »

ګاندي په دې باوري دی چې په هندی ژبوکې داهنسا مانا هم پراخــه مینــه ، پراخــه اولویه ځان تیریدنه اودنورلو لپاره خیرغوښتنه ده ، اوپه دې یې هم باور دی چې :

« که زه په رښتیاهم د اهنسا پیرواو پلوی یم ،نو زه باید له خپل دښمن ســره دومــره اوداسې مینه ولرم لکه چې له خپل پلار او زوی سره یې لر م ...)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماناداچې نه زورزیاتی داسې مفکوره نه ده چې هغه باید یوځوک اویوه ټولنه دځپلې کمزورۍ نښه وبولي ، نه، نه زورزیاتی دځپلې فلسفې له مخې یوه پیاوړې رښتیاده او یوپیاوړې زړورتوب ، دګاندي په وړاندې هم دغه آر په همداسې بڼه مطرح دی ، ځکه یې له رښتیاینې اوحقیقت سره یوشان اویوډول بولي ، دهغه په نظر نه زورزیاتی هدف دی ، وسیله نه ده ، ګاندي په دې نه دې راضي چې دغه لوړمفهوم دوسیلې پړاو اودرجې ته راټیټ کړي ، بلکه هغه غواړي چې دغه مفهوم دمینې اودرنښت په پوله کې دهدف په کچه کې وساتي ، خکه یوازنی څه چې ګاندي پرهغه باندې ډاډمن دي هغه دادی چې دی مینې ته دیوه اوچت حقیقت او واقعیت په سترګوګوري ، دده په نظر هیڅوک نه شي کولای چې دمینې او نه زورزیاتي ترمنځ توپیررامنځ ته کړای شي ، همداده چې ګاندي په دغه اړه ډیرپخوا ویلي وو :

“In this age of the rule of brute force, it is almost impossible for anyone to believe that anyone else could possibly reject the law of final supremacy of brute force. And so I receive anonymous letters advising me that I must not interfere with the progress of non–co–operation even though popular violence may break out. Others come to me and assuming that secretly I must be plotting violence, inquire when the happy moment for declaring open violence to arrive. They assure me that English never yield to anything but violence secret or open. Yet others I am informed, believe that I am the most rascally person living in India because I never give out my real intention and that they have not a shadow of a doubt that I believe in violence just as much as most people do. Such being the hold that the doctrine of the sword has on the majority of mankind, and as success of non–co–operation depends principally on absence of violence during its pendency and as my views in this matter affect the conduct of large number of people. I am anxious to state them as clearly as possible……”

*(Source: Young India, Ahmedabad, Wednesday, 11th August, 1920)*

مانا داچې هرڅوک باید دنه زورزیاتي دمفکورې له مخې په دې وتوانیږي چې دیوه مطلق هویت خاوند شي اودخپلې پیاوړتیا په خاطر باید دنه زورزیاتي پرلاره باندې ګام کیږدي ، یوه خبره چې په دغه اړه باید وشي هغه داده چې ګاندي په خپل وخت کې دغه لرغوني مفکوره دنوي عصر له غوښتنوسره سمه راپورته اودعمل ډګرته لکه چې مارتین لوترکینګ هم ویلي وو راوایسته ، ګاندي په خپله هم په خپلولیکنوکې په دغه اړه ځوځوځلې یادونه هم کړې ده ، ماناداچې ګاندي دیومعنویت پلوي انسان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه په هغو ټولو معنوي وړتیاووباندي پوهیږي ، هغه چي بشریت ته دلاربښوني پــه خاطروړمیراث شوي دي ، ګاندي په خپله وایی چي ده ټول آسماني کتابونــه لوســتي اوپرهغــو بانــدي بــاوري دی ، همــداده چــي دده مفکــوره هــم دهمــاغو مقدســو کتابوپرارشاداتو باندي ولاړه ده ، ګاندي په دغه ټکي باندي هم باوري دی لکه چي په قران کریم کي رانازل شوي :

یا یهاالذین امنو استعینو بالصبروالصلوه ، ان الله مع الصابرین

ژباړه : ای ایمان والو ، دآخرت دثواب ترلاسه کولو پــه خاطرپــه صــبراولمانځه ســره دمرستي غوښتنه وکړئ ، بې شکه چي خدای له صبرکونکوسره دی ، (ســیقول ، ۱۵۲ او۱۵۳ ایاتونه )

په نه زورزیاتي کي دپوهانوپه نظر دوه ټکي په ځانګړي توګه دپاملرني وړ دي ، دغــه ټکي لومړی ځاني دسپلین ( Self Discipline)او دویــم یــي نفســی مجادلــه (Self Renunciation)

دی ، په دغه اړه اوس په خورا آسانی سره سړی ویلای شي چي په الهي کلام کي دغه دواړه اصله دیوه داسي انسان په وړاندي چي هغه ددوو ټکو (صبراو عبادت ) په مانــا پوهیږي دیوي خورا مهمي سپارښتني مثال لري ، ګاندي په دغه رمز باندي پــوهیږي ځکه نو هغه عدم تشدد ته دداسي یوه مفهوم په نظر ګوري چي هغه دهرچــا اوهــري عقیدي دپیروانو لپاره دمنلواو عملي کولو وړدی ، که چیري انسانان په ربښتیاهم پــه دغه اړه په ربښتیني توګه ددغي ډالی دلاس ته راوړلو هڅه وکړي ، هغه کولای شي په ډیروهغو ستونزو چي بشریې په خپل ژوندکي لري او یاورته ناحله بریښي بریالی شي .

دنه زورزیاتي عمل اوتګلاره دهغوی له خوا چي نه غــواړي دتابعیــت اوتســلیمئ پــه بڼکیل کي راښکیل شي عملي کیږي ،هغوی ،چي په خبله مبارزه کي دخپل کــړکیچ دحل لپاره نه زورزیاتی ( عدم تشدد) یوازنی ګټوره لاره بولي .
نه زورزیاتی عملا هغه هڅه نه ده چي دهغي په ترسره کولوسره به خوک لــه کــړکیچ څخه ځان پر یوه خواکړي ، بلکي داهغه یوازني مثبت ځواب دی چي دهغه په مرسته سړی کولای شي له خپل ځواکه په ګټوره اوموثره توګه کاروالخلی اویایی پــه عمــل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې پلی کړي . دګاندي ساتیاګره هم پر دغه اصل راڅرخي اوپه دې ټینګارکوی چې رښتیا بایددمیني او سم عمل له لارې دټولنې اووګړي دکرکتراوخصلت ځانګړتیا شي ، ددغې تګلارې غوښتنه داده چې دتشدد په وړاندې په انفرادي اوټولنیزه توګه په خپل ټولنیز ، اقتصادي اوسیاسي چاپیریال کې ګام واخیستل شي .. لکه چې په دغه ترڅ کې دګاندي دمالګې ساتیاګره ترټولو ښه او روښانه بیلګه یادولای شو.
عیسویانو هم په خپلواصولوکې داخبره منلې ده چې ( خدای یعنی مینه)

Christians generally accept the proposition that 'God is love'. This leads to the logical corollary that the main enemy is hatred itself. Relying particularly on New Testament texts, such as the sayings of Jesus that "Whoever shall say [to his brother] , Thou fool, shall be in danger of hell-fire" (Matthew 5:22) and "anyone who hates his brother is a murderer" (1 John 3:15), Christians have interpreted the terms 'brother' and 'neighbour' (following the parable of the Good Samaritan) at their widest. And this means loving opponents and even enemies:

Care as much about each other as about yourselves...
Never pay back evil for evil...
If your enemy hunger, feed him; if he thirst, give him drink...
Do not let evil conquer you, but use good to defeat evil.
(Romans 12:16-21)

( وګورئ دپورتني مطلب په اړه په انګریزي ژبه دنه زورزیاتی ویبپاڼه)

په ختیزوټولنوکې چې یوشمیر ته یې دنه زورزیاتي ژانګووې ورته ویلای شو، دغې فلسفې ددغوخلکودمعنویاتو پر شنه اوروښانه آسمان باندې تل خپله وړتیا او اغیزپه ژوره توګه ساتلی دي ، مانا داچې عدم تشدد ختیزانسان ته دهغه په معنوي ژونداوبرخلیک کې دیوې حیاتی اومهمې پدیدې ځای په ننبه کړی دی ، همداده چې دلته دغې مفکورې ځان دپیاوړي معنوي ارزښت پړاو ته رسولی دی ، ان دومره چې که له معنویاتو څخه دغه پدیده په یوه خوا کړو، هلته معنویت ته نورڅه نه پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي . دایوازې ګاندي نه دی چې په دغه برخه کې یــې افکــار بایــد مخــکښ وي ، دفارسی اوپښتوژبوادبیات پرهغو وړتیاوو ډک دي لکه چې سانسکریت او پــالي ژبــې یې دهندي ګروهې په اړه انسان ته وړډالی کولای شــي ، ســنایی ، مولانــا ، عطــار ، دهرات دپیر اوهمداسې د پښتو ژبې عرفانی خیرې او میراثونه لکه روښان ، ارزانــي ، میزاخان انصاري ، دولت ، رحمان بابا او دخوشــال خــان دکــورنې یوشــمیرنومیالي لیکوال او عارف شاعران په دغه برخه کې هغــه څــوک دي چــې ددوي افکــار دنــه زورزیاتي او عدم تشدد ډیرښه استازي بلل کیدای شي . ماناداچې عرفان اوتصــوف دشعراوادب په ترڅ کې له مذهبی لارښوونکو وروسته دآسیایی ادبیــاتو دپــاملرنې وړموضوع ده . همدغه ادبیات دي چې دغه سترانساني میراث ته یې پــه ډیــره ښــه اوهنري بڼه انعکاس ورکړی دی .

دعرفان اوسلوک مساله په ټولو سرچینو کې دپوهې غوندې اوهــم لــه هغــې ســره انډوله طرحه موضوع ده ، عارفا ن او پوهان په دغه برخه کې له یوه اوبل سره هــیڅ ډول توپیرنه لري او نه هم ددغه انسانی ارزښت په وړاندې توپیرته اهمیت ورکــوي ، دهرشاعراو روحانی پرافکاروباندې نه زورزیاتی دومره برلاسی دی چې له هغه پرتــه یې فکراو ایجادبل څه نه وینې او نه یې انځورولی شي . دپښتو ژبې نومیــالی شــاعر اشرف خان هجري له هغو شاعرانو څخه دی چې دده په اشعاروکې دنــه زورزیــاتی یوه بیله او ژوندی نړۍ زموږ په واک راکړل شــوې ده ، زه پــه دغــه اړه لــه تاســې درنولوستونکو سره یوازې دعرفانی ادب پرپوله باندې نه تم کیږم ، موږ دغه تلپــاتې ارزښت دهغو شاعرانو دایجادپرفضاباندې هم لیدای او احساس کولای شو چې هغوی له ژوند سره یوازې په مادي لحاظ ډیراوپه معنوي لحاظ لږ چلند کــوي ان چــې دوی هم په دغه ترڅ کې خپل هغه ایجادیات چې زموږ لپاره یوازې دهغو دایجادي تجربــې په توګه اهمیت لري بیاهم د تفاهم اونه زورزیاتي دمبلغ په توګه زموږ پــه واک کــې راکــوي ، کلــه چــې مــوږ د خوشــال خــان ختــک دنومیــالي زوی هجــري غــږ دبیجاپوراورنتمبور له دنګو کلاګانوڅخه اورو ، په هغو کې هغه ترنم او هغه ځوښ چې دخوشال په افکاروکې ژوند کوي نه لیدل کیږي ، هلته دغه شاعر لکه څنګــه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهغه ارادتی کلام ده ته د صبر قومانده ورکوي ، هغه څه موږ ته په داسې ژبــه وایــې چې هغه دصبراوتحمل ترټولو ښه او تلپاتې درسونه بلل شو:

**ستا له ستمونو د وره چا وته فریاد کړم ولـه مې په غشو ما همت درته نیولی**

ګاندي دهمدغواودې ته ورته آسیایی افکارو پرېخوزینو باندې دعدم تشدد دلوړتیــا آسمان ته راپورته شو، دده داندوژوند دغه پیاوړې فلسفه یوازې دیوه مــذهب ، یــوه عرفان او یوه سلوک په زړه کې رامنځ ته شوې فلسفه نه ده ، هسې چې دی په خپله نه شي کولای په دغه ترخ کې ځان یوې ټاکلې عقیدې ته وسپاري ، دهغې لامل هــم دغه دی ،چې ده په خپله پوهه اوخپله څیرکې سره ځان تردغې پولې راورساوه چــې خپل سپیڅلي هدف ته درسیدو لپاره یې یوه سپیڅلې وسیله یا تګلاره هــم غــوره کړه ، مانا داچې کله موږ دګاندي فلسفه یو ه ټولنیزه او سوله ییزه پاریدنه بولو ، دهغې لوی لامل هم دادی چې هم یې هدف سپیڅلی دی او هم یې هغه ته درسیدو وسیلې ، که چیرې له دغو دواړو (هدف اووسایلو) په یوه کې هم خلل وای ، نو په دغــه حــال کې به دده ساتیاګره په خپله یوه جعلی اودرواغجنه هڅه وای .
بله خبره چې دګاندي دعدم تشدد په اړه یې باید وکړو هغه داده چې دده تعبیرلــه دغې مفکورې څخه دادی لکه چې پاچاخان دده له خولې لیکي :
«... سبا له بمبی ته لاړم ، ګاندي جی دبرلا په کورکې و، زه هــم ورغلــم هلتــه ولاړم اوهغه سره اوسیدم ، یوه ورځ یې دعدم تشدد بحث شروع کړو ، نو ما ورته ووی چې ګاندي جی تاخو دېرې مودې نه په هندوستان کې دعدم تشدد ســبق ورکــړی دی اوزما خو ډېرلږ موده وشوه چې پښتنو ته مې داســبق شــروع کــړی دی ، مــا ســره هغومره ذریعی اوکارکنان نشته څومره چې تاسره دي ، ته وګوره چې د ۱۹۴۲ کال په جنګ کې هندوستان کې څومره تشدد وشو، لیکن په صــوبه ســرحد کــې بــاوجود دانګریزانو دډېرظلم اواشتعال نه پښتنو تشدد ونه کــړو حالانکــه هندوســتان ســره تشدد دهغومره سامان هم نشته څومره چې پښتنوســره دی ، ددې پــه ځــواب کــې ګاندي جی ووې چې عدم تشدد دبزدل سړي کارنه دی ، دادیوه بهادرسړي کاردی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتانه دهندوستانیانو نه زیات بهادران دي ، دغه وجه ده چې هغوی تشدد ونه کړ...»
(جدوجهد ۶۸۵ مخ )



ګا ندي په پښتونخوا کې

ګاندي په ۱۹۱۸ کال کې دخپلوساتیاګرانو لپاره یوشمیرلارښونې په ګوته کړې په دغو لارښونوکې موږ کولای شو ، دعدم تشدد او رښتیاینې هغه مرامې څــه چــې ددغــې تګلارې لپاره دده له خوا لارښود وو په لاندې ډول سره ولولو:

## ساتیاګرانو ته لارښونې

ساتیاګره کمپ ، نادیاد ، د۱۹۱۸ کال داپریل ۱۷

---

۱- رضاکارانو ته وړده چې ، دا د نه زورزیاتي کمپ دې ، دوی باید په هــرډول حــالاتو کې د رښتیا اورښتیانې امرومني اودهغو پیروي باید وکړي .
۲- په ساتیاګره کې د لوړتیا اوځان لوړبللو لپاره ځــای نشــته ، پــه دې مانــا چــې د ساتیاګرۍ داصولو له مخې باید پرچا باندې فشار نه وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- سرتمبه ګې اورخه په ساتیاګره کې ځای نه لري، ان دهغوی په وړاندې چې پوهیږو زموږ مخالف دي باید ددوستۍ له مخې چال چلند وکړو، کلیوال هم باید په همدغه روحیه باندې وروزل شي . رخه اوکینه کولای شي زموږ مبارزه له خپلې وړتیاڅخه راوغورځوي .**
**۴- رضاکاران باید داپه یاد ولري چې دایوجهاد دی ،موږ په دې ځکه ټینګارکوو چې موږ له دې پرته نورڅه نه لرو،اوکه داهم په سمه توګه ترسره نه کړو مانا داچې موږ دخپل مذهب په وړاندې په څه کولو کې ناکام یو. ټول هغه څه چې دژوند اومذهبي لارښونو په ترخ کې اړین اومهم دي ، هغه باید دلته په پام کې ونیول شي .**
**۵- موږ د واک اوځواک له برلاسي اوغرور سره مخالف یو،اوهمداسې دقانون په وړاندې ړانده ،ځکه چې په دغه برخه کې بیواکه یو،خودابه ددې مانا هم نه لري چې ګواکي موږ څه نه وینو، زموږ دنده داده چې موږ له مامورینوسره ددوی دنورو کارو په برخه کې مرسته وکړو.**
**۶- موږ دلته هم دهغواصولو لپاره وړاندیزکړی ،هغه چې موږیې په خپل کورني چاپیریال کې په پام کې نیسو، موږ باید دحکومت اوخلکو ترڅنګ دیوه داسې ځواک په توګه چې دیوې لویې کورنۍ جوړونکی اوعملي کوونکي وي فکروکړو.**
**۷- موږ باید له هغوی څخه چې له موږسره هم نظري نه دي ځان په یوه خوا نه کړو،دابه زموږ دنده وي چې له دوی سره تړاو ولرو او دوی دخپل نظراوفکرپرخوا راوکاږو.**
**۸ـ- موږ باید ددې لپاره هڅه ونه کړو چې ځان دچالاکۍ په دریځ کې واچوو،موږ باید هڅه وکړو چې ربښتینې اوپررښتیا باندې باورمن واوسو.**
**۹- کله چې رضاکاران په کلیوکې تمیږي ، باید دکلیوالو دکړو وړو اواړتیاوو په پام کې نیولو سره دهغو لپاره دچوپړ تابیاهم وکړي ، هغوځایونو ته چې کولای شي په پښوسفروکړي ددې اړتیانشته چې له ګاډوڅخه کارواخلي،په عین حال کې باید ځان له ساده ډوډۍ خوړلو سره هم آشناکړي .**
**۱۰ - هرمهال چې رضاکاران پرکلیوورځي ، دوی باید دکلیوالو اقتصادي حالت ته جدي پاملرنه له یاده ونه باسي ، له هغوی سره باید د زده کړې په برخه کې مرسته**

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي اوهغوی  ته باید دخپلې بیکارۍ په وخت کې خوښي اوخوشالي ورپه برخه کړي
.

۱۱- که دوی وخت لري باید دکلیوالوله ماشومانو سره دزده کړې په کــارکې مرســته وکړي .

۱۲- که چیرې دوی (رضاکاران ) په کلیوکې داسې څه چــې هغــه ددوی روغتیــا تــه زیانمن وي وینې هغه باید کلیوالو ته هم وروښیي اودهغو پام باید ورته راواړوي .

۱۳- په هرځای کې که رضاکاران داسې ځوک وینې چې له یوه اوبل ســره پــه خپــل منځي شخړوکې ډوب دي، لومړۍ باید هغودې ته راوبولې چې په خپله له یــوه اوبــل سره جوړشي اوکه داشونې نه وي ، بیادې دهغوی ترمنځ منځګړیتوب وکړي .

۱۴- دوی باید دخلکوپه وړاندې دلوستلو دنده هم پرمخ بوزي ،کله چــې دوی ســاه اخلي اودمه کوي پرهغه مهال باید داسې څه چې دساتیاګرۍ  دپیاوړتیا سبب کیــږي له هغوی سره ولولي .

۱۵- په هرډول شرایطوکې دوی باید دهرډول وسلې کارونې ته اجازه ورنه کړي ،اوهم باید داله یاده ونه باسي چې دعدم تشدد دمبارزې اصلي موخه اوهدف دنه زورزیاتي پاسوالي اوساتنه ده .دعدم تشدد مانا داده چې په زغم سره خپلــه عادلانــه جګــړه پرمخ بوځو، دلته داپوښتنه نشته چې یوپربــل بانــدې یوڅــه وزغمــو. عــدم تشــدد همیشــنی بریــالیتوب دی ، داســې چــې کلــه هــم ماتــه نــه منــي . راځــی چــې هررضاکارترهرڅه دمخه په همدغه رمزپوه کړو ځوهغه بیــاوکولای شــي نورپرهغــه باندې پوه کړي .

مهنداس کرم چند ګاندي

## دعدم تشدد اوسني هندي کره کتونکي

-------------------------

دګاندي اودهغه دنه زورزیاتی په اړه یوه نظریه چې زه یې دهغه عام ذهنیت له مخــې چې په هندکې په دغه اړه شته او کله کله یې خبره ان علمي ناستوته هــم راغزیــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخپلې خيړنې اوکتنې په ترڅ کې دلته راليکم ، هغه دا ده چې وايي ګاندي په خپـل ژوند کې په دې ونه توانيده چې دخپلې فلسفې پـه رڼـاکې دې يـوامن اوآرام هنـد وستان ووينې ،دده کره کتونکي داهم وايي چې ده دهند دآزادۍ پرمهال په يوشمير عينې واقعيتونو باندې داسې سترګې پټې کړې چې هغه دده لپاره دژوند ترپايه پورې دروح عذاب شول ، هند آزادي واخيسته خو دغه آزادي پـه کومـه بيـه اوکـوم نـه زورزياتي ورته تمامه شوه ؟ په دې اړه ، ده دکانګرس دزياترو غړو پـه وړانـدې دزړه نازړه چال چلند تګلاره غوره کړه، په دې چې ده فکرکاوه دی په دغه برخه کې برحق دی ، په دغه اړه بايد پر يوه ټکي باندې هرڅوک پوه شې چې ګاندي دنـه زورزيـاتي پلار نه و، هندي پوهان او دګاندي کره کتونکي په دغه ټکي باوري دي چې ګاندي نه زورزياتی ،دهغه مفکوره ،اودهغه اصول لکه څنګه چې پيل شوي وو دعمل پرمهـال يانې دآزادۍ پرمهال عملي نه شواى کړل ، د نه زورزياتي دفلسفې اوتګلارې ترټولـو ګران او سخت اړخ دتاريخ په اوږدو کې داو چې ددغې مفکورې زياترو پلويانو هغه په عمل کې سمه نه ده تطبيق کړې ،داسې فکرکيږي چې دګاندي ستونزه هم په دغه پايله باندې پاى ته ورسيده چې هند يې په دوو برخو وويشه ، دهندو اومسلمان خبره ، دهند اوپاکستان خبره خو دده ترسترګولاندې دهمدغې مفکورې په درشـل کـې دعدم تشدد ترسيورې لاندې په درانه تشدد سره عملي شـوه ،همـداده چـې اوس دهند اوسنی نسل په دغه برخه کې په دې نه دی باورې چې دغه تګلاره بايد دخپل ټولنيز او سياسي ژوند لپاره د مرامي تګلارې په توګه ومنی . دوی داهم نه مني چې له دغې لارې به هند دنيکمرغۍ په لور ګامونه اوچت کړي ، اوس نو ، په دغه اړه سړی په څه شان کولاى شي حکم وکړي چې هند په عدم تشدد سره آزادشو، که همـدا اوس په هند کې له هغو زړو کسانو څخه پوښتنه وکړې چې دوی ولې د پارتيشن پر وخت له اوسنی پاکستانه په شړلو محکوم شول ، دوی همدا خبره کوي چـې کـه داعـدم تشدد وچې مليونونه يې تراوسه پورې دردونه زغمي ، نو تشدد به څه شی وي. مانـا داچې داشان خبرې دګاندي او دهغه د نه زورزياتې دمفکورې په اړه نن سـبا دهنـد دځوان نسل له خوادپوښتنې وړ خبرې دي . کله چې مورد ګانـدي او دده دفلسـفي فکر په اړه خبرې کوو ، نودا راته څرګند يږي چې دده عمل او وينګ په عمومی لحاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دهند دويش پرمهال دده دتګلارې له اصولو سره برابر تيا نه کوله ، په دې مانـا چــې دی په عملي توګه مخکې تردې چې دانسانې ټولنی او انسانيت په تـرخ کــې خپلــه تګلاره پلې کړي ،دويش پرمهال ددې پرځای چې يواوچت انساني شعار چې هند بايد نه وای تجزيه شوی رامنځ ته کړي حوادثو په داسې يوعمل ورمخه کړ چې دهغــه پــه ترخ کې دی ترهرڅه دمخه عملاً ديو خورا پياوړی هندوپالي چا پرکرښه لکــه چــې محمدعلی جناح دمسلمانانو په مخ کې راوپړکيده ودريده ، سره لــه دې چــې ده پــه دغه برخه هيڅ هم نه دي ويلی خوعملاً دهغوپه ځنګ کې پاتې شو چې هندوســتان يې دهندوانو لپاره غوښت اوهغوی يې له ځانه بيل وبلل چې دپاکستان په نامه دلــوی هند له پيکرې څخه بيل شول . ان دده دلارې نوميالی پيرو پاچا خان هــم پــه خپــل اثرکې دغه ټکي ته ( دکانګريس بې وفايی ) نوم ورکړ او په هغه کې يې خپله ګيلــه ترهرڅه د مخه له ګاندي جې څخه وکړه ځکه دهمدغې تګلارې له امله وه چې دوی خو دهند دنيمې وچې دآزادۍ ژمنه سره کړې وه نه دهغې دويش .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهند له وروستی ویسرای اوهغه له میرمنې سره د ګاندي له دغې کتنې وروسته
یوڅو ورځې وروسته هند تجزیه شو .

دهند تجزیه دآزآدی په نامه ده او نورو کانګرس مشرانو له انګریزانو سره ومنله ، کله چې پاچا خان ددغې آزادۍ په وړاندې دمخالفت او نه منلو غږ پورته کړ، دی لـومړنی سړی و چې دهغه په خوله یې لاسونه ونیول او ورته ویې ویل چــې اوس کــار ترکــار تیردي باید دادزهرو غړپ ترستونې تیرکړو، پاچاخان بیاهم ورته وویـل چــې زمــوږ اوتاسې پیوستون خو دهندد آزادی لپاره په دغه شان لکه چې تاسې اونهرو یې عملې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کوځ نه و. دوی هغه ته یوازې پورتنی ځواب ورکړاو په دغه حساس وخت کې پرهغــه دریځ کې چې هغه دانګریزانو هیله اوموخه وه آرام پاتې شول ، کله چې ولسونه سره تباه شول ، کله چې له یوه اوبل لوریه خلک په تښتیدو او وتوشول ، ګانــدي پرهغــه مهال حیران شو، او په ډاګه یې خپله دغه تیروتینه ومنله او دایې لاورزیاته کړه چې په دغه کار سره دده د ژوند دوې لسیزې رالنډې شوې .، مانا داچې دغه کــار دده پــه وینا دده ژوند را لنډ کړ.**

**مامخکې وویل چې ګاندي په یوزیات شمیر هیوادو او ټولنو کې د یوه نــامتو اتــل پــه توګه ومنل شو، اوهغه په دغه ټکي چې ګاندي یوسیاسی لارښود و، دګانــدي پــه اړه دبهرنیانو خبرې له هغه عام ذهنیت سره توپیرلري هغه چــې پــه هنــدکې دده لــه مړینې وروسته اوان نن هم برلاسی دی ، باندنیوکسانو اوڅیړونکو دی په هنــد کــې دننه نه دی څیړلی او نه یې مطالعه کړی دي، ددوی ستاینه زیاتره داسې بنــه لــري چې سړی نه پوهیږي دوی ګاندي ستایې اوکه هغه لرغونې فلسفه چې هغــه نــه زور زیاتې دی ،دګاندي کره کتونکي دامني چې دګاندي دژونــد اصــول پرعــدم تشــدد باندې ولاړوو ، خو داچې وایی ددغو اساساتو په زور په یوه بریالی پایله باندې واوښت داخبره بیادهغوی لپاره دپوښتنې وړده . باندنی پوهان هم دده په اړه پــه دوو برخــو ویشل شوی دي ، یوه هغه ډله اوبرخه ده چې هغوی عدم تشــدد تــه درنــاوي کــوي اودهغه له مخې دګاندي نوم هم په دغه ډګرکې په درناوي سره یــادوي . بلــه ډلــه هغوی دي چې د هند دخپلواکی غورځنګ څیړي چې په دغه برخه کې یې دڅیړنــو ژبه اوتګلاره په تمامه مانا بدله ده . مارتین لوترکینګ هم دګاندي دغورځنګ عملــي تګلاره ستایې لکه چې په ډاګه داوایي چې :**

**(( عیسی موږ ته د نه زور زیاتې ستراتژې راکړه ، خو ګاندي په دغه ترڅ کې موږ تــه تاکتیک را په ګوته کړ)) .**

**سړي په دې پوهیږي چې مارتین لوترکینګ په دغه اړه ترهرڅه دمخــه دتاکتیــک خبرې ته اهمیت ورکوی اوپه دغه ترڅ کې دده هــدف ګانــدي دهغــه پــه سیاســي لیدرشیف کې دی .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه پر دغې يادونې پسې داهم وليکل چې نړۍ اوانسان ته دګاندي ميراث داو چې په زغرده يې نړۍ ته داوښوده چې انسانان کولای شي خپلو هدفو ته پرته لــه دې چــې زورته لاس اوږدکړي ورسيږي ،دده حرکت ديووالى او يوموټی توب استازی و، دغــه حرکت وکولای شول چې خلک سره راغونډ اوپه خپل يووالی سره يې دبــري پرلــور لارښونه کړي .

ما مخکې ياده کړه چې علمآ دنه زورزياتي په برخه کې دعملی کولــو موضــوع خــورا ګرانه اوپيچلې ده ، تاسې ټول په دې ښه پوهيږئ چې په دغه لاره کې ترګاندي دمخه دبودا اوترهغه راپه ديخوا حضرت عيسی اوپه زرګونــو اســلامی عارفــان مخکښــان وو.چې زياتره يې په خپل وخت کې په يوه ناکام برخليک کې نيمه خواشول.

په اوسنې هند کې هم د نه زور زياتې دتګلاري په باب څيړونکي ، ليکوال او پوهان او آن عام خلک په دې نظر دي ، چې که ګاندي په دې پوهيدای چې هند بــه يــوه ورځ داسې پياوړې ځواک کيږي ده به کله هم دالاره نه وای غوره کړې ، ده ان پــه خپــل وخت کې ونه شوای کولای چې دهند خلکو ته په رښــتيا ســره دقناعــت وړ ځــواب ورکړي ، په عامو خلکو کې داهم ډيرعامه خبره ده چې که دی د نه زورزيــاتې پلــوی اوپاسوال وای ، نو دده انځوربه په هغه څه باندې چې دتشدد مور بلله کيــږي اوهغــه پيسې دي، نه چاپيده. ددې خبرې مانا په خپله دهغوی لپاره چې دی يې دخپل ملــي مشرپه توګه منلی تراوسه نه ده روښانه ځکه نو دهغو ی يوه ډلــه (لکــه دســوبهاش پلويان ) په دې نظرهم ده چې وايی : ګاندي چې دکومې ايدې لپاره ټول عمر خواري وکړه په عملی اوسياسی توګه (نه په معنوي لحاظ ) يوه ماته تګلاره وه ځکه يــې دی خپله هم قرباني شو .په داسې حال کې چې ګاندي خپله دغه قرباني يوه ځان تيريدنه بلله اوهغه په دغه ډګرکې پرځان باندې عملي کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



Nehru addressing a huge throng at the Ramlila grounds in New Delhi Feb. 1, 1948, the day following Mahatma Gandhi's funeral

(c) ketabton.com: The Digital Library

# درېيم څپرکی

# ګاندي اوسرحدي ګاندي

... حقيقت دادی چې عدم تشدد دهغوی پاليسی وه او زموږ عقيده وه اوده .

پاچا خان



دپاچاخان پورتنې خبره هغه مهال دده له خولې راووته چــې هندوســتان دده هغــو ملګروچې له ده سره يې ژمنه کړې وه چې دوی به دهندوستان دخپلواکۍ لپــاره پــه يووالی او پيوستون سره تربري پورې جنګيږي په دووبرخو وويشه ،کله چې انګريزانو وغوښتل دهند نيمه وچه تجزيه کړي دوی هم ورسره شول او پاچاخان يې دليوانــو ( پاکستاني واکمنانانو) او پرانګانو( انګريزانو) په منځ کې يوازې پريښود...

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهنددنیمې وچې په تاریخ کې چې د نه زورزیاتي خبره رامنځ ته کیږي ، هلتــه دوه نومونه کله هم له یوه اوبل څخه ځوک نه شي بیلولای چې هغه مهنداس کــرم چنــد ګاندي او عبدالغفارخا ن دي، یودګاندي په نامه مشهورشو او بل دســرحدي ګانــدي ، یوه دعدم تشدد په تیوري کاروکړ ، خو دویم په عمل کې دهغې لپاره لاس په کارشــو اوهغه يې دآسیاپه یوه داسې برخه اوداسې قام سره دعمل ډګرته راویسته چې هغوی کله هم خپله ساده خبره په ټیټ آواز سره نه وه کړې ، یوه ځان درام ترنامه لاندې په یوه معنویت پورې وتاړه اوبل د رحیم ترسیوري لاندې دبشریت لپاره دعدم تشــدد دمینې تخم په خپله پراخه لمنه کې واچاوه او دانساني کروندې په الکــه بانــدې يــې دهغه په کرلولاس پورې کړ.

دواړه پریوه خوله شوي ووااوپه دې يې باورو چې دغه تګــلاره زمــوږ پــه زمانــه کــې دانساني ژوند اوتمدن ، معنویت او مینې یوازنۍ ژغورندویه تګلاره ده چې لــه هغــې پرته انسان نه شي کولای دخپل ژوند بدمرغیوته دپای ټکی کیږدي .دهمدغه مرام او موخې پربنسټ دوی یوې داسې فلسفې ته کاروکړ چې دهغه په زور يې له یوې خــوا ځان دزمان له داسې ښکیلا ک سره چې لمریې د نیواکې واکمنۍ پرسیمو باندې نــه پریوت مخامخ کړ اوله بلې خوا یې دخپلوملتونو دبیا ژوندیتوب اوروزنې په برخه کــې په هغه ویاړ باندې لاس پورې کړ چې دهغو له مخې خلکو دپلار ، فخر اوپاچاپرویاړنو باندې سرلوړي کړل ، ګاندي د بپو(پلار) او غفارخان د پاچا خان اوفخرافغان په نامه یاد شو ل .

دغه پاچا خان دخپلې زما نې په یوه واکمنه اوبدایه کورنۍ کې چې له نژدې یوې پیړۍ يې په دغه سیمه کې دپلرونو او نیکونو نومونه په خانانواو واکمنانانو کــې یادیــدل د ۱۸۹۰ کال په شاوخواکې په چارصده کې زیږیدلی دی ، دی دمحمدزیو واکمنانانو چې دهنددنیمې وچې او افغانستان دتاریخ دنولسمې پیړې په شپوورځوکې په سیاســی ، اقتصادی او کلتوري لحاظ دپاملرنې وړ کورنې وه ، رالوی شو ، دپلار(بهرام خان ) دویم زوی و ، دښوونې او روزنې په برخه کې يې دخپل وخت علوم پــه عصــری او دودیــزو ښوونځیواو پوهنځیو کې ولوستل ، ان چې په نامتو پوهنتون علیګړ کې يې هــم یــوه موده په لوستلو باندې تیره کړې ا وددغه پوهنتون په نو میالیو کې دده نو م هم ثبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی ، داچې زه نه غواړم دده دژوند په ډیرو جزیاتو باندې خبرې وکړم ، داوړبولم چې زما ددغې لیکنې لوستونکي زموږ ددغه نومیالي لاربښود او مشر ژوند لیک په خپلـه دده (زما ژوند اوجدوجهد ) کې په هراړخیزه توګه ولـولی ، زه بـه دلتـه یـوازې پـه دغولاندې ټکو باندې په لنډه توګه دخپلې موضوع سره په تړاوکې رڼااچوم .

## ۱- پاچا خان او نه زور زیاتی ،

دلته اوهلته ډیرخلک په دې باوردي ، وایی او لیکي چې پاچا خان دعدم تشدد خبره له ګاندي څخه راکاپي کړه او دهغې پربنسټ یې دخپلې مبارزې تګلاره پرانیسته ، په داسې حال کې چې داخبره نه ګاندي کړی او نه هم پاچا خان په دغه اړه په ډاګه دغې موضوع ته اشاره کړې ده ، داځکه چې ګاندي جي په خپله لکه چې دمخه یې یادونـه وشوه نه زورزیاتی ته دخپلې ایجادي تګلارې په سترګو نه ګوري ، بلکـې پـه خپلـو ټولولیکنو کې په دغه ټکي باندې ټینګارکوي چې په انسانی ژوند او تاریخ کـې دغـه تګلاره یوه لرغونې تګلاره اولاره ده چې دوی هم په دغه لاره باندې په خپل وخت کې ګام پورته کړی دی .

کله چې دپاچاخان په لیکنو او کړنو کې په دغه اړه څه لټوواو یایې لیکو ،هلته هم پـه ډاګه له دغه ټکی سره مخامخ کیږو چې :

"There is nothing surprising in a Muslim or pathan like me subscribing to the creed of nonviolence .it is not a new creed . it was followed fourteen hundreds ago by the prophet all the time he was in macca"

badsha khan

« په دې کې هیڅ دحیرانې ځای نشته چې یومسلمان او یایوپښتون لکه ماغوندې دنه زورزیاتی لاره ځاري ، داکومه نوې خبره او مفکوره نه ده ،بلکه داتګلاره له هغه مهاله چې پیغامبر څوارلس سوه کاله دمخه لاپه مکې کې و پیل شوې ده »

ماناداچې داخبره اوس یوڅه ګرانه ده چې سړی یې ووایی اویایې ومني چې پاچاخان به له ګاندي دامفکوره اخیستې وي ، ځکه چې زه ددوی دواړو په اړه یوازې یوڅه چې نوي یې دلته وړاندې کوم ، دادی چې نه پاچاخان اونـه هـم ګانـدي دعـدم تشـدد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایجادګروو ، بلکه دوی دواړه په دغه لاره کې ددوو بیلو عقیدو دپلویانواو پیروانو پــه توګه ددغې انساني لرغونې فلسفې لپاره په عملي توګه په خپل عصــرکې درســالت لرونکو اوسترګورو انسانانو په توګه راوړاندې شول ،سره یو شــول او دغــه لــه پامــه لویدلې او یاهم دکتابو پرپاڼوکې خوندې پلرنــی فلســفه دوی دواړو پــه یــوه شــان عملآدژوند او ټولنې په مخکې د خپل عصر له غمیزو څخه دوتلو په اړخ کې رامنځ ته اوهغه یې په جدیت او مسوولیت سره دخپل ژوند اومبارزې سره پتلیز او پرمخ بوتله .
که ووایو چې دابه ددغو دوو لارښوونکو له خوا دخپلوعقیدو ترسیوري لاندې رامــنځ ته شوې وي ، داهم سمه نه ده ، په دې چې په نه زورزیاتي کې ترهرڅه دمخه یــوازې مذهبي آر نه ، بلکې دیوه پراخ انساني مفهوم په توګه دپاملرنې وړدی داســې چــې پرمذهبو باندې سیوری غوړوي او دهغو په رڼاکې په خپلوټولنوکې خپل اغیزمنتــوب ساتي .
زما په فکر دپاچا خان په اړه دوه څیزه په ځانګړې توګه دیــادونې وړ دي یودعــدم تشدد اسلامي او افغاني کول اوبل دغې پدیدې ته لکه دګانــدي اوددغــې فلســفي دنورو لارښوونکو غوندې دیوه لرغوني انسانی اصل په توګه وده اواهمیت ورکول دي .
برسیره پردې یوشمیرنورې مسالې هم شته چې پاچاخان دهغو دسمون لپاره بنسټیز فکرکوي چې په هغوکې ددې لاندې ځانګړنو یادونه کیدای شي :

ـــــ دپاچا خان لپاره نه زورزیاتی په خپله دبدیوپرضد یوه داسې ننی جګړه ده چــې دهغې په مرسته انسان په یوګړی اوډله ییزه توګه کــولای شــي د ډار، قهــر، کینــې اوتیري پرضد عملي جګړه وکړي ، دده په نظر دده ټولنه په آسیاکې داسې یوه ټولنه اوقوم دی چې دوی کله هم ځان له پورتنیوتکواوځانګړنو څخه پر یــوه خــوا نــه دی ساتلی ، ماناداچې له دوی سره ډار، قهر، کینه اوتیرې دیوه فن اومهارت په توګه روزل شوي اوپه رواني اوفزیکي توګه یې ددوی ټولنیزاو فرهنګی جوړښت له اوړدې مودې راپه دیخوا ترخپلې اغیزې لاندې راوستی دی ،همدغه ټکي دي چــې دوی یــې پــه ټولنیزو اونورو نیمګړتیاوو باندې ور اړولي دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچاخان په دې باورلري چې دغه منفي ځانګړنې حيــوانی جــرړې لــري چــې بايــد دهغودلرې کولو په لټه کې شو ، دی په دی هم پوهيږي اودامنې چــې مــوږ حيــوانې طبعيت لرو،هغه زموږ په جوړښت کې اخل شوی ، خوله دې سره سره موږ انسانان هم يو اوځان په انساني ارزښتونو باندې ترحيواني هغوښه سمبالولای شو.

دهمدغه تحليل له مخې پاچاخان غواړي ددغو ستونزو په وړانــدې ســخت مقاومــت وکړي اودغه بدمرغی چې په خرافاتی توګه يې دپښتنې ټولنې ژوند ترخپل کنتــرول لاندې راوستی له دغوپه بدمرغيوکې ډوبو خلکو پريوه خواکړي څکه نو ددغې سمونې لپاره دده په نظر يوازنۍ لاره عدم تشدد او امن دی چې کله پرټــولنيز نظــم بانــدې برلاسی کيږي ، دهغه له برکته انساني ژوند له شکه پرته په يوه نوی بدلون او تحــول باندی پای ته رسيدای شي .

پاچاخان دخپلوښوونو په ترڅ کې غواړي چې خپله ټولنه دپــوهې اومنطــق پــه ارزښتونوباندې وپسولي ،

څه فکربايد وکړو چې دپاچا خان ولې دغه مهم اصل ته ورفکرشو، پــه دغــه اړه دده لپاره ترټولومهمه خبره داوه چې بايد دده ټولنه زده کړه وکړي ، زده کــړه دده لپــاره هغه لومړنۍطرحه ده چې دی يې د ډار، وحشت ، کرکــې ، ځــان غوښــتنې اونــورو بدمرغيو لپاره دعلاج يوازنې لاره بولي ، مدرسې اوښوونځي جوړول اوهلته دهلکــانو اونجونو روزل هغه تګلاره وه چې انسان په عملی توګه پرپورتنيوځانګړتيــاوو بانــدې دبرې پولې ته رسوي ، دپوهې اومنطق پربنسټ ديوې ټولنې جوړول هغه تګــلاره ده چې انسان د انسانيت لوړو پوړيو ته رسوي ، پاچا خان په دې باوری دی چې دده پــه تيرنسل کې څه ډول کسان ، پوهان او دمعنويت دلارې لارښونکي رامنځ ته شوي وو آيا دده په زمانه کې دغه چانس دده دخلکوپه برخه کيدای شي ؟ دی په دې باورې دی چې دا کارپه هغه حال کې شونی دی چې دده ټولنه يوځل بيا هغه وړتيــا دځــان کړي ، هغه چې ددوی پخوانو دپوهې له لارې دپوهې په مرسته دځــان کــړې وه . دی ددغه کارلپاره په رښتينې توګه لاس په کارشو هم يې خپله دچا خبــره ځــان ملاکــړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوهم يې دنورو لپاره دخپلې تګلارې اواصولو له مخې زده کړه اوسبق دپښتنې ټولنې د ودې او پرمختګ يوازنۍ لاره وبلله.

ـــ پاچاخان دانسانيت يوپښتون خواخوږی و ،

پاچاخان په داسې يوه زمانه کې راوپړکيد چې دهغې په ترخ کې انســان اوانســانيت دخپل انفرادي اوډله ييز جوړښت په ترخ کې يوه څرګند عاطفی ســيوري تــه اړتيــا درلوده ، شلمه پيړۍ دانسان اوانسانيت لپاره له دردونو اوغمونو ډکه پيړۍ وه ، داسې چې ترننه هم ددغې پيړۍ دپيل هماغــه حيــواني غــرور ديوشميرانســانانوپه ذهــن اوضميرکې ژوندی دی ، تراوسه هم دوی د لومړۍ او دويمې جګړې له بدمرغيوڅخــه عبرت نه اخلي اوتراوسه هم په دې لټه کې دي چې دانسان دبدبختيه کولو پــه برخــه کې په څه شان ګام اوچت کړي ، پاچاخان د لومړۍ ، دويمې نړيوالې جګړې اودهغود بدمرغيو ننداره په خپلو سترګووکړه ، دغودوو جګړو په مليونو انسانان دهــيڅ لپــاره پوپناه کړل اودانســان پــه وړانــدې يــې ديــوې انســانی غميــزې يوخــورا بــدرنګ انځورراوړاندې کړ، پاچا خان ددغو بدمرغيو په زړه کــې رالــوی شــو او ددغــو ټولــو بدمرغيو په زړه کې يې خپلې مبارزې او هڅې ته ملاوتړله ، اوهغه يې دهند په نيمــه وچه کې په يوه غورځنګ باندې واړوله . پردې برسيره پاچا خان په دغــه مــوده کــې پرنړيواله غميزه پرسيره دهند په نيمه وچه کې هم يوه درنه تراژيدي وليده چې هغه ددغې نيمې وچې ويشنه وه ، داپه خپله داسې يوه انګيزه شوه چې دهغې په ترخ کې دپاچا خان مبارزه دهرې ورځې په تيريدو سره بياوړې کيده او پخيده ، او په دغه ترخ کې دی دومره په انسانيت باندې وځوريد چې بيلګه يې دهند په نيمه وچه کې خورا لــږه وليــدل شــوه ، همــداده چــې دی دغــې انســاني خواخــوږۍ پــه يــوه درانــه اوسترخواخوږي باندې بدل کړ، داسې چې دهغې له مخې په خپل قوم اوســيمه کــې دهرچا لپاره يومنل شوی او ددرناوي وړلاربنود شو، موږ وينوچې په پښتنوکې داډيره نادره خبره وه چې په هغوی به يوځوک او يومشر دهغه په ژوند نې په اوچتودرنــاويو سره يادشوی وي ، خو پاچاخان يوازنی څوک و، چې په دغه برخه کې يې يــوازې لــه دې امله چې انسانی خدمت اوچوپړ ته يې له عاطفې اوخواخوږۍ ســره يوځــای پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتينې توګه ورودانګل په خپل وخت کې نه يوازې خپلوخلکو په درنښت ومانه بلکه دسيمې اونړۍ دحساسواوانسان دوستوپه منځ کی يې نوم په وياړسره يادشو.
ددغه کاريوازنې لامل داو چې دده زړه اوفکر دواړه په عمـل اونظرکـې دانسـان پـه خدمت کې شول . ددغه ټکي ماناداهم ده چې ده په خپل وخت کې په شعوري توګه دانسان لپاره ترعصرلوړفکروکړ ،ده خپل قوم ته د رښـتياينې ، وفـا ، او خواخـوږۍ داسې درس ورکړچې دهغه په مرسته يې خپل قام په ميړانې سره دنوې نړۍ اوتمدن په لور ورلارښونه کړ. داوه خواخوږي اوداوه ديوه فکرهغه انساني هڅه چې دهغې لـه مخې په خپل قوم کې دپاچان اوفخرافغان اوپه نوروټولنوکې په نورو خواخوږو اودرنو نومونو باندې په سرلوړۍ سره يادشو.
دپښتو غزل پلار هم دې دفخرافغان په اړه پرهغه مهال چې په ۱۹۸۸ کال کې يې لـه نړۍ سترګې پټې کړې وويل :

## فخرافغان لاړ

چې داعي و تل دامن او د امان لاړ　　　　يو پيکر دپيرزوينې دانسان لاړ
هسې نه چې پاکستان په هندوستان لاړ　　　　دادغم خبر يې نن په کل جهان لاړ
چې غرور دپيرنګي يې و مات کړی　　　　د دنيانه نن هغه سپين ږيري ځوان لاړ
اوس به تل دحريت ګلان تازه وي　　　　پسرلی که دپښتون دګلستان لاړ
په خندا لکه دګل و په اغزوکې　　　　چې و تل دقام په غم خيري ګريوان لاړ
پسته ډير ځلانده ستوري يې پرې ايښې　　　　په دا څه شی که مو دا ما ه تابان لاړ
چې مدام به افتخار دقام اوملک وي　　　　نن هغه ميړنی ځوان فخر افغان لاړ
حمزه فکر دتاريخ کړه هاتف ووې :
« ای الله يغفر له » لوی مسلمان لاړ
( ۱۹۸۸ جنوري ۲۱ )

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۲) پاچاخان ،
## خپلې فلسفې په برکت  په نوي تمدن ورګډ شو



**... زما مذهب رښتیا ، مینه ، محبت اودخدای دمخلوق خدمت دی**
**پاچاخان**

ښایې داهم دډیرکسانو لپاره دیوې معما ځای ولري ، ښایي ډیریــې ونــه منــي چــې پاچاخان دخپل فلسفې  لید له مخې په یوه مدني ټولنه باندې ورګډشو، کیدای شــي تاسې ته به دهندپه نیمه وچه کې دپښتنو اند اوژوند هم داســې ښــکاره شــي لکــه دافغانستان دپښتنو په شان ، همدغه ټکی کله کله داتیروتنه هم رامنځ ته کوي چې زیاتره افغانان دپښتونخوادپښتنو په اړه هم دافغانستان دافغانانو په شان فکرکــوي ، ان کله کله خو داهم پسې وایی چې دوی نورهغه څه ، هغه ارزښتونه چې افغانان یــې لري له لاسه ورکړي ، مانا داچې په نوي ډول پښتنوکې یې شمیري .
زما لپاره  ددغه بحث په ترڅ کې همدغه ټکي  په ځانګړې توګه دپاملرنې وړټکی دی ، په دې مانا چې دغه لید په خپله پښــتنې ټولنــه  کــې پــه ټولنیزلحــاظ دټــولنیزې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانونمندۍ له مخې په دوو برخو (پرمختللې) ، او د( پرمختګ په حال ) یا وروسته پاتې باندې ویشلې ده ، چې لومړی سستم په کوزه اودویم په بره پښتونخوا باندې اطلاق کیدای شي .کوزه پښتونخوا له شکه پرته داقتصادی اوټولنیز سستم له مخې دهندد نیمې وچې په سستم کې راځي ، ددغې سیمې پښتون ذهنیت د افغانستان له هغه سره په هراړخیزه توګه توپیرلري ، وګورئ داکوزنی پښتانه دي چې دنوي تمدن له ښیګړو سره له نژدی یوې نیمې پیړۍ راپه دیخوا آشنادي اود ژوند تګلوری یې پرهغه خوا باندې روان اوعیارشوی دی ، ښاري ژوند اودنړیوال کلتوراغیز له ډیرپخوا څخه پردغو خلکو باندې سره له دې چې موږ یې د ناخپلواکو ورونوپه نامه سره یادوو برلاسی شوي او دټولنیزخوځون لوري یې دنوي عصرپه لور په هر اړخیزه توګه روان دي . زده کړه ، دنوي تمدن له ځانګړنوسره آشنایې ، ښوونځی اوس په کوزه پښتونخواکې دژوند له اړینوځانګړنوڅخه بلل کیږي ، دمدنې ټولنې جوړول اوپه هغې کې دمدنې ټولنې مقررات په پام کې نیول اوس دپښتونخواکې په ښاري ژوند کې په یوې منظمې ټولنیزې قانونمندۍ باندې اوښتي دي ، ان چې ددغو ارزښتونوله مخې اوس ددوی اړیکي له لویدیزو ټولنوسره تړل شوی ، ددوی د ژوند یوه مهمه برخه په مستقیمه اوغیرمستقمه توګه اوس له لویدیزژوند اوپرمختګ څخه اغیزمنه ده ، چې داګردې نښې نښانې اودغه پرمختګ ددغو پښتنودژوند پرټولو برخو باندې خپله څرګنده اغیزه او ټاکونکی رول لرلای شي . زه په دې باوریم چې له دغه شان حرکت سره اړوند دپاچاخان اودهغه دهلوځلواغیزپه مستقیمه توګه دپاملرنې وړدي ، په دې چې دپاچاخان فکري تمایل په رښتینی توګه نوردنولسمې پیړۍ دلومړیو کلونو تمایل نه و،هغه تمایل چې پښتنوهلته یوازې دواکمنی اوبرلاسي لپاره فکرکاوه اویا یې پرسیمه باندې دخپل تیرخوبونه لیدل ،نه ، دې دپښتون فکري تمایل دودې اوسمونې لپاره دشلمې پیړۍ په ترخ کې داسې لکه اروپایې سمونوالي (ریفورمستان ) ودرید، دده لویه ستونزه له خپلې ټولنې اوخپل عصرسره داده چې دی نه شي کولای خپلو لوړو غوښتنوته دیوه مرکزي سستم اوواکمنې دمرکزیت ترسیوري لاندې کاروکړی ، ځکه یې دفکري تمایل اغیز په پرپښتنې ټولنه باندې په کمزوري اوکمرنګې ډول سره ډیر ورو ورو راڅرګند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادپاچا خان فکري تمايل و چې پښتون ته يې دنوی فکر شعور ورکړ، اودغه ځواک يې په آرامی اوسولې سره ددې جوګه کړچې ځان دې د هغه وچ پښتنې قالب څخه راوباسي هغه چې دپيړيوپه اوږدوکې دپښتنو د وروسته والي لامل شوی و. يوشميرخلک ښايي ووايې چې دپښتنو دغه نوي خوځون په پاچا خان پوري اړه نه لري خو زه وايم چې داپه تمامه په دغه بهيرپوري اړه لري ځکه چې دغه نظريه په خپله له يوه سوله ييزحرکت اويوه ځانګړي زمانې واتن سره ملګرې و ه چې دپاچاخان په عصرکې يې آني اثر په ظاهري توګه ډيرکمزوری ښکاريده خو له دې سره سره بياهم دغه بهيررامنځ ته شواو وده يې وکړه ،کټ مټ کار ګاندي په هندکې رامنځ ته کړ، که داخبره وکړو چې دهندپه اوسنې فکري وده باندې دګاندي دافکاراغيز نه و، فکرکوم دابه يوه تيروتنه وي، بله داچې که داخبره نه وای نو نن خو به يوه هندي هم دګاندي نوم په خوله نه وای اخيستی .

ځکه نوددغې خبرې ويل اړين دي او بايد په ډاګه وويل شي چې دپاچاخان فکري تمايل اومبارزې په پښتني ټولنه کې يو داسې پاڅون رامنځ ته کړ چې له پيړيوپيړيو وروسته يې دغه ټولنه داسې وخوځوله چې په پايله کې يې پښتون ټولنيزجوړښت ته ديوه نوي ژوند اوتمدن وياړ هغه چې دوی دلودې اوسوري واکمنيو له راپرزيدو وروسته په معنوي او فرهنګی لحاظ لاسه ورکړی و بيا دنوي عصر اونوي تمدن په زړه کې ورپه برخه کړ. ځکه نو دا ويلای شو چې پاچاخان اوسني پښتون را ويښ کړ اونننی نسبي پرمختګ يې دده له برکته دی .

## (۳) پاچاخان غواړي سوله او وروروليي رامنځ ته کړي ..

دپاچا خان اوګاندي له ګډوميراثونوڅخه يوه خورا ستره ډالۍ سوله او انسانی ورورولي اوخواخوږي ده چې دوی دخپل عصرديوې پياوړې اړتياپه توګه انسان اوانسانيت ته په دغه حساسه پيړۍ اودښکيلاک ترنفوذ لاندې په دغه حساسه سيمه کې ورډالۍ کړه . له هغه مهاله چې انګريزي ښکيلاک دهند پرنيمه وچه باندې راوخوت له هم هغه مهاله تراوسه پورې دغه سيمه په هرلحاظ له ډول ډول ستونزو سره مخامخ شوې ده ، دهند نيمه وچه اوپه دغه وچه کې اوسيدونکي ولسونه او ددوی ګاونډيان په

(c) ketabton.com: The Digital Library

هراړخیزه توګه په سیاسی ، ټولنیز او فرهنګي لحاظ له یوه درانه رکود سره مخامخ شول ، مانا داچې دوی په دغه ځانګړي پړاو کې سره له دې چې آزادي یې لـه لاسـه ورکړې وه ، له خپل پخوانې معنوي بهیرڅخه هم په یوه خوا پاتې شول اوان چـې پـه ډېرو وختو کې یې رابطه له خپل پرتمین تیرسره وشلیده ، یوازې یوه خبره چـې پـه دغه ترخ کې په ډاګه وه هغه داوه چې



*Gandhi travels from village to village in India, spreading his message of nonviolence. Gandhi hoped that his presence would encourage Hindus and Muslims to cease hostilities.*

ښکیلا ک اودهندنیمې وچې ته هغه څه راوړل هغه چې  ددوی دګټواو موخو دخوندي کولو ضمانت یې کاوه ، تشدد په دغه ترخ کې لومړنی توره وه چې دوی له هغې څخـه دخپلې اداري اوثبات دپیاوړتیا په برخه کې کاراخیست .دایوواقعیـت دی پـه هغـه ځای کې چې دتشدد لپاره شعوری کارکیږي او دایی دسیاسی تګلارې  برخه وي ، په هغه حال کې داخبره ګرانه ده چې سړی ووایی هلته به عامه خوندي ساتنه  برلاسـې وي اوهلته به یوه ټولنه دیوې پیاوړې  عاطفي خوندی ساتنې ترچترلاندې ساه باسی ، نه ، په دغه حال کې یوازنی اصل دادی  چې دلته خواخوږي اوعاطفي ارزښتونه یوازې او یوازې دټولنې دغولونې لپاره کارول کیږي ، همداده چې ټولنه په  هراړخیزه توګـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يوه ځرګند ركود سره مخامخ كيږي . دټولنپوهانو له نظره هم داخبره داسې ارزول شوې چې په دغه ترڅ كې يوازنى ځواک چې كولاى شي دټولنې مخكښى ته ورمخه كړي هغه به روښانفكران وي اوبس ، ددوى په نظررونړ اندي كولاى شي دټولنې مخې ته ترهربل ځواک دمخه راووځي او دهغوى دژغورنې لپاره دحل لاره اوكلي په ګوتـه كړي . هغه هم په داسې حال كې چې دغه كاربه ددوى لپاره هم دحلوا ويشل نه وي ، په دې مانا چې ښكيلاک اوبرلاسى كله هم ددې لپاره نـه حاضـريږي چـې دهغـوى غوښتنو ته مثبت ځواب وركړي بلكې برعكس دهغودخولې پټولو په برخه كې لاس په كاركيږي ، وژنې يې او يايې له صحنې څخه پريوه خوا كوي .
په پاچا خان باندې همدغه كانه وشوه ، دهند دنيمې وچې دخبلواكى په برخه كې يې معامله اوسازش ونه منل ، كومه لوړه اوژمنه يې چې كړې وه هماغه يې ترپايه پـورې خپل شعاركړه اودهغې دتحقق لپاره يې خپل لاس له ګاندي اودهغـه لـه غورځنـګ سره مل كړ، ده په دغه ترڅ كې ترهرڅه دمخه دايوه هيله درلوده او هغه داچـې دوى په سيمه او هيواد كې با يد سوله او وروروليې چې دښكيلاک او غلامى په له منځه وړلو كې يوازنې مرستدويه تګلاره وه دخپل مرام په توګه په ګوته اووټاكي . دوى پـوره باوردرلود چې دهند نيمه وچه دخپلې پياوړتيا اوآزادى لپاره هغـه وخـت لاس پـه كاركيداى شي چې ځان په امن كې احساس كړي ، هندوان اوپښتانه دجنوبى آسيا په توكمى جوړښت كې ترډيره حده ورته ټولنيزاكرلرى ، په دې مانا چې په هروخت كې چې دوى له جګړې اوشخړې څخه پريوه خوا پاتې شـوي ددوى لپـاره دهراړخيـزې فكرى ، سياسى او فرهنګې ودې لاره هم پرانيستل شوې ده ، همـداده چـې ګانـدې هندوانو او پاچان پښتنوته خپل دغه پيغام دخپلې مبارزې په ترڅ كې ورسـاوه چـې بايد دټوپک پرځاى ځان دپوهې او زده كړې اوقلم لارې ته وقف كړي . دوي پـه دې پوهيدل چې زمانه نوره ديوه پياوړي بدلون منګولو ته لويدلى ، ښكيلاک په هـرډول چې وي ځان له هغې سره بدلولاى شي ، دوى هم همدغه خبـره كولـه چـې د دوى دولسونولپاره هم اړينه ده چې ددغه كاروان له خوځون سره ځان عياركړي اوكه نـه داځپه به داسې څپيره وركړي چې بيا به يې دتلافى لپاره لسيزې لاځه چې پيړى په كاروي اوپه تلليو اوبوپسې به په افسوس افسوس سره منډې وهي .


(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګاندي اوپاچاخان دواړه په دغه برى باندې ورمخه شول، ننى هندوستان چې ځان دنړۍ له پياوړو ځواکونو څخه شميرې ، پښتانه هغوى چې دپاچا خان دمبارزې په چاپيريال کې وواوس ترډيره حده دعلم پرخوا شوي اودعصردپوهې ډيرارزښتونه يې دځان کړي دي. داټول دهغوى دهڅون برکت دى چې دوى دخپلو ملتونولپاره په ننبه کړ.**

**ځکه نو ويلاى شو چې ددوى دسولې او وروروليۍ اصل ديوه فلسفي تفکرلـه مخې و چې ددغو دواړوملتو نونيکمرغي پرهغه پورې تړلې وه .پاچا خان له ګاندي سره په مرامي لحاظ په تيره دسولې او انساني خدمت په کارکې تل يوه خوله او په يوه نظر و ځکه نو ليکي :**

« دګاندي جى په زړه کې دټولو مذهبونود يوشان احترام و اوهغه به داټول مذهبونه حق ګڼل اوزما عقيده هم دغسې ده . دقرآن شريف اودګيتا مطالعه خوما په ښه شان سره کړې وه اوځه وخت چې زه په ديره غازي خان جيل کې سکهانوسره قيدوم نو دهغوى نه مې دګرنته صاحب زياته حصه اوريدلې وه ،دبده مذهب دمطالعى سره زما ډيرشوق و ، ولې چې موږخلک داسلام نه مخکې دبده مذهب پيروکاروو ليکن دبده مذهب کتاب ماله په لاس رانغى . انجيل مې دطالب علمى په زمانه کې په مشن سکول کې ويلى وو، ولې چې زه دهغوى دسکول طالب علم وم تورات مې لـږ ډير جيلخانه کې کتلى و، دزردشت دپارسيانو مذهب دکتابونو دکتلومې هم ډيرشوق و، ولې چې هغه خداى موږ له راليږلى و اوپه بلخ کې پيداشوى دى . خداى په قرآن کې وايي چې ما هرقوم ته دهغوى نه يوهادي ليږلى دى . ليکن ترديې وخته پورې ما دهغه متعلق هيڅ ليتريچر بيا نه مونده . خورشيدبهن اونورو پارسى دوستانو ماته ويلي وو خو هيچا دهغه يوکتاب ماته راونه ليږه . زما مذهب رښتيا ، مينه ، محبت اودخداى دمخلوق خدمت دى . مذهب هميشه دنياته داخوت اومحبت پيغام راوړى دى. دکومو خلکو په زړونوکې چې دبنى نوع انسان دپاره رواداري ، مينه نه وي ، اودکوم سړي په زړه کې چې نفرت ، بغض ، کينه وي نوداسې سړى دمذهب نه ډيرلرې وي ... (جدوجهد ۶۸۷ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتوربا ، ګاندي او پاچاخان

پاچاخان له ګاندي او دهغه له تعلیماتو سره دزړه له کومې مینه درلوده ، کوم څه چې ګاندي په خپله عقیده کې پرې باوری و ، هغو ته پاچاخان هم دزړه له کومي درناوي درلود ، دپاچا خان مخالفینو خو تل دا ټکی دده د شخصیت نیمګړی اړخ باله خــو ده یې کله هم پروا ونه کړه او هغه څه چي انساني وو هغه یې دخپل عمل محک وګرزول چي په دغه ټکي یې نه یوازې ګا ندي بلکي د انسانیت ټول خواخوږي قانع وو. وایــي چې :

"When Gandhiji started Seagram Ashram, he invited Khan Abdul Gaffar Khan popularly known as the Frontier Gandhi, to come and live with him for sometime. Gaffar Khan lived in the Adi Nivas in the ashram with Gandhiji. The Frontier Gandhi lead a simple life of an Ashramite. He used to serve the sick also besides attending to other duties. Though looking to his habits Gandhiji had permitted him to eat meat yet, he never ate any meat and followed the Ashram discipline. He lived like a villager and called himself..."

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۴) پاچاخان اوخدايي خدمتګار



ددغه کتاب په وروستۍ برخه کې سونيا ګاندي دکانګرس اوسنې مشرې پرهغه مهال چې د اکتوبرپردويمه يې د نه زورزياتي دورځې په وياړ دملګرو ملتو له ستر نړيــوال سيټج څخه وينا کوله ، دغه ټکی ته اشاره وکړه چې :

« يوڅه شاته ګورو ، که شلمه پيړۍ دانساني تاريخ په ترڅ کې يوخونړۍ پيــړۍ وه ، خو ورسره دغه ټکی دپاملرنې وړو، چې نه زورزياتي هم په دغه حالت کې خپله پوره وړتيا اواغيزه وليده ، داسې چې په خورا مهارت سره يې ځان دوچواودوګمی بــاورونو ترپولوپرهغه خواکړ، په دغه ترڅ کې داهم دپاملرنې وړده چې بايــد ووايــو دولســې پاريدنې اوسرکښۍ په ډګرکې يوازنې پوځ چې په نه زورزياتي سره لاربښونه شو، هغه دخان عبدالغفارخواک و ، هغه څوک چې په تاريخ کې د سرحدي ګاندي په نامه سره ياد شو».

خدايي خدمتګارله شکه پرته دنه زورزياتي هغه پوځ و چې ددغې لارې پيروانو پرهغه باندې د زړه له کومې باورکاوه ، دغه سوله ييزپوځ دلومړي ځل لپاره په پښتونخوا کې دپاچاخان په مشرۍ له پښتنوڅخه جوړ شو، خدايي خــدمتګار يــو سياســې ســوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ییزحرکت وچې په پښتونخوا کې دهندله کانګرس سره په مساوي اوموازي توګه رامنځ ته شو او موخه يې په یوه حساب دهند اوپه بل حسا ب دپښتونخوا خپلواکي وه ، په سیاسی لحاظ يې دهند له ملي کانګرس سره نیغ اړیکي درلودل ، خو په نورو برخوکې يې خپل پښتني دريځ او ارزښتونه په تمامه مانا په خپلواکه بڼه پالل ، ډاکترخان چې له کانګرس سره يې دیوالي پالیسی پرمخ بیوه له ۱۹۲۰ څخه بیا تر ۱۹۴۷ کال پورې دخدایی خدمتګارو پرسر والی سره دپښتونخوامشري کوله او دلته يې له کانګرس سره په ارتباط کې خپل حکومت هم جوړکړ، دخدایی خدمتګارو نفوذ پردغه سیمه باندې ترهغو پورې و چې څه وخت محمدعلی جناح او یارانو يې داسلام په نامه پاکستان جوړکړ اودلته يې دډاکترخان حکومت له منځه یووړ.

په هرډول خدایی خدمتګارو په رښتیني توګه دهند دنیمې وچې دخپلواکې په لاره کې درنه خوسوله ییزه مبارزه وکړه ، پرهغه مهال چې ګاندي دمالګی لاریون پیل کړاو له هغه سره يې یوځای دنه همکاری اوعامه سرغړونې غږ هم اوچت کړ، دغه حرکت ته خدایی خدمتګارو په پښتونخوا کې تود هرکلی ووایه او داانګریزانو په وړاندې يې دخاموشې مقابلې په نامه له ګاندي اوکانګریس سره یوځای بدرګه کړ، لاریون دګاندي په مشری په هندکې ترسره شو، انګریزانو دهغه لاریون په وړاندې پرته له دې چې تر ځارنې لاندې يې ونیسی نورڅه ونه کړل ، خو دهغه پیوستون په وړاندې چې په کټ مټ ډول په پښتونخوا کې دهمدغه حرکت په شان اوملاتړ راپورته شو ، انګریزانوداسې عکس العمل وښود، چې څرګند وحشت يې په قصه خوانی کې دخونړی عمل په ترڅ کې دخدایی خدمتګارو تاریخ ثبت کړی دی ، په دغه خونړی پیښه کې په سلګونه خدایی خدمتګاراوانګریزي ښکیلاک ضدکسان شهیدان شول . خویوه خدایی خدمتګارهم په دغه ترڅ کې دتشددیوه وړه نښه هم له ځانه ونه ښوده.

لکه چې سونیا ګاندي وایی خدایی خدمتګار دعدم تشدد خورا پیاوړی پوځ و ، څه چې دغه سوله ییزپوځ درلودل هغه داوو چې دځان ساتنې په خاطر يې نه وسله غوښته او نه يې پرهغې باندې نازکاوه ، پاچاخان به همداویل چې انسان باید خدایی خدمتګاري دځان لپاره دیوې مقدسې دندې په توګه وټاکي ، ځکه چې دادانسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره هم وسله ده اوهم ویاړ ، که پښتون وغواړي چې په دغه ویاړ باندې سرلوړی شي اوهغه دځان کړي ، مانادا چې ده به دانسانیت له یوه ستراوابدي اصل سره ځان وصل کړی وي . جالبه خوداده چې دپاچا خان په نظر عدم تشدد یاني عاطفه او خواخوږي ده ، ځکه یې خدایی خدمتګارانو ته ددغې ځانګړنې درلودل اړین بلل اوپه دغه روحیه یې دهغو دروزلو سپارښتنه کوله ، ده ددغه سوله ییزغورځنګ په اړه خپل تاکید په ټول ژوند کې له لاسه ورنه کړ، دعدم تشدد په اړه دپاچا خان نظر ان پرهغه مهال چې دده یارانو دده په مخ کې هندوستان تجزیه کړ اودده په وینا (بې وفایی ) یې ورسره وکړه هم بدل نه شو، همداده چې ده په دغه ترخ کې پرګاندي جی باندې هم داګوت نیوی وکړ چې ، دوی ځان د عدم تشدد پرپوله دوطن دبرخلیک ټاکلوپه حساس وخت کې پابندونه ساته ځکه یې ولیکل چې :



« هرکله چې زه هندوستان ته تللی یم نوهغه مینه اومحبت دهغو هندوانو اوسیکهانو په زړونوکې محسوسوم . تاسې وګورئ چې څه وخت په هندوستان کې دتقسیم په وخت کې فسادات شروع شول . نوخدایی خدمتګارو دلته دخپلو هندوانو اوسیکهانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دحفاظت دپاره خومره تکلیفونه تیرکړي دي ، اوکوم ځای کې چې خدايي خــدمتگار وو نوهلته يې دوی بچ کړی او ددوی دمال اوځان حفاظت يې کړی دی ، بل طرف تــه تاسو کانګرس ته وګورئ چې دهندوستان په هندواومسلمان کې يې څــومره نفــرت پیداکړواوڅومره تشدد يې وکړو ، خو حقيقت دادی چې عدم تشدد دهغوی پالیســـی وه او زموږ عقيده وه اوده . (جدوجهد ۷۴۰ مخ )

خدايي خدمتگاردسولي او امن رامنځ ته کولو په ترڅ کې نه يوازې پــه عملــي توګــه دپاملرنې وړځواک و بلکه کیدای شي هغه دتولې نړۍ په وړانــدې ديــوه ســمبوليک ځواک په توګه هم دځانګړي پاملرنې وړځواک وبولو، پاچاخان دخپل دغه ځواک پــه جوړولوسره نړۍ ته داوښوده چې دانسان اوانسانيت ننګه او ساتنه دداسې پــوځ پــه جوړولو سره هم شوني ده چې له هغه ســره د زور اوفشــار وســيله يعنــي (وســلـه ) ګردسره نه وي . پاچاخان په خپل دغه ګام سره داثابته کړه چې انســان هغــه وخــت دانسانيت پراصلي وړتيا باندې پوهيدای شي چې هغه له انسان سره مينه ولري او لــه انسان سره دجګړې ، کرکې ، رخې او دښمنې احســاس پــه مينــه واړوي ، ده دغــه انسانی طرحه دداسې قام په وجود کې دلومړي ځل لپاره دانسان په مخ کې کيښوده چې دهغه نوم تل د جګړې او دښمنۍ پررنګ رنګول شوی و . يوشميرغرضي خلکوبه پسې ويل چې دايومات حرکت و او کومه بريايی له ځان سره نه درلوده ، خوپاچاخان په دغه اړه خپل ځواب په خپل عصرکې  ووايه چې :

« دموږ په ملک کې ځينې کسان شته چې زموږ دبدخواهانو په لمســه زمــوږ خــلاف داسې پراپيګنده کوي چې خدايی خدمتګارو څه وکړل ؟ اوداهم وايی چې عدم تشدد څه وکړل ؟ اوزموږ ډيرساده ګان ورونه دخودغرضو کسانو ددې خبرونه متاثره کيږي . نو زه دوی ته وايم چې دخدايی خدمتګارو دوه مقصده وو : يو دملک آزادي  اوبل پــه پښتنوکې دقاملولی ، وروروليی ، مينې محبت اتفاق اواجتماعي ژوند احساس پيداکول .تاسو خو وګورئ ، دااحساس خو پيداشو ، اوملک هم آزادشو اوبيادې ته وګورئ چې داهرڅه  دعدم تشدد په ذريعه وشو، تشدد خو نه دی شوی . تاسو وګــورئ خــدايی خدمتګاری په خلکو کې دمسلمان ، هندواوسيک په زړونوکې داسې مينــه ، محبــت پيداکړو اوداسې د وروری جذبه يې راويښه کړې وه چې تراوسه پوري هغه هنــدوان

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسیکان چې دصوبه سرحد نه په زورایستل شوي دي اوهندته تللی دي ځان ته اوس هم خدایی خدمتګاروایي .. (جدوجهد ۷۴۰ مخ )

خبره روښانه ده او هغه داچې دپاچاخان دخدایی خدمتګارۍ طرحې عملي کولو تــه تراوسه هم لاوخت شته ، تراوسه هم نړیوال ځواکونه د وسلو په ســیالیو اختــه دي ، چې دغه سیالي ددغې ایدې لپاره داوخت نه ورکوي چې هرځواک باید په یوه داسې طرحه باندې لکه چې پاچاخان په خپل نبوغ سره رامنځ ته کړه ځان باوري کــړي ، دخدایی خدمتګارو طرحه دپاچا خان داسې یواوچت انساني تیزس دی چې لاتراوسه هم انسانیت دخپلې وړتیا هغه شعوراو ودې ته نه دی رسیدلی چې په دغه ترخ کــې فکروکړي ، خو دازموږ دنده ده چې باید دنړۍ دانسان ترغوږ یې همدا اوس ورتیــره کړو چې که نړیوال په دغه برخه کې په دغه سترانســاني تیــزس بانــدې فکروکــړي اووکولای شي چې ددغه تیزس لپاره عملي لارې چا رې دنړیوال بشري تکل په ترڅ کې رامنځ ته کړي اونړیوال په ګډه دخدایی خدمتګارۍداصولو په رڼا کــې لاس پــه کارشو ، کیدای شي چې په ډیره اسانه توګه نړۍ دعامه وژنې او بربریــت لــه دایمــی خطر څخه دامن او نیکمرغۍ په لور لارښونه کړو .

## دباچا خان په مرګ

جې فرنګ یې سرګردان کړو باچا ن و
چې سامراج یې نن حیران کړ باچاخان و
ټیټ کتل یې دپښتون د زړه نه ورک کړل
چې سرلوړی یې افغان کړو با چا خان و
چې خاني په فقیري یې کړه بدله
دغریب د زړه ارمان و با چا خان و
سره کافریې دنامې نه په هیبت وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سپيڅلی مسلمان و با چا خان و

❊ ❊ ❊


جوړ ځوانی ته رسيدل څه کامل نه دي
ځوان هغه چې حوصله همت يې ځوان وي
که بوډا عبدالغفارمو وي ليدلی
بل به چيرته په دنيا کې داسې ځوان وي

❊ ❊ ❊

نمر که پريوځي نو بياهم پريتوتی نه دی
چې ترې پسته ځلنده ستوري روښان شته
پاچا خان که له دنيا کړې سترګې پټې
غم يې څه دی چې ترشايې ولي خان شته

دحمزه شينواري کليات ، دکابل چاپ ۱۳۸۷ (۱۹۶۲- ۶۳ ) مخونه

(c) ketabton.com: The Digital Library




**Khan Abdul Gaffar Khan (1890–1988)**

Photograph by Vanguard Studio, Bombay –2

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## ګاندی دیوشمیراوسنیوهندي اونړیوالو سیاستوالو په نظر

په دغه برخه کې چې کومې خبرې او لیکنې تاسې لولی ، هغه ترډیرې انـدازې هغـه لیکنې اونظریات دي چې هغه د نه زورزیاتي په اړه دهند اوله هنده دباندې داوسـنې نسل سیاست پوهانو نظریات اوانګیرنې د عدم تشدد او ګانـدي پـه اړه خرګنـدوي ، داسمه ده چې په دغو مقالو کې به یوشمیرپه سیاسې موخه دیوشمیرسیاست والو له خوالیکل شوې وي ، خو مهمه داده چې دغه مقالې په شلمه پیړی کې دګاندي ژوند، دهغه پراخ نظریاتې سستم او دمبارزې انعکاس په خورا ښه توګه زموږ پـه واک کـې راکولای شي ،زه باورلرم چې موږ به په دغه ترخ کې په ګـډه ډیـرې داسـې خبـرې ولولوچې هغه ما ددغه کتاب په نورو برخوکې نه دي راوړې .
په دغه ترخ کې داهم دپاملرنې وړخبره ده چې یوشمیرلیکوالو دګاندي اوعدم تشدد په اړه هغه څه چې له هندوستان څخه دباندې ویل شوې اولیکل شوې په ګوته کـړې دي ، په دغه ترخ کې ترهرڅه دمخه داهم روښانه شوې چې ګانـدي اودهغـه دعـدم تشددتګلاره له هندوستان څخه دباندې دمقبولیت په کوم پړاواوکومه کچه کـې دي ، په اروپا ، امریکا اوجنوبي آسیا کې دعدم تشدد اوګانـد ي جـی خـومره سیاسـي ، ټولینزاو معنوي اغیز خور شوی اوهغه اوس په دغه عصرکې په څه شان په دغو وچـو کې دآزادی ، خواخوږی او اخلاقی وړتیا او روزنې سره په اړخ کـې څـه ډول ارزول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی او په څه ډول اوس هم دګاندي دفکري تمایل په توګه دپراختیا او ودې په حال کې دي .

په دې کې شک نشته چې ګاندي او دهغه نظریاتو او مبارزې د نړۍ په معاصـر تاریخ کې د مبارزې یونوی ډول رامنځ ته اوتریوه حده یې په اذهانو کې دبري ترپولې پورې لاربښونه کړ، دده آواز دنړۍ دنامتو مبارزینو لکه مارتین لوترکینګ او په سلګونو نورو نومیالیو له خولو راووت چې په ډیره لنډه موده کې په نړۍ واله کچه دنړیوالو له خـوا په درناوي سره بدرګه شو ، کومه ساتیاګره چې مهاتما ګاندي دختیز په دغه څنـډه کـې راپیـل کـړه ، هغـه دنـړۍ پـه یوزیـات شـمیر هیـوادو کـې دهغـو هیوادو یوشمیرمبارزینودخپلومبارزوپه ترڅ کې دبري ترپولې پورې دخپـل مـرام او هدف لاره کړه اودوی هم هغه دخپلو ملتو دخپلواکۍ ترلاسه کولـو پـه لاره دحـل یوازنې او تلپاتې لاره وبلله ، ګاندي خپل خلک اوخپله پیړۍ په دې باوري کړل چـې انساني بریا او آزادي ترلاسه کول یوازې دجنګ او جګړې له لیاره شونې نه ده بلکـې کیدای شي دانسان دنیکمرغۍ او آزادۍ دغه پیاوړي سرمنزل ته پـه سـوله ییـز ه توګه هم ورسیږو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱)

# سونیاګاندي :

## راځئ چې ځانونه دګاندي دلارې مله کړو



زماله پاره ترهرڅه دمخه دادویاړاودرنښت خبره ده چې دملګروملتو دعمومي غونډې په وړاندې دلومړي ځل له پاره دګانـدي دزوکـړې دکـالیزي پرمهـال د(نـه زورزیاتي دنړیوالې ورځې ) له امله ویناکوم .زه فکرکوم چې دنړیوالې ټولنې له پـاره دایولوی درنښت دي چې پرسیاست برسیره دلویوکسانو،هغوی چې په ټول بشـریت پورې اړه لري هم خبرې کوي ،زه هم په دغه اړه ترهرڅه دمخه دغې عمومي غونډې ته دخپل هیواد تریوبلیون زیاتوخلکو درناوي اوښې هیلې وړاندې کوم . په عین حال کې دهغو دولتونودغړو هڅو او کړنو ته هم د درناوي سرټیټوم چې ددغه پریکړه لیک ملاتړیې له موږ سره وکړ اوهغه یې په درنښت سره ومانه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهاتماګاندي د ۱۹۰۶ کال دسپتمبر په (۱۱ ) دجنوبي افريقې په لـور خپـل سياسـې اوروحاني سفر ساتیاګره (رښتیانی پیاوړتیا ) غورځنګ پيل کړ. جګړو، شخړو او وينو تويدنوله ډيرپخواڅخه دانساني تاريخ په جرړو کې د واک اوځـواک سـاتلوپه خـاطر ځان کلک کړی دی ، ځکه نو زورزياتي ددرنـاوي دريـځ اوپـړاو تـه رسـيدلی اونـه زورزياتی بيا دليونتوب اوغيرنورمال حالت پـه پړاوکـې سـاتل شـوی دی، داخبـره دپوښتنې وړده لکه چې يوه کتونکي داپه ګوته کړې چې د نه زورزياتي دکليمـی لـه پاره په يوه ژبه کې هم يووړاومناسب لغت نشته ، په دې چې دغه کليمه داسـې لکـه چې مانا يې ده نه ده درناوی شوې ،بلکه داصلي مانا پرځای يوازې په ساده توګه ديوه بل مقصد په خاطرکارول شوې ده.

خونورمفاهيم بياخپل سيال اومخالف لري لکه سوله اوجګـړه ،ګنـاه اوخدمت،کرکـه اومينه . سره له دې چې دنړۍ ټول مذهبونه په يوه ډول نه يوډول له نه زورزياتي سره اړيکي لري ، خوهلته هم داسې ښکاري چې ددغه مفهوم لپاره وړتعريف اولغت نه دی په ګوته شوی ، همداده چې زموږ ډټولـو فکـري بهيرونـو پـه تـرخ کـې د تشـدد اوزورزياتي کليمه يوه مهمه اوآره کليمه بلل شوې اونه زورزياتی بيا برعکس فرعـي اوله پامه لويدلې پاتې دی .

داخه دحيرانتيا وړخبره نه ده چې وايي د نه زورزياتي ددغه فرعيـت يولامـل دادی چې ګواکي دغه نظريه ديوشميرپه نظر دکمزورتيا اوډارنښه ده.په داسې حـال کـې چې دلته له رښتياينې اوحقانيت څخه پرته نورڅه ځای نه لري . نه زورزياتی دولسي نافرمانی اومقاومت فعاله او دپاملرنې وړ بڼه ده ، په دې خاطرچې دغه تګلاره په سمه توګه دعمل ډګرته راوباسو،ترهرڅه دمخه بايددهغې له پاره په دغه برخه کـې ديـوه فعال نظم اودسپلين غوښتنه له پامه ونه غورځوو، د زورزياتي پـه وړانـدې دريـدل ،اخلاقي باور، دمخالف او موافق دواړو دهرډول ناوړتياووپه وړاندې د زغـم پياوړتيـا ددغې تګلارې عملي بڼه ده.

---

دمهاتما ګاندي دفلسفې زړې يا همدغه نه زورزياتی په خپله دهغه باور و، هغه چې دهغــه لــه رښتينوالي څخه يې سرچينه رااخيستې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیاوړتیا اوځواک تل له رښتیا ښخه راپیل کیږي اواتلولي بیا په خپل واردخپل ماهیت له مخې د اوچتې روحیې هڅونه اوسمبالونه په خپله غیږه کې سمبالوي داسې چې پرچا باندې بایدپه زور ونه تپل شي . ګاندي وایي چې دیوې خبرې پیل او پای دواړه دیوه الهام په مانا دي،ځکه نو پیل په خپله دپای څیره اوبڼه زموږ په واک کې راکوي . هغه په دې باوردی چې بې ارزښته مانا به کله هم ارزښتناک پایلیک ونه لري .
تاریخ ، په دواړه زمانو اوسنۍ اوپخوانۍ کې داپه ګوته کوي چې تشدد او زورزیاتی په ناپایه توګه په خپله تشدد اوزورزیاتی پیاوړی کوي ، ځکه چې دکرکې اوکینې لامل کیږي ، تشدد تل غواړي چې پرنرمۍ اوآرامۍ باندې برلاسی شي ، ځکه نو موږهغه ته باید داتلولۍنښه ونه وایو او نه باید داتلولۍ بڼه ورکړو ، خوبرعکس عدم تشدد بیا یوازې په دې لته کې دی چې ځان پرهغه څه باندې بوخت وساتی چې په پای کې پریوه پایله اویوه بریا باندې واوړي اوهغه له ځان سره ولري .
سره له دې چې دګاندي دنه زورزیاتي تګلاره په ځوبنوکې راڅرګنده شوې ده ، خودی بیاتل په خپله ددې غوښته کوي او ټینګاریې په دې دی چې ځان باید له خپل مخالف اودښمن سره تل ښکیل وساتي ، هغه لویه وړتیا او اتلولي چې دهغې له مخې مهاتما ګاندي دغه ډګرته وروړاندې شوی داده چې ده په خپله په دغه برخه کې د روحانیت او زغم لویه او روښانه لاره اووړتیا دځان کړې ده ، هغه لاره چې له شکه پرته د (بل اونورو) له خواهم دتفاهم او ستاینې دتګلارې په توګه منل شوې ده . هغه پرموږ غږکړی چې له هغه څه سره چې زموږ له پاره دستونزو لامل کیږي باید ځان ښکیل کړوځکه چې دازموږ مسولیت دی ، آیادا کیدای اویا هرڅوک په دې توانیدای شي چې رښتیااوحقیقت باید دځان له پاره انحصارکړي؟ نه ، موږ باید دتفاهم له پاره فضا برابره کړوڅودهغې په ترڅ کې انسانیت په خپله ددې جوګه شي چې ځان له خواشینۍ اویوازیتوب څخه پریوه خواکړي ،داسې چې په عین حال کې انساني روحیه دغچ اخیستنې له خطرڅخه هم وژغوري.
له بلې خوا داهم زیاتره ویل شوي چې دمهاتما ګاندي زمان له دغه زمان سره چې موږپه کې ژوندکوو توپیردرلود ، یوشمیرپوښتنې په دغه اړه داسې هم شته چې ،له هغې تګلارې سره په تړاوکې دي چې اوس هغه په نړیواله کچه په نړۍ کې له رامنځ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

شویوستونزوسره په ځنګ کې طرحه کیږي. هغه څه چې نن سبایې سوله ،امنیت او ټولنیزه هم غږي په ټوله نړۍ کې له څرګند خطرسره مخامخ کړې ده .
دمهاتما ګاندي درښتیاینې زړې او وړتیا دغه ټکي دی چې په هغې کې حقیقت نه دې بدل شوی ، په دې چې انساني طبعیت په خپله تراوسه له کوم بدلون سره نه دی مخامخ شوی.
یوڅه شاته ګورو ، که شلمه پیړۍ دانساني تاریخ په ترخ کې یوه خونړۍ پیړۍ وه ، خو ورسره دغه ټکی دپاملرنې وړو، چې نه زورزیاتي هم په دغه حالت کې خپله پوره وړتیا اواغیزه ولیده ، داسې چې په خورا مهارت سره یې ځان دوچواودوګمی باورونو ترپولوپرهغه خواکړ، په دغه ترخ کې داهم دپاملرنې وړده چې باید ووایو دولسي پاریدنې اوسرکښۍ په ډګرکې یوازنې پوځ چې په نه زورزیاتي سره لاربنوونه شو، هغه دخان عبدالغفارځواک و ، هغه څوک چې په تاریخ کې د سرحدي ګاندي په نامه سره یاد شو.
وګورئ نن سبا په ټوله نړۍ کې له انفرادي کسانو رانیولې بیا تر ګوندونو اوډلو پورې دټولو ټینګارپه نه زورزیاتي دی اودزړه له کومې یې ملاتړکوي ، هغوی په دې باوري شوي چې دغه تګلاره دتوپیرونو اوجګړوپه مقابل کې د دموکراسۍ په جوړولواورامنځ ته کولو باندې بریالۍ کیږي ، پرهغه څه چې له هغوسره دهیلواوامیدونوشمعی بلې اوځلاندې ساتل شوې دي.
مهاتما ګاندي دخپل کرکتر دجوړښت له پلوه دعمل سړی و،پرخپل مهال هغه له شکه پرته دژورې هڅې اوتلاش میړنی و. هغه په رښتیاهم یوهڅاند اوځواکمن انسان و ، په داسې ځواک سمبال وچې ده ته یې داتوان ورکاوه چې باید د توپیرپالنې اوناسمعقول مخالفت له ډګره لوړپاتې شي . له هغه سره داسې یوځواک و چې ده ته یې که له یوې خوا ځواکمنې ورکوله نوله بلې خوایې دده په نوښت سره دپرمختګ او ودې په لورلاره هم پرانیستله لکه چې یومهال یې په خپله وویل: (( موږ باید ځانو ته داسې بدلون ورکړو لکه چې غواړویی ))
کله چې موږ نن خپلې شاوخواته ګورو هره خوا زورزیاتي نیولې ده :

(c) ketabton.com: The Digital Library

● دهریوه په وړاندې دترهه ګرۍ په بنه خطراوتشددهغه څه دی چې باید دنــادولتی لوبغاړو اوزموږ دډله ییزغورځنګ ناکامي ورته وویله شي، ځکه موږ ونه توانیدو چــې پرهغی باندې داتمی بې وسلې کیدنې په ترڅ کې بری ومومو.
● زورزیاتی دبیوزلو ، په تیره بیا دښځواوماشومانو په وړاندې په خورابې رحمۍ ســره روان دی . دې ته هغه ډالۍ ویلای شو چې دنړیوالتوب په هنګامه کې دنړیوال اقتصاد له امله رامنځ ته شوې اوپیاوړې شوې ده.
●اوتشدد زموږ دسیارې اومځکې په وړاندې ، دانسان په لاس دجوړوشــویو اقلیمــي فعالیتونواودژوند دبی ثباتۍ عکس العمل دی ، لکه څنګه چې موږ دمهاتما ګاندي لــه ژونده الهام اخلو ، راځی چې ځانونه دګاندي دلارې په کړو وړو باندې دزړه له کــومی سمبال کړو، په هغوکړو وړو چې هغه دجوړونکوپایلومله او لرونکي وي ، راځــی چــې دغه ورځ تل په یادولرو، هغه باید یوازې دکلنۍ نمانځنې په نامه خلاصــه نــه کــړو . راځی چې موږ دخپل عصر اوسني ګواښونه اوننګیینې اودهغوډولونه اورنګونه هم پــه پوره غوراوځیرکۍ سره په پام کې ونیسو.
ښاغلواومیرمنو ! نن ورځ دلته اوهلته هدف دانه دی چې ګواکي مهاتما ګاندي دنــن ورځې پوښتنه دی ، بلکي په دغه ترڅ کې ترټولو لویه اودپــاملرنې وړ پوښــتنه داده چې موږ باید ددې توان ولرو اوپه دې باید ډاډه شو چې ځانونه دخپل ژوند اومرګ په وړاندې په عملي توګه ساتلی اوخوندي کولای شو، آخوا یوشمیر په دې نظراوباوردي چې تشدد دانساني کرکتر اوخصلت اړوند توک دی ، خو لــه بلــې خــوا یوشــمیرنور بیادهغه په اړه وایې چې انساني کرکتر ددې توان لري چې په دغه برخه کې ځان لــه بدلون سره مخامخ اوپه هراړخیزه توګه ورسره غاړه غړۍ کړي .
نن سبا موږ په نړیواله کچه دمهاتما ګاندې شخصیت په درناوي سره نمانځو ، دهغه چا چې نه زورزیاتی اوعدم تشدد یې په هره خوا کې له لویو بریاووخخه وګټل شو، ( هغه کوم روحاني څوک نه و) .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**راځی چې د نه زورزياتي دغه پرتمينه اوبريمنه لاره په بري سره ونمانځواوويې پــالو ثوپه دغه لاره کې مورږ د رښتينې بشريت په وياړاوځانګړنوسره ياداوسرلوړي شو.[*]**

**[*] دادسونيا ګاندي هغه ويناده چې دملګروملتو عمومي اسامبلې ته يې دنه زورزياتي د ورځې له امله د ۲۰۰۷ کال داکتوبر دمياشتې په دويمه نيټه واوروله ، اغلې ګاندي اوس دهند دپرمختګ په لور دتېولنې اوکانګريس ګوندمشره ده .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۲)

# سویتا سینګ

ساتیاګره ،

## دګاندي دنه زورزیاتي عقیده



---

کیدای شي ۱۹۰۶ کال دمهنداس کرم چند په ژوند کي دپاملرنې اوبدلون د کال په توګه وستایو، ځکه همدغه کال و چې ده ځان په ځانګړې او ژورې توګه دیوې روحاني ویښتیا په څپو کې دبشریت دچوپړ له پاره ډالۍ کړ. هغه ځان ددې لپاره تیاروښود چې په څیرکۍ سره پریوه نرۍ کرښه باندې داسې ګام کیږدي چې له هغې دیوې بیولوژیکې کورنۍ له انګېرخخه ټول بشریت ته لکه دځان په شان وګوري او خپل یې وګڼي ، چې دغه کرښه اودا تګلاره هم کولای شو د ۱۹۰۶ کال په تلپاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغیزو کې وشمیروڅکه چې مهنداس کرم چند ګاندي خپله دغه لاره په همدغه کـال (ساتیاګره ) وبلله .

دساتیاګرې دنبوغ زیږون په جنوبی افریقې کې پرهغه مهـال چـې هلتـه پرهنـدي مهاجرو باندې داپارتاید ناوړه چلند روان و تړلې دی ، ددغه نافذ شوي قانون له مخې له هندي استوګنوماشومانو اوښځو څخه غوښتنه کیده چې ددغه هیواد له ادارو سره باید خپل نومونه ثبت او ولیکي . ګوتې باید ولګوي اوداسې اسناد دې دوی جـوړکړي چې هغه باید په هروخت او هره شیبه کې له ځان سره ولري ، په دغه اړه داهم ویـل شوي وو چې که هرهندوستانی له دغه قانون څخه سروغړوي له هغه څخه به په دغه هیواد کې داستوګنې حق اخیستل کیږي ، زندان ته به اچول کیږي اویابه له هیواده شړل کیږي.

همداسې په دغه اړه داهم منل شوې وه چې که هرڅوک په کوڅه اومالت کې پرته له دغو اسناد وګرزي اویایې له ځان سره ونه لري ، هغه هم کیـدای شـي زنـدانی شـي اویاهم له دغه هیواده وشړل شي . ان داسې څوک چې که په دغه هیوادکې شـتمني اوتجارتی راکړه ورکړه هم ولري.

تردوو لسیزو راوروسته ،هغه تاریخی شیبې رایادوو چې دهغو په تـرخ کـې مهاتمـا ګاندي دهغوناوړتیاوو پـه وړانـدې داسـې نسـخه وړانـدې کـړه چـې دده دژونـد پیښولیکوال یې په داسې الفاظوکې زموږ په واک کې راکوي چې ته به وایی داخبـره هم داپرون دلته تیره شوې ده :

« د ۱۹۰۶ کال دسپتمبر په (۱۱) نژدې دریوزروکسانو دامپراتورۍ دواک په وړاندې په جهانزبورګ کې داعتراض غږ پورته کړ، په هغه لوي تالار کې داسې آوازونه چـې پـه هندي ژبو : تامیلي ، تیلګو، هندي اوګجراتي کـې دپوهیـدو وړوو پـه انګازوشـول ، یوشمیرمیرمنې چې سارۍ یې اغوستی وې هم په دغه ځای کـې ترسـترګو کیـدې ،نارینه وو هندي اوارووپایی دواړه ډوله جامې اغوستې وې ، یوشمیرلا لنګوټې اوخولۍ هم په سرکړې وې ، یوشمیر مسلمانوخوسـرونه هـم تړلـي وو (مانـاداچې څـادرېې اغوستي ول ) . په دوې کې زیاتره بډای سـوداګر، کـان والا، قانونپوهـان ، کـارګران ،جوالیان ،کورنې مزدوران او واړه دکانداران ټول راغونډ شـوي ول . عبـدالغنی چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته په دغه بریتانوي ترانسوال کې دټولنې مشراودیوې لویی کمپنۍ مدیرو دغه غونډه پرانیسته او سیټ حاجی حبیب الله په دغه غونډه کې ددغې غونډې اساسي وینا واوروله ».

دسپتمبرد یوولسمې ددغو پیښودپرمخ بیولو په خاطرګاندي جې ځان جهانزبورګ ته ورساوه اوهلته یې د هندي ټولنې له غړو سره وکتل ، دترانسوال حکومتي جریدې د ۱۹۰۶ کال د اګست په ۲۲ هغه مسوده خپره کړه چې دغو مقرراتو ته یې رسمي بڼه ورکوله ، که چیرې دامنل کیده نو په دې کې شک نه وچې دهغې عملی کیدو به دجنوبي افریقې ټولو هندیانوته سخت زیان رساوه. همداوه چې ګاندي جی وویل : « دداسې قانون ترمنلو خومرګ غوره دی».

د ۱۹۰۶ کال غونډه یوه مقدماتي غونډه وبلل شوه ، په هغې کې داعتراض اوګواښ پرډول باندې خبرې وشوې ،کوم څه چې ددغې غونډې په ترځ کې روښانه وو هغه داوو چې داپه کې ومنل شوه چې : « یابايد مړه شو اویاهم باید یوځه وکړو».

ګاندي په یوه ټکي د زړه له کومې باوري و اوهغه داچې ده به ویل چې ددغه قانون په وړاندې باید مقاومت وشي ، ده داخبره کوله چې : « په نړۍ کې چیرې هم آزاد خلک له دغه شان ستونزو اودقانون له داسې غیرانساني چلند سره نه دي مخامخ »

ګاندي په افریقې کې هندي ټولنې ته دامشوره ورکړه چې دوی باید دهغه حرکت په وړاندې چې هلته یې ترسره کوي له آرامۍ اوسړښت څخه کارواخلي ، دوی باید هغه څه اوس پریوه خواپریږدي چې هغه په هندویزم اواسلام کې دتوپیرونو لامل اوسبب کیږي.ده هغوی ته دا په ډاګه کړه چې :

« موږ ټول په یوه واحد اوورته خدای باندې باورمن یو» باید چې دخپل ځان دخوښۍ اوخوشالۍ په خاطرله خدای سره دالوړه وکړو اوپه دې باید دزړه له کومې باورمن واوسو چې هغه سیال اوجوګه نه لري ، که زه رښتیا هم دخپل ځان اوآرامۍ پرضد ګام اوچت کړم ، ددې مانا داده چې زه خپل باور ترپښو لاندې کوم او هغه ته اهمیت نه ورکوم .که داسې وي نو موږ دخدای په وړاندې ګناه ګار یو. زما مراد په دغه برخه کې هغه کسان دي چې هغوی هوښیاردي ، پوهیږي خو بیاهم په دغه برخه کې په پټوسترګواوقصدی توګه ګام پورته کوي اوانساني ارزښتونه اوژمنې د ماتې پرخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیایی . هغه څوک چې تل په دغه باره کې خبرې کوي اوپه عمل کې دهغو پرضد وي ، هغه نورڅه نه شي کولای ، بلکې په دغه عمل سره یوازې خپل ځان ته سزا ورکوي » ګاندي په دغه ترڅ کې پرخلکوغږ وکړ چې : « که چیرې زموږپه ټولنه کې کوم کړکیچ او ستونزه رامنځ ته کیږي ، دابه هغه وخت وي چې ټول به په یوه خوله په پریکړونې چلندباندې لاس پورې کوو. پریکړو ن به هم یوحداوشرط لري ، مانا داچې زموږ دریځ به داوي چې حکومت باید خپل چلندته ځیرشي اودهغه ټول اړخونه باید په پام کې ونیسی ، په عین حال کې موږ هم باید ددې جرات ولروڅوهغه نیمګړتیاوې چې موږیې لرو سمې کړو اوپه هرڅه کې دې ته ونه ګورو چې اعتراض به هرڅه زموږ له پاره خوږه حلواکړي »

په پریکړه کې دباندني نړۍ په اړه څه خبره نه وه په ګوته شوې ، رایه ورکونه په دغه نظام کې هغه څه نه وه چې په دغه ترڅ کې یې دهرچا واک اوځواک په ګوته کاوه هغه په تمامه مانا په دغه برخه کې په هرچا (ده اودې ) پورې اړونده خبره وه. که به له دغه چوکاټه وتلې وه نو بیایې خبره زندان ته رسیده ،په زندان کې وهل ټکول وو، کیدای شوای چې هلته دوی دیخنې او ګرمۍ په سزاوو باندې هم وګواښل شي. ان چې کیدای شوه چې پایله یې دشتمنۍ په له لاسه ورکولو اوشړل کیدو باندې هم پای ته رسیدلې وای .

مبارزه تل یوه اوږده موده وي داسې چې کله کله کلونه غواړي ،زه په پوره باورسره لکه چې ګاندي په خپله په دې باوري و باوري یم چې خلک تل دخپلې خوښې اوخوشالۍ په فکرکې وي ، په مبارزه کې تل دایوه پایله شته چې هغه هم اتلولي ده.

اوریدونکودګاندي دغه وینې وستایلې ، خو ګاندې خپل غږ یوځه سره راټیټ کړ اوبیایې وویل : « له تاسې څخه یوزیات شمیرکیدای شي په دغه تالارکې نن ځانونه دلیوالتیا او غرور په لوړو کې لیدلی اواحساس کړی وي ،خودوی باید دسبا سهاراوراتلونکې میاشتې په اړه فکرهم وکړي ، دبیلګي په توګه یوازنۍ بریا چې په دغه برخه کې کیدای شی زموږ له پاره وي هغه به له حکومت سره دمقابلې ډګروي » دداسې کسانو له پاره کیدای شي داهم بې توپیره وي اوپه دې ځان قانع کړي چې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

(زما له پاره دلته یوازې یوه دوره پرانستل شوه ) خوګاندي بیا په دغه اړه په دې فکرکې نه وځکه یې وویل چې : (( مونږ باید ومرو خو نه داچې دغه قانون ومنو)) .

دلته ډیرکسان راغلي وو، پرهندیانو باندې ټول تالار ، برنډې ، ستیج اوګالرۍ ډک شوي وو، په تیره پرهغه مهال چې دټولنې مشرغونډه پرانیسته ، په څلورو ژبو باندې تودو ویناوو د اوریدونکو د احساساتوکچه خورا لوړه کړې وه. سیټ حاجې حبیب پریکړه لیک ولوست ، هغه پریکړه لیک چې ګاندي جي دهغه په لیکلوکې د نه راجسترکیدو غوښتنه د دلایلو په ترڅ کې یاده کړې وه . حاجی صاحب پرغونډه باندې غږوکړ چې دغه پریکړه لیک ته باید په سرسري نظرسره ونه کتل شي اونه یې باید یوازې په خوله ومنی ، باید چې رایه پرې واخیستل شي ، ځکه چې که نورڅوک نه پوهیږي خدای خوپرهرڅه باندې شاهد اوناظردی .

دغه انګریزي قانون په نیغه توګه دهندیانو خلاف و ځکه نو هندیانونه مانه ،که چیرې هغه منل کیده او یا پاس کیده ، نو هغه به دجنوبی افریقی دنورو برخو لپاره هم دمنلو وړکیده اوهلته به عملی کیده ،اوپایله به یې داوه چې نورنوبه په جنوبي افریقا کې دهندیانو له پاره ګردسره ځای نه و، برسیره پردې دغه قانون پولیسوته داحق ورکاوه چې په کوراوکوڅه کې چې هره هندي میرمن له کوره دباندې وځي اواسناد ورسره نه وي وپوښتی ، هغه څه چې دیوې هندي میرمنې په ژوند کې دهغې له پاره ګردسره ناآشناوو. ددغه قانون دباواوفشارپر هندو اومسلمان دواړو باندې خورا زیات و، هرچا به همداویل چې :

(( هرڅوک به راځي او زما دمیرمنې تصدیق به ګوري !)) ،دهمدغې ادعا په ترڅ کې دهندیانوله غونډې څخه چې ګاندي هم په کې و داغږ راپورته شو:

((لومړي خوبه زه هغه څوک چې زما له میرمنې څخه دتصدیق غوښتنه وکړي ووژنم ، له هغه وروسته چې هرڅه راځي ، راځي به )) .

دادهغې غونډې آره موخه وه چې د ۱۹۰۶ کال دسپتمبر په (۱۱) باندې دجنوبي افریقی په جهانزبورګ کې جوړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغونډې مشر خپلې تودې خبرې وکړې ، رايه واخيستل شوه ، هرچا لــه ځــان ســره يوګلاب راوړی و، ټولو لاسونه پورته کړل اودخدای په نامه يې لوړه وکړه چې دوی بــه دحکومت دهغې طرحې خلاف وي ،هغه چې دهندیانوحقوق ترپښولاندې کوي.
حساسو اواحساس لرونکو کسانوپه خورا چټکې سره دمهنــداس ګانــدی ترغــوږو دا ورورسوله چې د دوې دغه غونډه یوه خورامهمــه اودپــاملرنې وړ پيښــه وه اودايــوه مذهبي لوړه وه چې نوره نو ماتيدای نه شوای.
په رښتياهم داخه عادي حرکت نه و، بلکی دا داسې يوټړون و چې پــه آســانی ســره دهيريدو وړهم نه و، په بله ورځ دسپتمبر په (۱۲) دمقاماتو ډرامه په هراړخيزه توګــه تس نس اوهيڅ شوه ، زياتروهندیانو په دغه اړه دافکرکاوه چې دا قانون به نافــذيږی اوهنديان به دهغه تابع اودهغه ترسيوری لاندې خپل ژوند ته دوام ورکوي ، خوداسې نه شوه ، دګاندي جی له پاره دايوتصادف و،چې په پای کې مهنداس کرم چند پردغه بری باندې ورواوښت.
بله دپاملرنې وړ پيښه چې پر دغه مهال دګاندي جی په وړاندې طرحه وه ، هغــه داوه چې ده بايد ددغې غونډې هويت اونوم په ډاګه کړی وای ،د (( مثبت مقاومت )) خبره چې ددغې غونډې دګډون کوونکوله خوا دده ترغوږه ور رسيدلې وه . دغه ټکی هغــه څه وچې دجهانزبورګ صنعتګر هوسکين يې شاهد و :
« دهنديانوترانسوال ديومثبت مقاومت پيلامه وچې دنورو خوندي هڅو په شان يــې مخنيوی ناشونی و،دوی ډيرزيات نه ول ،ددوی شمير ډيرنه و ، دوی يوازې يوڅــو ول ،دوی وسله وال نه ول ، ځکه نو ددوی مقاومت يومثبت مقاومت و ، هغه چې دکمزورو وسله ورته ويلای شو»
ګاندي په خپله په دغه اړه ليکی :
(( دغه حالت زه له حيرانتيا سره مخامخ کړم اوهغه ويناچې ما بايد کړې وای هغې زه خپله له يوې څرګندې پيچلتيا سره مخامخ کړی وم .د هوسکين پرخلاف زه له خپــل مقاومت څخه ديوه (روحی ځواک ) په توګه ننګه کوم ، ما دغه غونډه وليده چې هغــه دمثبت مقاومت په نامه ياده شوه ،خو په دغه برخه کې بايد له يــوه توپيرڅخــه هــم سترګې پټې نه کړو ،هغه داچې زه به يې د (روحی ځواک ) او مثبت مقاومت ترمنځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپیرسره وخیږم ، ما مخکې له مخکې څخه دیوې غونډې تابیا هم کړې ده چې دهغې په ترځ کې به داهرڅه روښانه شي )).

هلته دځوان ګاندي په وړاندی څه شې ناشوني اوغیرفعال نه وو،ده په خپل اثـر ( پـه جنوبی افریقی کې ساتیاګره ) کې ټول جزیات په دغه اړه په ډاګه کـړي دي ، داچې دی ولې دمثبت مقاومت خبره په دغه اړه نه خوښوي ددغه کار سـرچینه پـه خپلـه دواکمنۍ دډرامې په وړاندې د سپتمبرد (۱۱) نیټې د غونډې له لوړې سـره پـه تـړاو اواغیزکې بولي .

اوداټولون له شکه پرته دعدم تشدد هغه څرګنده نښه وبلل شو چې ددغـې غونـډې لپاره چې دحکومت ضد انتظام یوه په زړه پورې نښه وه دیوه ښه اوله هغې سره دوړ ټاکل شوي نامه لپاره یې هم دجایزې غوښتنه کوله .

مګن لال ګاندي دګاندي دتره دویم زوی هغه چې په فـونکس فـارم کـې اوسـیده ، ګاندي ته د(ساداګره) نوم وړاندیزکړچې مانا یې (له ښه دلیل سره هـوډ اوکنتـرول ) و.خوګاندي دغه نوم په ساتیاګره باندې سم کړچې د ساتیا مانا (رښتیا) چې له مینی سره انډوله وه ،او (اګره) مانا (هوډ اوځواک ) وه. دساتیاګرې بله مانا (روحی ځـواک ) هم وه. دګاندي دلارې لاروي ډاکتر آر.آر.دیواکرېې داسې تشریح کوي :

(( ساتیاګره دژوند نوې تګلاره ده چې له روحي پیاوړتیا ، دنه زورزیاتي لـه تګـلارې سره خپله هم غاړې ساتي ، روحی وړتیا دغه اصل ته د نه ماتیدونکي اونه بدلیدونکي توک ځواک اووړتیاورپه برخه کړې ده.

دساتیاګری په اړه په خپله ګاندي ویلی چې :

دغه تګلاره دحقیقت لامل اودلیل ده خوداسې نه چې هغه باید پرمخالف لوري باندې دعکس العمل په ترځ کې وزغمل شي ،بلکی دنورو پرځای باید چې پـه خپـل ځـان باندې تطبیق اووزغمل شي. ځکه چې دا ترهرڅه دمخه دځانی کنترول غوښـتونکی تګلاره ده. دساتیاګرې وسله اوتوره په خپله په هغې کې ده چې دقناعت پـه رڼـاکې خپله وړتیا اواغیزه ښندي. ګاندي چې په دغه پله باندې دپرمختګ تګلاره پیل کړه ، دهغه آرهدف داو چې په دغه ترځ کې په ډله ییزه توګه دغه تګلاره هرچا ته څرګنده اودعمل ډګرته راوباسي . ده پرهغه مهال چې دتوربلاک په وړاندې یې پراخ غورځنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپیل اولارښونه کړ، زنداني شو،ماناداچې دی په نړی کې هغه لومړنې ساتیاګردی چې دبشري حقونودننګي له امله یې زندان ته اوړې ورکړې . دګاندي له پـاره دالـه هغـو تجربوڅخه وه چې دنړی دروازه یې دیوې لوېې اوپراخـې هیلـې پـه لورپرانیسـته . داتګلاره په عین حال له هرچاڅخه د ځان تیریدنې او اتلولی غوښتنه اوهیلـه کـوي داسې چې په ترڅ کې یې باید یوازې حیوانیت پیاوړی نه شی بلکی په دغه ترڅ کـې باید دیوې پراخی الهی رڼا په لورګام اوچت شي. دهمدغو ځانګړنوپربنسـټ وه چـې ساتیاګره په خپله دګاندي جي د ژوند فلسفه شوه ، اودامذهب وچې له هغه سـره ده ژوند وکړ اوله هغه سره ومړ.

دیوه ځارونکي لیکوال په توګه باید ووایم چې دګاندي جي په دغه بې ساری دریځ نه یوازې محکومو خلکو وویاړل بلکی دهغه دغه فداکاري په خپله په جنوبي افریقا کې دسپین توکمو له خوا هم وستایل شوه اودهغوی له خوایې هم که څه هم هلته لږکـې وو درناوی وشو. ګاندي په دغه باره کې دخپل باور په اړه لیکي چې :

(( لکه څنګه چې غورځنګ پیاوړی کیده انګریزانوهم په خورا جدیت سـره سـترګې ورته نیولې وې اوپه خورا لیواتیاسره یې ددغه غورځنګ ننداره کوله . سره له دې چې په دغه وخت کې دلته انګریزي ورځپانوداروپایانو دپیاوړي ملاتړ په ترڅ کې خپرونې کولې اوهم یې دتوربلاک د قانون ملاتړکاوه ، خوپر همدغه مهال یې دیوشمیرهندیانو دفعالیتونو اوبرخې اخیستې په اړه هم په زړه پورې لیکنې کولې .همدارنګه یـې پـه حکومت کې هم دهندیانوداستازیتوب په اړه لیکنې اویادونې درلودې داسې چـې ان کله کله خوبه یې دخپلو مهموغونډو راپورونه هم هندیانو ته استول. کله چې به کومه پیښه په زړه پورې نه وه ، موږ هم کولای شول چې دځینوراپورونوپه اړه خپلې رایـې اونظریې دوی ته ورولیږو. داکاران په هغه مهال کې چې لاسـاتیاګره پـه غیررسـمي حالت کې وه دهندي ټولنې له خوا ترسره کیده. موږ داسې اسناد هم په واک کې لـرو چې ګاندي په خپل نبوغ سره داندین امبولانس دبیوردجګړې لپاره برابرکړ هغه چـې په هغه کې نژدې خلورو سوو هندیانو برخه درلوده اوګاندي په خپلـه پـه هغـه کـې دسرجن میجر دنده ترسره کوله اوټوله هڅه یې پردغه ټکي باندې راڅرخیـده چـې دوی باید ځانونه په سیمه ییز سیاست اوستونزه کې ورګډ نه کړي .ګاندي جي خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولي هڅې په دغه مهال کې دهندي ټولنې په منځ کې پرخپلوهلوځلوبانـدې راڅرخولې .

په ۱۹۰۶ کال کې ده یومشال ورونکی یونټ دنژدې دوو درجنوهندیانوپه ګډون د زولو یاغیانو په خاطرجوړکړ. د ۱۹۱۳ کال داکتوبر په (۲۸) ګاندي جي هغه تاریخي لاریون لارښوونه کړچې له نیوکاستل څخه تر ولکسروټ پورې غزیدلی و، په دغه لاریون کې نژدې دریوزرو کسانو برخه اخیستې وه لکه چې دغه حرکت د (دندی) لاریون لپـاره یوه وړاندوینه شو. ددغوخلکو اعتراض دهغو دریو پونډو مالیې په اړه و چې هغه بایـد هندي کارګرانو دولت ته ورکړې وای .

اوپه پای کې جنرال سموتس د ۱۹۱۴ کال دجنوري په (۲۱) دساتیاګري مقاومـت تـه غاړه کیښوه ، اوساتیاګره کله چې جنرال دګاندي جی وړاندیزونه ومنل وځنډیده.

په جنوبي افریقاکې دساتیاګري غورځنګ په جوړولو سـره ګانـدي جـی دټـولنیزې برابرۍ په ترڅ کې دپاملرنې وړخدمت له هغې ورځې چې دغه هیواد ته په کال ۱۸۹۳ کال راغی اوتر۱۹۱۴ پورې دلته پاتې شو وکړ. ده له دغې لارې لـه هیوادوالـو څخـه دعدالت دخوندي کولو له پاره په هغه هیواد کې چې دسختو تویپرونو قربـاني شـوی وغوښتنه وکړه اوپه دغه برخه کې یې خپل غړ اوچت کړ،په تیره بیا چې کله دی ناتل ته د نولسمې پیړۍ په نیمایی کې ورسید.

پرهغه مهال چې ساتیاګرۍ په عملی توګه دټولینزعدالت له پاره پـه کارپیـل وکـړ ، ګاندي جي په دغه ترڅ کې بیاهم دیوه وتلي مشراوپیاوړي لارښود په توګه وسـتایل شو. په جنوبي افریقي کې ګاندي جی دافکاروپه رنګارنګۍ باندې ولاړپاتې شوچې په دغه کارسره هغه داسې معنوي بوزغلی شوچې دراتلونکو له پاره دخپلې تجربـې پـه ترڅ کې راوټوکیده. اودده خپلې ټولنیزې ، سیاسي ،او اقتصادي فلسفې هم په دغـه ځای کې خپله بنه دځان له پاره غوره کړه.

هغه په خورا بیړې سره دجان ریفکن ( **تردغه پایه** ) دلیوتولستوی ( **دخدای واکمني په خپله په ده کې ده**) دهنري دیویدتوریو (**ولسي سرکښي** ) اونورآثارولوستل چـې دغوټولودده پرذهن باندې ژوره اغیزه وکړه.دده د *سرواداېا* فلسفې په خپل ذات کـې ددغو آثارو پرزناووباندې خپله رڼادځان کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمهاتماګاندي لپاره *ساتياګره* او *سروادايا* دواړې ديوې سکې دوه مخونه وو چې په څرګنده توګه يې داوسني عصرله ټولينز ـ اقتصادي بدلون اودهغه له څرګند اهميت اوفکري تمايل سره ځان داسې هم غږی کړ چې يوله بله پرته کله هم بشپړيدای نه شي. د*ساتيا*او*هيمسا* دکليمو آره موخه اومانا رښتيايينه اوعدم تشدد دی چې په دغو ماناووسره يې په زياترومذهبواوفلسفي افکاروکې ليدالای شو.ګاندي چې کومه لويه دنده په دغه اړه په پاملرنې سره ترسره کړه هغه داوه چې دغو دواړو مفاهيموته يې عملي بڼه ورکړه ، دده *ساتياګره* اونه زور زياتی او *سروادايا* يادکايناتي همکاري دوکتورينو دواړو په خپل وارسره دغه لاره پرانيسته چې دانساني طبيعت بنسټيزه وړتيايې په سمه اوعملي توګه له سياسي اوټولنيزسمون سره هم غاړې کړه.

په جنوبي افريقي کې هلته چې دده له مورنې هيوادڅخه لرې پرته سيمه وه ، هغه ځای دده له پاره دبياهستونې په څيره کې دده دمينې وړ هيواد شو ،ده هلته داخبره تحليل او راپورته کړه چې داوسني تمدن په زړه کې له ستونزوڅخه دوتلو لاره موندنه په خپله يوپرمختګ دی ، ده خپله دغه طرحه اودژوند فلسفي اړتيا راوسپړله اوهغه يې په خپل *هند سوراج* (دهندخپل واک) کې په ۱۹۰۸ کال کې وليکله. *هندسوراج* چې دګاندي جې له مهمواودپاملرنې وړآثاروڅخه دی ،دغه اثردهغوخلکو له پاره چې دريجنريشن دهڅې پلويان اوپيروان ول دانجيل ځای غوره کړ.

په کال ۱۹۰۸ کې ګاندي جې په خپله دولسي سرکښنی تجربه عملي اوپرهغې باندې زندان ته ورسيد، دده له پاره داپه خپله *ساتياګره* وه ، داسې چې ګاندي دلومړي ځل له پاره دهغې په ترڅ کې دښځينه ځواک ننداره دکستورباپه څيره او کړو وړکې وکړه، دی په دې پوه شو چې دښځوځواک دژوند په بهيراواندېول کې يونه انکارکيدونکی آراواصل دی ، داسې اصل چې بياده هغه د( *ستری شکتی* ) يا سترې ځواکمنۍ په نامه سره يادکړ.

دجنوبي افريقي دغوټولوتجربو له ده سره دامرسته وکړه چې له هغوڅخه يې دهندپه راخوځيدو اودهند له لارې يې دنړۍ په راخوځيدو کې خپل ونډه په ښه توګه ترسره کړه. اودايې په ډاګه کړه چې نورنوځانونه بايد دظالم ځواک په وړاند يا د کرکې اوياهم دمنلو په دريځ کې ودروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*ساتیاګری* یاعدم تشدد د ۲۰۰۶ کال دسپتمبر په (۱۸) نیټــه خپلــه یــوه پیــړۍ لاره بشپړه کړه،په دغه ترڅ کې ترهرڅه دمخه په دغه ټکي باندې رڼاواچول شوه چې ،په هندکې دعدم تشدد لــه لارې څــومره بدلونونــه رامــنځ تــه شــوي لکــه چــې پــه نوروهیوادوکې دتشدد له لارې رامنځ ته شوي دي اوپه څه شان داثابتولای شو چــې څنګه کیدای شي په یوه ټولنه کې بدلون اوانقلاب پرته له وینې تویدنې څخه رامــنځ ته کړو.*ساتیاګره* دخپل مفهوم له مخې په بشپړه توګه دهمدغه ټولنیز انقلابــی پــوه مهاتما ګاندي دژوندپیغام دی ، چې دترهګرۍ او تروروېزم اوجګــړې چــې دمتمــدن ژوند له پاره دخطراصلي سرچینه ده یوازنې الترنتیف دی .

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندلید ) له مجلې څخه چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریږي لــه انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شویده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۳)

# ایلا گاندي

# د مهاتماگاندي دجنوبي افریقې تجربې

### د بدلون بیسارې بیلگه

موهن داس کرمچندگاندي دخپل عمر په (۲۴) کلنۍ کې جنوبي افریقې ته ورسېداو په (۴۵) کلنۍ له هغه ځایه راستون شو. دغه(۲۱) کالونه دهغــه دژونــد ترټولــوډېر ازمېښتي کالونووځکه چې په همدغه وخت کې دگاندي د ژوندبې ســارې فلســفې خپله بنه راڅرگنده کړه . هغه فلسفه چې پرهغې باندې گاندي دمهاتما لقب ترلاسه کړ او هغه فلسفه چې دهغې دلوړتیا په لاره کې ددومره وړتیا ترلاسه کیدل چــا نــه شواى اټکلولى .

مهاتماگاندي نه فیلسوف و، نه دعلمي هنري ټولنې غړى او نه هم یومسلکي لیکوال ، خوله دې سره سره هغه داسې لیکوال ولکه چې خپله وایي : (( **زما ژوند زما پیغام دى** )) . هغه خپله فلسفه لکه دیوه لیکوال اودعلمي هنري ټولنې دغړي په شان نــه ده لیکلې. په بنسټیزه توگه ، هغه یواکټیو (فعال ) سړى و چې دلوړشعور خاوند ورته ویلاى شو . دا دهغه خپل شعور اود عدالت ټولنیزه نظریه وه چې هغه ته یې د بدلون په لور لاړښوونه وکړه .

موږ وینو چې لندن دده په دغه شعوري وده کې دپاملرنې وړ اغیزه رامنځ ته کړه . په لندن کې هغه دخپلولومړنیوورځو په ترڅ کې خپل زیات وخت پرخپلو کــالیو بانــدې خرڅ کړ ځکه ده غوښتل چې لکه د انگریزانو غوندې داشرافي ژوند پــه لورگامونــه اوچت کړي . خوهغه زر په دې پوه شو چې دده کورنۍ پرکوم څه اوکومــو ارزښــتونو باندې چې دېرې قرباني ورکړې دي هغه له لاسه نه شي ورکولاى . همداوه چــې پــه خپل خرڅې کې یې کمى راووست اودخپل ژوند ورځنې خرڅ یې دحسا ب له مخــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاوه . هغه په ارزانه ا ستوګنځي ځای ونیو او دسپرلی پرځای یې داسمه وبلله چې باید پلې له یوه ځایه بل ته ولاړشي راشي . ده په هرڅه کې دځان لپاره دانډول (تعادل ) خبره په پام کې ونیوه . دغه ټول بدلونونه هغه څه ووچې ده هغه دخپل ضمیردننۍ آوازپه انګازوکې دعمل ډګرته راوایستل .
هغه سابه خوړونکی و، له شراب خوړلو څخه یې ډډه کوله او له ښځو سره یې هم ناسته ولاړه نه وه ځکه چې ده له خپلې مور سره ژمنه کړی وه چې هغه به له شرابو ، ښځو او غوښې څخه ډډه کوي . هغه ډیرزر په دې پوه شو چې سابه خوړل د ژوند یوه روغه لار ده چې هغه به نه یوازې دژمنې په خاطر بلکه دیوې طبعیي چارې په توګه په خپل عملي ژوند کې په پام کې نیسي . دی په دې هم پوه شو چې شراب خوړل یوداسې چل اوعادت دی چې له زیانه پرته بله ګټه نه لري . خپلې میرمنې ته یې وفادارۍ ده ته دااجازه نه ورکوله چې له نورو ښځوسره دې ایل وغیل شي .
خووروسته په هر حال ، دی دښځمنتوب ( فیمینزم ) په ارزښت دپلارواکۍ په مقابل کې پوه شو، ښځوته یې درناوي دزړه له کومې شو،اوهغوی ته یې یوازې دجنسي موخي دنښې په توګه نه کتل .
په ۱۸۹۳ کال جنوبي افریقې ته دده تګ له لندن څخه کورته له راستنیدوڅخه دوه کاله وروسته ترسره شو کیدای شي دغه کال دده دبرخې اخیستنې له املـه دده دشعورې ودې کال هم ونوموو،ځکه ده دافریقې پر خوادیوې ودې اویوې ناچارۍ له امله ور مخه کړه ، دده اندیښنه دده دلږعاید په برخه کې وه چې پرهغه مهال په هند کې دده دژوند کولو له پاره نه بس کیده. هغه دخپل مسلک لپاره اندیښمن نه و ،بلکې ددې له پاره اندیښمن و چې دی لندن ته دتګ او زده کړې پرمهال دخپلې کورنۍ دمرستې هم پوروړی و. جنوبي افریقې ته دده سفر د پیسو ګټلو او ددغه پورد ادا کولو لپاره یوه ښه شیبه شوه . او دغه نښه دده له زیاتو کړو وړو څخه هغه هیواد ته له رسیدوسره سمه روښانه هم شوه ، دی په طبعیي توګه په طبقاتي شعوراوژوندکې راپورته شوی اوپه هغه کې نښتی و .همداوه چې دی باید په هغه سیمه کې اوسیدلی وای چې دده له مسلک اودریځ سره یې برابري کوله اودده په شان کټ مټ مسلکي کسان هلته اوسیدل . دده مسلک هم ده ته داامتیاز ورکاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دی بایدځان له هغوی څخه چې عادي خلک دي لکه دخوراکی شیانوخرڅوونکي ، دهوټلو کارکونکي ، نایان اونورچې په مسلکی کسانو کې راځي لوړاوبیل وبولي .دده زیات پام دخپل فیشن اوخپلوکالیوپه لورو،پرته لـه دې چـې هغـه دهـوا اوموسـم څرنګوالی په پام کې ونیسي ،ده تل دریشي اونکتایی په سمه توګه اغوستل اوو یښته به یې په ښکلې شان ږمنځول . دغه اغیز جنوبي افریقې ته دده په دویم سفرکې هـم له ورایه ښکاریده ، ده په دغه سفرکې خپله میرمن اوماشومان هـم لـه ځـان سـره راوستل اوهغوي ته یې هم ویل چې په لویدیزډول سره باید ژوند وکړي، په هم هغـه شان کالي اوجورابې لکه چې لویدیزو اشرافیانو به اغوستل دوی هم اغوستل .
خوکله چې ده ته په ډاګه شوه چې سپینان په جنوبي افریقا کې کله هم ددې له پاره تیارنه دي چې د ناسپینو دود دې ترسره کړي ،دغه تګلاره ده ته یوغروراوکبرمعلوم شو،دده وجدان ده ته دا اجازه ورنه کړه چې دی دې نورنایی ته ورشي ،همداوه چـې هوډ یې وکړ چې خپل ویښته باید په خپله جوړکړي . همـداوه چـې هغـه پـه دغـه پړاوکې دځاني درناوي اوویاړ په فکرکې شو، اوپه دغه کارسره یې ان چې دنوروخلکو ملنډواوخنداوو ته هم ونه کتل.
هغه له دې وروسته داهوډ هم وکړچې نورې خپلې جامې دمینځلولپاره دوبي ته هـم ورنه کړي اوبایدپه خپله یې ومنځي .
دده ضمیر دروحاني پوهې دمطالعې اوپرخدای باندې دپوره باورپه ترڅ کې وده کـړې وه ، موږ دغه اغیزدده دهغې لوستنې اوو ینې په ترڅ کې وینوچې دی په لنـدن کـې واوهلته یې دمقدسوکتابوله لوستلوسره ځانګړې لیواتیا پیداشوه ، پرده بانـدې دغـه بهیردومره اغیزه وکړه چې په ژوره توګه دمذهب تراغیزه لاندې راغی خو دیوه ټاکلي مذهب په وړاندې یې ګونډې ونه وهلې ، دی نه د مذهبې اوتعصبي تګلاروسره مـل شو اونه یې پرمذهب باندې دباورلاره له پامه وغورځوله ځکه دی په دې باوري وچـې دهرمذهب مثبتو اوښوټکوته بایدهم پام وشي اوهم درناوی . داده دمذهب پیژندنې په اړه دده ځیرکتیا وه په تیره پرهغه مهال چې دی کله په جنوبي افریقا کـې و، ان پرهغه مهال دی په دې باوروچې اسلام اویا مسیحیت ته په زوراوښتنه په خپله یوه درنه ستونزه ده ، ده پرخدای ایمان درلود ،خوکله یـې هـم دیـوه ځـانګړي مـذهب

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپارښتنه ونه کړه ، دی دیوه روحاني بهیرپه لورهغه مهال چې په افریقا کې و ورمخه شو، داچې په دغه ترڅ کې یې ژوره مطالعه ترسره کړه اوپه دغه برخه کې یې ډیرمهم اودپاملرنې وړمعلومات درلودل همداوه چې دیوشمیرباورونو په یوشمیرعملي ناوړتیاووانیمګړتیاوو باندې چې خلکود دودونوپه ترڅ کې منلي اورامنځ ته کړي وې انتقادوکړ .له بلې خوا همدغه مهال وچې ده ډله ییزعبادت کولو ته په اهمیت باندې سرټیټ کړاوداېې هغه لاره وبلله چې په دغه بهیرکې هرچا کولای شول چې دخپل دین اومذهب لکه هندوییزم ، اسلام ،مسیحیت ، زردشتي اونورو مقدس مراسم اودعاوی دیوه اوبل په مخ کې په آزاده توګه ترسره اوولولي . په دغه ترڅ کې دیوه مذهب نښې نښانې هم نه ترسترګوکیدې .

زه باورلرم چې په دغه ترڅ کې دهرسړي ضمیردخدای په لوردودې اوپرمختګ خپله لاره وهي اوځان ترهغه پورې رسوي. . .په داسې توګه چې هلته دیوه مذهب نښه اوسمبول هم دچا پرمخ کې نه وي . زه یقین لرم چې د یو سړی د ضمیر پرمختګ په مستقیمه توګه له خدای سره دهغه داړیکوپه پیاوړتیا او پرمختګ پورې تړلی اصل دی . ننی آواز یا په بله وینا دزړه اووجدان غږ هم په دغه ترڅ پیاوړتیا مومي او دباور وړکیږي . . ګاندي جي تل اوپه سمه توګه پخپله دننی ږغ په باره کې خبرې اترې کړې دي . اکثراً ، کله که غمولو سیاست پوهانوله ده څخه دکومې نابرې فیصلې پر خلاف کومه پوښتنه کړې ، ده پرهغه مهال دخپل زړه غږ ته رجوع کړې ده . ګاندي جي د خدای ژبه لکه دیوه ځانګړي خدای په شان هغوي ته چې اړتیا ورته لري څرګندوي . . دی ټولو انسانانوته هرڅه دی (دی په مورږ کې دی ، له موږه پورته او له موږه ها خوا) . دده دا ټینګه عقیده د وخت په تیریدو سره پرمخ لاړه اودومره وده یې وکړه چې دهغې له مخې ګاندي جي دژوند له بېلابېلولارودعملي تجربې کار پیل کړ .

دده رنځورپالې مېرمن کستوربا دختواواوبه د عملي معالجې په ترڅ کې دخپل زوی منیلال ناروغي دخښتوپه تهېراپې سره دارودرمل کړه ، دخپلې روغتیا اودرملنې په کارکې دطبعیي معالجې له بېلابېلو شکلوڅخه کاراخیستل دده لپاره هغه څه وو چې پرخدای باندې دپوره باور اونښې څرګندونه کوله اودایې په ډاګه کوله چې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرخدای باندې باور دهرڅه اوهر درد درملنه ګڼلـه . دده لـه دغـه شـان طبیعـي درملنې سره لیواتیاهم له جنوبې افریقې څخه راپیل شوه .
. کله چې هغه دخپلې کورنۍ په وړاندې د خپل دین اوپورله ادا کولوڅخه ډاډه شـو، ده له هغه وروسته په رښتیانۍ توګه دیوې آرامۍ په ترخ کې دسـاده ژونـدکولو ډول دځان له پاره په تیره بیا په ۱۹۰۴ کال کې په فونکس له ځای پرځای کیدو وروسـته غوره کړ. دلته دده ساده اوبزګري ژوند وده وکړه ، اوپه دغـه کارسـره یـې دبیواکـو اومزدورانو دعزت دفلسفې بنسټ کیښوداوهغه طبقاتي بهیر چې تردغه وخته دلتـه دډیروپرذهن اوژوندباندې برلاسی و ، هغه یې له عملي ماتې سره مخامخ کړ . هغه په دغه ترخ کې دخاورې او اوبو په مرسته اوهمداسې دحیواناتو دسـاتنې پـه کارسـره دژوند اوروغتیا په برخه کې دآسانو تجربو له لارې دلاربښونې کار ترلاس لاندې ونیو. ده دلته دطبعیت له قانونه هغه زده کړه وکړه هغه چې دهرساکښ له خوا پـه خپـل خپل ډول سره کنترول او کارول کیږي . ده چاپیریال په تمامه مانـا درک اوولوسـت اوپه هغه کې یې دهغه دموجوداتو هراړخیزه څیره له ورایه ولیده. په دغه وخت کـې ده له منګوري څخه دډارطلسم هم له لاسه ورکړ اوځان یې په هغه رمز باندې پوه کړ ، چې له هغه سره باید په یوه چاپیریال کې ګډ واوسیږي . دمنګوري دډارکیسه هغـه مهال نوره هم روښانه اوله خطره ووته چې کله دی په فونکس کې په برنډه کې پروت واوهغه پرې تیرشو. ډیرخلک چې هغوی دارګانیک فـارمونو پـه کاربانـدې بـاورمن وو،ګاندي جي ان په هغوورڅوکې په دغه اړه د (بایو رنګارنګی ) خبره کوله اوپه دغه اړه پردغه ارزښت باندې دزړه له کومې باوري و.
ګاندي په دغه ترخ کې ډیرڅه اوډیرارزښتونه زده اودځان کړل ، هغه په دغـه ځـای کې دومره جدي شو چې دخپلې میرمنې اوماشومانو دباورپه خاطر یې له خپلـوملګرو اودوستانو څخه هغه ډالۍ اوسوغاتو چې دده دکورنې له پاره به یـې راوړل نـه منـل اوهغه به یې په بې پراوایی سره ردول . ان چې پربدل کې یې هغه مهال چې دی پـه جنوبي افریقا کې اوسیده د سلوایکرو په اندازه ځمکه دټولینزو موخو اوخدمتو لـه پاره په فونکس مرسته کړه اوهم یې په دربن کې خپله دپاملرنې وړ شـتمنې د ناتـل اندین کانګرس ( ان . ای .سی ) په واک کې ورکړه ، برسیره پردې یې خپله یوه زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازه ګينه يې هم  د ان . ای . سي  په واک کې ورکړه .له بله پلوه يې  په هند کې هم دخپلې پلرنۍشتمنې تول  حق خپل هغه ورور ته چې دده په زده کړه کې يــې ونــډه اخيستې وه ور وبښله .  اوپه پای کې کله چې ده په ۱۹۱۴ کال کې غوښــتل لــه هغــه ځايه  دهندپه لور راشي پرهغه مهال يې خپل ټول پورونه هم خلاص کړل .

ګاندي جي جنوبي افريقې ته  د دادا عبدالله سوداګر په امر اومرسته  ته رسيدلی و.
همداوه چې هلته دده زيات دوستان ا وياران هم دغه سوداګر ول .يوکال وروسته چې کله هغه په جنوبي افريقا کې خپل دفتر پرانيست ، له هم هغه راپه ديخوا دده اړيکي له مزدورانوسره هم پراخ شول .اواوس دده ملګري  ترمنځنۍ طبقې په  کوزه هغې کې زيات  وو . په تيره بيا پرهغه مهال چې دې په فونکس  کې اوسيده په هغه ځــای کــې زياتره دګنيو کروندې وې چې په  هغوکې زيات کارګران په کاربوخت وو. اوهلتــه پــه کورونواوبارکونو کې اوسيدل . کله چې دی له جنوبې افريقې څخه راووت ده پرهغــه مهال هغه کالي اوجامې اغوستې وې  ، هغه چې همدغو کارګرانو به اغوستې .  دقانون دکارولو په اړه دده په ناکرار تصوراوخيال کې هم دکرار يولوی بدلون راغی . دده   په لومړني دعوه  کې چې هغه د دادا عبدالله له کورنې سره اړونده  وه  ،  ده پــه هغــه اړه محکمې ته دبل الترنتف  دعملي کولو خبره وړپه ګوته  کړه ، ده غوښتل چې په دغــه اړه دهغې دندې آزموينه ترسره کړي ، هغه چې بايد دقانون پوهانو اووکيلانو رول پــه کې وکتل شي  ، هغه اوس په دې باوري شوی و چې د دادا عبدالله دعوه  چې دکورنۍ دغړو ترمنځ يوه خورا پيچلې  اوستونزه منه موضوع وه ددغه نوي وړانديز په ترڅ کې حل کړي . ده په دغه اړه داخبره په ډاګه کړه چې  : « ديوه وکيل دنده دانــه وه چــې يوقانوني کارپيچلی کړي ، بلکه دهغه دنده دخپل رښتيانې رسالت  له مخې داده چې په ټاکلې موضوع کې سم حل او پخولاينه هم له پامه ونه غورځوي »
اوداهغه پای و چې په دغه توګه له هغه سره ده هم معامله وکړه .
مارتين لوتر کينګ (جونير) دګاندي دارزښتونو په اړه وايي چې :
«دنه زورزياتي تګلاره ټاکل ، دکمزورۍ اوډارنښه نه ده . له تشدد سره په عدم تشدد باندې جنګيدل په خپله دعمل يوه زړه ورتوب ته اړتيا لري . چې دنه زورزيــاتي  پــه واسطه  لارښونه کيږي »

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګاندي جې وکولای شول چې دخپل عدم تشدد اونه زورزیاتي په لورخپل باورا وخپل پیروان اوشاګردان په جنوبي افریقا کې راوکاږي ، دوی دواړو ګاندي اومارتین هڅه وکړه چې دخپلو درسونو په رڼاکې خپل پیروان ددې لپاره وهڅوي چې دنه زورزیاتي دکمپینګ ددفاع لپاره لاس په کارشي .

دعدم تشدد اونه زورزیاتي آره موخه داده چې یوڅوک باید دنـورو لپـاره دسـتونزو لامل نه شي ،بلکه یوازې په دغه حد کې باید وي چې دخپل ځان په سمونه اوزغمنه باندې ولاړ پاتې شي ، کړاو اوستونزه باید پرخپل ځان باندې وزغمي .زغـم اوتحمـل ترهرڅه دمخه دیوه ځانګړي ډول دسپلین او روژې نیولو په ترڅ کې عملي بڼه دځان له پاره نیولای شي ، دغه مهم په خپله دمعنوي پیاوړتیا لپاره دخـوړو اوډوډې ځـای لري . مهمه لاداچې له هغه سره دیوه روحاني ځواک شته والی هم اړین اودپـاملرنې وړدی، داخبره په دغه اصل کې یوه منل شوې ځان تیریدنه ده چې کلـه یوڅـوک جریم کوي ، اعتراف کوي اوځان په خپله جیل ته سپاري ، مانا داچې په دغه ترڅ کې ددې لپاره اړتیا نشته چې پولیس دې تا ترلاس ونیسی او سزادې درکړي .ځکه عـدم تشددپه مانا کې دقانو ن یوه بله بڼه ده .

دیوه روا چلند په توګه په دغه مدرسه کې څوک باید له زده کړې څخه ځـان پریـوه خوانه کړي، نفرت اوکرکه بایدپه دغه بهیرکې دده موخه اودنده نه وي، له دښـمنانو سره باید دروغې جوړې اومینې تګلاره غوره کړای شي ، ددغې تګلارې پلـوی بایـد دتشدد دهرې بڼې په وړاندې دزغم اومقاومت په ډګرکـې ودریـږي. اوددې انسـاني هڅې د عملي کیدوپه ترڅ کې باید په عمل اونظرکـې تیـاری ولـري . دغـه تګـلاره پردښمنانو باندې دبرلاسي اویرغل پیغام نه ده . ځکه کله که یوڅوک په دغه اړه پـه دغه نیت ګام اوچت کړي ،پرته له دې چې نور ورته وګوري ، دی په خپله هم په خپله تیروتنه له ورایه پوهیدای شي .

ددغې لار ې لاروی باید په دغه ترڅ کې هم هڅه وکړي چـې پـه کرکترکـې دعمـل اونظرواتن له منځه یوسي ، سـتاتول کوښښـونه بایـد دخپـل عمـل پـه اړخ کـې وي،دهغوی چې څه کوي باید پرضد نه وئ ، په دې چـې ترټولـو مهمـه اودپـاملرنې وړخبره په دغه ترڅ کې داده چې دغـه تګـلاره پرخـدای بانـدې دبـاور دپیاوړتیـا

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوایمانداری په پیاوړتیا کې لویه مرستندویه مفکوره ده. همداده چې دهرچا له پاره دا اړینه ده چې په خپل ورځني ژوند کې دغه تګلاره په پام کې ونیسي . څکـه نـودغې چارې اوعمل ته دژوندلاره اوتګلاره هم ویلای شو.**

**دعدم تشدد آره موخه اوهدف هم دمخالف لوري ګواښل اوماتول نه دي ،بلکه پرسمه لاردهغه برابرول دي. ، دغه مفکوره هغه ستربنسټیز باور دی چې دهغـه لـه مخـې هرڅوک پردې وتوانیږي چې په ځان کې بدلون راولي . راشی چې په دغه اړه دګاندي دفلسفې زړه ته ورننوزو اودهغې له دود اوآرونو سره سم په هغې کې ددرناوي هغـه نښې ووینوچې له هغه څخه په جنوبې افریقې کې دجنـرال سـموتس پـه وړانـدې څرګندې شوې .**

**کله چې مونږ دده په سیاسی کړو کې دلویومعاملو اوکړنو یادونه کوو ،نوداهم باید لـه یاده ونه باسو چې په دغه پراخ بهیرکې له دغې وړتیا سره سمه دعادي خلکـو ونـډه هم دګاندي جې په فلسفې کې ترټولو مهمه اودپاملرنې وړځای جوړوي .**

---

**دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندلید ) له مجلې څخه چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریږي لـه انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شویده .**

***لیکوال په جنوبي افریقې کې دګاندي دودې اوخیرښیګینې د تړست مشردی .***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۴)

# تارا گاندي بټاچرجي



## دمالګې حماسي لاريون

د۱۹۳۰ کال دجنوري په (۱۸مه ) هغه مهال چې رابيند رانات ټاګوردسابرمتي دسـيند پرغاړه دګاندي داشرم دليدو په حال کې و له ګاندي څخه وپوښتيدل چې :

ـــ زه شپه او ورځ په دې باره کې فکر کوم چې « ګاندي به دهيواد له پاره پـه ۱۹۳۰ کال کې په خپله خورجين کې څه لري ؟ »

ګاندي جي ځواب ورکړ: (( زه فکرنه کوم چې يوه رڼا به هم له دغه راچاپيرتورتم څخه راووځي )).

ان له هغې ورځې ماناد۱۹۲۴ کال له مې څخه راپه ديخـوا مهاتمـا ګانـدي پـه پـوره اوعملي توګه دسياست له اساسي تګلارې څخه ځان پريوه خواکړاوټوله پاملرنه يـې دجوړونکوتګلارو هغه چې ده (له صفرڅخه دجـوړونې خـورا مهمـه دنـده ) وبللـه پرخواوروارړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بلې خوا داهغه مهال وچې ده دهیواد په اوږدواولندېوکې دګرزیدو اوســفرونوکارهم راپیل کړ، دده ددغوکالوپه ویناوو اولیکنوکې پنځه ټکي له ورایه څرګندوو: څرخــې، کوزنې طبقه ، لومړنی زده کړې ،... اوپه فرقه یې هم غاړی‌کې دښځوونډه ،او....

دده سفرونو ترهرڅه دمخه دایوه ښیګړه درلــوده چــې خلــک یــې داوږدې مــودې هیریدنې ، ډاراوخرافاتوپه منګولوکې راویښ کړل.ده هغوی په دې باوري کــړل چــې دوی به دده له پاره پیسې خوشې خوشي نه خرڅوي.

« دګلو دهرې غاړکی دپیسوپه سپما سره تاسې کولای شی چې شپاړســومیرمنوته یووخت ډوډی ورکړئ ». په رښتیا هم ده دخپلو سفرونوپه ترڅ کې دغه پنځه مرامــې ټکي ترکليو،ښارګوټواوښاروپورې ورسول. ده دخلکوغوږو ته داهم ور ورسوله چــې « ترهغه وخته چې جارواوبوکه په خپلولاسوکې ونه نیسی، تاسې به کله هم په دې ونه توانیږئ چې خپل ښارونه پاک کړئ »

په ۱۹۲۸ کال کې په کلکتې کې دکانګریس غونډې انګریزې حکومت ته دجــواهرلال نهروپه خوله په خورا ادبي توګه داوړاندیزوکړ چې دغه حکومت باید په ۱۹۲۹ کال کې هند ته ددومنیون هیواد دریځ ومني ،خوهغوې دغې خبرې ته زیاته پاملرنه ونه کړه. مهاتما ګاندي له دغه وړاندیزوروسته په خوراليوالتياسره ددغه حالت څارنه کولــه ، د ۱۹۲۹ کال په دسامبرکې داخبره روښانه شوه چې په دغه ترڅ کې باید مبارزه وشي.. د ۱۹۲۹ کال د دسامبرد ۳۱په نیمه شپه کې هغه مهال چې کال رانوی کیده دهندملي کانګرس په لاهورکې دخپلواکی جنډه د روي سیندپه غاړه باندې جګه کــړه .چــې د ۱۹۳۰ کال دجنوري په (۲۶) د *پورنا سوراج* ژمنه اولوړه رامنځ ته شوه.

په دغه ترڅ کې یوځل بیا دټولوسترګې دسابرمتې په لورشوې څوپوه شي چې ګاندي جی به اوس په څه باندې لاس پورې کوي.

مهاتما ګاندي هم په دغه مهال کې ترخورا درانه فشارلاندې واوپه دې فکرکې وچــې څنګه کولای شی یوځل په داسې یوه تجربه اولاریون باندې لاس پــورې کــړي لکــه څنګه یې چې په ۱۹۱۹ - ۱۹۲۱ کلونو کې عملي کړی و. دشپړاوونیولپاره ګاندي جي په دغه اړه دیوه غیبي آواز په انتظارو، خوچې د ۱۹۳۰ کال د فبروري په (۲۷) یې خپلې پوښتنې ته یوجادویی ځواب په یوه کلیمه کې ترلاسه کړچې هغه مالګه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې ددغه نوی حیرانوونکي زیري دتحقق له پاره دځواک په لته هلې ځلې پیل شوې ، دګاندي له خوا دهیوادپرنارینه وو اوښځوباندې غږوشوچې دمالګی دقانون لــه امله باید دبریتانوي واکمنی په وړاندې راوپاریږي چې غواړي هغه (مالګه ) هم پرموږ باندې وپلوري.داچې دګاندي دمبارزې په ډول اوتولنو باندې لــه اوږدې مــودې راپــه دیخوا خلکودزړه له کومې باوردرلود همداوه چې خلکو داورسره ومنله چــې ګانــدي دکوم څه لپاره لاس په کاریږي هغه دبري ترپولې پورې خامخاپه خپله درایت اوپوهې سره رسوي..

ګاندي په دې باوردرلودچې یولاربښوداولیډر هغــه مهــال کــولای شــي یوغورځنــګ اوبهیررامنځ ته کړي چې هغه د غونډې اوټولون په هراړخ باندې له هره پلــوه پوهــه اوبرلاسی ولري . ګاندي جي په خپله داویلي دي چې : « هغه کله هم حالــت نــه دی راایجاد کړی » . هغه یوازې په دغه اړه داکارترسره کړی چې ځان یې دغونډې اوټولنې په رمزاوهدف باندې پوه کړی اوبیــایې دهغــې لــه پــاره دپروګــرام اوکــړنلارې پــه جوړولوباندې چې نښې نښانې یې هلته له پخواڅخه وې لاس پورې کړی دی..

دمالګې دساتیاګرې خیړنه داپه ګوته کوي چې مهاتما ګاندي په دغه اړه ټول توکونــه خپــل لــرل ،دایــوازنې ګانــدین غورځنــګ و چــې لــه هــره پلــوه ګانــدي پــه خپلواصولواوتګلاروسره عیارکړی و ، همداوه چې په پایلــه کــې لــه یــوې پرتمینــې برياسره دخلکومخې ته راڅرګندشو. دغه لاریون دګاندي هنراودده نبوغ دراټلونکــو اونویولرلیدونه پرلور راروښانه کړ. برســیره پــردې یــې دده دبریــاوود تګــلارې نــه زورزیاتی وړتیااواهمیت نورهم دپیاوړتیا ترپولې پــورې ورســاوه . دغــه بــري داهــم وښوده چې دعدم تشدد اصول اوتګلارې په څه شان بریاوې له ځان ســره درلــودې ،ګاندي جي په دغه ترڅ کې داروښانه کړه چې دده دعدم تشدد تګلاره دده دخلکــو دپوهې اودرک پیاوړې پایله وه.

دمالګې ساتیاګره یالاریون په رسمي توګه د ۱۹۳۰ کــال دمــارچ پــه(۱۲) دســهارپه شپږنیمو بجوپیل شوه،ټولویې نندارہ کوله چې ګاندي جی له خپلو (۷۸) پلویانوســره ددندې په دغه تاریخ لاریون باندې پیل وکړ. له پیاوړی ګنې ګونې سره مل و، په میلو میلوسړک باندې اوبه پاشل شوې وې ،هرخوا په شنو پاڼو باندې پټه شــوې وه،بیــرغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې غونډې ته په خپلې رپا سره نورپرتم هم ورپه برخه کاوه . ګاندي ددوي ټولو پــه مخ کې داسې چې خپل کالي يې په خپل لاس کې نيولي وو روان و.

« دزيارت لاريون په خپل اوږده سفرروان شو» جواهرلال نهرو دغــه بهيرتــه داســې کتنه کړې ده : هغه کــالی پــه لاس ، رڼــې ســترګې اواســتوارګامونه دګجــرات پــه خاورينولاروباندي له خپلورښتينويارانو سره چې پرده پسې روان دي اخلــي، هغــه پردغه لوري باندې پخواهم ډيرې ګامونه اوچت کړي ،ډيروپه دغه لاره کې دده دملتيا ضمانت کړی واوله ده سره يوځای وو. خوپه دغه برخه کې ټوله تودوخه اوټوله ليواتيا اومينه په خپله په ده کې وه اوله ده سره وه، هغــه چــې دده دهيوادوالولــه خواپــه تودوخې اومينې سره هرکلی کيده.دغه هرکلی پــه مينــې اورښــتيايني ســره ، پــه خپلواکۍ اواغيزسره و، داسې چې هيچا هم دده په وړاندې ددې توان نه درلود چې له ده څخه ځان پريوه خوا کړي اودی دې ورتې .له يوه خاورين انسان څخه دژونــد رڼــا راڅرکيږي ، هو، دادهنددآزادۍ اوخپلواکۍ پرواټ باندې يوه اوږده لاره ده اويــواوږد مزل چې دهغې په ترخ کې ددغه هيواد مليونونه وګړي له ښکيلاک څخــه دژغــورنې غيږې ته ګام ورپورته کوي..

دغه لاريون اودغه سفريوروحانی سفرو،داسې چې په څرګنده يــې ديــوې کاينــاتي رښتيا ينې په لورلاره پرانيسته . مهاتما ګاندي دغه خوځون دسابرمتي سيند له غاړې څخه د دسمندردغاړې (دندي ) په لورپيل کړ،داچې دسابرمتې اشرم نوم په دغه ترخ کې يادوو له هغه سره ټولې مادي نړۍ ته دناداري اونه تراوپيغــام هغــه چــې دټــول بشريت له پاره اړين اودپاملرنې وړدی په خپلووړانګوکې په روښانه توګه رسوي. .

دمالګې دساتياګرې وړمې دټولې نړۍ پاملرنه پرخپله خوا راواړوله،له همدغه امله وه چې دګاندې نوم اوځيرې هرچيرې ځانته په زړونوکې ځای وموند. اودنــړې پــه هــره خواکې ګاندي ددوې له پاره داسې يوځوک شو،چې دوی فکرکاوه ، هغه ترهرچا دوی ته نژدې اود دوی مل دی ، ځکه نوهغه په خوراساده ګۍسره ددوی په ژوند کې ددوی له پاره په يوه الهامي اوددرناوي وړځيره باندې بدل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاندي دمالګې دلاريون پرمهال

مهاتما ګاندي په خورا ليواتياسره دغې پوښتنې ته ځواب ورکاوه اوپه دې باورو چې دده خلک اوټولنه بايد ترهرڅه دمخه دالومړني څه دځان له پاره ولري ، زده کړه ، روغتيا،اودژوندلومړنۍ اړتيا وې هغه چې دغه خلک هغو زياته اړتيالري. ، ده به ويل چې زماخيالې سوراج زمادبيوزلوخلکوسوراج اوخپلواکی ده،زما دخوب اوخيال آزادي کله هم پولې اوفاصلې نه پيژنې ، دابايد يوازې ديوچا اويوې ډلې په واک کې نه وي، سوراج اوخپلواکې مانا داچې هغه بايددهرچا ،سترګور ، ړانده ، وږي اوتږي ټولوپه واک کې وی. رښتنې خپلواکي به هغه وي چې هغه ټول نارينه ،ښځې اوماشومان په خپل ژوندکې درک کړي اودځان يې وبولي..

رښتياخوداده چې موږ تراوسه هم رښتنې خپلواکۍ ته نه يورسيدلي ،هغه چې لاتراوسه هم اوږده ، خو نه ناشونې لاره يې برياوو ته پاتې ده. دمهاتما ګاندي دژوند پيغام تل هغې ته د رسيد ولارې اوبرياوې موږ ته په ګوته کړې دي. .

همداده چې کله موږ دمالګې دلاريون ساتياګره هغه چې ګاندي جي په وياړسره دبري پولې ته ورسوله په درنښت سره يادوو، موږ بايد دهغې په ترڅ کې دهغې مهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوبنسټوال ځواک چې هغه خلک دي هم له ياده ونه باسو. ځکه چــې داتر ټولودمخــه دهند دخپلواکې دمبارزې مهم او دپاملرنې وړ ټکی و.**

---

**دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي لــه انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .**

***دمقالې ليکوال دګاندي سمرتي او درشن سمرتي مشردی..***

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۵)**

# ډاکتر سوشيل ميتل

## نه زورزياتی په زورزياتې نړۍ کې

---

*« زه کوم نوي څه نه لرم چې نړۍ ته يې ور زده کړم ، رښتيا اونه زورزياتی دواړه دومره زاړه دي لکه دغه غرونه اوغونډۍ »*

مهنداس کرم چند ګاندي

---

کله چې مامې يوملګري ته وويل چې موږ غواړو په جميز ماديســون پوهنتــون کــې دنړيوال نه زورزياتي (عدم تشدد) مرکزجوړکړو ، هغه راوپاريد اوزريې ځواب راکړ :
« زموږ ټولنه په داسې يوه جګړه کې راښکيل ده چې له منځني ختيزڅخه پيل کيږي اوان ترمرکزي آسياپورې رسيږي ، زموږ ولس مشر دترهه ګرۍ پرضد دجګړې اعلان کړی ، فکرکوم دابه ډيره ګرانه وي چې موږ دې په دغوشيبوکې د نه زورزياتي نړيوال مرکزجوړکړای شو ».
خوله يوې لنډې چوپتيا وروسته زما ځواب داو :
« هو، دابه ډيره ګرانه وي ، چې يوڅوک دې ديوې لنډمدتې آرامۍ په هيله ويده شواى شي ، رښتيا خبره خوداده چې دااوس تربل هروخت ښه وخت دی چې خلک بايد پــه دغه اړه ديوه الترنتيف په باره کې فکروکړي اوپه دغــه اړه لاس پــه کارشـــي . تـول پردغه حقيقت باندې ښه پوهيږي ،چې زموږ هيوادوال سرتيري دهــرې ورځــې پــه اوږدو کې دتشدد قرباني کيږي اومري ،همدغه ښه په خپله داپه ډاګه کوي چې زموږ لپاره دغه لړۍ ديوه ښه پای زيرې اورښا نه راپه ګوته کوي. ځکه نوموږبايد اوس خپلې

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولي هڅې او شونتیاوې وکارو ، څووکولای شو، دغواوسنیو روانو ګواښونواوننګینوته خپل ځواب ومومو»

خوهغه لاهم ټینګاروکړ:

« آیایوازې عدم تشدد کولای شي چې دنړیوالو ټولوستونزو په وړاندې ځواب ووایې ؟ ما په زور سره ځواب ورکړ : (( نه )) ،

زما ملګری څکه په دغه اړه زړه نازړه و چې هغه نه شوای کولای د نه زورزیاتي اوهغه غیرفعال دریځ چې دیوچا له خوا ښودل کیږي ترمنځ توپیروکړای شي ،پــه عمــومي توګه نه زورزیاتي(عدم تشدد) ترعمل کولودمخه دځواب ورکولو ترټولوښه اوپــه زړه پورې وسیله اوتګلاره ده . داسې یوچلند دی چې په څرګنده توګه هرچا ته یوناشونی کاراودنده ښکاري.

خوداچې آیاد نه زورزیاتی تګلاره یوه غیرریالستیکه تګلاره ده؟ هغه پــه دغــه اړه تراوسه هم باوري نه و، نوځکه یې وویل :

« کیدای شي دایوښکلې څه وي ،خوباید فکرپرې وشي . کیدای شي په دغه ترڅ کې ارزښت څه ترسره کړو. څنګه چې زما ملګری یوحساس اوځیرک سړی دی ، کیــدای شی تاسوهم له هغه سره دم ګړی هم نظره اویوه خوله شی ،خوکه تاسې دنه زورزیاتي دتګلارې تاریخ ته لږ وګورئ اوپه دې لټه کې شی چې بریایې څه وه ، تاســې کیــدای ددغه حقیقت له مخې په دغه اړه له یوې حیرانتیاسره مخامخ شی.

دنه زورزیاتی اغیــزه دبیړنــي بــدلون پــه بهیرکــې پــه څرګنــده توګــه خطرناکــه ،غیرعملي،څورونکې او ان چې بې هدفه معلومیږي ،همداده چې کیــدای شــي دغــه چلند پرواکمن دود باندې دهغو له ګټوسره چې په بې اتفــاقی اوغیرعادلانــه بنســټ باندې ولاړې دی یورنګې اوجوړجاړی ونه ښیي ،څکه نو ( ناش ویلي ) موږ ته دادرس راکوي چې کله په ۱۹۶۰ کال کې جمیز لاسون دخپل ښارپه مرکز (ډون تــاون ) کــې لومړنی سوله ییزه ناسته سره له دې چې دسوداګرواوسیمه ییزحکومت له مقاومــت، دپولیسوله بندیزونو سره مخامخ شوه اوهڅه کیده چې دغه په نظم برابره غونډه لــه عادي تګلارې څخه پریوه خواکړي اوراویې پاروي ،خو له دې سره سره دغــه ټولــون اوغونډه په بریالیتوب سره په خپل هغه هدف چې دوی لاره اوڅاره یې بریالی اوپایله

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې هم  په ښارکې ديوه مثبت بدلون سبب شوه . دغه تګلاره پــه ( نــاش ويلی)کــې څوکاله هم داسې چې بدلونونه ورسره مــل وو د لوســون ترنــه زورزيــاتې لارښــونې اومشرۍ لاندې ترسره شوه ،ان ددغه ښارپوهنتون يې ترډيروپورې په خپله غيږکــې ونيو،  دوندربيلټ پوهنتون  مقاماتو لوسون چې پرهغه مهال دالهياتوزده کوونکی و له پوهنتون څخه ويوست،اوهم يې د مذهبی پــوهنځي  تکــړه اوځــواکمن ځــوان زده کوونکی  (دين ) وشاړه. ځکه چې ده دخلکو په وړاندې دلوسون دشړلو په عمل باندې انتقاد وکړ.

جی .رابرت نلسن هم خپله دنده له لاسه ورکړه ، خو ترهغــه يــې ښــه  اود درنــاوي وړدنده په بل ځای کې ومونده.  په پای کې ريورند جميز لوســون داوږد مــدتي ځنــد پيژند ونډه هغه وخت ترلاسه کړه کله چې په ۲۰۰۵ کال کې د ( وندربيلټ ) لــه پــاره ونومول شو.

نه زورزياتی اغيزمنه تګلاره ده خو له دې سره سره زده کړې اونظم ته لــه کــارکولو سره په ځنګ کې اړتيا لري ، همداده چې برخه اخيستنه يې ګرانه تماميږي. .

لوسون له څه الهام واخيست ؟ په دغه ترڅ کــې ترټولــو مهمــه خبــره لــه مــارتين لوترکينګ سره هغه کتنه وه چې داوهايوپه اوبرلين کالج کې په ۱۹۵۶کال کې و شوه . خو په دې کې شک دې چې ددوی کتنې به يوپه يو په دراماتيکه توګه دومــره شــوې وي چې دومره لويه بريا دې ولري ، ددوی په اړه دايوه خبره له مخکې څخه ځرګنــده وه چې دوی دواړه له مهنداس کرم چند څخه  مخکې تردې چې ددوی دغه کتنه سره و شي اغيزمن وو. لوسون په هند کې د مذهبی مبلغ په توګــه کــارکړی واودګانــدي دژوند اوکارونو په اړه يې نيغ معلومات په هند اوجنوبي افريقا کې ترلاسه کــړي وو ، کينګ په بوستون پوهنتون کې له  هاورد تورمن سره زده کړې کړې وې ، اوتــورمن ( دشمالي فلوريدا دمريانوبچي ) له اوږدې مودې دګاندي نه زورزياتي تګلارې ته دزړه له کومي درناوی درلود. کينګ دامشوره ورکړه چې لوسون بايد امريکا يې جنوب لــه يوه بدلون سره مخامخ کړي،ځکه نودی له اوبرلين څخه وندربليت ته وليږديد. ددغه غورځنګ دجوړيدو دغه کيسه په ناش ويلی کې دمنطقي قضاوت په خاطر د ډيويــد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هالبیرستان له خوا دهغه په ډیرعالي کتاب ( ماشومان ، درنډوم هوس چاپ ، ۱۹۹۸ ) بیا ویل شوی ده .

ګاندي ، هغه څوک چې په خپل عصرکې پردووپیړیو اودریووچوبانـدې راوځلید،پـه پراخه توګه دشلمې پیړۍ دجوړونکي اوددې پیړۍ په ترڅ کې دیـوې سـترې اړتیـا اوهم دیوه نه وړاندې وینه کیدونکی وحشت په مقابل کې راوپړکید. دی دنه زورزیاتي په دواړو (سیمه ییزو اوملي ) دولومقاومتونو په مشرتابه کې مخکښ و داسې چې پـه دغه ترڅ کې نه یوازې یې دهندیانو دخپلواکۍ لپاره دوچ سرو انګریـزی حاکمانوپـه وړاندې سرښندنه وښوده بلکه ده له خپلې دغې تـورې سـره د عقیـدوي ، جنسـي ،قومي توپیرونو اوهمدارنګه دمسیحي کولونیزدآزادۍ لپـاره هـم هڅـه وکـړه چـې دپرمختللی تکنالوژۍ په مرسته یې تریوه صنعتی انقلابه ورساوه. هغه غوښتل چـې انګریزان هم باید آزاد شي.

دده عمل په تمامه مانا اوخـورا جـدي ډول سـره دده دعقیـدې ترسـیورې لانـدې دارپایانو دماتې په لور داسې یوخوځون وچې دده دخپل هندي کلتوردلارښـونې پـه زورپرمخ روان شو. په رښتیانۍ توګه دګاندي په اړه ویـل کیـږي چـې ده پـه دویـم غورځنګ کې دهندیانودناهیلۍ اوکمزورۍکچه راټیټه کړه ،څکـه چـې دوی لـومړی ځانته اجازه ورکړه ،خو سره له دې یې بیا په دغه برخه کې ګامونه اوچت کـړل چـې دبې روحه تکنالوژیکي پوهې دودې په لورلاره پرانیزي. ( دګاندي تحلیلونه تراوسـه پورې له خپل باورڅخه نـه دي رالویـدلي،چې نښـې یـې اوس هـم مـوږ دمتحـده ایالاتودسیاست په آرامي ،دشمالي امریکا اوپه پای کـې دتـولې بشـري ټـولنې پـه اندوژوند باندې لیدای شو) .

هغه په ۱۹۶۹ کال کې وزیږید، زده کړې یې په هنداوانګلستان کې وکړې ،پـه ۱۸۹۳ کال کې جنوبې افریقې ته لاړ،هلته یې په انتروالزکې ترهغه مهاله چې بیـا هنـد تـه راستنیده کاروکړاود لومړۍ نړیوالې جګړې په ترڅ کې بیرته هند تـه راسـتون شـو. دجګړې په شپوورځوکې یې د ۱۹۱۹ تر ۱۹۲۲ اوبیایې د ۱۹۳۰ او۱۹۳۳ کالونو تـرمنځ دعدم تشدد دوې پاریدنې لارښونه کړې . هغه دلومړۍ هغې په ترڅ کې وویل چـې ، ګډون کوونکي په سمه توګه نه وولارښونه شوي، داسې چې دتشدد داکرپه وړانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقاومت وکړای شي، خودويم حرکت يې په هراړخيزه توګــه يوبريــالی حرکــت و ان دسمندرپه لورده دحرکت په ګڼون . دده دژوند لويــه غميــزه دښــکيلاک ددورې دپای په شپوورځو ۱۹۴۷- ۴۸ کلونو کې رامنځ ته شوه. له دويمــې نړيــوالې جګــړې راوروسته انګريزي حکومت دجګړې له امله نورپه اقتصادی لحــاظ لــه پښــولويدلی اوخالي لاس شوی و. هنــدهم ډيــرزر پــه دووبرخــو دمســلمانانواوهندوانودمذهبې توپيرونو له مخې وويشل شو،اودانګريزهغه ګډ اتباع اوس په دوو هيوادو کــې دنــوي نوي هويت په نامه سره يادشول .. خومشرګاندي دهيواد په لورپه سفرونوباندې پيــل وکړ اوپه هرلوري يې دعدم تشدد اوسولې هنګامه خوره کړه.. ګاندی خپل ټول ژونــد خپلونه زورزياتو اصولو ته ونډه کړ.
دګاندي دژوند دغه پيښې هغه څه وې چې هغه ټولې تورمن، لوسون اوکينګ ته پــه سمه توګه معلومې وې، دوی په دغه اړه په کوم خيال کې نه ووراګير ،دوی په دې ټولو شيانو پوهيدل څکه يې خپل ژوند دعدم تشدد تګلارې تــه ونــډه کــړ، دوې پــه دې پوهيدل چې : څوک چې دخپلواکی پــه قــدرپوهيږي اوپــه دغــه ډګرکــې لاس پــه کاراومبارزه پورې کوي ،هغوی بايد دپوره زغم په زور دعدالت غوښتونکي واوسي. په ۱۹۶۳ کال کې کينګ په لنکلن ميموريل کې د ( *زه يوخوب لرم* ) تر ســرليک لانــدې يوه وينا وکړه چې دهغې په ترڅ کې دده خورا مهمواورښتينوپلويانو دګانــدي خــولی پرسرکړې وې ، هغه چې په نيغه يې ددوی اړيکي دهغه سرې له اصولو ســره ښــودل چې هغه په مهاتما باندې نامتوو ، اوهغه چې دهند ستره اروا بلل کيده.
دګاندي اصول دنړۍ زياتروبرخوته دنه زورزياتي دمبارزې په موخــه دهغــو پلويــانو اوانقلابونوته ورسيدل ، دابه دلته ګرانه وي چې د هغولست په بشــپړه توګــه راوړل شي، يوازې يوه اشاره بايد هغو هڅواوهغو برياوو ته وشي چې ددغې تګلارې په رڼاکې له پولنډ څخه ليچ وليساراپيل کړې اوسريې دبــرلين ددېــوال پــه رنګيــدو بانــدې ولګيد،همداسې په جنوبې افريقا کې دپخولاينې غورځنګونه چې دولس مشر نلســن منديلااو ارچ بيشيپ دسمونډ ټوټو په نوښت سره رامنځ ته اوپرمخ بوتلل شول.
همدارنګه ددغه غورځنګ بله ځانګړې بيلګه هماغه سوله ييزخوځــون دی، چــې د دلی لاما له خوا پرتبت باندې دچين دبرلاسي په وړاندې لارښونه کيږي. .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دګاندي دنه زورزياتی تګلاره دبشريت دراتلونکې لپاره يوه هيله ده ،دګاندې له نظره دجګړې خلاف ټکی سوله نه ده بلکې اهيمسا (نه زورزياتی ) ده ، مهاتما ګاندې کله هم د شانتې کليمه نه ده کارولې هغه چې دانګريزی ژبې د (سولی ) سره يوډول مانا لري. هغه چې له حقيقی يوالی سره مطلق پيوستون هم دی. ، سوله دکوم ارمـان لـه پاره چې مورِ تل دعاکوو اويا پرنورودهغې له پاره غړکوو، هغه کيدای په ( سن-دی ) باندې مانا کړو،چې د جګړې د دريدو اوځنډيدو مانا ورکـوي.. څـه چـې دګاندي فکرو اوڅه چې دګاندي ايجادو هغه (اهيمسا) وه چې دهغـه مانـا پـه عمـل ،خبرو اوفکرسره دنوروله ځورولو اوتېپي کولوڅخه ځان په تمامه ماناژغورل دي. .**

**دهغه لپاره دانه د دکتورينوځای لري اونه هم دکومې دګما : ځکه دايوعمل اوکړنــه ده چې په هره شيبه کې ترسره کيږي . له دې سره سم، د(سولې!) لپاره ډيرښه مفهــوم اووړانديزولکه چې هاملت يې (( خبرې، خبرې ،خبرې ) بـولي او پــه دغــه اړه يــې وړځواب بللای شو.**

**ګاندي له نه زورزياتي سره نه وـ هغه کله هم له نوروڅخه هيله ونه کړه چــې دهغــه لپاره دعاوکړي ،هغه دخپلې اهيمسا پربنسټ روان و.**

**هغه په خورا ځيرکی سره دادليل وړاندې کاوه چې يوشميرشيطانی کړه کيدای شــي دبنښې پرپوله باندې سر کيږدي ، هغه هم داسې چې که چيرې واقع کيږي او دقناعت وړوي. هيڅوک ددې وکالت نه شي کولای چې که يوه وړه ناوړتياترسره شي نو هغه به دومره زياته ستونزه نه وې لکه يوه لويه ګناه ،نه داسې بايد نه وي ځکــه چــې بــدې اوګناه په هروخت اوهرمهال کې بدې ده اوګناه ده .**

**زده کړه اوښوونه دنه زورزياتې په لاره کې يوازنی اودپاملرنې وړکلې ده ،دنه زورزياتې چار پوتنسيال چې ديوې غوټې په شان دی هغه په ټولنيزمسووليت، په ننی طبعيت اوبشري تجربې پورې اړه لري. د(ناش ويلی) د ګډون کوونکو ډيری برخه چــې هلتــه راټول شوي وو، ځوان زده کــوونکي وو، هغــه څــوک اوهغــه رښــتيا چــې د ديويــد هالبرستام په کتاب ( ماشومان ) کې په ډاګه شوې او اشاره ورته شوې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د جیمزمدیسون پوهنتون د مهاتما ګاندي دنه زورزیاتي پــه نړیــوال مرکزکــې مــورډ داوسنې نړۍ لپاره دهغې  سترې دندې اوچوپړپه کاربانديې بوخت یو، هغه چې ګاندي دځان اومور ټولولپاره دعملي تجربې په ترڅ کې ازمویلې ده . هغه ویلی چې :**
**« زما پلاوي ،نړۍ دنه زورزیاتي په لور ددوه اړخیــزو سیاســـي ، اقتصــادي ،ټــولنیزو اومذهبې اړیکو په ترڅ کې  په خوځون راوستې ده ».**

---

**دغه مقاله په  ۲۰۰۸ کال  د (هندلید ) له مجلې څخه  چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریږي  لــه انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شویده .**
***لیکوال د ویرجنیا  دهرسون بورګ  جیمزمدیسون په پوهنتــون کــې د مهاتمــا ګانــدي دنــه زورزیــاتي دمرکزدایرکترا ودهندیزم  دبرخې اسوشیت پروفیسوردی .***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۶)

# پروفیسور ساتیندرا ننډن

مهاتما ګاندي ،

## لوستونکی اولیکوال

---

د مهنداس کرم چند ګاندي ژوند اوپیغام دنیمې وچې په اوږدو اولنډوکې لکه دګنګا دسیندپه شان روان دي ، دده دفکر خپې اوکړنې دزیات شمیرانفرادي کسانواوټولنوترلمنوپورې لکه دسمندراوچتې خپې ځانونه غزوي. زموږ په اوسنۍ نړۍ له داسې یوه پیچلي ژوند سره ،څنګه یوڅوک کولای شي چې د یوې رڼا په شان دي دګردې نړۍ پرسروي ، آیاداسې رڼا هم شته چې هم کوټنۍ رڼا کوي اوهم دنړۍ سترسترښارونه ؟ هوشته ، اوهغه ایوازې دمینې ، هیلې اوسولې رڼا وه .
هغه په رښتینې توګه دشلمې پیړۍ یوه معجزه و. دهغې پیړې چې یوازې په لومړۍ نیمایي کې یې اویاملیونولیونوخلکو خپل سرونه له لاسه ورکړل .کیدای شي وواېوچې ګاندي وکولای شول په خپل روحاني ځواک سره دیوزیات شمیرخلکو ژوند له مړینې وژغوري . یوازې دیوې شیبې لپاره ځیرشۍ اوفکروکړئ چې څوک یې معاصرین وو : یوازې اشاره ورته کوو هټلر، موسولیني ، ستالین اوماوو۔ . دده په شاوخوا کې هرڅه یوازې یورنګ درلود اوهغه داچې ټول په وسله والویونیفورمونوکې نه ماتیدونکې ولاړکسان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونستن چرچل ګاندي ( نیم لوڅ سرکښ ملنګ ) وباله اوګاندي بیا چرچل دلوڅ پاچا په نامه یادکړ،خوهغه دچړې ترڅوکه لاندې راونه نیو. څوک به دګاندې هغه نامتو وینا له یاده وباسې چې په ۱۹۳۲ کال کې یې دلندن دګردي میزدکنفرانس په ترڅ کې وکړه. انګریزي ژورنالست له هغه څخه په بکینګهم ماڼۍکې خبرو تـه دتلوپرمهال وپوښتیدل :

*ــ ښاغلی ګاندي ، پوهیږئ تاسې دیوې ستري امپراتورۍ له واکمن سره دخبرو لـه پاره په دغو کالیو کې لکه لوڅ ملنګ روان یاست ؟*

ګاندي ځواب ورکړ :

*ــ ته اندیښنه مه کوه زما ملګریه ،دامپراتورۍ واکمن کیدای شـي زمـوږ دواړو لپـاره ډیرکالي واغوندي .*

له دغه ټکي سره کیدای شي تاسې له ماسره یوه خوله وی، چـې ډیرښـه اوپرځـای ولګیده. اوکله چې له لندن څخه روانیده یوه بل ژورنالست له ده څخه پوښتنه وکـړه چې دی دلویدیزتمدن په وړاندې څه فکرکوي ؟

دی ورته موسکی شو اوځواب یې ورکړ :

*ــ کیدای شی دا یوه خورا ښه نظریه وي ...*

مهنداس کرم چند ګاندي لکه زموږپه څیریوعادي زده کوونکی و،هغه دیوه شرمناک وکیل په توګه ځان دمنصب لوړتیا ته ورساوه. ددې لپاره چې خپله کـورنې وسـاتي هغه هوډ وکړ چې خپل عملي کارپه جنوبي افریقاکې دوړو هنـدي سـوداګرو،کارګرو اوځایي اوسیدونکو په منځ کې پیل کړي . هغه په ډیره اسانۍ سره جنوبې افریقا تـه راغی .

په فیجې کې دتهولنیز سم سمکي خبره ډیره وروسته تردې پیل شوه . په ۲۳ کلنـۍ کې کله چې دی په ناتل کې پریوه دنده باندې وټاکل شو له بمبی څخه دداربـن پـه لورپه بیړۍ کې وخوځید. دی سره لـه دې چـې هلتـه دیـوې لنـډې مـودې لپـاره ولاړخوتقدیر هلته د (۲۱ ) کلولپاره پاتې کړ. ده دانګریزي واکمنـۍ تـاریخ لـه یـوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیساري بدلون سره مخامخ کړاودنړۍ په هره خواکې یې نرواوښځوته دا ورالهام کړه چې دوی بایددخپلوسیاسي حقونو له پاره مبارزه وکړي. .
دګاندي جي ژوند له زیاتوایجادي ماتوڅخه ډک دی، زموږ په ټولنه کې موږ زیاتره په ډېرو وړوخبروباندې دزیات بري احساس کوو، خوژور اوحساس فکرونو تل پــه خپــل دوران کې ماتې زغمي . دګاندي جي ټولې ماتې پرتمینې اومهمې وې ،ځکه نوموږ دې دده ترنورومعاصرینوزیات یادوو. په دغو ډېرو خبرو برسیره دی له خپلې ټولنې څخه یوشړل شوی اولرې کړل شوی ځوک و . ځکه نودې دهنــددځانګړي ډول مشــرانوپه ډله کې راځي . هغه خپله پاملرنه دټولنې هغه ځواک ته وکړه چې هغه له پامه لویدلی اوله هرڅه لرې پاتې کړل شوی ولکه بیــوزلان ، هــري جــن ، کونــډې ، بــې ځواکــه اونورسرماتي اوپښې ماتي .
ګاندي جي هغوی ته ځواک ورکړ چې په رښتیاهم بې ځواکه وو،هغــوی تــه چــې دی پوهیده اوویل یې چې انسانی روح دپاک خدای ترټولو لویه اوپوره ډالۍ ده.
هغه ترهرڅا زیات دانسان دتاریخ په اوږدوکې دبشری روح پــه پیاوړتیــا اوبرلاســي باندې داسې پوهیده لکه په هغه ځواک باندې چې په یوه اتوم کې پټ دی ،کارپوهان پوهیږي هغه د روح ( اتما ) په ننۍ (درونی ) پیاوړتیا باندې باوردرلود اوپه دې هیله و چې هغه باید له هرډول بندیزونو څخه آزاده اوپه امن وي .
هغه دغه لوړه اوفوق العاده اخیستنه له خپلې لوستنې اومطالعې څخه ترلاســه کــړه ،هغه یوژور لوستونکی و،دهغه لپاره یوانساني تفکراودهغه تاریخ هم پټ اوناسپړلی نه و، په لندن کې ده پرهغــه مهــال چــې لا (۱۹) کلــن زده کــوونکی و،دلویــدیزکلتور دسترولیکوالو لکه : *روسکن،تولستوی* او*تریو* په باره کې لوستنه وکړه . په لندن کــې دده پاتې کیدو له ده سره دامرسته هم وکړه چې پام یې دهندي تمدن پرلورشــو. ده ترهرڅه دمخه د*بګوت ګیتا* انګریزي ژباړه ولوسته . کله چې دده پرځــوانی کــې دده مور، دده چاپیریال اودماشومتوب ملګرو پرده باندې دخپل حساس اغیز نښه کیښوده ،هغه له ده سره ترلویوالي پورې لکه (سرمون اف ده مونټ) اوهمداسې په لاتینــي ، یوناني اوانګریزي باندې لیکنې پاتې وه . دهغه له ذهن څخه یولوړفکراو نظریه هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه خوا پاتې نه شول.دوی ټول لکه په سمندرکې ځپې ، په ونه کې دپاڼو ، پرهسـک باندې دستورواوپه فکرکې د ناسپړلو ِغوټيو په شان وو.

کله چې هغه دځپل عمرپه (۲۳) کلنې کې جنوبي افريقې ته ديوه وکيل په توګه ولاړ ، دغه تلون دده په ژوندکې يونوی ځپرکی اويونوي ځواک شو،دهرپاټکي اوهرې ډلـې اړوندان لکه يهود، عيسايی ،مسلمان ،هندوـ سوداګر، مزدور ، ښوونکي ،سياست وال ،منورين ، کاتبان اوروحانيون دده ملګري شول .دوی ټول دهغـه سـازمان لـه خـورا مهمواړوندانوڅخه وو هغه چې ده په ځپله را پيل اوجوړکړی و. هغه يوه جګړه را پيل کړه اوهغه يو ځراغ ددغې وچې په خورا تيـاره کـنج کـې دښـځواونروپه ذهنـوکې ولګاوه. ده وويل چې : ډار يوازې دډارلپاره ، خوټينګارېې پردې وچې که تـه انصـاف غواړې ، بايد دنوروله پاره اودنورو په چوپړکې وې .

اودده په نړۍ کې دبهر له پاره ځای نه و، ژوند ټول هلته ګردسره ننی و.

داټول هغه څه وو چې شوي وو ،هغه مهال چې د ۱۸۹۳ کـال دجـون پـه اوومـه ،دی داورګاډي له لومړۍ درجې کوټې څخه راوغورځول شو ، پرهغه مهـال دی لـه دربـن څخه پريتوريا ته روان و اود دوندي وکيل په شان يې ځان سمبال کړی و،هغـه ګـارد چې دې يې په غيرمهذب ډول له اورګاډي څخه کښته راواچاوه ، کيدای شي هغه پـه ځپل دغه غيرانساني عمل باندې ترځپل کړن وروسته پوه شوی وي . دنژدې پنځوسو کالو په ترڅ کې دغه لويه امپراتوري تس نس شوه اودمنطقی توپيرونوپه داسې يـوه ښکيل کې راوچورليده چې په پای کې ديوې کورنۍ ناروغۍ په منګولوکې ور ولويده ، ماته شوه ، ټوټې ټوټې شوه ، داسې چې ددې ټولو کړو وړاصلي لامل بيـاهم مهاتمـا ګاندي و.

دپيترماريتيزبورګ داورګاډي تم ځای يوتياره اوګوښه ځای دی چې له دربـن څخـه (۸۰) کيلومتره واټن لري. مادغه ځای په ۱۹۹۹ کال کې نژدې يوه پيړۍ وروسـته لـه اورګاډي دګاندي له غيرانساني راغورځولو وروسته وليد. له سلوکالووروسته له دغـه ځای سره دهغه اغيز له مخې چې زه يې دلته په ځپلـه غيرکـې ونيـوم ، ماتـه يـوه ځانګړې خواخوږي پيداشوه، داسې چې زما لپاره دغه ځای دزيارت بڼه ومونده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپیترماریتیز په ساړه تم ځای کې ښایې پرهغه مهال اوهغه شیبه کې ګاندي داسوچ کاوه :

چې دی بایدڅه وکړي ؟ هندوستان ته ستون شي اوکه همدلته ددغې بې انصافی اوتوپیرونو سره دمبارزې جنډه پورته کړي ؟ هغه هوډ وکړ چې ودریږي اوخپل غږ دلته دهغې بې انصافی په وړاندې پورته کړي .هغه چې په راوروسته کې بیا یوانکارنه کیدونکی تاریخ شو. په دې چې یوه پیړی دلته له داسې کړو وړو سره تیره شوه چې په پای کې یې داپارتاید بدمرغ ځلی راونړید. اودابه سل نورکالونه هم ونیسي چې دهغه دردونه اوزخمونه دې پټی اودرمل شي. نن تاسې د پیترماریتیزپه ښارکې وینی چې دمهاتما ګاندي لوړه مجسمه ددغه ښاردیوه نامتو مجسمه جوړونکی له خوا دلته دنګه شوې ده.

په ۱۹۹۳ کال کې دغه مجسمه دولس مشر نلسن منډیلا له خوا دهغه له نامتو وینې ، *زما ژوند زما پیغام دی* ، له کرښوسره مخ لوڅې شوه . که وایوچې جنوبې افریقا دنړی یوشمیرخورا نومیالي مفکرین رامنځ ته کړي ددغې خبرې لامل هم ګاندي جې دی چې هغه دلوینښت اولویوالي دغه تخم په دغه ځمکه کې وکاره.

دجنوبې افریقي مشرانو دخپلي رښتیاینې په ترخ کې دپخولاینې یوه بې سارې دنده اوکمیسون رامنځ ته کړ، هلته چې له دردو اوزخمي روحیاتو پرته دنورڅه تاریخ نه ښکاریده، دوی هلته دخپلې ټولنې دپیل اوجوړښت بنسټ په رښتیااوحقیقت باندې کیښود. ګاندي جې پرهغه دښته باندې چې دتعصب اوتوپیرونو اغزي کرل شوي وو، دروح مناورودراوه اوهغه ته یې د ساتیاګرې یا رښتیا په عمل کې جادویې نوم ورکړ.اوبیایې رښتیا اورښتیاینې ته یوبل اړخ اومفهوم ورکړ چې هغه یې د (مینې او*هیمسا*) یانه زورزیاتي په نامه سره ونوموله .. دغودواړه یوځای بیادده په فکراوایدې کې دسترې هستی ځای ونیو، چې دیوې شته والی له بلې څخه پرته ناشونی و. دا په رښتیاهم لکه یوژور، مثبت اوفعال ځواک ،لکه رښتینې مینه دتل لپاره و.

په عین حال کې داکارپه ژورتوګه دیوه لوي توپیراوبدلون سبب هم شو،خلکو له ډیرپخواڅخه یوبل دپیغامبراو مذهب په نامه سره وژل ، زه فکرنه کوم چې یوچا به

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله هم په یوه ځای کې یوبل دګاندي په نامه وژلی وي. زما په نظردایــوه بــې ســارې بیلګه ده. خودبې شمیره نارینه اوښځینه خدایانوپه نړۍ کې ګاندي جې له دغوڅخــه یوهم نه شو. ځکه هغه پوهیده چې دازموږ په بشري شته والي پورې اړونده خبــره ده ،هغه په دې پوهیده چې دبشري ستونزودحل له پاره بشري اساسات اوبشــری لارې چارې دحل ترټولوښه اوسم حل اوځواب دی. هغه زمــوږ پــه مــنځ کــې ترنوروټولــو سرېواوښځو زمــوږ پرخپــل ځــان اوزره کــې دانســاني حــس اوانســانیت دژونــدي ساتلواودهغه دپاملرنې وړ لیوال و. هغه موږ دبیلابیلو وچو له بیوزلواوخورانوسره پــه دې خاطروترلو چې له یوه اوبل سره خواخوږي اومرستندوی شو.

اوداهرڅه دهغو خلکو لکه زموږله نیکونواوغورنیکونوڅخه راپیل شول ، هندوســتان خورا زیاتې حماسې په بیلابیلوژبوکې مخکې تردې چې انګریزان دې لیکل زد ه کړي رامنځ کړی وې ،زموږ ه زیاتره د *مهابهارت* او*رامایڼ* دکیســوله سمندرونوســره لــوی شوي یو،خوزماپه فکر له خورا حیرانوونکو حماسوڅخه یوه هم ددغوساده نارینــه وو اوښځینه وو(زموږ دپلرونو) ادیسې دی چې بیلابیلو سیموته ولاړ، هغه یې ونه نیــولې بلکه هلته یې دکوچنیوسوداګرو،دبیلابیلوټولنودایجادګروپه توګه کاروکړ. هغه ځمکه چې ده ته وړیانه وه ، هغه اوس دده دروح یوه برخه شوه. داپه خپله یــوه حماســه ده داسې چې په هغې کې وژنې اوجګړې نشته ، دوی د خوږوشنه کرونده رامنځ ته کــړه نه دزهرو، ددوی له ژوند سره یوازې یوپیغام مل دی اوهغه داچې :

مخکې تردې چې بدوکړو ښه داده چې ویې زغمو.دفیجي پیښې دغه پیغــام اودهغــه وړتیا په عمل کې موږ ته ثابتوي اودا راښي چې :

په فیجي کې دیوې ټولنې په وړاندې دجنایاتو ترسره کول،په نیغه زموږ له انســاني چلند اوزموږ له ګردې نړۍ سره ژور تړاو لري.هغه څه چې هیچا هم په دغه شــان نــه شوای تصورکولای . خویوه خبره ده اوهغه داچې دوی زموږ دژوند له هیلې سره ســم دیوه پرتم اوویاړ په لوردپاملرنې وړ ګامونه پورته کړل. زموږ پرخاطرو باندې به ددوی دهدیرو اود شمشان ګهاټ دایرو بربوکۍ ترډیروپورې خورې وي. دوی له موږسره دې اودوي موږ ته دومره رانژدې دي لکه اوښکې زموږ سترګوته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دمهاتما ګاندي جوړوني ، کره وړه اوموخې چې په راديکاله توګه دده له ژوند سره پــه تړاوکې وې ، په جنوبي افريقا کې زياتره دکارګرانو اووړو سوداګرواودکاندارانو له خوا وځارل شوې ،دهغه لپاره هغوی له شکه پرته رښتينې اتلان هم وو. هغــوی ده تــه دا معنوي پياوړتيا ورکړه چې بايد دبرابرۍ اوعدالت ، اواستوګنې لپــاره دمبــارزې غــږ دهغې بدرنګې او ظالمې واکمنۍ پرضد چې په توپيرونــواو تعصــبونو بانــدې ولاړه وه پورته کړي. له همدې امله وه چې ګاندي جي دهغوی څرګند حضورپه عمل اونظرکې داسې په پام کې ونيوچې ترده دمخه بل هندي داکارنه و ترسره کړی.**

**همداسې ده خپل ژوند دخطرمنګولو ته هغه مهال ورواچــاوه کلــه چــې ده غوښــتل دبويرپه جګړه کې داراستوګنو خلکو ساتنې اوژغورنې ته اوږې ورکړي . ده دهغوی په منځ کې هم دخپلې پياوړې توري (*ساتياګرۍ* ) دودې اوڅرګندونې ، ددفاع اوتشريح په برخه کې دپاملرنې وړ پرمختګ وکړ.**

**مهمه خولاداچې ، دده دغې ودې اوپرمختګ ده ته دهندي رښتينې دولت په اړه يو نوی فکر اويوه نوې کتنه نه يوازې له بهرنۍ خوا بلکې له ننــۍ خــواهم ورکــړه لکــه : دبډايانوبرلاسي ،دخوارانو خوارۍ ،پربې دفــاع کســانو بانــدې زورزيــاتی ،دښــځوپه وړاندې ناوړه چلند، په کليوکې زورزياتی اودليک لوست نشتوالی داټول هغه څــه وو چې دده زړه اوفکريې وخوځاوه چې ترنن پورې زموږ پــه ټولنــه کــې ديــوې لــويې ستونزې په شان ترسترګوکيږي.**

**اوګاندي ددغوټولوپه اړه دهرې ورځې په ترڅ کې ټول څه ليکل .**

**ده دفيجې په اړه ليکنې وکړې اوان چې هلته يې خپل پلويان زموږ له دغو خلکو سره دمرستې په خاطرواستول څو هغو له زندۍ اوزندان څخه وژغوري. .**

**مهاتما ګاندی په خپل ژوند ليک (*له رښتيا وو سره زمادتجربو کيسه* ) کې دهنــدي زيارکښ بالاسندرم په اړه دپاملرنې وړخپرکې لري .مادلته دده له دغه کتابه دهغه له وروستۍ برخې څخه يوه برخه رانقل کړې اوداپه ډاګه کوي چې عادي هنديان کله هم نه شي کولای د داسې څه په ليکلوباندې لاس پورې کړي .**

***ماوويل چې بالاسندرم زما دفترته داسې چې پټکې ياسرتړونی يــې پــه لاس کــې و راننووت . هلته په عين حال کې يوځانګړې حالت و چې په ځانګړې توګه يــې زمــوږ***

(c) ketabton.com: The Digital Library

*برتری اوزیاتی هم نبود،ما لا پخوا هغه پیښه په ډاګه کړې وه چې دهغې په تـرخ کـې زما لنګوټه زما له سره پورته شوې وه.داډول زبردستي دلته دود وه چې ته باید خپل پټکي یا خولۍ پرهغه مهال چې له اروپایانوسره مخامخ کیږې له سره پورتـه کـړې. داکه پرسرترلی یاا ینبی خولۍ وي که پټکي اویاهم دسمال چـې پرسرراتاوکړشـوي وي. ان چې درناوی په دواړو لاسونو هم بس نه دی،بالاسندارام فکرکاوه چې دې باید له ماسره هم دغه چلن وکړي . دازما په تجربوکې لومړنۍ هغه وه . ما په دغه کارسـره دلوړتیا اوغرور احساس وکړاو ورته ومې وې چې خپل دسمال دې پرسـروتړه ، هغـه داکار پرته له دې چې پرې وځوریږي ترسره کړ، اومادهغه پرمخ باندې دخوښۍ نښې ولیدې .*

زما لپاره داخبره په تما مه مانا یوناسـپړلی رازدی چـې څنګـه یوشـمیرخلک ځـان پرخپل هم نوع باندې دلوړتیاغوښتنې په ترخ کې ددرناوي اوعزت وړبولي .
زه فکرکوم کله چې وایو انسان یعنې څه ، داخبره په خپل ذات کـې دیـوه رادیکـال بدلون اوانقلاب نښه ده. لکه چې یوه نه ایساریدونکې هیله دعام انسانیت په ترخ کې راپیل شوې ، نړې به کله هم نوره پردغه پوله خپل کاروان ونـه دروي چـې :( خـوار یوازې خواراوبایلوونکی دی) . جګړه اوس هم له جنوبي افریقې څخه ترآسیافاسفیک پورې روانه ده. لکه چې دغه شاعروایی :

هلته ، شمال لرګي په دوړوکې وړي ،
اوبیایې اچوي پر هسکو ټیټو
یوې انساني ونې ځان کله هم آرام ونه نیو،
هماغه ونه وه په خپله ګاندي ،
خواوس زه وته یو دهغه پرمینه !

دهغه آثاردا په ډاګه کوي چې هغه ځان وپیژاند،په ډله ییزه اوانفـرادي توګـه دهغـه ژوره موخه مورال اومعنویت ول. په سیاست کې دهغه دفعالې ونـډې هـدف دهغـه ټولنیزې څرګندونې وې :

(c) ketabton.com: The Digital Library

( زه به ترهغوپورې يو مذهبي ژوند ونه لرم ، ترڅوچې مامې خپل هويت دټول بشريت په وړاندې نه وي په ډاګه کړی ،همداسې زه به کله هم دسياست په اړه څه ترسره نه شم کړای ترڅوچې زه خپله سياست ته نه وم ورننوتلی.د سړی د ګردو فعاليتونولاملونه اوکچه ديوه ناپايه ټوليزحالت څرګندوی دی) .

داچې سياست يې بيا يوه ځاني خبره وه. هغه په دې نه پوهيده ، هغه داڅرګندوله چې هرمذهب اوروحانيت دانساني فعاليتونويوه برخه دی ، روحاني قانون له پيله ترننه په خپله برخه اوساحه کارنه ورکاوه،خوخپله اغيزه يې دژوند دعادي فعاليتونوپه ترخ کې تل په ډاګه کوله . بايد چې رښتني مذهبي واوسو، يوڅوک هم بايد ځان په دې ډاډه نه کړي چې ګواکې هماليا به دکور په انګړکې راښکيل او په امن سره به يې وګوري .

. رښتيا ، خيرښيګينه اومينه ديوه معنويت په توګه تل دبشرداندېښنو لپاره تسل توکي وو. روحانيت اوسکيولريزم په پايله کې د ټوليزشته والي اړوند توکونه دي،ګاندي دغه اړوندوالی په بې شميره توکونواومثالونوکې د نني غړاونظر اوبهرنړۍ ته دخپلې کتنې په توګه تشريح کړی دي .

ساتياګره په دغه برخه کې دده تخنيک شوه، چې ديوه عصري اونوي وړانديز اوپديدې په توګه يې خپلې چارچاپيره نړې اوپرهغې برسيره خپل ځان ته ورډالۍ کړه . دربنتياني څواک په مفکورې سره هغه له خپل نظرسره سم د خدای مانا اومفهوم تشريح کړل:

زما دباورچوکاټ دادی چې هغه هم ځان له بشرسره سيال کوي. ، خوموږبايد خپل غوږونه بياهم دننۍ انګازې (دزړه آواز) په ولولوپورې تړلي وساتو.

دګاندي لپاره له ننې مخالف سره مبارزه ترباندنې هغه خورا مهمه اودپاملرنې وړده. هغه *مهابهارت* په خپله ديوې ننۍ جګړې په توګه چې له انفرادي روح سره په دننه کې وه تشريح کړه . کوروکشترا ديوچا خپل شعوردی، اوده په خپله دبشريت دشعورملتيا وکړه.

ګاندي په روحاني توګه هره فکراوهرعمل له خلکو سره شريک کړ،دده ليکنې په سلوټوکوکې راغونډې شوې ، چې يوه انساني لاس هم دومره څه لکه چې ده ليکلي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ليکلــي. دده پــه خاموشــۍ ، ليکنــې اوعمــل کــې يوناپايــه پانګــه اچونــه وه دليوتولستوی په باره کې ده وليکل : " د تولستوی تش په نامه تنوع دربنتيا پــه اړه دپرمختګ نښه وه دربنتيا اوحقيقت په باره کې دي زياتره غيــرمنظم ښــکاريځکه هغه ددغې تګلارې د دوام په ترڅ کې دخپلودکتورينو دودې په فکردی، دهغه مــاتې دهغه اتلوالۍ وې ، دهغه مبارزه او اتلولي دهغه ځانګړې وو".

داهم دګاندي رښتياده چې هغه کله هم د رښتيا دزيري ورکول په شان نه ده کارولی، ده داګوابن کړی چې که هغه ان دمهاتما له خواهم راشي ، يوڅوک کولای شي ، يانــه چې دده ژوندليک ولولي څو پرهغه پوړی اوکچه باندې پوه شي ، هغه چې دده خــوب اوخيال دي . هيڅ هم په دې کې دپټيدو نشته، هره چار ښه اويا بــده دده لپــاره يــوه تجربه ده چې په څرګنده توګه ښينه کوي، پــه هــره ټولنــه کــې ديــوې رښــتيانۍ پخولاينې خبره هغه وخت په ډېره اسانۍ سره رامنځ ته کيدای شي چې هغــه ټولنــه ځــان لــه رښــتيا ، اولــه رښــتيا نــۍ مينــې ســره مخــامخ کړي.پرهديروبانــدې دوښواوشنليوغوړيدل دبياژوندي کيدو اوپه پای کې دمرګ اوژوند ترمنځ دپخولاينې نښه ده.

هغه ترخپلې وروستۍ سلګۍ پورې خپل نبوغ اوراديکال اکشن پــه دغــه تــرڅ کــې وکاراوه چې :

مور باید مخکې تردې چې نوربدل کړوخپل ځان دبدلون خــم تــه ور واچــوو، دغــه دکورنۍ قانون دی، خو رښتيا ، مينه اوخيرښيګنه بيا دډلې، ټولنې اوملــت لــه پــاره دپاملرنې وړده. برسيره پردې نه زورزياتی بيا زمونږ دنسل لپاره داسې قانون دی لکــه چې زورزياتې دزورواکواوژونکولپاره دی..

زمونږ په اوسنۍنړۍ کې کيدای شي دايوه له رښتيا ينې څخه لرې مفکوره ښکاره شي. تراوسه پورې په دغه اتومي عصرکې که چيرې تمدن نه شي کولای چې دپراخوپرګنو منځ ته دځليدونکو اوسپينوپه زور ورننوزي ، دګاندي انساني فلسفه پــه دغــه تــرڅ يوازنې اوبشپړځواب دی چې دنړې په مخ کې بايدکيښودل شي..

دګاندي په اړه دخيرنې په خاطر ما ډېرځايونه له پيترماريتيزبورګ څخه ترسامبرمتي اشرم پورې ، له بريلا هوس څخه هلته چې هغه ومړ،ترراج ګهاټ پورې ، هلتــه چــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**هغه وسوزول شووپلټل . دسامبرمتې په يوه کوچنې دکان کې مې يوکوچنې کتابګوټې دجان بريلی ليکنه تلويزيونی درامه چې د(ګاندي) په نامه فلم له پاره يې کښــلې وه وموندہ چې په کې ليکي :**

**مادګاندي خپلوليکنوته لاس وراوږد کړ، هغه نژدې هره ورځ دهغې خبرپاڼې لــه پــاره چې ده په جنوبي افريقا کې خپروله يوه مقاله کښله ، اونورې هغه چې ده بياوروســته په هندکې ليکلې اوايدت کړې وې. دهغه همداسې ليکونه دي چــې ترســلوزياتيږي. دغه ټول يوهم ادبيات نه و، خو ورووړو ددغه پرانيستې ، هيله من اوناسپړلي ســړي شخصيت زما له پاره نا سپړلی پاتې شــو،دهغه نيکمرغــه هڅونــه ،دهغــه انســانيت اوسړيتوب، دهغه دناچاری ځواک اودهغه دانسانې معما شعوري هڅون ، يوځواک چې دده د تواضع ( کيدای شوچې ډيربه لوړنه و) چې دخلکو له خوا پيــروي کيــده اولــه کلتوري رنګا رنګې سره يوشان مل و ، هماغه يې نهرو ته ورزده کړه ... او دکلي بسنت له خاورو خښتو جوړ انګړځخه هلته چې دی په کې زيږيدلی و پنځه ميله واټــن نــه درلود.**

**او ورو ورو ما هغه ګاندي هم وليد هغه چې نه امپررکټيکل او نه هــم ايدياليســت و ، هغه چې ايده اومفکوره يې يوه درد دونکې تجربه اودژوند په تــرخ کــې يــوه درنــه ستونزه وه اويوه سختي چې زه هروخت ورسره آشنا وم ...**

**د ګاندي په ليکنه کې ما هڅه وکړه چې هغه ديوه زړور، هوډمن په توګه انځورکړم ، زه په دې برياليې شوم چې دده په شتون اودانسان دپيچلتيا اودهغه نه ترلاسه کيدونکې باور او جوړښت په اړه يوه نه پاريدونکې رښتيا اوصــداقت کشــف کړم.داســې چــې وکولای شي د ښه اوبد ترمنځ انډول وساتلی شي ... هغه انډول چې دهغه لــه مخــې يوجوړونکی ګام ان ددغه اتومي عصرپه زړه کې پورته کړای شو.**

**ګاندي ژوندی و ... هغه ترټولو مهمه اوډپاملرنې وړ ډرامه ،**

**هغه زموږ په زړونو کې دمينې اوکرکې درنه جګړه، هغه په رښتيا هم په دې پوهيده چې دايوه جګړه وه ،يوه جګړه له زياتو ماتواوبايلونو سره ، اوهغه يوازې په يــوه اتــل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**باندې باوري و. چې هغه اتلولي په خپل ذات کې يوه رښتيا ينه  اوسوله وه ،داسې چې هغې کله هم بلهاري اوقربانيان نه درلودل .**

---

**دغه مقاله په  ۲۰۰۸ کال  د (هندليد ) له مجلې څخه  چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي  لــه انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده.**

***ليکوال دفيجي پوهنتون دتولنيزو علومواوآرت  دپوهنځي او همدارنګه د کانبيرا پوهنتون افتخاراســتاد دی . دغه مقاله دليکوال هغه وينا ده چې په مهاتما ګاندی های سکول کې يې دمهاتمــا ګانــدي زيږيــدو دکاليزې په ترځ کې وکړ ه .***

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۷)

## ګاندي سمرتي،

## يوه شېبه د بشريت له وجدان سره ؛

د ۲۰۰۸ کال لمرخرک به له يوه خواشينونکي يادسره راوپرکيږي ، هغه يادچې شپيته کاله مخکې دهيوادپرتم اوپلار مهاتما ګاندي دهغه په ترخ کې دابـديت پرلاربانـدې ګام کيښود، هغه دشهادت اوعبادت کتنه له خپل خواخوږي خدای سره دپيوستون په ترخ کې په داسې حال کې چې دهغه نوم يې پرشونډو باندې و وکړه .
مهاتما ګاندي د ۱۹۴۷ کال دسپتمبر په (۹) نيټه دنوي خپلواک شوي هند پلازمينـې دډيلي ښار ته له کلکتې څخه ، له هغه ځايه چې ده هلته په معجزه يې توګه دسـولې تابياوکړه راستون شو.،داهغه شيبه وه چې هغه له ويش څخه وروسـته دخپـل ژونـد خوراسختې اودرنې شيبې په کې تيرولې . په ډيلي کې ده پخـوانی کـور *بـالميکې بستی* اوس دهغو ګڼو مهاجرو کمپ شوی وچې دوی دپولې لـه اخـوا تردغـه ځايـه رارسيدلی وو. ګاندي جي داومنله چې دی بايد په دغه تاکل شوې مينـه کـې چـې (پلاتيل بريلاهاوس) نوميده واوسيږي ،داده له پاره څکه مهم استوګنځی و چې لـه دغه ځايه ده له ملي مشرانوسره په ښه توګه تماس نيولای شو. له دې سره سره هـم چې دغه وړتيايي درلوده داځای ده له پاره په زړه پورې نه و، خوداچې ده دخوندي ساتنې په اړه اندېښنې وې ، څکه داځای ده له پاره ترټولو ښه اوخونـدي ځـای پـه نښه شوی و. همداوه چې ده په دغه اړه په خنداسره يوځل وويل:
« تاسې فکرکوئ چې که زموږدوران راشي ، تاسې به په دې وتوانيږئ چې ما وژغورئ ؟ » .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دده استوګنځی په بریلاهوس کې په خورا احتیاط سره سمبال شوې وه،تشـناب یـې هم له کوټې سره تړلی و،کوچونه اوڅوکۍ یې اوس دنوي خاوند داړتیا له مخـې بـدل شوي وو. دغه مانۍ دهنددآزادۍ په شپوورځوکې یوه له خورامهمومانیوڅخه وه چـې ددغه مهال دتاریخي پیښوشاهده هم ورته ویلای شو.

خلک له هرې خوا پردغه لوري رامات شول اوپه دې هیله ول چې مهاتماګاندي بایـد دهند دګورنر جنرال اویاهم لومړی وزیرپه توګه له خپلوملګروسـره پـه دنـده پیـل وکړي. ،دده په اړه ترټولومهمه داوه چې هغوخلکو ترهرڅه زیات د (بپو) په زړه کـې ځای درلود چې هغوي بیوسي اوخواروو، ده تل دهغوله پار ه وخت درلود، اویوتن یـې هم له ځانه خواشینی اوخپه نه ستناوه،ځکه نو ګاندي جی هم ددوی په زړو کې اوچت اودرند ځای ومونده.

ګاندي جي پردغه مهال دادنده هم دځان کړه چې دهندمشـر ان بایـد دنـوي هنـد دجوړولو کارته ځیراووهڅوي په سلګونونړیوالو وتلوڅیرو ، لیکوالواوژورنالستانو سره یې په دغه وخت کې وکتل ، هغوي ټول له مهاتما ګاندي سره لـه خپلوکتنووروسـته دهغه دخدمت پر ټکي باندې باوري شول همداوه چې داسې لیکنې لکه ( یوه شـیبه دبشریت په فکرکې ) یې ولیکلې اوهغه یې خپرې کړې .

له همدغې کوټې څخه ده پرخپلو خلکو باندې دپاملرنې اود دوی دپیوستون په خاطر د ۱۹۴۸ کا ل دجنوري له (۱۳) تر (۱۸) پورې روژه ونیوه.

( دنفسی سپیڅلتیا) دغه نښه اوورستۍ روژه یې دجوسو پرهغه ګیلاس باندې ماتـه کړه هغه چې مولانا ابـوالکلام آزاد ده تـه ورکـړل ده دا روژه پـه دې خـاطرونیوه څودهغوی په وړاندې مقاومت وکړي چې غوښتل یې دغځ اخستنې اوړپه هیـوادکې بل کړي.، ده غوښتل چې پردغه اورباندې اوبه تویې کړي اوپه هیـواد کـې دهـرډول فرقه یې ټکرلمنه ورلنډه کړي .

له دغې روژې نیولو دوې ورځې وروسته د ۱۹۴۸ کال په (۲۰) کله چې دی په خپـل عبادت کې ډوب شوی و،په همدغه وخت کې دده پرژوند باندې د تیـارې دخوریـدو شونتیا نژدې شوې وه ، خودده ددعااوهڅې په پایله کې دډیلي په ښارکې دفرقه یې ټکرمخه ونیول شوه اوټول ښار بیرته امن په خپله غیږه کې ونیو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۴۸ کال دجنوري په (۳۰) دجمعې په ورځ دمازدیګر په پنځوبجو ګاندي غوښتل چې له همدغې کوټې څخه ووځي او دوروستي ځل له پاره دعبادت په خاطرله خپل (خالق ) سره وصل شي ، څوشیبې وروسته دده په وینو لړلی جسد بیرته همدغې کوټې ته راستون کړشو، اوپه پای کې د ۱۹۴۸ کال دجنوري په (۳۱) له همدغې کوټې څخه بیوخپل سفر په ابدي توګه دجمنا دسیند دغاړې په لورپیل کړ.

دمهاتما ګاندي وروستۍ ورځ اوګړی د ۱۸۴۸ کال دجنوري (۲۸) نیټه وه ، په هغه ورځ ده ځانګړی حالت درلود ، دی په بریلا هوس کې له خپلې کوټې دباندې په یوه تـاوده ماسپښین کې لمرته ناست و، په همدغه شیبه کې یې راج کماري امریـت کـور تـه وویل :

« که زه دیوه لیونی سړي په ګولۍ باندې مړشم ، زه باید ډیر خوشاله شم ، ځکه چـې نور به پرما کې دقهرڅه نه وي پاتې ، خدای به زما په زړه اوشونډو باندې وي .»

دوې ورځې وروسته دې هغه سړي چې دده پرعبادت ځای کې یې ده ته تیارې نیولې و، ده ته وروړاندې شو ، هغه یې د درځلې ماشې په کښیکلوسره راونـړاوه اومهاتمـا ګاندي یې دتل پاتې مرګ په سفر، په هغه سفرچې دده هیله و په داسې حال کې چې دخدای نوم یې پرشونډو جاري و ولیړه اوله دغې نړۍ څخه یې سترګې پټې کړې. .

شاوخواټوله آرامۍ نیولې وه، په هغه شیبه کې چې دده په وینولړلی جسد یـې دلتـه راووړ ، دده جسدپه پاټواوخلوباندې پوښل شوی و، یو چا یې ترڅنګ شمه ولګوله ، په همدغه تیل ماتیل کې چې په البوقیورقیو واټ باندې جوړو ګـورنرجنرال لاردمونـټ بیټن راورسید، ورپسې جواهرلال نهرو راغی ، نـږدې نـیم سـاعت دوی دواړه دننـه دمهاتما ګاندي له جسد سره وو، بیاراووتل اونهرودملت دپلارخبردملت په وړاندې په خوراجذباتي الفاظوکې اعلام کړ:

*« ملګرو... اورڼا نوره زموږ له ژونده کډه وکړه ، تیارې هره خوا په سراخیستې ... زموږ ګران لارښود هغه زموږ بپو نورله موږ سـره نشـته ... هغـه رڼـا چـې پردغـه هیـواد راوپرکیده هغه څه عادي رڼا نه وه ،هغې رڼـا چـې دغـه هیـواد یـې دډیرکالولپـاره رڼاکړاودغه هیواد به دنورودیرو کالونولپاره رڼاکړي ، اودغـه رڼـا بـه زرګونـه کلونـه*

(c) ketabton.com: The Digital Library

*وروسته پردغه هیواد اوګرده نړی باندې راوځلیږي اود زرګونو زړونو لپاره به یوتلپاتې ډاډ اوتسل وي . »*

بریلاهوس دملي غورځنګ دمبارزې پرمهال خورامهمه دنده ترسره کړه ، په تیره بیا د ۱۹۴۵او ۱۹۴۸ کلونو په اوږدوکې ، په دې چې دلته دملـي مشـرانو اوګانـدي جـې ترمنځ په وارو واروناستې ولاړې ترسره شوې اودلتـه دګانـدي اوانګریـزي مشـرانو ترمنځ تاریخي اوبرخلیک جوړونکې خبرې هم ترسره شوې دي. .
بریلاهوس په ۱۹۷۱ کال کې دحکومت له خوا دملت دپلار دیادون دمانې په نامه یـاده شوه او دمهاتما ګاندي په یاد ددغې مانې نومولو مراسم د ۱۹۷۳ کال داګست پـه (۵) ترسره شول .
د ( ګاندي سمرتې اودرشن سمرتې ) په نومونو چې کوم جوړښت اوس نومول شـوې ددغه جوړښت بنسټ د ۱۹۸۴ کال په سپتمبرکې د ګاندي سمرتي په نامه پـه تـیس جنوري مارګ اودګاندي درشن نامه په راج ګـاټ کـې کېښـودل شـو، اوس دایـوه خپلواکه موسسه ده چې چارې یې دکلتور وزارت ترسرپرستۍ لاندې ترسره کیږي ، دهندلومړی وزیردغه مشردي ، اواصلی موخه یې داده چې دګاندي دژوند اوافکـارو په اړه په بیلابیلو ټولنیزو او روزنیزو پروګرامونو اوخپرنوباندې لاس پورې کړي..
ګاندی سمرتي مانې چې اوس په تیس جنوري مارګ کې ده ، دادګاندي دژوند د ۱۴۴ وروستیوورځو په زړه پورې خزانه ده چې په عین وخت کې یې دهند اونړۍ دملیونـو خلکولپاره دزیارت ځای بڼه هم غوره کړې ده، دګاندی جې کوټه په هماغه شان سره ساتل شوې لکه څنګه چې ده د ۱۹۴۸ کال دجنوري په ۳۰ دخپل وروسـتي عبـادت پرمحال پریښې وه ، دده نړیواله شتمني دلته ده اوپه دغه کوټه کې هرچا ته په خپله وړتیا سره ځان ځلوي .

---

دمقالې لیکواله یې سویتا سینګ ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۸)

# لارد بیخو پریخ :

## ګاندي اوسوراج (خپلواکي )

---

دګاندي په وړاندې سوراج یاخپلواکي په غوڅه توګه یوه اخلاقي اوسیاسي مفکوره وه. اوپه انفرادي کچه دغه مفکوره دځاني هیلو اوغوښتنوپه وړاندې یودلیل اوپه پای کې داپه خپله یوه ننی هم آهنګي وه. خوپه ملي کچه دغه مفکوره پرهغه څه باندې ولاړه وه چې دهغې په واسطه دټولنې ګرد برخلیک دبدلون اوتحول منګولو ته لویده داسې چې دهغې ټولنې هرغړي ترهرڅه دمخه په دغه بدلون اوتغیراودهغه په وړتیا اوپاېلوباندې باوري و.دګاندي له پاره هم هرانفرادي وګړی دواک اوځواک سرچینه و.هیڅوک باید بل څوک ددې له پاره ناچارنه کړي چې دده دارادې خلاف دې څه ووایي اوکه یې وایې نوپایله به یې دهغوپه مړینه اوځورونه پای ته ونه رسیږي .

اویوازې به هغه څوک په دې وتوانیږي چې دځانی اوچتیا په ترڅ کې پرخپل ځان باندې بسیاواوډاډمن واوسیږي .

په دغه برخه کې ترټولومهم اودپاملرنې وړ ټکی دادی څوباوري شوچې هرانفرادي وګړی ترهرڅه دمخه دلوړتیا غوښتنې اودځان غوښتنې خوراپیاوړی شعورلري. ځکه نو دا اویا دی به ځانو ته ددې اجازه ورنه کړي چې دنورو دیکتی اوانحصارته دې غاړه کیږدي. اونه نورچا ته ځواک اوپیاوړتیا ورکولای ،ځکه نوداپرهرانفرادي وګړي پوري اړه لري چې هغه ترلاسه کړی اوویې ارزوي .

په جنوبی افریقا اوهندکې دګاندي دژونداوږدې مبارزې دی په دې باوري کړچې دزورزیاتی یوسستم کولای شي رامنځ ته شي ،خودابايد په دغه اړه په پام کې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې که له هغه سره يې دقربانيانو مرسته نه وي هغــه لــه منځــه تللــی دروشــميرۍ ،بريتانيا ونه شواى کولاى چې هنددځان کړي ، هنديانوپه پرله پسې توګــه دهغوپــه وړاندې خپل عکس العمل ،بيلتون اوسرټکونې اوپاريدنې وښودې. خوله دې سره هم انګريزانو پرهندباندې خپله واکمنی ترډيرو پورې وساتله ځکه چې هنديانوخپله لــه هغوی سره مرسته اوهمکاري کوله، اوان چې دوی يــې اصــلي انســاني ځــواک لکــه سرتيري هم ورته برابرول ، په دغه ترڅ کې دوی خپله په ځان بسيا ايدلوژي په خپل واک کې له لاسه ورکړه ،لکه څنګه چې ګاندي په دغه اړه داڅرګندونه کوله، هغــوی چې لکه دچنجيوپه څير چلن باندې روړدي شوي وي اونورددې له پاره رابولي چــې پردوی باندې برلاسی شي داهغه ناداني ده چې دوی دخپلې ناپوهې په ترڅ کې دځان کړې ده ، دزورزياتی په وړاندې دبې عدالتۍ په نامه قربانيان چې دوی خپله هغه تــه په خپله خوښه غاړه ږدي اولاره ورته برابروي کله هم بې ګناهان نه شوبللی.
دګاندي له پاره دواک مانادلوړواوپيچلواړيکو سمبالول دي. دواړه واکمــن اودعــدالت قربانيان په دې باوردي چې ټول واک بياهم له پخوانوسره دی،کله چــې زورزياتوتــه پرځان دواکمن کيدوډاډ ورکوي اوهغوی بيا دخپلوقربانيانوپه بې روحيې کولو بانــدې لاس پورې کوي او ددوی دزيرمه والوپه توګه دوی ته په خپله دچوپړلاره پرانيزي ،په دغه ترڅ کې داڅرګنده چې هرهغه څوک چې دوی ته خدمت کوي اولــه دوی ســره دملاتړدندې ته اوړې ورکوي ددې ټولومانا داده چې دوی په خپله دزبيښاک له پاره په څرګنده دعمل ډګرته راوتلي اوورسره يوشوي دي چې په دغه کارسره دغــه کســان دبرلاسودريځ اوځواک دواړه پياوړي کوي .
له هغه ځايه چې محکومان تل دځان لپاره دادليل راباسي اووايی چــې موږخوبيواکــه اوبې ځواکه يو، دوی په دغه حال کې دهغه چا په دريځ کې دريږي چې يوخودځان په باره کې فکرکوي اوبل داچې په دغه ترڅ کې نور ددې توان له لاسه ورکوي چې دځان په سمبالولو باندې لاس پورې کړي ،دغه هڅه هغه څه ده چې دمقابل لــوري ځــواک پياوړی کوي اوپــه عــين حــال ددې ســبب کيــږي چــې دهغــه ترســيوري لانــدې بياددارفضاهم پرهره خواباندې خپل وزرونه وغوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخبره چې زوروالا تل دهرډول څواک لرونکی دی ،په رښتیا هم یوحقیقت دی ،خوله دې سره کوم څه چې تراوسه ددې دواړوخواووپه منځ کې د رښتیا ځای نیولی اوترزیاتې اندازې هغه ددوی پرهیلواودلایلو باندې ولاړدی هغه دادی چې هرڅه باید په خپله ترسره شي اوسړی باید په خپلوپښوباندې ودریږي .

په دغه اړه داهم څکه مهمه اودپاملرنې وړده چې دوی بایدد سستم په اهمیت اوطرحه باندې فکروکړي . په تیره بیا هغوی چې دژوند په اوږدوکې دپیاوړتیا لوړې پولې ته رسیږي اوپه څرګنده په یوه سایکولوژیکی پاملرنه او لیوالتیا باندې اوړي. دګاندي په نظر ددغې پوښتنې اوستونزې له پاره ځواب دخلکوپه لور لارښونه اوخوځیدنه، ځان برجسته کول اوکمپاین دي، اوداپه ګوته کول دي چې واک په کوم ځای کې اوله چا سره دی . چې داپه خپله دساتیاګرانو له موخواومرامونوڅخه بلل کیدای شي .

په جنوبی افریقی کې د ۱۹۰۶ کال په ترڅ کې دهلوځلو ترسره کول اوپه پرله پسې توګه بیا په هندکې دهغوتجربوعملي کول ،داهرڅول هغه څه ووچې دهغو په ترڅ کې پربې عدالتۍ باندې زیاته رڼاچول شوې وه اوداغوښتنه یې رامنځ ته کړې وه چې له یوه بل سره وګوري،اوپه یوه ځانګړې انتخاباتې حوزه کې سره وخوځیږي چې بالاخره داکارترسره شوخوله لرو وړتیااوو اوستاینوسره. هسې نه لکه چې دیوشمیرنوروبریاووپه برخه کې په په سمه توګه دعملي توب جوګه شوی وای .خوله دې سره سره هم داکاردخلکو په وړاندې ددې سبب شو چې هغوی یې راوهڅول اوهغوی ته یې داتوان ورکړچې دیوه عمل په لورځانونه سره منظم کړي، ددغه عمل یوه بریا داهم وه چې دهغوی چې پرواک باندې وو دهغوروحیه اوځان غره والی یې هم له سختې کمزورتیاسره مخامخ کړ.اوپه ځواک کې دخلکو په ګډه یوڅرګندانډول رامنځ ته شو.

ددموکراسۍ په ترڅ کې تل واک دخلکوله استازو سره وي ،ګاندي هم فکرکاوه چې داخبره سمه ده، خودخلکو لپاره باید چې دنورشیانو ترسره کیدل هم اړین وي،داسمه نه ده چې دهرې ورځې په ترڅ کې باید هغوی خپل تصمیم ونیسي ،په دې چې په دغه کارکې کله کله داستعدادونودوړتیاخبره ترپښنولاندې کیږي. دغه اصل په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل وارسره دعامو اتباعوداداعاوو له مخې له دووخواڅخه دپاملرنې وړوي ، لـومړی داچې دوی بایـد خپـل کسـان اواسـتازي ښـځې اونارینــه دې تــه وهڅــوي چــې بايددنیاوکولواودرناوي وړتیاولري اوپه عین حال کې باید دملي ګټوخبره هم پــه پــام کې ونیسی.

دویم داچې ددوی استازي ددوی په نامه عمل اوخبرې کوي ،ددوی دپریکړو دعملــي کولو په تکل کې کیږي ،خلک باید ځانونه په دې ډاډه کړي چې دوی دخپلو استازوپه واسطه کولای شي خپل مرامونه اوغوښتنې عملی کړي. ګاندي داوايي چې له همــدې امله خلک باید دخپل سياسي ژوند په ترڅ کې په پوره ليواتياسره برخه واخلي.

له هرحکومت سره داتړلې چې دوی واک په ناوړه توګه کاروي ان چــې دموکراتيــک حکومت هم بیاپه دغه برخه کې له اتوکراسی څخه بیل نــه دی ، خوکــوم تــوپيرچې ددغودواړو ترمنځ شته هغه دادی چې یوله دغه چلن سره غاړه وړي اوبل يې نه وړي، اوهمداده چې دا په ډیرووختوکې داتوکراسی لپارغیراحتمــالي وي، یودموکراتیــک حکومت په دې پوهیږي چې که داکاروکړي ،دهغه اتباع به د هغه حکومت له مرستې څخه لاس په سرشي.اوپه پایله کې داهم شونې ده چې هغه دموکراتیک حکومت پــه ډیره اسانې سره خپله خیره دخپلووګړو په وړاندې شیطانی کړي اوخپل خلــک پــه څرګنده توګه ددرغلۍ اوانحصارښکیل ته وراچوي . لکه چې ګاندي هم دغه خبره په ګوته کوي:

« رښتنې خپلواکي به کله هم دواکمنواویوڅوتنوپه واسطه رامنځ ته نــه شــي. بلکــه داهغه ډالۍ ده چې ټول خلک دهغې په مرسته دکمزوررواکمنوپه پرضدکه چیرې هغه ونه مني راپورته کیدای شي... دخلکودپوهې دهغوي دوینښتیا پــه شــعوراوځواکمنې سره کیدای شي ، هغه وچلیږي اویاترکنترول لاندې راشي »

هندي ولس ان تراوسه پورې سوراج ته اړتیالري چې باید پرهغــې بانــدې لارښــونه شي،ګاندي فکرکاوه چې په دغه ترڅ کې ښه اوپه زړه پورې لاره داده چــې ترهرڅــه دمخه مور

په هیوادکې دیوې سراسري ټولنې یاارګانیزيشن له لارې چې په هغه کې دهیوادټول وګړی نراوښځې برخه ولري اوپه خپل پراخ ګډون سره دخپلوستونزو،دخپلوسیاســي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکمنیودبسیاکیدنې  اودبی عدالتیوپرضد دخپلوسازمانودجوړولوپه کاربانديې لاس پـــورې کـــړو . ګانـــدي دخپـــل ژونـــد پـــه وروســـتیوڅوکالوکې پـــه دغـــه اړه یوشمیرجالبواودپاملرنې وړوړاندیزونو سره دعمل ډګرته راووت .
ګاندي فکرکاوه چې دخپلواکې له پاره دمبارزې په اوږدوکې کـانګرس پـه روحیـاتی برلاسي باندې ټینګارکاوه چې داهځه ان ددولت له مهمواولومړنیودندوســره یوشـي اوان چې ترې لوړه هم وه.ددغې طرحې بـې سـاری والـی پـه دې کـې وچـې دغـه کاردخلکوله خوالاربښونه ، اودټولنې له خوا پالل کیده چې په پای کې ددغه اغیـزمن مورال په ترخ کې دولت په خپله دیوې مهمې اودپاملرنې وړ وړتیادځان کولای شوای . دده خپله ویناده چې ویل یې ، له هغه ځایه چې کانګرس دآزادۍ په لاره کې دخلکو په مرسته واک ترلاسه کړې نواوس داورته وړده چې دوی باید خپـل (لـوک سـیوک سنګ)  یانې دخلکودخدمت لپاره ملي ټولنه ولري  . دهغې غړي بایـد پـه کلیـوکې ځاي پرځای وي څوچې د (سم ګره ګرام سیوک ) پـه پـوره واک اوځـواک سـمبال کارکونکي چې ځان یې په دغه اړه خپلوژمنوته وندہ کړی وي لاس په کارشي . دوی باید دخلکو پام خپلوحقونـو، ددوی اودولتـي نمایـندګیوترمنځ منځګړیتـوب اوپـه سیموکې دبې عدالتۍ هلته چې اړین وي راوګرزوي اوله ساتیاګرانو سره دې په تفاهم کې شي.
ګاندي په دغه اړه تیروتی و چې دکانګرس بیوسي یې په ډاګه کوله ، خپلواک هند په سخته توګه پردغه مهال دیوه داسې ګوند لپاره اړتیادرلوده چې هیواد اوحکومت ېې په ښه توګه لارښونه کړي وای.کانګرس په دغه مهال په سازمانی لحاظ هغه پیاوړتیـا نه درلوده چې په دغه مهال یې په اوچت مورال اوسیاسی قانونیت سره لکه چې دوی ددولت لپاره دژمنې په توګه پاس کړې و عمل وکړای شي .
دګاندي له خوا د لوک سیوک سنګ اویاورته سازمان نظریې سره له دې چـې خپـل ارزښت یې درلود، خودابايد ووایوچې دهند دبیاراژوندي کولو دکاراوپه دغه برخه کې هلوځلو پرسیاسې اوبیروکراتیکوکړیوبرسیره په خپل واردپرګنیزو او وګړنیوســازمانو مرستې اوملتیاته اړتیا درلوده. خوبرعکس سنګ او دې ته ورته ټولنې په دغه وخـت کې په داسې توګه رامنځ ته  شوې چې هغوی په مخامخ توګه له دولت سره دسـیالۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوالترنتف ځواک خبره په خپل مرام کې تر لاس لاندې ونیوله ،خپله ښارنه اوکتنه یې په داسې توګه عیاره اوبرابره کړه چې هرچا فکرکاوه دوی په خپله دګوند اودولت لــه اړوندو اداروڅخه دي. ددوی دغه چلند دهغوکسانو له پاره یوالترنتف چینل پرانست چې هغوله سیاست اوسیاسي ژوند سره لبوالتیا اومینه درلوده. بله داچې دوی داهــم په ګوته کوله چې دولت په سیاسي لحاظ په دې نه دی توانیدلی چې پرګډوډیوباندې برلاسی وومومي. دغه کارددې لامل هم شوچې درغل مامورین رامنځ ته کړل، دولتــې بودجه دچوراوتالان منګولو ته ولویده اوپه پــای کــې قــانون ، حکــومتي مشــورتی سرچینوخلکوته دامشوره ورکړه چې دوی باید دسیمه ییزې بې عدالتۍ پرضد خلک لارښونه کړي .

لنډه داچې ، دوې داوړتیا درلوده چې له قانون سره مرسته وکړي اودځان اوحکومــت ترمنځ دیوه پله په جوړولو باندې لاس پورې کړي .

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندلید ) له مجلې څخه چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریږي لــه انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شوید ه .

لیکوال دانګلستان دویست مینسترپوهنتون دموکراسۍ دڅانګې استاد اودمشرانو جرګې غړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۹)

## مارس اپستین :

## گاندي په اوسني عصر کې

---

هند د ۲۰۰۷ کال داگست په میاشت کې دخپلواکی (۶۰) مه کالیزه ونمانځله، په دغه پراخه سیمه کې چې نن سبا تریوه بیلیون زیاتووگړو ټاټوبی اوهیـــواد دی، پـــه دغـــه پراخه سیمه کې هرخوک ځان له ورایه پراخ ، بډای اوترنورووپیچلی پـــه گوتـــه کـــوي. دلته چې نه یوازې یوملي لارښود او پلاربلکې دوه جـــواهرلال نهرواوگانـــدي ددغـــې ټولنې ملی ویاړونه بلل کیږي لري .
لومړنی یې په ریشنلست لیدباندې ولاړاوباورمن دی،ځکه هنـــد هغـــه دخپلـــې ودې لامل اوهڅوونکی بولي چې هندته یې اجازه ورکړه څوپه نړۍ کې دپیاوړې دموکراسي په پربنسټ باندې آن له خپل ایجاد څخه ترننه پورې پرته له کوم ټکراوکړکیچ څخه له قانون ، پارلمان اوفیدرالیزم سره یوځای وده وکړي . برلاسي او زور زیـــاتي دلتـــه داسې څرگنده بڼه نه درلوده لکه څنگه یې چې دپوځیانو ترسیوري لاندې په گاونډې پاکستان کې درلوده.
دگاندي برخه اخیستنه په دغه ترڅ کې هم بنسټیزه وه اوهم دپاملرنې وړ، مهاتما هغه لغت چې په سانسکریت کې یې مانا (ستره اروا) ده دیوه هڅون اوودې پـــه کاربانـــدې لاس پورې کړچې اغیزیې تراوسه پورې په عامه توگه دپاملرنې اویادونې وړدي، دده دسوله ییزمقاومت فلسفه نه یوازې په شپیتموکالونو کې په متحده ایالاتوکې دمارتین لوترکینگ له پاره لارښوده شوه بلکه دنلسن ماندیلا له پاره په جنوبی افریقاکې هـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library

داپارتايد په وړاندې ډاډمنه تکيه ګاه شوه. دعدم تشدد بهير هغه پراخه اولويه وسيله شوه چې په خوراځيرکی اوله مطبوعاتوڅخه دکاراخيستلوپه ترڅ کې يې په يوشميرهيوادولکه سربيا، جورجيااواکراين کې د (( رنګينه خوبونو) په څيره کې په دې وروستيوکالوکې ځان راوپړکاوه.

دهندپه باره کې څنګه؟ په دغه هيوادکې چې خدايان يې پرهره خواکې دي ،ګاندی وکولای شول چې دخپل روحاني اوفلسفي ليدپربنسټ ددموکراسی له پاره لاره چاره اواره کړي.

دده دهڅې اوبلنې په ترڅ کې داآسانتيا رامنځ ته شوه چې دهندهروګړی بايدځانته حرکت ورکړي اوټول هند وان اومسلمانان ، نراوښځې بايد په دغه پراخ ډګرکې دبرخې اخيستنې په ترڅ کې خپل ځان عملاً احساس کړي . ددموکراسی لپاره رښتينې جګړه موړته ګاندي رازده کړه،چا چې په دغې ځانګړې لارښونې سره يې زړونه ددې له پاره راوخوځول چې بايدله خپل ګاونډي سره په څنګ کې دسولې اوخوندي ساتنې په فضاکې ژوندوکړي

او دهغه يوازني چاچې دې ته يې پام شوچې بايد انسان دننې کړکيچ له احساساتوسره ددې توان ولري چې نوروته درناوي وکړي اوديوه اړين اصل په توګه بايدپه خپل چاپيريال کې يوښه اوپه زړه پورې استوګنی شي . دګاندي داخرګندې اوسنی ځانګړنې دعصر داوسنی نوي پرمختګ په ترڅ کې دمځکې پرمخ داسې ډالی شوې چې دهغوسرچينه بياهم له همدغه نالوستی اوبيوزلې هندوستان څخه په ۱۹۴۷ کال کې راپيل شوه. که اوس په دغه ترڅ کې دپرتلې په لورګورو ،تاسې وينې چې پرتګالي ميرمنو تر ۱۹۷۶کال پورې چې درايوورکولوډګرته راووځی منتظرې پاتې شوې ! البرت انشتاين وويل : (( نسلونه بايد راپورته شي ، څويې په رښتينې توګه باورراشي چې دده په شان بل چاکله هم دمځکې پرمخ له وژنواووينوتويونوپرته ژوند نه دی کړی)).

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي له انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده.

دليکوال دغه مقاله له له اکسپرس فرانس څخه را اخيستل شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (١٠)

## جاکویس اتالی :

## "اونت ګاري " یا سترګاندي " ‘

---

**تاسي ولي دګاندي ژوند لیک ولیکه ، آیا ددي لامل دهند دخپلواکۍ شپیتمه کالیزه وه ؟**

ماکله هم ددغي کالیزي په اړه فکرنه وکړی ،زما ددغي لیکني په اړه ، زه باید ووایم چي زه تل دهغوخلکو په ژوندلیک لیکل کوم ، هغوی چي نړۍ یې دخپل روحانیت اومعنویت په زور له یوه بدلون سره مخامخ کړي وي ، لکه داوسني مالي سستم کاشف زیګموند واربورګ ، داوسني ریاضۍ مخکښ بالیوس پاسکال ،زما له پاره، اوسني فرانسوي ادبیات ،کارل مارکس . په دغه اړه هم ماپه داسي یوچا پسي چي هغه دلویدیزنه وي کتل . دنړي زیاتولویوکسانو په خپلوهڅوسره نړۍ له بدلون سره مخامخ کړي چي ګاندي هم دغه خبره په خپلونظریاتوسره په رښتیا باندي بدله کړه.

**تاسي هغه څنګه ومونډ ؟**

دامارتین لوترکینګ و چي زه یي ګاندي ته ځیرکړم ، مخکي تردي چي زه هندکشف کړم اوپه دغه باره کي لاس په کارشم ، هغه زما پام دعدم تشددپه لورراواړاوه ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نلسن ماندیلا دګاندي اوپه جنوبي افریقاکې دهغه داوسیدواوکړووړو په اړه له ماسره خبرې وکړې ،ګاندي دهغه روښانګرلارښودو ، هغه دځان په اړه فکرکاوه چې داوړنه ده چې سړی باید په زندان کې هم یاغي وي، هغه په دغه ترڅ کې په دې باورو چې یونني ځواک باید له سړي سره مل وي ، هغه له میډیشن څخه منندوی و ، هغه ځان ماته له هغه سره په تړاوکې راوښود.

آیا ګاندي په اوسني عصرکې مهم دی ؟

هو، هغه ډیراړین اوضروري دی، ګاندي فکرکاوه چې هند باید په خپل هویت سره جوړشي ، هغه ښایی ځان په دې ملامت بللی وي اویایې نه غوښتل ، چې هغه هند ته دلویدیز ترنامه اوهویت لاندې دپیژندنې وړتیا ورپه برخه کړي، ګاندي ولیدل چې دهغه هیواد ددښمنانو له خوا غوبل غوبل شوی، هغه هیواد چې په دغه ځواک سره باید اوچت پاتې شوی وای ، هغه فکرکاوه چې هند پیاوړی ملي ویاړاوبرم لري هغه باید له ورکې سره مخامخ نه شي.

دهغه اصلي دنده څه وه ؟

ګاندي دهندي هویت ایجادونکی و، هغه دهندي ټولنې ملي والي ته عملي بڼه ورکړه ، ویاړپرهغو تبلیغاتي هڅو چې ده ته یې په جنوبي افریقا کې دمهاجرو دحقوقو ددفاع له امله لوړتیا ورپه برخه کړه ، په هندکې هم ده خپلې ټولې هڅې ددې له پاره وکړې چې دخلکو پاملرنه یې لاریونو، دمالګې دنامتو لاریون اغیز، روژو ، سفرونواونورو کړو وړو ته راواړاوله . ګاندي له شکه پرته لومړنې څوک و، چې ترهټلردمخه یې میډیا دانځورونو ، بحثونو اوخپرونو په ترڅ کې دځان په ګټه وکاروله ،په دودیزو کالیو ، لوڅوپښو ، لکړې ، اوعینکو سره یې داکشف هم وکړچې هندیان باید څنګه دځانو له پاره هندي کالي وکاروي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ګاندي څه ډول هندوستان غوښت؟**

هغه یوخیالي هندوستان ، چیرې چې کښتني پاټکې نـوردکرکې اونفـرت وړنـه وي، هندواومسلمان باید په سوله کې له یوه اوبل سره ژوند وکړي. هلته چې هندوباید په اوونۍ کې څوځلې روژه ونیسی ،هلته چې باید تشدد نه وي.

ګاندي ډیرلوړانسان و، هغه ته چې څه په فکرکې ورتیریدل هغه یې په خولـه ویـل، همداوه چې کله کله ډیرې تیروتنې هم ترې کیدې،لکه دهغه لیک په ترڅ کـې چـې هټلرته یې ولیږه اوهڅه یې کوله له هغه سره استدلال وکړي خوبیایې دهغه له امله له هټلرڅخه ښښنه وغوښته.

**ګاندي ددموکراسی په تاکنه کې څه ونډه درلوده ، داسې یوسستم یې غوښـت چـې هغه به لکه دلویدیزپه شان وي اوکه برعکس ؟**

هغه سیاسي ګوندونو ته زیات درناوي درلود،ان که به هغو له دوی سره اړیکي هم نـه درلودل، دموکراسي دده له پاره یوڅرګند انتخاب و، په اقتصادي برخـه کـې دنوبـل جایزې وړونکي امرتیا سینګ ذذداپه ګوته کړې چې دموکراسي لویدیزه هڅه نـه ده ،بلکی دایوه هندي فکري برياده. چې کیدای شي خبرې پرې وشي .

**هغه څه ځانګړې کرشمه درلوده ؟**

هو، هغه داسې یوفوق العاده ځواک درلود چې کولای یې شول خلـک پرڅـان پسـې راوکاږي. ان هغوی چې دده له کړنوڅخه کومه ګټه هم نه ورته رسیده، ګاندي ډیرڅه ولیکل، هغه په خپل ژوندکې تل موسکی او هڅاندو ، ګاندي همداراز له تلپاتې والـي سره لیواتیادرلوده. دهغه خوښیدل چې یوڅوک دې ووژني ، هغه کیدای شول دخپل مرګ له پاره څه په نښه کړي وي، هغه دپرتم اوشوکت په لوړتیا کـې ووژل شـو، پـه داسې حال کې چې دده ته وړوه چې یوڅه دمخه مړشوی وای، مانا داچې یوڅه ترویش دمخه. له ۱۹۲۰ څخه تر ۱۹۴۵ کال پورې هندپه خپله ګاندي و، ستاسې لـه پـاره بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**اوس داګرانه وي چې دنړۍ دپوهیدوپه راز باندې پوه شی داسې لکه چې ګاندي دغه رمز درک اوپرې پوهیدلی وو. ده هغه برلاسې اوزورزیاتی چې دیوځو سپینوله خوا پرټول بشریت باندې زغمل شوی و وغانده،دا اوس په هرذهن کې یوسمبولیکه طرحه ده چې کله ګاندي جنوبی افریقې ته په رسیدو سره له ګاډی څخه دباندې غورځول کیږي . داهغه شان کیسې دي چې دزیاتو انسانانوله خوا تجربه شوې ، خونه پر مور ،پرمور لویدیزوالو باندې څکه چې مور د زورزیاتو خلکو په اړخ کې یو، اوهغه زورزیاتي وهلي خلک له خوبه راویښ کړل .**

**کوم درسونه له هغه پاتې شول ؟**

**یوساده سړی کولای شي چې نړۍ بدله کړي ، ویاړدهغه په سوچونو ، تشدد کله هم دځوریدلي اوترستم لاندې انسان له پاره دمنلووړلاره نه ده .**

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندلید ) له مجلې څخه چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریږي له انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شویده.
لیکوال لوي ژوند لیکونکی دی، جاکویس اتالی به په راتلونکي منې کې دمهاتما ګاندي ژوندلیک ولیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۲)

## پروفیسور تسیوشي نارا

## څه شی ما له مهاتما ګاندي څخه زده کړي دي...

---

پر دغه نړۍ زه دخپلې ۷۴کلنې اوږدې تجربې په اوږدوکې په دې باوري شوم چې هرانسان دیومطلق موجود په توګه دی وي اوکه دابايد په خپل ژوند کې په خپله ننۍ خوشالۍ باندې پوه کیدای شي. له دغې پوهیدنې سره سم دمطلقیت ترڅنګ دوه آره نورهم دي چې هغه په خپل وارزمورږ انسانانو له پاره له یوې خوامهم اوله بلې خوادپاملرنې وړدي ، دغه دوه توکه ، خپلواکي اوآزادي اوسوله اوامنیت دي. له خپلواکۍ پرته به یوکس هم په ډله ییزه اوهم په انفرادي توګه دخوشالۍ احساس ونه کړي. په ورته شان ، دامنیت اوخوندي ساتنې نشته والی په څرګنده توګه هرڅوک اندیښمن اوخواشینی کوي . دلته

( سوله ) هغه دانسان په لاس جوړشوې دولت په ګوته کوي چې دهرډول ځوراوستونزې ، مقابلې یاجګړې څخه په یوه خواوې، همدارنګه (امنیت) هم په خپل واریوازې کوم مصنوعي مفهوم نه دې بلکه داپه خپل وارهغه اصل اوحالت دی چې په طبعیي توګه دیوې غمیزې په مخ کې ډال کیږي .

دهند دخپلواکۍ دمبارزې په ترڅ کې سیاسي مشرانواوانقلابیانو دالویه بریا بلله چې دوی بايد له انګریزي ښکیلاکې واکمنې څخه خپله خپلواکي واخلي ، ددغې موضوع په اړه شري اربندودیوه انقلابي لارښود په توګه هڅه وکړه چې دپوځي مقابلې په ترڅ کې انګریزان له خپل هیوادڅخه وباسي اودهغوي واکمنې پردغه خاوره باندې پای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسوي.خوورسته چې کله هغه تقاعد شونوبيايې په پاندي چرې کې په خپل ننـي انقلاب اوننې صفايي باندې دخپلې روحاني خپلواکۍ له پاره چې په هغې کې به هيڅ ډول رنځ اودرد اړول نه وي پيل وکړ.

خو دمهاتماګاندي دلارې په څارلوسره دی په خپل ژوند کې په بې ساروبرياوو باندې برلاسی شواودايې باورشو چې انساني خوشالي يوازې دهغه دټولنې په سياسي ـ اقتصادي وړتيا پورې نه ده اړونده بلکي په دغه ترڅ کې هغه ته داهم اړينه ده چې هيوادوال يې دسوسيو ـــ کلچر او معنوي خپلواکۍ په فکرکې هم شي.

زه غواړم دلته دغه ټکی په ګوته کړم چې هغه ( اربندو) په څومره ژورتياسره دګاندي دژمنې اوژورزغم تراغيزلاندې وچې دخپل هيواد دسوله ييزحالت له پاره يې نه يوازې دهنديانودګټې په خاطربلکې دانګريزي ولس په خاطر هم ګام اوچت کړی دی.

ده کله هم ددې له پاره هڅه ونه کړه چې بريتانويان بايدووژني. ددې پرځای ده تل هڅه کوله چې انګريزان په خپله بې عدالتي باندې باورمن کړي ، اودايې ترغوږ ورتيره کړه چې دوی بايد هغه تګلارې ترلاس لاندې ونيسي په هغه کې چې دانسان اوانسانيت دواړو خيروي. ګاندي جی هم په خپل وارسره دخپلې مبارزې په ترڅ کې کله هم نه څوک و رټل اونه يې دچاپه وړاندې په هغوشپوورځوکې چې دبې عدالتې پرضدې مبارزه کوله له سپک نظری څخه په خپل ټول فزيکي ، روښانفکري اومعنوی ځواک سره کاروا خيست .

ديوه جاپاني اوسيدونکي په توګه چې داتومي بم سپيرې تجربې اومزې موهم ددويمې نړيوالې جګړې په ترڅ (۱۹۴۵) کې وليدې ، په دې نظراو باوريم چې بايد داسې يوه نړيواله خوندي اوسوله ييزه تګلاره چې دهغې له مخې نړۍ نوره له اتومي ناتاراودډله ييزې وژنې له نورو ډولووسلوڅخه خوندي پاتې شي رامنځ ته شي .

برسيره پردې ديوه نړيوال تبعه په توګه په دې هيله يم چې بايد بشريت دابدله پاره په يوه بشپړه هم غاړی اولوی طبعيت کې سره پاتې شي. ما دتيرو دريولسيزوپه ترڅ کې له زياتو نړيوالو رضاکاروسازمانونو او روڼ اندوانفرادي کسانو سره کاروکړ . ددغه شاليدپه پام کې نيولوسره زه اوس غواړم له ځان سره په لنډه توګه داوواېم چې ،کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څه ما له ګاندي جي څخه زده کړي اودده دژوند کوم اړخونه زما دژونـد لـه اوســنې حالت سره څه شان تړاولري ؟**

**زه کله هم په ګاندي جي پسې دلته نه وم راغلی اونه هم زماله پاره داشیبه برابره شوه چې له هغه سره دې دده دژوند په شپو ورځوکې وګورم ،کله چې په ۱۹۵۸ کال کــې زه دلومړي ځل لپاره دهند په خاوره باندې پلې شوم ، دی پرهغه مهال نورپردې نړۍ نه و اوهغه دیوه ځوان افراطي په ګولیوباندې په ۱۹۴۸ کال کې له نړۍ څخه ســترګې پټې کړې وې. خوکوم څه چې ماله هغه څخه زده کړي هغه ګردسره هغه څه دي چې ما دده له ژوندلیک اونوروآثاروڅخــه چــې نورولیکوالــودده پــه اړه لیکلــي اویــاهم دهغوکسانوله کیسوڅخه چې هغوی له ده سره لیدلی کتلي اویایې کارورســره کــړی ویه غیرمستقیمه توګه اوریدلي دي.**

**له هغوځانګړنوڅخه چې ګاندي جي درلودې اوپرمــایې اغیــزه کــړې یــوه هــم دده رښتینولي ، صمیمیت ، ساده ګې اوګذشت دی، دده دشخصیت دغه جــذابیت داپــه ګوته کوي چې داده له خپلوپلرونواونیکونو څخه ترلاسه کړی دی. خــوزه پــه ځــاني توګه په دې باوري یم چې ده دغه ځانګړنې ترهغوچې ده ته میراث وې په خپل وخت کې پیاوړې اوبډایې کړې . هغه ترزیاتې اندازې دخپلومعنوي آثارولکه( بهګوت ګیتا) اونورو په زړه پورې لیوال اومینه وال و. کله چې ده په دقیقه توګه دغه کتاب ولوست، هغه په دغه برخه کې ترهر څه دمخه دلاردکرشنا اوارجن ترمنځ خبرواتــرو ســخت ترخپل اغیزلاندې راووست. همداوه چې ګاندي دخپل عمرپه اوږدوکې تــل دکرشــنا لارښونې دخپل ژوند دلارښود په توګه دخپل باورپه توګه وڅارلې.**

**لارد کر شنا ، لویې هستۍ ارجن ته وویل چې که چیرې دبشراستازي پــه رښــتیاهم غواړي چې دتل لپاره خپلواک اوله ننۍ خوشالۍ څخه برخمن وي باید دالاندې ټکــي په پام کې ونیسي.**

**۱ - باید چې خپل نفس اوذهن له بیکاره شیانوڅخه په یوه خوا کړي اوپرخپــل نفــس باید واکمن پاتې شي.**

**۲- هرڅه ته باید دخدایی خدمت په رڼاکې ملاوتړي نه داچې دهغه دبــدل اواجرپــه هیله وي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳- هرچا اوهرڅه ته باید پرته له هرډول توپیراوتعصب څخه درناوي وکړي .**
**۴ـ دلویې هستې اودهغې په مطلق شتون باندې باید دزړه له کومي ایمان اوباورولري.**
**۵- پرځان اوخداي باندې باید دزړه له کومي اوله شکه پرته باوري وي .**

**تاسې کولای شی په دغه برخه کې فکروکړئ چې ګاندي جي دغه پورتنې ټکــي پــه خپل ژوندکې په پام کې نیولي وو که نه ؟**

**دلومړي ټکي په اړه څرګنده ده چې ده څومره اوپه څه شان خپل ژوند په دغه تــرخ کې عیارکړی و. ددویم ټکي په اړه مورږ وینوچې دی په څه شــان دپــرتم اوغرورپــه وړاندي دریده. په دریم ټکي کې مورږټول وینوچې هغه له هرچاسره چې له ده سره به مخامخ کیدل په څه درناوي اوویاړسره پر ته له دې چې دهغه اویاهغې پاټکی ، عمــر، جنس ،شتمني ،عقیده اوقومي هویت په پام کې ونیسی چال چلندکاوه.**

**اوپه څلورم ټکي کې مورږ ولیدچې هغه په څه زړورتیا سره دلویې اروا اومعنوي ځواک په باورباندې مغروره خپله هڅه ترسره کوله. اوپه پنځم ټکی کې وینوچې ګاندي پــه څه شان وکولای شول چې په عملی توګه دلــوی خــداي پــه مرســته د ســاتیاګری شعاراوبیرغ اوچت کړي.**

**ددغوپورتنیوشعارونوپه پام کــې نیولوســره ده داسپارښــتنه کولــه چــې هرڅــوک اوهرموجود باید پر( لوی خدای) باندې دباورله پاره هڅه وکړي ، ګاندي په پیل کې په همدې باور وخو وروسته یې دغه دلوی خدای مفهــوم اووینــه پــه (رښــتیااوحقیقت اورښتیاینه ) باندې واړوله. ښایې دګاندي موخه به له دغه چلندڅخه داوه چې په دغه کار دنورو مذهبوله پلویانوسره د خواخوږۍ څرګندونه وکړي ځکه ده فکرکــاوه چــې دخدای ترنامه بیاهم رښتیاینه چې هغه خپله له هغه پرته بل څه نه ده په یوه پراخــه مفهوم سره کارول کیږي.**

**ګاندي به تل پرهغه مهال چې په هیوادکې به یې کوم فرقه یی اخ وډب رامنځ ته شو، نوبیابه یې روژه نیوه ،دده دغې تګلارې هم داپه ګوته کوله چې دی څــومره پرخپــل نفس واکمن دی اوعمل یې څومره پر( ساتیا، رښتیاینه ) باندې برابردی ، ترنامعلومې مودې پورې دروژې نیول چې ان دده ژوندیې له خطرسره مخامخ کاوه ، په دې ماناوو چې دخپلې هستی په وړاندې داثابته کړي چې دی پــه رښــتیاینې ســره پــه عمــل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونظرکې دهغې په وړاندې رښتني دی ،په عين وخت کې ده په دې هم باوردرلود چې دی کولای شي دهرډول شرايطو اوحالاتو په ترڅ کې دخپل باور اوهــوډ پــه وړانــدې داثابته کړي چې دی هغوته رښتينې اومتواضع دی.

يوڅوک کولای شي دربتياينې په ترڅ کې دروحانيت اوروح دحلــول پراغيزبانــدې چې په هرژوندي موجودکې لکه دنوروپه شان خپله وړتيــالري بــاورمن پــاتې شــي، دهمدغه تسل اوباورله مخې يوڅوک کولای شي پرته له هــرډول ډاراوترهــې څخــه اوپرته له دې چې لاس تشدداوزورزياتي ته واچوي دهرډول بې عدالتې پــه وړانــدې بريمن شي.

دغه عملي بيلګه اودغه عادت چــې دګانــدي جــې لــه خواڅــارل کيــده زمــااونورو جاپانيانوله پاره چې په خپل قانون کې يې له جګړې سره دتل لپــاره خــدای پامــانې کړی اوپه دې باوري دي چې دزورکارولومانا په خپله دنړيوالې شخړې پيــاوړي کــول دي ، په زياته اندازه الهام ورکوونکې وه .داځکه چې څــومره ښــه ويــل شــوي چــې مځکنی ، سمندري اوهوايی ځواک اونورې دې ته ورته زيرمې به کله هم ونــه ســاتل شي.

يوشميرجاپانيان دخپل دغه هميشني نه وسله وال کيدو اونه پوځی کيــدو پــرخلاف دي،

دوي وايې چې نه ، موږ بايددقانون ددغې مادې دبدلون په فکرکــې شــواوموږ بايــد لړترلږه ديوشميرناڅاپي حملواونيواک اودباندنيوحملوپه وړاندې دځــاني دفــاع وس ولرو. خوکه موږپه تيرکې دجګړې تــاريخ اوددوولوريــوترمنځ دواک پرسرشــخړوته کتنه کوو، موږ په دې پوهيږو اودا درک کولای شو، چې يوه لورنه يوه لــوري پــه څــه شان دخپل غرورله مخې دجګړې له پاره دناوړه تفاهم په ترڅ کې يوه لاره دجګــړې کولو لپاره موندلې اوپه ګوته کړې ده. چې په دغه ترڅ کې يــې ترهرڅــه ښــه دليــل همدغه ځاني دفاع دځان دبرحق بللو له پاره تاويزکړي ده ، هغه چې پايلــه يــې پــه هماغه تشدداوجګړه ، عام وژنه اواتومي جګړې اوناتاربانډې دريدلې ده.

هرډول متقابل عمل چې دځاني دفاع بنــه هــم لــري پــه خپلــه کلــه کلــه دډارلــه منګولوڅخه وزي اوهغه ديرغل کوونکوپه ماغزوکې ځان په بله بنه اړوي چې زيــاتره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختونه يې بنه په غچ اخيستنه باندې وراوړي ، لکه چې موږ يې نن سبا نه يوازې پــه منځني ختيزبلکي په ګرده نړۍ کې څه ناڅه شاهدان يو. ددې لپاره چــې دجګــړې جرړې موله بيخه ايستلې وي په دغه اړه ترهرڅه دمخه دې ته اړتيالرو چــې دځــاني کنترول په ترڅ اوهڅونه کې ترپوځې وړتيا درښتنې اوبې حده انساني مينې په تــرڅ کې له يوه اوبل سره په خواخوږۍ اوهمدردۍ کې ځانونه وساتو. په لنډه توګــه، لکــه څنګه چې ګاندي جي باوردرلود چــې دچاپرضــد بــه کلــه هــم لــه زوراوځورڅخــه کاروانخلي ان که دې دنوروله خواوهم ځورول شو او ووهل شــو، مــوږ هــم بايــد دده هماغه درس په پام کې ونيساوله ده څخه بايد دزغم درس ولولو.

داچې داڅه اسانه خبره نــه ده چــې لکــه ګانــدي جــي غونــدې دې ژونــد وکــړای شو،خودلته يوشميرداسې کسان وو لکه مارتين لوترکينګ (جونير) اونورچې هغو ی په خوراميړانې سره دګاندي لاره وڅارله اوهغه يې دځان لاره کړه. هغه لاره چــې پــه خپل ذات کې يوه يونيورسل لاره اوتګلاره وه. پــه جاپــان کــې هــم دګانــدي دلارې خورازيات لارويان شته چې دګاندي دژوندلياريې خپله لاره کړې ده. زه په خپله هــم يوله دغوکسانو څخه يم چې ځان په دغه لاره کې دګاندي لــه پلويانواوپيروانوڅخــه بولم .

ترکومه ځايه چې څرګنده ده زما مذهبې والې په دغه ترڅ کې دپوښتنې وړدی ځکه چې زه ځان (ديونيورسل مذهب) پلوی ګنم .زه هغه څوک يــم چــې پــه نــړۍ کــې هرمذهب زما مذهب دی اوزه پرته لــه دې چــې پــوه شــم داکــوم دی اوهغــه کــوم دهرمذهب چې پرمعنويت باندې ولاړوي پيرويم. ددې له پاره چــې رښــتياووايم،زما مذهبی ايديا اوليواتيا په بشپړه توګه درام کرشنا، پارامهانسا اودهغه دشاګرد سوامي ويويکانندا ترنيغ اغيزلاندې دي .

له ګاندي جی څخه ما ډيرشيان زده کړي ، زه به هڅــه وکــړم چــې دهغــه روحــاني ارزښتونه په خپل ژوند کې هم په هراړخيزه توګه په پام کې ونيسم.له نيکمرغه چــې زه په خپل دغه کارکې ترډيره حده بريالی شوی هم يــم .پــه هــرډول کــوم مشــکل اوستونزمن شی چې زما له پاره ګران واوتراوسه هم دی ،هغه دګاندي جې رښــتيايانه اوصداقت دی. هغه په خپل ژوندکې په دغه برخه کې دومره رښتينې و چــې دخپلــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بیوګرافی له لارې یې خپلې ټولې کړنې ان خپل جنسي اړيکي هم له مور ځخه پټ نه کړل.هغه په خپل ژوندليک کې په خپلوټولوهغوتیروتنواوګناووباندې چې له ده شوې وې په صادقانه توګه اعتراف وکړاوځان یې زمور په وړاندې دیوه فوق العاده انسان په توګه رابرجسته کړ.**

**اوپه پاى کې یوځه چې یقیني دي هغه دادي چې زه به کله هم خپلې هغه هڅې چــې ددغه بري پولې ته مې که ځه هم په ګرانی سره ورسوي ، ونه دروم.**

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندلید ) له مجلې ځخه چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپريږي لــه انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده.

ليکوال دجاپان دتوکيوپوهنتون دباندنيوخيړنو استاد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۳)

## دنوي زيلاند ګورنرجنرال انند ستيا نند

# ګاندي دسولې نښه

---

**دالاندې ليکنه دهغې وينا يوه برخه ده چې دنوي زيلاند ګورنرجنرال انند ستيا نند د ۲۰۰۷ کال داکتوبر په (۲) دګاندي په ياد دهغه دمجسمې د مخ لوځي له امله د ويلينګتون داورګاډي په تم ځای کې وکړه .**

---

زه ترهرڅه دمخه دهغې بلنې له امله چې د ويلينګتون ښارښاروال دمهاتما ګانـدي د زيږو ددغې مجسمې دمخ لوځي دمراسمو له امله ماته راکړې د زړه له کـومې مننـه کوم.

همدارنګه په دغه شيبه کې زه غواړم چـې پـه لنـډه توګـه پـه اوسـنې نـړۍ کـې دمهاتماګاندي په تلپاتې ميراثونو باندې لنډې خبرې وکړم اوهم به دهند اونوي زيلاند داړيکو په اړه يوه يادونه ولرم.

مهنداس کرم چند ګاندي (۱۳۸ )کاله پخوا په ګجرات کې چې دهندپه شمال لويديزه برخه پرته سيمه ده وزيږيد ، نه اويا کاله وروسـته د ۱۹۴۸ کـال دجنـوري پـه (۳۰) دهندله خپلواکۍ څخه نژدې شپږمياشتې وروسته ، دهغې ډالۍ له پاره چې ده دخپل ژوند نژدې ديرش کاله دهغې له پاره ونډه کړل ديوه هندي ترهه ګر له خوا ووژل شو.

دخپلې نه زورزياتی يا عدم تشدد دفلسفې له مخې يې د زورزيـاتي اوبـې عـدالتۍ پرضد دانتقاد غږ پورته کړ، دخپل ژوند په لومړيو کې يـې پـه جنـوبي افريقـاکې د قانونپوه په توګه دنده پيل اوله پوره ځواک سره هند ته راستون شو.ده لـه انګريـزې واکمنۍ څخه دخپلواکۍ نندارە په خپلوسترګووکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دویش اوبیلتانه پرضد و، هغه چې اوس يې هند اوپاکستان شپیته کلني ونمانځله ، هغه ویش چې په (۱۹۴۷ ) کال کې دهندپروچه باندې وتپل شو. دې پرهغه مهال په کلکته کې و چې په هیوادکې اخ وډب رامنځ ته شواوپه ترڅ کې يې په زرګونــه مــړه اوبې کوره شول . دنوي زیلاندپیژندل شوی هندي آري روتریایی جــراح منیرقــادري دګجرات په احمدآبادکې زیږیدلی اودګاندي له کورنۍ سره يې ملګرتیا درلوده.په هغه مقاله کې چې تیره میاشت په هندکې خپره شوه،منیرقادري هم په هغې کې دآزادۍ په شپوورځوکې دخپلوسترګولیدلی حال ولیکه ، هغه ولیکل چې کله هغه ګاندي تــه وویل چې :

زه غواړم ډیلي ته ولاړشم ، څوهلته دخپلواکۍ دنمانځلو ننداره وکــړم ، ګانــدي پــه ځواب کې ورته وویل چې :

« هلته څه شي دي چې ويې نمانځو، په هغه ورځ زه بایداوښکې اوویني وژاړم »

دهیواد دخونړیو پیښنو په درشل کې هم هغه هڅه وکړه چــې هیــواد دهندو،مســلم اوسیک ترمنځ دفرقه یی کړکیچ له لمنې وباسي. دهند لومړنۍ لومړي وزیرجواهرلال نهرو په هیواد کې ددغه نومیالي له مړینې وروسته وویل :

« ملګرو... اورڼا نوره زموږ له ژونده کډه وکړه ، تیارې هره خوا په سراخیستې ... زموږ ګران لارښود هغه زموږ بپو نورله موږ ســره نشــته ... هغــه رڼــا چــې پردغــه هیــواد راوپرکیده هغه څه عادي رڼا نه وه ،هغې رڼــا چــې دغــه هیــواد يــې دډیرکالولپــاره رڼاکړاودغه هیواد به دنوروډیرو کالونولپاره رڼاکړي ، اودغــه رڼــا بــه زرګونــه کلونــه وروسته پردغه هیواد اوګرده نړۍ باندې راوځلیږي اود زرګونو زړونو لپاره به یوتلپاتې ډاډ اوتسل وي»

رڼا کډه وکړه ، دهغه فزیکی شته والــی نورنــه ترســترګوکیږي ، یــوازې دهغــه روح اودرسونه چې دده سترمیراث دي هغه به له موږ سره تلپاتې وي.

ګاندي درښتیاینې په لورخپله لاره پرانیســته ،هغــه نــه زور زیــاتی ، نــه همکــاري دانګریزي واکمنۍ پرضد ځکه وکارول څوله یوې خوا پرځان ډاډمن شي اوله بلې خوا بې عدالتۍ ته دپای ټکی کیږدي.هغه همدارنګه په ژوند، روح اوفزیکي سپیڅلتیا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسادګۍ اصل رامنځ ته کړ ، ده په خپل ژوند کې داوړتیاهم دځان کړه اودازغم یې هم رامنځ ته کړ چې نورمذهبونه هم دخپل هغه ترڅنګ هم وزغمي اوهــم یــې درنــاوی وکړي . دده غږ دځوریدلیو خلکوله پاره دنړۍ په هره برخه کې دهیلې زیرې و. لکــه چې ده خپله وویل :

« کله چې زه خواشینې کیږم ،تاریخ ته ګورم ، اوهلته ګورم چې رښتیاینه اومینه پــه هروخت اتله او وړونکې وې. سمه ده چې هلته به یووخت داسې وحشــت اوبــدمرغي برلاسي وي چې هغه به هرناوړتیا ترسره کوي، په داســې حــال کــې چــې هغــه زور اووحشت رانسکوریدونکی دي »

یوسرسپارلی هندو ، ښایې یومهال په ټولو مذهبوکې یوه ننۍ واقعي رښتیاینه داسې هم وګوري چې دهغې په زور دبې عدالتۍ په وړاندې ودریږي، په دغه تــرڅ کــې کــه بیایوڅوک داسې هم پیداکیږي چې مذهب ته داسې فتواپه خوله ورکوي چې دهغــې له مخې دې تشدد عادلانه وبولي ، دغه شان طرحه اوخبره دګاندي په وړاندې په دغه ترڅ یوه بې مانا اوبابیزه خبره ده. لکه چې هغه په دغه برخه کې په خپله ویلي دي :

« ترمذهب بل څه رښتنې نشته چې پرمعنویت باندې واکمني وکړي، یوڅوک دبیلګې په توګه هم نه شي کولای پردغه باندې په بې ارادتۍ والي اوقهرجن توب سره داسې چې خدای یې مل شي شونتیاوومومي »

ټایمز مجلې چې په ۱۹۳۰ کال کې ګاندي دکال سړی ونوماوه ،همداسې یې پــه ۱۹۹۹ کې البرت انشتاین دپیړۍ سړی ونوماوه ، په دې نژدې وختوکې دامنــل شــوې چــې دګاندي دمیراث په پام کې نیولوسره باید هغوی چې د زورزیاتۍ په وړاندې جنګیږي اویامري هغوی باید (( دګاندي دماشومانو)) په نامه سره یادشي،

لکــه دپولنــډدیووالی لارښــود لــیچ ولیســا، ډاکترمــارتین لوترکینــګ ،دمایانمــار ددموکراسۍ مشره انګ سان سوکي اودجنوبي افریقې داپارتاید خلاف مشران نلسن ماندیلا اوارچی بیشف .

دګاندي دغه مجسمه چې په نوي زیلاندکې له ده سره دمینې اوارادت لومړنۍ نښــه ده داد ویلنګتن ښارته دهنددکلتوري اړیکو دټولنې له خوا ډالــۍ شــوې ده ، داســې ډالې چې هغه به دهند اونوي زیلاند ترمنځ د دوستۍ اوښواړیکو په زړه پورې اوغوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نښه وي ، هغه به پردغه ځای دتل لپاره دسولې دسمبول په توګه ولاړه وي اوپه نړۍ کې به په مليونوهغوی چې دګاندي له حقانيت ، درسونواولارښونوسره دزورزياتي په وړاندی په هره خواکې راپورته کيږي خپله ملتيا په ډاګه کوي ، په تيره بيا په نوي زيلاندکې به هغه درناوي ترلاسه کړي ، لکه چې (تی وي اورنګمای )) په پاريهکا کې په ۱۸۷۰کلونوکې ترلاسه کړی و.**

**زه دلته په نوي زيلاند کې زيږيدلی يم اودلته مې دهندي ميراث ديوه غړي په توګه وده کړې نن ځان په دې وياړن بولم چې دهمدغو اړيکو له امله ماته بلنه راکړه شوې اودلته ستاسې په مخ کې ولاړيم. زه باورلرم چې ددغې مجسمې درول به له شکه پرته دهنداونوي زيلاند په جوړونه او وده کې دهندياناونوي زيلانديانو دبرخې اخيستنې په زړه پورې بيلګه وي، هندي آرو خلکو زموږ ټولنې ته ډيرخه ورپه برخه کړي دي، زموږدټولنې په اخلاقي اوټولنيزه روزنه ، ديوه پراخ ټولنيزنظم په جوړولواودنوي زيلاند په اقتصادي وده اوجوړښت کې د دوی ونډه په روښانه ته هرچاته څرګنده ده.**

**د ۲۰۰۶ سرشميرنه په ډاګه کوي چې په دغه هيوادکې دهنديانو دشميرکچه ډيره مخ په زياتيدوده، دم ګړی (۱۰۴۰۰۰) هنديان نوی زيلاند خپل کوربولي اودلته ژوند کوي. دهندي آرو استوګنو دټولنيزواړيکو له لارې نوی زيلاندپه دې بريالی کيدونکی دی چې دخپلې اقتصادي ودې اوکلتوري وړتيا په برخه کې رغنده ګامونه اوچت اوله هند سره دخپلواړيکو دپياوړتيا په برخه کې نورهم اوچت ګامونه پورته کړي.**

**اوپه پای کې زه په دغې مجسمې اودهغې په رغنده درسونو باندې دزړه له کومې باورلرم اودابه داوړدې مودې له پاره زموږپه پلازمينه کې دسولې دنښې په توګه اوچته اودنګه ولاړه وي .**

---

**دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي له انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده.**

**ليکوال او ويناوال : دنوي زيلاند ګورنرجنرال انند ستيا نند**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۴)

# فرانسسکو روتلي

## مورِ يې بايد له مهاتما ګاندي څخه زده کړو

---

دادښاغلي روتلي هغه ويناده چې په روم کې يې يوې ټولنې ته دګاندي دزوکړې پرکاليزه کې اورولې وه .

---

دمهاتما په نامه دغه مانۍ له نژدې ديرشــوکالو راپــه ديخــوا دلتــه ولاړه ده. مادلتــه خوځوځلې دګاندي دافکارو اويادو په خاطر په تيرخوکالوکې برخه اخيستې ده .څــه شی چې زما له پاره دلته ددغې تاريخې مانۍ په اړه دپاملرنې وړدي ، اوځه چې ددغو کلنيومراسموپه اړه دلته ويل کيږي دهغوترڅنګ داهم ديادولووړده چې دغــه ځــای اودغه سيمه په خپل وار په داسې ځای کې پرته ده چې دلته آرامي اوخاموشــي پــه رښتيانی توګه ژوندپه خپله غيږکې نيولی دی.

کله چې نامتواولوی تاريخپوه توين بي له هنده دانګريزانودوتلوپه اړه خبــرې کــولې ،ويې ويل :

« مورِ نورڅه نه شوترسره کولای اوناچاريوچې بايد دې ته غاړه کيږدو، دګاندي عمــل ددې له پاره لاره پرانيسته چې مورِ بايد هندله رسوايی پرته پريږدو »

دادعدم تشدد زوراوځواک و، کله چې مورِ دساتياګری تجربه اورو، هغه کليمــه چــې مانا يې دحقيقت اورښتيايني ځواک دی ، کله چې مورِ وينوسونياګاندي اولــه هغــې سره دهند ټول ملت ددې لپاره هوډ کوي چې دساتياګری پيری ونمــانځي ، کيــدای شي چې دنړی دټولومشرانوپه وړاندې داووايې چې داکتوبر(۲) دګاندي دزيږيدو ورځ بايد دعدم تشدد دورځې په نامه سره ياده شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې ګاندي به ویل، زه باید یوځه تاسې ته درزده کړم اوهغه داچې دعدم تشـــدد اونه زور زیاتی مفکوره دومره لرغونې اوپخوانۍ ده لکه دغه غرونه ، هغه څه نـــورهم ویلي وو، خوترټولوېي دامهمه ده چې وایی ، چې درښتیاینې ترټولو مهمه برخه دنړۍ دتاریخ په اوږدوکې لکه څنګه چې تشدد لرغونی دی ، هماعسې عـــدم تشـــدد هـــم لرغونی دی.

زه هیله من یم چې دګاندي تجربه اودرسونه به دهغوکړووړله پاره یودرس اوالهام شي لکه څنګه چې نن سباپه ماینامار(برما) کې روان دي اومورِ یې خورا زیات اندیښـــمن کړي یو. دګاندي په خورامهموخبروکې یوه داخورامهمه اودپـــاملرنې وړده لکـــه چـــې وایی :

« که سترګه دسترګې په ګناه راوباسو، نویوه ورځ به ټوله نړۍ ړنده شی »

.مورِهیله من یوچې دموکراتیک ارزښتونه اوپوره زغم به آخر خپل ځای ونیسي.

نني سترهندته زما پیغام دادی چې ، تاسې مورِته پرهغوکړو وړو چې تاسې له ګاندي څخه راپه دیخوا ترسره کړي د درناوي وړیاست. داسمه ده چې هند تـــه هـــم ډېـــرې ستونزې لکه چې دنـــړۍ نورهیوادونـــه ورســـره لاس اوګریـــوان دي وردغـــاړې دي ، خومورِبیاهم وینوچې ستاسې هیواد تراوسه دیوپیاوړې دموکراسۍ په لـــورچې پـــراخ پلورالیزم ، پراخ توپیرونه ،او دبیلابیلومذهبوپیروان یې ترسیورې لاندې ژونـــد کـــوي مخ په وړاندې حرکت کوي. زماپه انداهماغه زغم دی ، هغـــه چـــې دګانـــدي دخـــورا ستراوپراخ میراث په توګه تاسې روزي ، هغه چې مورِ باید ډیرڅه ترې زده کړو.

پردې برسیره ، نن سبا مورِ باید دهغوی چې خالي لاس ښکاري اوخالي لاس نـــه دي، هغه چې وســـله وال نـــه دي ،اوپـــه خپلوافکـــارو وســـله وال ښـــکاري ، ډیرڅـــه زده کړو،دهغوی روحی ارزښتونه داتوان لري چې دیوه آزاد اوخپلـــواک جهـــان لـــه پـــاره وجنګیږو اونړۍ دتشدد له غم څخه بې غمه کړو. دهمدغه اصل په رڼـــاکې زه پـــه دې ډاډه اوباورلرم چې دګاندي پیغام داسې دروند اوتلپاتې دی، لکـــه چـــې ددغوپیـــاوړو غرونوډېرې دي، لکه دغه ټولې هیلې چې دلته دګاندي درناوی کوي ، دهغه پرهیـــواد ویاړي اودهغه له مخې دعدم تشدد دغه ورځ چې ملګروملتوپه دغه نامه اعلام کـــړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نمانځي ، دابه ټول هغه څه وي چې راتلونکي نسلونه به هم له دغې جادويی تګــلارې څخه ډېرڅه زده کړي ، له ده څخه مننه !**

---

**دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي لــه انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .**

**ليکوال : دايتاليا دلومړي وزيرمرستيال اودکلتور وزير و.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۵)

## راج مهان ګاندي



## ګاندي دشلمې پیړۍ یو لوی اتل

---

لی نویل ابزیروتیور ، له راج مهان ګاندي سره دګاندي دژوند اوعصرپه باره کې مرکه کړې، دغـه هماغـه مرکه ده چې ددغه فرانسوی اخبارکې د ۲۰۰۷ کال په اګست کې خپره شوې ده.

---

هغه دشلمې پیړۍ له لویو اتلانو څخه دی،یوشمیرخلک هغه داوسنی عصردمسیح په سترګوګوري ،خوهغه په رښتیاهم داسې څوک وچې خپل خلک یې دخپلواکۍ په لور لارښونه کړل ؟ هغه څنګه عدم تشدد رامنځ ته کړ او څنګه یې پرانګریزانو باندې بری ومونډ ؟

(وینسټ جوورل ) ددغه لوی اوبې ساري اتل وروستې ځان ناستی موندلی . دګاندي زیات پاتې شونې اوملګري داسې چې دمهاتما لاره یې وڅارله دوی ټولو خپلـې هغـه کیسې چې دګاندي دآزادۍ دمبـارزې، دزنـدان دشـپو، دلیـدرانو دماتواوشـکونو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومتوب ،له ماشومانو اومیرمنې سره دهغه داړیکو، دهغه داغیزناک توب ، نړی لید اوباورنه کیدونکې کړو وړواوکرکترپه اړه درلودې هلته دلته یوبل ویلې او رسولې دي .
هغه دخپلوخلکوله پاره مهاتما یالویه اروا اولوی اتل و، پیروانواوپلویانویې هغـه دبپـو (پلار) په نامه باله ، دهغه نوم مهنداس کرم چند گاندي و، دهغه په مړینه نـامتو پـوه انشتاین خپله خواشینې څرګنده کړه اوویې ویل :
« راتلونکي نسلونه به پرداسې یوه سپیڅلي سړي باندې دزړه له کومي باورمن وي » .
اوپه رښتیاهم چې حیرانوونکې خبره ده .
په هند کې ،چیرې چې خلکو همدا اوس دخپلـې آزادی شـپیتمه کـالیزه ونمانځلـه ،گاندي دغه بوډا سړي یې پرفضا باندې ولاړدی اوپه موسکا سره هرې خواته گوري :
بانک نوټونه، پستي ټکتونوته ،دکورونو ، ښوونځیواوتالارونو دیوالونو ،ان چې دبالیود سینما هم په خپلوشـعارونو کـې بیوتـل پـاتې لـوړاو اوچـت اودهنـد لـه پیـاوړو لارښوونکوڅخه وباله اوپه دغه ترځ کې یې ځان ښودنه وکړه .
خودنورې نړی لپاره تردې هم لوړدی ،هغوی ټولوګاندي په شـلمه پیـړی کـې دیـوه مورالی ځواک په توګه منلی داسې لکه دنوي عصرمسیحا، هغه دبیلابیلووچو نومیالیو مشرانو لکه مارتین لوترکینګ، لیچ ولیسا اونلسن ماندیلا ته سترالهام شو.
همداسې موږ په دې نژدې وختوکې دنړی پـه یوشـمیرزیاتو برخـو کـې د نـارنجی انقلابونو لکه په جیورجیا، لبنان اواکراین کې چې دګاندي پـرتګلاره بانـدې ترسـره شول شاهدان یو.همداسې په ۲۱ پیړی کـې هـم دده دسـولې ،رښـتیاینې او زغـم پیغامونه تربل هروخت اړین اودپاملرنې وړدي .
ګاندي څوک و ، دغه دزړونو اویادونو اوپرهرچا ګران سړي ، دغـه سـیکیولرروحانی ،دغه فداکاره انسان ولې په خپل ژوند کې دژوند دغه نوې تګلاره دخپـل پیغـام پـه توګه ترلاس لاندې ونیوله؟
دده لمسی راج مهان دمهاتما ګاندي مهم ژوند لیک چاپ کړ. هغه نویل اوبزرویتور ته ددغه ایالتې وکیل ، سابه خوري ،څوک چې نیمه پیړی دعملي مبارزې اوکړنې له امله دخپلواودنړی دخلکو لپاره ازمویونکی کتونځی اوتکیه ځای شو.
نویل ابزرویتیور :

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې هغه په ۱۸۶۹ کال کې وزیږید، دهغه کورنۍ په هغه وخت کې دپوربنــدرچې دبمبۍ په شمال کې یوه کوچنې سیمه ده له نومیالیواو درنوکورنیوڅخــه وه، پلار یــې کرم چند ګاندي پرهغه مهال لوی دیوان یانې دهغې سیمې شـــهزاده اولــومړي وزیــر وچې هغه سیمه اودهغې خلک یې لاړښوونه کول. په لنډه توګه چیرې دهند ددغه راتلونکي خپلواکي غوښتونکي بډای میراث نه وای ، هغه به په رښتیا هم دغې لوړ تیا ته رسیدلی وای.

ن .ا : اوپه ډیرمذهبي ډول ؟

ر.ګ : هو، په کورکې یې دهندویزم مقدسات، په کوموپورې چې ګاندي اړوند وتول عملي کیدل،دعا وې اوعبادت به په ورځ کې څوځوځلې ترسر ه او ویل کیدل ، هلته نه څه څکول کیدل، نه شراب خوړل کیدل، غوښه نه یوازې منع وه بلکه ددې اجــازه هم نه وه چې پرهغې باندې څوک ولګیږي.

ن.ا : هغه په خوراځواني کې واده هم وکړ؟

ر.ګ : دې دخپل واده پرمهال (۱۲ ) کلن و،دده پلاراومور یوه نجلۍ ومونده چــې دده له پاټکې اودده په عمروه ، کستور. هغه خورا ښکلې ، خو نالوستې وه ،هغه ترمړینې پورې دده دمیرمنې په توګه له ده سره یوځای وه . یوشپیته کاله وروســته پــه ۱۹۴۲ کال کې مهنداس تل دخپل پلاردغه عمل چې ده ته یې په کوچینوالې کې په زور واده کړی و انتقاداوه، دی دخپل ژوندپه اوږدوکې دماشومانودواده کولو پرخلاف و.

ن.ا : په ۱۹ کلنې کې دې دزده کړې لپاره لندن ته ولاړ، لامل یــې داو چــې دې پــه هندې لوړوکورنیوکې راته ...

ر. ګ : هو، په هغه وخت کې ، یانې د نولسمې پیړۍ پــه وروســتیوکې یــوازې دوو سووتنود امپراتورۍ پلازمینې ته سفروکړ،مهنداس یوله همدغوزده کوونکــو څخــه و چې ده انګریزې واکمنې ، دهغې قانون ، دهغې دود په ښه توګه پیژندلې وو. هغه چې په رښتیاهم ده بیا دهغې پرخلاف خپله جګړه پیل کړه. خولندن ته تګ هــم دځــوان ګاندي دآزادخیالۍ یوه نښه وه ، په داسې حال کې چې دده دپاټکې مشران په دې نه ووخوښ چې هغه دې لندن ته ولاړشې. دهغوپه وینا چې بنیا ( هغه پاټکې چې ګاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرهغه پورې اړوند و) یورپ ته ځي چې هلته له انګریزانو سـره وخـوري اووښـي .
خومهنداس دا هوډوکړ چې ددوي پرخلاف په دغه ترڅ کې ګام پورته کړي .
ن. ا. : په لندن کې دريوکالو زده کړې پرده باندې ژوره اغیزه وکړه ؟ خو داپې ردولـه چې بايد عیسوي شي ؟
ر.ګ : ګاندي د مسیح تراغیزه لاندې و، هغه چې په هندويزم کې هیڅ ډول بیلګه نـه درلوده، هغه (سیرمون ان ده مونت) ولوست ،خو کله يې هـم ددې لـه پـاره خپلـه لیواتیا،سره له دې چې عیسوی دوستانويې زيات هڅاوه ونه ښوده چې هغه دې ومنې اووړواد وړي. ځکه دې په دې باورنه وچې مسیح دې دخدای یوازنې زوی وي. په دې چې که ده دامنلې وای ماناداچې ده بايدهندويزم رد کړی وای ،مګرهغه دعمرترپایـه په هندويزم باندې ولاړ هندوپاتې شو.
ن. ا. : له کله يې دمبارزې په ډګرکې دپاتې کیدو اودريدو ژمنه وکړه ؟
ر.ګ : دا ۱۹۰۶ کال و، په دغه کال زولوقبیلې دانګریزانو پرضد پاڅون وکـړ، ګانـدي سره له دې چې له زولوسره يې خواخوږي درلوده ، خو ده داسـمه وبللـه چـې بايـد دانګریزانو اطاعت وکړي ،په حقیقت کې داهغه وخت وچې ده کله هم دافکرنه کـاوه چې دی به دهنددخپلواکی له پاره متې رانغاړي. ده پردغه مهال یوازې هلته دهندیانو له حقوقونوڅخه دسستم په دننـه کـې دفـاع کولـه. همـدا لامـل وچـې ده ځـان دانګریزانواوزولو دجګړې په ترڅ کې دامبولانس په ډلـه کـې ونیـو. جګـړې خـورا دردونکې وې ، سراسرتشدد،وژنواوسـاديزم دهغـه احساسـات وځپـل اودنـاروغی احساس يې وکړ، اودغه عمل دده ژوند له بدلون سره مخامخ کړ. هغـه بـه وروسـته دجګړې انځورايستلی وای،خوده خپل (پلاوی ) ته لاربښـونه وکـړه چـې دوی بايـد دحقانیت او نه زورزياتي له پاره تبلیغ وکړی . اومهاتما له همدغه ځايه راوزيږيد.
ن.ا : ولې ګاندي د نه زورزياتي مبارزې ته ډيراهمیت ورکړ ؟
ر.ګ : هغه دامريکايي لیکوال ( دیوید توريـو ) تراغیزلانـدې و،هغـه چـې دولسـي سرکښی دمفهوم کاشف دی ، لکه دهغه په شان دې هم په دې باوروچې یوتبعه بايـد داحق ولري چې دغیرمورالي واک په وړاندې سرکښـي وکـړي اوراوپاريږي.برسـيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پردې هغه په دې باوروچې څه په تشدد سره غوښتل اوعملي کيږي ،هغه بايد په تشدد سره وساتل شي ،هغه وويل :
( پای په ماناکې دی ،لکه څنګه چې ونه په تخم کې ده ) .
ګاندي په دې پوهيده چې دانګريزي واکمنې په وړاندې وسله وال مقاومت سم نه دی ، ځکه چې ماتيږي . همداوه چې هغه (ساتياګره ) چې مانا يې په هندي کې ( درښتيا پياوړتيا ) ده رامنځ اوومنله .
ن.ا : څنګه ساتياګره ، بالاخره انقلابي شوه ؟
ر.ګ : ګاندي هغه څه ترسره کړل چې نورچا هغه کله هم په دغه پراخه اندازه اودغې ځواکمنۍ نه وو ترسره کړي. هغه خپل پلويان د نه زورزياتی تګلارې ته راوبلل اوهغه يې دساتياګرانوپه نامه يادکړل. په دغه لاره کې ده دپاملرنې وړپيروان په نښه کړل چې دساده ژوند، مذهبي باور اوعدم تشدد پربنسټ روان شول.
ن.ا : هغه په رښتياني ډول ، دتبليغاتواورسنيولوی تاريخ جوړونکی و ...
ر.ګ : هو، هغه تربل هرچا دميديا په اهميت اووړتيا باندې پوهيده،هغه تل ددې له پاره هڅه کوله چې دخپل مرام لپاره تبليغ وکړي، هغه خپله ورځپاڼه راوايسته ،هغه په هدف کې ځکه وړونکی شو چې ده تل خپل اړيکي دنړۍ په هره برخه کې له ژورناليزم سره وساتل اوهمدايې ويل چې :
( زه دنړۍ خواخوږي غواړم ).اوبيايی دخپل هويت اوله پرګنوسره دخپلواړيکو لپاره خورا پياوړي سمبولونه په ګوته کړل . له څوځوهلوځلووروسته يې په ۱۹۲۱ کال کې ساده نري کالي (دوتی ) واغوستل ، اوځلورسوه مليونو هنديانوته يې وويل
:(( زه هم يوله تاسې څخه يم )).
ن.ا. : څه شی ده په رښتياهم دخپلوخلکولپاره غوښتل ؟
ر.ګ : خپله واکمني .
ن.ا : ده دانګريزانو دايستلوپه اړه څه فکرکاوه؟
ر.ګ : دنه زورزياتي تګلاره ، هغه فکرکاوه چې دغه واکمنی تريوه کال زيات عمرنه شي موندلای په دې شرط چې خلک له دوی سره ملتيا پرې کړي ، ماليه ورکول ودروی ،ښوونځيوته ولاړ نه شي همداسې پوليس اوپوځ ... څرګنده ده چې ، دده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو ټکو اونه اطاعت باندې دخلکوقانع کول په خپـل وارخــه آســانه خبــره نــه وه .
انګریزانو لامخکې ان پرمالګه چې دژوند ترټولو ساده اوبې ارزښته څیز و هــم مالیــه
لګولې وه. هغه څه چې دهندپه سواحلوکې په پراخه اندازه پرته وه ،خو هندیانو داحق
نه درلود چې هغه په خپل سردانګریزانو له اجازې پرته  راټوله کړي . دی دهمدغې بې
عدالتې په وړاندې راوپارید اودمالګې لاریون یې پیل کړ.
د ۱۹۳۰ کال دمارچ په ۱۲ سهار ګاندي له خپلو اتیا ساتیاګرانو سره له خپل اشرم څخه
راووت ، واټن اولوری یې  سمندر و، چې څلــور ســوه کیلــومتره لــرې و، پلــی  یــې
پرهرښاراوهرکلي غونډې کولې اوخلکوته یې بلنه ورکوله چې له دوی ســره یوځــای
شي، ددوی برې دحیرانتیاوړو. دهندویسرای نه پوهیده چې ددوی پــه وړانــدې څــه
وکړي ،هغه ډاریده چې که دوی ونه درولي  ، ددوی لیکې دخلکودګډون په تــرخ کــې
لاپیاوړې کیږي .خو له دې سره سره ، دری اوونې وروسته ګاندي په دې وتوانیده چې
یوموټې مالګه  د(دوندي) له ساحل څخه راپورته کړي اوهغو په زرګونو خلکو ته یــې
وروښیی چې له دوی سره یوځای شوي وو.ددغې پیښې انځورپــه ګــرده نــړۍ کــې
خپورشو ، اولویه کنایه هم دا ورسره مل شوه چې : هندخپل برخلیک پــه خپــل لاس
کې نیولی دی!
ن . ا  : دانګریزي مقاماتوعکس العمل څنګه و ؟
ر.ګ : دوی یې وترټل ، لومړی خویې په زرګونه کسان دګاندي په ګــډون زنــدانو تــه
واچول ، وروسته یې هوډوکړ له هغه چاسره چې خلکو مهاتما باله دخبرو لاره پرانیزي
،همداوه چې ګاندي دویسرای لارد اروین سره مخامخ وکتل ،اواصلي ټکي داوو چې:
هندیان چې څومره یې زړه وي مالګه ټولولی شي،زند انیان باید راخوشی شي . چــې
داپه خپله  دګاندي لپاره پرزوورزیاتې  امپراتورۍ باندې دبري یوه سمبولیکه اتلولي وه.

---

◘ دغه مقاله په  ۲۰۰۸ کال  د (هندلید ) له مجلې څخه  چې دهند دباندنیوچارو وزارت له خوا خپریــږي
له انګریزي ژبې پر پښتوژباړل شویده .

◘  راج مهان دګاندي لمسی دی چې اوس په امریکا کې ژوند کوي ، دی وخت ناوخته دګاندي دافکــارو
په اړه له نړیوالو خپرونو سره مرکې کوي اوپه دغه برخه کې لیکنې خپروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۶)

# ویم ډیټمن

## موږ کولای شو ډیرخه
## له ګاندي ښخه زده کړو.

---

د ۲۰۰۷ کال دجون په (۱۵) دملګروملتــو عمــومي غونــډې درایوپــه اتفــاق داومنله چې د اکتوبر دویمه نیټه باید ( دنه زورزیاتي دنړیوالې ورځې ) په توګه دهند دنومیالي بچي مهاتما ګاندي دنامه په درناوي ونمانځل شــي. زمــا لــه پــاره دهــاګ دښاروال په توګه دډیروپارځای دی چې نن دلته دسـولې پــه دغــه تــالارکې دهغــه نومیالي اتل دیادپه غونډه کې له تاسي سره یوځای برخه اخلــم. دهغــه چــا دیادپــه غونډه کې چې هغه په رښتیاهم دنه زورزیاتي هغه اتل دی چې په دغه توره باندې یې هند په خپلواکې سرلوړې کړ.
هاګ په ژوره توګه ځان له ګاندی اودهغه له افکارو سره اړوند بولي ،په هغه وخت کې چې ګاندي په جنوبي افریقا کې د نه زورزیاتي غورځنګ دبرابروحقونو په خاطرراپیل کړ، په هغه مهال کې دلته دسولې لومړني کنفرانس جوړشو چې دغه ماني یې پرځای باندې جوړه شوه. لومړني غونډه هم ډیره زرپه دغــه ځــای کــې چــې لوبغــاړې یــې دامپریالستی ځواک استازي وو جوړه شوه. دویم کنفرانس چې دلته په ۱۹۰۷کال کې جوړشو هغه زیات دهغو قوانینوپه اړه و چې هغه دجګړې په اړه نه بلکې دسـولې پــه اړه ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوداپه دې مانا هم نه وه چې ګواکې ددې کنفرانس ګډون کوونکي زیاتره پــه خپلــه ددې له پاره په دوو پښو وو چې ګواکې دوی دسولې پلویــان نــه ول ،پردغــه مهــال دسولې لومړ نیــو هڅوونکواوفعــالانو لکــه (ویلــیم ســتید ) او (بریــت ون ســوتنر) دکنفرانس په څنګ کې دغونډو اولکچرونو په جوړولو باندې لاس پــورې کــړ چــې د دوی دغو هڅو په نیغه توګه دګډون کوونکو هیوادو پراستازو باندې خپله مهمه اغیزه درلوده.

په روانه پیړۍ کې هاګ دنړیوال عدالت اونړیوالې همکارۍ دمرکزپه توګه وده وکــړه ، اوس په ۲۰۰۷ کال کې دلته بې شمیره سازمانونه په دغــه ښــارکې دلاســوله ییــزې اوخوندي نړۍ لپاره په کاربانديې لګیادي. دهغې نړۍ لپاره چې نوره به دهیوادو ترمنځ دجګړو اوکړکیچونو ډګرنه وي ،اویوازې دقانون محکمه هغه چې دبشري حقونــو لــه پاره یوازنۍ مرجع ده هغه به په نړۍ کې دخوندیتوب دنده ترسره کوي.

هاګ له ګاندي سره یوازې په دې تړاو نه لري چې ګواکې دادسولې ښــاردی ، بلکــې تردې هم مهمه داچــې دغــه ښــارپه ټولــه اروپــاکې یــوازنې ښــاردی چــې زیــات شمیراســتوګني یــې هنــدیان دي. مانــا داچــې دهــاګ دښــار لــه څلویښــتو زرو اوسیدونکوڅخه نژدې په سلوکې لس هندي آري دي . همداده چې هاګ کیدای شي دنیدرلنډ پلازمینه نه، بلکی هغه ته په یقینی توګه هندوستانی پلازمینه هــم ویــلای شو . ځکه چې هندیان اوس ځانونه ددغه ښاراصلي اوسیدونکي بولي ، داســې چــې دوی تراوسه هم خپل تړاو له هند اوسورینام سره نه له یاده ایستلی اونه یــې پــرې کړی دی . له هندڅخه سورینام اوله هغه ځایه نیدرلند ته ددوی دمهــاجرت یادونــه هغه څه دي چې دهندوستاني ټولنې له خوادهاګ مانۍ ته دمهاتما ګاندي دمجســمې په څیره کې ور کړي شوی دی ، زه په خپله ددغې مجســمې دځــای پرځــای کیــدو دمراسموپه ترڅ کې هلته وم چې زه یې له شکه پرته دیوې حیرانــۍ پــه ســمندرکې ورډوب اودځان پرلوریې وروهڅولم ، په رښتیاهم ددغې مجســمې پــرمخ خاموشــۍ اوجذابیت زما دزړه احساس ماته راتشریح کړ :

« زه غواړم چې دټولې نړۍ کلتور زما دکورپرسرپه آزاده توګه راوالــوزي ،خــو زه بــه داونه منم چې زماپښه دې دچا پرلور وراوچته شي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

**آياداشونې ده چې په کليموکې دې ديوه پرانستې ، آزاد اوګڼ کلتــوري ښارســتاينه وشي ؟ دهمدغه آرپه پام کې نيولو سره موږ ټول دلته په نيدرلندکې تراوســه پــورې ډيرڅه له ګاندي څخه زده کوو، ځکه چې داترهرڅه په زړه پــورې اودپــاملرنې وړده چې داکتوبر د دويمې دنمانځلو په ترڅ کې به نوردتل لپاره دګاندې له ياد اودهغه لــه افکارو سره په تړاوکې وو: دسولې يوه خوندي نړۍ ، له تشدد اوبيوزلۍ څخه امن .**

---

▫

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي له انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .

▫

ليکوال دنيدرلند دهاګ دښارښاروال دی اودغه وينايې په هغه غونډه کې چې دګاندي دزيږيدو دورځې له امله جوړه شوې وه دغونډې ګډون والو ته ور واوروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۷)**

# نویلین هیزر

## دګاندي معنویت ژوندی دی

---------------------------------------------------------------

دغه لاندي وینا دهغې مقالې لړۍ ده چې میرمن نویلین هیزر دملګروملتــو اندرســکریتری جنــرال اود اسکاپ اجرایوي سکرتری په بنکاک کې دعدم تشدد دنړیوالي ورځې دنمانځلو په غونډه کې واوروله .

ز دلته دژور ویاړ اوخوښۍ احساس کوم چې ستاسې په وړاندې دعدم تشدد دلومړۍ ورځې په ویاړ چې دمهاتما ګاندي دسولې ،تفاهم اوعدم تشدد له پیغام سره تړلې ده خبرې کوم .

دغه نمانځنه زمالپاره هم په ځانګړې توګه دپاملرنې وړده ځکه چې دازما لومړۍ ځل دی چې د اسکاپ دسکرترې په توګه له ټاکل کیدو وروسته پــه داســې یــوه عامــه غونډه کې خبرې کوم .

دغه شیبه ماته داحق راکوي ،چې د هغواقتصادي ، ټولنیزو اوچاپیریالي پیښو په اړه چې دآسیاافاسفیک سیمه ورسره مخامخ ده ددغه سترلارښود مهاتما ګاندي دتفکرپه رڼا کې وغږیږم . دګاندي دوه اصله ، دبې عدالتي پرضد هڅه یا عدم تشــدد اوســوله ییزه سرکښې ، هغه چې یونړیوال وړاندیزدی له هندسره دامرسته وکړه چې دهغوپه رڼاکې خپلواک شو، بشري حقوق خوندي شول،اودعدالت اوخپلواکۍ هنګامه په نړۍ کې خپره شوه. هنددغه لړۍ په پرله پسې توګه ترننه پورې وساتله،لکه څنګــه چــې اوس موږ هیله من یو چې په خپله سیمه کې دغه کټ مټ نظریه داقتصادي ، ټــولنیز اوجنسی عدالت پربنسټ عملي کړو.

ګاندي په دې باوري وچې دتشدد ترټولو بده څیره بیوزلي اوخواري، تعصب اوټولنیزه ګډوډې ده ، دبیوزلۍ ، ښځواوماشومانو پرضد تشدد تراوسه پــورې مــوږ پــه خپلــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

منګولو کې نیولي یو، په آسیااوفاسفیک سیمه کې دغه کچه خورا لوړه ده ،ځکه چې په دغه برخه کې خورا لږ څه تراوسه ترسره شوي دي. سره له دې چې دغه سیمه په چټکۍ سره د ودې په لور روانه ده،خو له دې سره سره هم دعاید کچه خورا ټیټه اوپه هیڅ حساب ده. د آسیا فاسفیک سیمه چې د (۶۴۰) ملیونو وګړو کور اواسـتوګنځی دی ،زیاته برخه یې له خوارۍ اوبیوزلۍ سره لاس اوګریوان دي .

خو له دغو ستونزوځخه دوتلو لار لکه څنګه چې ګاندي پرهغې باندې ټینګارکوي هغه ،هماغه دخلکو ځواکمن کول دي، په تیره بیا بیوزلي خلک اومیرمنې چې له اقتصادي پلوه باید په خپلوپښو ودریږي. مهاتما ګاندي ویل چې دټولنیزعدالت لپـاره راپورتـه شی ،چې داچلند په وارسره دبرابرۍ اوعدالت وده ده چې دهغه په ترڅ کې ټیټ ژوند د ودې لاره نیولای شي ،زموږپه عصرکې ترهرڅه دمخه داقتصـادي اوټـولنیزې ودې ترڅنګ داډیره مهمه ده چې دروغتیا اوښوونې اوروزنې په برخوکې دپرمختـګ پـه لورګامونه واخلو،ځکه چې زموږ سیمه په دغه برخه کـې خـورا زیـاتې پـاملرنې تـه اړتیالري ، باید په دغه برخه کې دګاندي پراصولو باندې دزړه له کومې ټینګاروشـي. دګاندی اصول په دغه برخه کې داټینګارکوي چې دتنـې پـه کیکښـلو سـره بایـد اقتصادي حالت له ناسم نظم سره ددې ضمانت و کړي چې ټولنـه بایـد دودې لـوړې پوړۍ ته ورپورته شي . ځکه ترهرڅه دمخه داضروري ده چې باید یوسم جوړښت په دغه برخه کې دعدالت پربنسټ رامنځ ته اوپرمختګ وکړي.موږ باورلرو چې تر ۲۰۱۵ کال پورې به (۲۳) ملیونه ماشومان دلوږې له درده ونه کړیږي ، تریوه ملیـون زیـات ماشومان به دپنځه کلنۍ په عمرباندې نه مري ،اوڅلورملیونه ماشـومان بـه پـه دې وتوانیږي چې لومړنۍ زده کړې وکړای شي.

دګاندي داصولوله مخې سوله زموږ ورځنۍ اړتیـاده ، آسـیا فاسـفیک سـیمه اوس دنړیوالې اقتصادي ودې په لور روانه شوې چې ددې کار له پاره موږ ترهرڅه دمخه په ملي او سیمه ییزه کچه نورو هڅو تـه اړتیـا لرو،ځکـه نومـوږ بایـد اوس دهمـدغې اقتصادي وړتیا په څنګ کې دټولنیزې اوانساني ودې په فکرکې هم شو.

دښځوپه وړاندې تشدد اوس په خورا پیاوړې کچې کې دی ، چـې بایـد ودرول شـي. داستونزه کیدای شي چې په کورنیواوټولنوکې دملیونو ښځواونجونو له مخې لرې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي. نن سبا وسله والې شخړې ، پرښځوتيري اودوسلې په زور پرښځو باندې جنسي تشدد زغمل په خپله بدرنګې خيرې سره برلاسی دی، له ماشومتوب څخه ترزړبودۍ پورې ، دولورله ستونزو نيولې بيا ترجنسي تيری اوتښتولوپورې درندې ســتونزې دم ګړی دښځوپه وړاندې پرتې دي.، زموږ خوب ددې غميزې اوتشدد په وړاندې يوازې اويوازې دادی چې دښځوپه وړاندې پلان شوی توپير اوستونزه بايد په هــره خــواکې دهيوادو دمشرتابه اوواک لرونکو مقاماتوله خوا ترلاس لاندې ونيول شي .

همدارنګه دمهاتما ګاندی په وخت کې دچاپيريال په اړه کوم بحث نه و، په دې چې په هغه مهال کې دومره زياتې ستونزې دايکولوژيکــو انديښــنو پــه اړه لکــه چــې نــن ترسترګو کيږي نه ترسترګو کيدې ،دهغه د ژوند ساده ډول موږ په دې بــاوري کــوي چې ددغې ځمکې پرمخ دخپلو ماشومانو اوبشــريت دراتلــونکی پــه خــاطر دخپــل چاپيريال په فکرکې شو، نن سبا دآسيا فاسفيک سيمې دپراختيــا پــه اړه دګانــدي پيغام انتقادي بڼه لري ،ځکه چې په دغه برخه کې داقتصادي ودې اوټــولنيزې ودې د پياوړتيا ترمنځ انډول په خپله دچاپيريالي ستونزو لامل شوی دی. .

لکه چې ماياده کړه زما کار په اسکاپ کې دادی چې دجوړونې له پاره ســيمه ييــزې همکاری په داسې توګه چې په هغې کې داقتصادي اوټولنيزې ودې اوچاپيريالي وړتيا اصلونه په پام کې نيول شوي وي په پام کې ونيسم .ددې په څنګ کې داهم څرګنده ده چې دمهاتما ګاندي دعدم تشدد پيغام به له شکه پرته زما دهڅو محــور وي هغــه چې ويلی يې وو:

« سوله به کله هم له پرمختګه پرته خوندي نه شي ، اوکله به هــم کــوټلی پرمختــګ دښځو اونارينه وو له برابرې برخې اخيستنې پرته شونی نه وي »

دهغه اروا دې ښاده وي

---

دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي لــه انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .

ليکواله : ميرمن ميرمن نويلين هيزر دملګروملتو اندرسکريتری جنرال اود اسکاپ اجرايوي سکرتره ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۱۸)

## راتوجوني مد ریاواوي

## دګاندي د ویښتیا څارنه ...

---

دمهنداس کرمچند ګاندي ژوند دهغه دآزمویني اوتجربـې ډګـرو، هغـه بـه پـه دې ډیرخوښ شوی وای چې که مونږ دهغه پرګامونو باندې خپل ګامونه پـه ریښـتیا سـره پورته کړي وای. هغه په خپل عصراوزمان کې دملیونو خلکو له خـوا ملاتړاووسـتایل شو،ګاندي په نادره توګه ځانته اجازه ورکوله چې په کبراوغـرور دی ځـان سـرلوړی وښيي. دهغه پوهې اودرک یوازې ددې له پاره لاره پرانیسته چـې دبشـري طبعیـت اوکرکتر ژوراستازیتوب اوخرګندونه وکړي . زه په دې هم باورلرم چې هغه یوه داهیله هم درلوده چې هغه باید لکه دیوه عادي وګړي په شان یادشي ، نه داچـې هغـه پـه پټوسترګو له ریښتیني اوحقیقي نړۍ څخه وتلی اوپریوه خواوبلل شي.

دګاندي په انداوژوند کـې دا ترهرڅـه زیاتـه مهمـه اودپـاملرنې وړوه چـې دده آر اوریښتینی پیغام دهند لپاره انساني وروروولي ، سوله اوبسیاینه وو. دهغو ی لپاره چې له خپل لوی اوپراخ هیواده ناخبره اوله هغه سره ناآشناوو. دلته سره له دې چې ددغه هیوادډیرکی هندوان هم دي خو له دې سره سره دغه هیواد دخپل جوړښت له مخې دبیلابیلو فرقو اوډلو ټاټوبی اوکوردی چې دژونداو استوګنې بیلابیل ډولونه اودودونـه لري .

هند دیوه ځانګړي اویوازني کلتور مینه اوسیمه نه ده ، ځکه نو زیاتره خلک له دغـه هیواد سره مینه لري ، داهیواد دبډای کلتوربډای بنسـټونه لـري چـې دکلتورونـو ، مذهبونو ، ژبو ، فرقو اوباورونودجوړښت هیواد ورته ویلای شو. ګاندي جي دغې نیمې وچې ته له جنوبي افریقې څخه راغی اودانګریزي واکمنې پرخلاف یې ددغـه هیـواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسمبالولو کارته دعدم تشدد دتــوري اوانتقــاد پــه زوراوړي ورکــړي . دده هڅــونې دهندولس دصفر له برخليک څخه دځواکمنی په لور راپورته اوشعوريې ورکــړ. هنــد دتيرو شپږو لسيزو په اوږدو کې سره له دې چې دلته خورازياتې ستونزې اوتوپيرونه وو بیاهم يوموټې اوواحد پاتې شو.سلمان رشدي دخپلې يوې مقــالې پــه تــرڅ کــې داوسني هند دطلايی نمانځنې( ګلدن جوبلي ) په درشل کــې داخبــره وکــړه چــې داهيواد په توپيرونوکې دزغم اوتحمل پیاوړې پايله اوثمره دی .

هغه مهال چې ګاندي جې ونه شوای کولای دپاکستان دجوړيدومخه ونيسي ، له هغه سره سره نن سبا هند په نړۍ کې له اندنيزيا، نايجريا اومصرڅخه وروسته دمسلمانانو ستراکثريت کوراوهيواددی.اجازه راکړئ چې داپه ډاګه ووايم چې دوی به کلــه هــم دپاکستان په لورمهاجرشوي نه وای که چيرې په هندکې هغه تګلاره په پام کې نيول شوې وای لکه چې ګاندي يې هيله درلوده. دده نړۍ ليد په داسې يوه وړه دايره کې نه ورانښکيل چې هغه به دنورو مذهبو درناوی دهندويزم په مقابل کې په پام کې نه وای نيولای. هغه له جواهرلال نهرو اونورو مشرانو ســره يوځــای اوپــه يــوه خولــه ديــوه سکيولردولت دجوړولو په کارباندې دزړه له کومي پوهيده. داسې چې په هغه کې بايد دهرې ډلې اوهرعقيدې دخوندي ساتلو خبره له ياده ونه ايستل شي اودهغې ضمانت بايد وکړای شي. ګاندي په دې پوهيده چې مذهب ددولت لپاره داندېښنــې وړ ټکــی اوستونزه نه ده ،بلکې يوازې ځاني لوړتيا ده چې ديوشميرخلکو په کرکتراوکــړو وړو کې په څرګنده داندېښنې وړ ده.

په هرډول هغه ديوه حساس هندي په توګه داپه ډاګه کــړه چــې دی ددغــه هيــواد اوخلکويواړوندڅوک دی ، اوپه عين وخت کې دی په دې هم وتوانيده چې پــه خپلــه وړتيا سره خپل خلک راوپاڅوي اودنړې دخلکوپه شان يې دلوړتيــا پــه لورلارښــونه کړي اوله هغوی سره يې په يوه کتارکې ودروي. چې لامل يې په دغه تــرڅ کــې پــه څرګنده توګه آزادي ،برابري ،عدالت ، زغم اونه زورزياتی و چــې دزمــانې نوميــاليو مبارزينولکه مارتين لوترکينګ، نلسن ماندیلا، ان سان سوچې دګاندي دغه تګلاره په خپله کړو کې په پام کې ونيوه اوپه دغه برخه دګاندي پلويان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پربل څه باندې چې زه دزړه له کومي باورمن يم هغه دادی چې کله پــه فيجــي کــې دښکيلاک ضد غورځنګ په خپله په تشدد اوزورزياتي باندې وانه وښت داهم داندو - فيجي داړيکو برکت و. له ۱۹۳۰ کال څخه بيا تــر ۱۹۸۰ کــالونو پــورې زموږدهيــواد داوسيدونکو ډيرکې برخه هندي فيجيان ول ،دیادو شويو کالونوپه ترڅ کــې هنــدي ټولنې په پرله توګه دخپلوحقونو لپاره په ټينګار لاس پورې کړی دی چې له نيکمرغه دلته تراوسه پورې کله هم خبره دتشدد او زورزياتي ترپولې پورې نه ده رسيدلې. په داسې يوه هيواد کې لکه زموږ چې دبيلابيلو کلتورونــو، عقايــدو اوخلکوهيــوادډي يوڅه خورا ځرګنداودپاملرنې وړدي چې هغه زموږ دشته والي لامل شوی هغه په خپل هيواد کې ديوه اوبل په وړاندې زموږ زغم اودرناوی دی. اوداهغه ډالۍ وه چې ګانــدي دهغولپاره راپورته اودخلکوپرمخ کې پرميدان باندې ودريد.
دګاندي زړه هغه مهال په خپلوهڅوکې مات شوچې کله مسلم ليګ دمحمدعلي جناح په مشرۍ په ډاګه کړه چې دوی تيارنه دي چې له هندسره په يوه هيوادکې واوسيږي ،دوی غواړي چې ديوه ځانګړي مسلمان دولت په جوړولو باندې لاس پورې کړي.
هغه څوک چې ګاندي يې وواژه هغه په خپله ديوې هندي افراطي ډلې غــړی و، هغــه فکروکړچې ګاندي په خپله دويش اوبلتانه دغه معامله په لوی لاس سره وکړه. په څه شي چې په دغه برخه کې دوی پوه نه وو هغه داوو چې دوی ګاندي نه پيژاند ګانــدی په هراړخيزه توګه ځان دهندي ميراث اوهندويزم دوارث په توګه دټولو په مــخ کــې درولی و هغه به ويل چې دوی بايد له هرچا سره دروغې جوړې داصل له مخې چــال چلند وکړي ، دده افکارو اوکړو وړو په تمامه مانا دده دخپل کلتــور اوخپــل مــذهب ترسيوري لاندې خپله وړتيا ځرګندوله ، هغه پــه دې نظــرو چــې زمــوږ پرشــاوخوا راچاپيره ځمکه بايد له جنګ اوډارڅخه خالي اوپه امن وي.خــدايان اودهغووړتيــاوي ددې لامل شوې چې هنديې په داسې دريځ کې درولې چــې دتــاريخ پــه اوږدوکــې آريايان ،مغل اوډيرنورنيواکګر ددغې وچې په شته والي باندې برلاسي شوي دي. چې داځانګړنه يې زموږ له فيجي سره څومره ورته والی لري؟ موږ پــه هراړخيــزه توګــه دپارتيزاني مبارزې پرضد مبارزه کوو، قومي هويت له مذهبي توپيرونو سره سره دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کټ مټ ډول ترسترګوکيږي . همداده چې له دغه وروستي چلند سره دټولنې دجوړښت په کارکې پرته له توپيره ګام اخستل کيږي.
زموږپه هيواد کې ددواړو مذهبوپلويان مسلمان اوعيسويان جدي هڅه کوي چې ديوه اوبل عقيدو ته درناوی وکړي،همداده چې موږ په دغه برخه کې له دوی سره هيڅ ډول ستونزه نه لرو.اوکه چيرې داسې څه وي نومانا به يې داوي چې دوی هم غواړي دبيلوالي اوځانګړيتوب په لورحرکت وکړي.
دګاندي جې ژوند دچوپړاودسپلين ژوند و، په جنوبي افريقې کې دده دهڅولې پيل څخه بيا دژوند تروروستې پولې پورې هغه له عادي خلکو سره نژدې پاتې شو دادده له پياوړوځانګړنو څخه وه اوداهغه څه وو چې دې يې له هغه چال چلندونوڅخه چې انګريزي ، مغلي اودهندي راجګانو په خپلوواکمنيوکې درلود لوړاوه .
دګاندي دژوند له لويو ځانګړنوڅخه داهم وه چې دده ژوندپه خپل ذات کې يوپيغام و،که هغه نن ژوندی وای ،ښايي په دغه غونډه کې به له موږسره نه و، ځکه هغه به ويلی وای چې موږ بايد دهغه څه لپاره ځان خوارکړو چې دی دهغه لپاره را اوچت شوي و. هغه څه چې موږ هغه په څه شان عملي کولای شول ،دهغه پيغام په رښتنې توګه ډيرمهم دی ،دومره چې موږ هغه يوازې ديوې ورځې (داکتوبر د دويمې نيټې ) په تنګ چاپيريال کې نه شوايساروالای ، موږ دې ته اړتيا لرو چې هغه بايد دورځنی ژوند په اوږدو کې خپل مل اولارښود ومنو.

---

▫
دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي له انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .
▫
ليکوال دفيجي دټاپوګانو دولس مشر پخوانی مرستيال اوداېې هغه وينا ده چې په جنوبي فاسفيک پوهنتون کې يې دمهاتما ګاندي دزيږيدو دکاليزې په مراسموکې کړې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**(۱۹)**

## میخایل . جې . نوجیم

# دامریکا ،
# دعامه حقونو پرغورځنګ باندې د ګاندي اغیز

---

« مسیح دروح اودهغې دالهام په آرباندې لاس پورې کړ خو ګاندي یې په ترڅ کې دعمل تګلاره رامنځ ته کړه »

دغه خبره زیاتره وختونه دامریکا دعامه حقونو دمبارزې داتل ډاکتر مارتین لوتر کینګ (جونیر) له خواتکرار یده . دګاندي دعملي کړنلارې اغیز دامریکایې عامه حقونو په غورځنګ باندې نیغه اغیزه وکړه ، دالاندې مقاله په امریکا کې دبشري حقونو دغورځنګ پر مبارزه باندې دګاندي اغیزه راپه ګوته کوي .

---

دملت پلار اودهنددخپلواکۍ دغورځنګ مشر غوښتل په خپل هیواد کې انګریزي واک پای ته ورسوي ، ددغه چار په خاطرې دنه زورزیاتي دمقاومت غورځنګ رامنځ ته کړ اوهغه یې د (ساتیاګرۍ) په نامه یادکړ . چې مانا یې دده په وینا: « هغه ځواکمني چې په رښتیااورښتیاینې سره پیاوړې وي » ده.

دګاندي ددې اصل تخنیک په عمومي توګه پر درۍ ( آر) ، په درۍ ( اس) اودرۍ (تې ) باندې ولاړدی ، له دریو آرونو څخه یې مطلب ریزستانس یامقاومت ،ریفورم یا سم سمکې او ریډمپشن یاخپلواکي اوخلاصون دي . او له دریو ایسونو څخه یې موخه سمپلستي یاساده ګي ، سلف سفرینګ یا زغم ، اوسرویس یا چوپړدی . اوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریو ټي ګانو ښځه یې موخه ، تروټ یا رښتیا ، ټالرنس یـا زغـم ، او ټرسـت شـیف باوریا صداقت دی .
په عمومي توګه دغه نه زورزیاتی په خپل وار د سولې اوبدلون داسې نښه ده چـې دپوره رښتیاینې او صداقت په ترڅ کې دځاني زغم وسیله هم ورته ویل کیدای شي .
په دغه ترڅ کې ټولې هغه هڅې دیادونې اوپاملرنې وړ دي چې دمینې او درناوي پـه زور سره دخپل مخالف په زړه اوفکرکې رامنځ ته کیږي او هغه پرځان راماتوي .
ګاندي ،هغه څوک چې په ژوره توګه د امریکا یې نیګروګانو دپلوي په توګه پیژنـدل شوی ، هغـه دخپلوهلوځلـو اومبـارزې پـه شـپو ورځـوکې دامریکـا دتورپوسـتو دسترسکالر اولاربښود اودتوروپرګنود ملي ټولنې(ناسپ) دایدیتر ، د ډبلیو ،ایی . بی . دو بویز په نامه یوپیغام هم استولی دی . همداسـې دوبـویزهم د ۱۹۲۹ کـال پـه فبروری کې ګاندي ته یولیک را واستاوه ، په لیک کې یې له هغه ښځه هیلـه کـړې چې هغه باید له دوی سره ددوی په هلوځلوکې مرستندوی شي . هغه لیکلي وو چې :
" توکم او رنګ او س یوه نړیواله ستونزه شوې ، موږ دلته ستا مرستې ته اړیو" کله چې ګاندي دهماغه کال په می کې کوم څه په خپل لیک کې ددوبویز له پاره ولیکـل هغه یې د (ناساپ ) په خپرونه کې چاپ کړل چې په هغه کې راغلي دي :
« راځئ ووایو چې دا دوولس ملیونه نیګرو ولسونه باید په دې ونه شرمیږي چې دوی دمریانولمسیان دي ، که ووایو چې موږ مریان یو په دې کې هـیڅ ډول نـه درنـاوی نشته ،ځکه نه درناوی په دغه ټکي کې دی چې دمریانو خاوندان وو... راځئ چې په دې باوري شو چې راتلونکې له هغوی سره ده ، چې رښتیاني ، مینه ناک او سپیڅلي وي ، ځکه چې مینه هغه ډالې ده چې دهغې ترشا رښتیا ده اوداهغه لاره چاره ده چې سړی دکمینۍ او تواضع پرپوله باندې دروي »
خوله دې سره سره هم دتورپوستود شخړې پـه اړه دګانـدي ډول مقاومـت خبـره دامریکایی نیګروو له خوا د ۱۹۲۴ کال په سمپوزیم کې رامنځ ته او بیا په پراخـه توګه رد شوه . خو د دوبویز دهغه لیک له مخې چې په ۱۹۲۹ کال کې کښلـی ووپـه ډاګه داټکی راغلی چې ایده اومفکوره لاتراوسه هم نه ده مړه ، هماغـه وه چـې پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۹۳۰ کال کې کله ګاندي دمهاتما په توګه راوپېژندل شو، پرهمدغه مهال امریکایی نیګروګانو دهندپرلور هڅه راوکړه څو دلته هغه لومړی لاس زده کړې دګاندي دتخنیک په اړه ترلاسه اوزده کړي چې وکولای شي هغه په متحده ایالاتو کې په عملي توګه ترلاس لاندې ونیسي .
یوځل ګاندي په ۱۹۳۵ کال کې خپل میلمانه هغه مهال له حیرانتیا سره مخامخ کړل چې له دوی څخه یې هیله وکړه څو ده ته دده دخوښې سندره ووایی . ( تاسې هلته وی کله چې دوی زما بادار .....)په زړه پوري خوداده چې کله کینګ په ۱۹۵۹ کال کې دهنددکتنې او لیدنې په موخه دلته راغی پرهغه مهال ده دهندیانو هغې مینې ته اشاره وکړه چې دنیګرو له سندروسره یې درلوده ) . کله چې دوی دغه سندره پای ته ورسوله ګاندی یوه وړاندوینه وکړه : « دبیلګې په توګه ، کیدای شي دا رښتیاوي ، چې دغه نیګرو باید د نه زورزیاتی پیغام نړی ته ور رسوي »
سره له دې چې کینګ پرهغه مهال شپږکلن و،خو ویې کولای شول چې دګاندې وړاندوینه نږدې دوې لسیزې وروسته دیوه تاریخې حقیقت په توګه دخپل عمل لاره کړي .
په ۱۹۴۰ موکلونو کې پرهغه مهال چې کینګ لاهم په کوچنې عمرو ، (اسافلیف رندولف ) یوسوله ییز لاریون دواشنګتن په ښارکې ترسره کړ چې پر فرانکلن روز ولت باندې فشارواچوي څو د هیوادجنګي صنایع سره راټولې او په خپل لاس کې ونیسي . رندلف هغه څوک چې د ورورولۍ دهڅو مشراو په عین حال کې دکارګرانو یو ښه اوپیژندل شوی سازمان ورکوونکی و، هغه په دې باوري وچې دګاندي دمقاومت تګلاره کیدای شي په متحده ایالاتو کې وکارول شي .
په ۱۹۴۷ کال کې هغه یوبل غورځنګ چې متحده ایالات سره یوموټی کړي رامنځ ته کړ. پوځ ، نه یوازې دی تر ګواښ اوځپنې لاندې ونیو بلکه په زرګونه دکالیجونیګرو زده کوونکي یې هم وځپل " رندولف ته یې د(امریکایی ګاندي ) نوم اوویاړ ورکړ، چې بیا کینګ هم کټ مټ ویاړ دځان کړ، هغه ډیرې ویناوې وکړې او په هغوکې یې په هند کې دګاندي په کړنوباندې رڼاواچاوله او دغه ټکې یې په ګوته کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نیګروګان باید دخپلې مبارزې تاکتیکونه دګاندي دهغوپه شان کړي او هم بایدد عامه نه همکارۍ اود هغه دولسی سرکښی تګلاره په امریکا کې وڅاري .
د رندولف ارمان لاریون بالاخره په ۱۹۶۳ کال کې په واشنګټن کې دپراخوډلـو لـه خوا ترسره شو چې دهغه په ترڅ کې کینګ خپله نامتو وینا (زه یوخوب لـرم ) هـم وکړه . دغه لاریون وکولای شول چې په خپله غیرټکې دیوه ملیـون څلورمـه برخـه خلک سره راغونډ کړي . چې یوه دریمه برخه یې سپینان وو ، دوی دتوکمي توپیرله غورځنګ سره خپل غږ یوکړی و اوپه دغه سوله ییز ه مظاهره کې یې برخه اخیستې وه . دغه مظاهره پردغه مهال دیوې پراخې مظاهرې او دعـدم تشـدد د یـوه پـراخ غورځنګ نوم یې دامریکا په تاریخ کې دځان لپاره وګاټه اویاهم داخه دحیرانـې وړ خبره نه ده ،چې په دغه غونډه کې کینګ راندولف دامریکایی نیګروګانو د مشر په توګه یاد اوومانه .
دواشنګټن لاریون به کله هم نه وای ترسره شوی که چیرې دهغه دسازمان ورکولـو په ترڅ کې ( بیارد روستین ) خپل دیادونې وړ سازمان ورکونکي تاکتیکونـه اولارې چارې نه وای کارولې . دایوبل نیګرو نومیالی و چې هند ته راغې اودګاندي لـه لیوالـو پیروانو څخه شو. روستین دعامه حقونو له اتلانو اود ملګرو دټولنې له نومیالیو څخـه و. داهغه هماغه څوک و چې د دویمې نړیوالې جګړې په ترڅ کې یـې لـه عسـکرې دندې څخه سروغړاوه او په همدغه ګناه زندان ته واچول شو. دمونټ ګـومیري بـس پریکړون پرمهال دی دکینـګ دنـه زورزیـاتي دتګـلارې چـې دژونـد تګـلاره وه تراغیزلاندې راغی . دبیلګې په توګه کله چې هغه دا واوریدل چـې کینـګ ترخپـل بالښت لاندې ټوپک له ځان سره ساتي ، هغه ټوله شپه هلته پاتې شو اوله هغه سـره یې ټوله شپه ددې لپاره استدلال کاوه چې که عدم تشدد خپله لاره کـوو نوښـه بـه داوي چې هغه دهغې په ربښتینې مانا سره وڅارو اوپه ربښتیانی توګه باید له هغې لارې دخپل مقاومت دپیاوړتیاپه لورګامونه پورته کړو. په پای کې کینګ اودهغه سـاتونکو وسله له ځانه لرې کړه همداوه چې روستین او دهغه ملګر ي ګلین سیملی کینګ په دې باوري کړ چې دوی باید دګاندي دنه زورزیاتي تګلاره خپله تګلاره کړي اوهغـه باید له شکه پرته دخپل ژوند دفلسفې په توګه ومني .

(c) ketabton.com: The Digital Library

روستین دعامه اومذهبې سازمانو دسمبالولوپه برخه کې دځانګړې استعداد او مهارت لرونکی و ، چې ډیرمهم اوځرګند یې دپخولاینې فیلوشف ( اف . او .آر) اود نـژادې برابرۍ کانګرس ( سی .او . آر .ایی) وو چې (اف . او. آر) یې مسیحي آزادپالې ډله وه چې په ۱۹۱۴ کال کې یې په انګلند کې بنسټ ایښودل شوی واود عـدم تشـدد لـه ټولنیزو بدلونونوېې ننګه کوله . او (سی .او . آر. ایی ) بیا پـه ۱۹۴۲ کـال کـې پـه متحده ایالاتوکې د(جمزپارمر) له خوا چې هغه په خپله د( اف . او. آر ) نیګرو دډلې غړی ورامنځ ته شو. پارمر ځان ددې لپاره ځانګړې کړی و چـې دی بایـد دګانـدي تګلاره د توکمي توپیرپه ترخ کې تر جنوبی امریکې پورې ورسـوي . دده اونـورو پـه دغه خبره باندې دزړه له کومي باور راغی چې د (سی . او . آر . ایی ) غـړي پـه ژوره توګه دګاندي دشاګرد چې کرشنالال شری دهاراني وتراغیزلاندې دي ، هغه ځـوک چې دکتاب نوم یې (له زورزیاتی پرته جګـړه ) و او د (سـی . او. آر. ایـی) (نیمـه رسمي انجیل ) و.

ای . جی . موستې نامتو امریکا یي سوله خوښونکي له هند او ان مهاتما ګاندي سره په ۱۹۳۱ کال کې ولیـدل . موسـتی هغـه ځـوک وچـې د(اف .آر. او) لـه لیوالـو او سرسپارلو غړو څخه و ،کله چې له هنده راستون شو، په کالیجونواوپوهنتونوکې یې دیوشمیرلکچرونو په ورکولو باندې لاس پورې کړ . په ۱۹۴۷ کال دنیګـرو دهلوځلـو دغه ځوان پلوي ددې لپاره لیوال شو چې دمسحیت عقیده د ژور ټولنیزعمـل لـه بهیرسره غوټه کړي . له موستې سره دهغه کتنه دموستی دلکچرونوپه کمـپس کـې وشوه .

لاسون هغه ځوک وچې دګاندي د تګلارو سخت لیوال اومدافع و ، هغه لـه (اف .او .آر) سره یوځای شو ، او هم یې دخپل مرام دعملی کولو په موخه د ۱۹۵۰مو کالونو په ترخ کې ترجیل پورې هم ورسید ،دې له دغې آزموینې وروسته هغه ځـوک شـو چې دکوریا په جګړه کې یې له برخې اخیستنې څخه سرغړاوی وکړ. لاسون دیـوه میتودیک استازي په توګه هند ته د تبلیغی او دګاندي دساتیاګرۍ د یوه شاګرد په توګه سفروکړ. همدغه هند و چې ده هلته مارتین لوتر کینګ ، هغه ځوک چې هغه د نه زورزیاتي مقاومت له امله نامتو شو وپیژاند. لاسون پـه زیاتـه انـدازه د کینـګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغیزپه ترځ کې دهغه له ډیرو ځانګړنو څخه ا غیزمن اوبرخمن شو. کله چې په ۱۹۵۵ کال کې هغه متحده ایالاتو ته راستون شو، له کینګ سره په ګډه له هغو ځواکونو سره یوځای شو چې جنوب ته راشي او دلته د نه زور زیاتي تګلاره اودهغې ارزښتونو ته کاروکړي . ځکه چې په دغه برخه کې یوازې یوځو تنه ددغه کار له پاره وړاومجرب وو لکه لاسون .

په پای کې لاسو ن وکولای شول چې په سراسرجنوب په تیره بیا د تنسیسی په ایالت کې دنه زورزیاتي یوپیاوړې غورځنګ رامنځ ته کړي . هغه په دې وتوانیده چې دګاندي دتګلارې دهنګامې دلاپیاوړتیا لپاره په سلګونه زده کونکي په خپله خوښه دخپلو تودو وینا ووپه ترځ کې وروزي :

« مینه هغه ځواک ده چې پرهغې باندې خدای سړی له خپل ځان اوسړی له سړي سره تړي ، رښتینې مینه ځان په خپله لوړتیا ته رسوي ،هلته چې ان د دښمنې په زړه کې هم په مینتوب او ښښنې باندې اوړي . هغه کولای شي چې له بدی سره غاړه غړی اومقابله شي اوکولای شي چې دومره ځواکمني هم په ځان کې ولري چې ان هغه بدې هم پرځان پسې راوکاږي . ټول چې کله په مینه باندې ټینګارکوو ... باید تشدد اوځورونه پرځان ومنو ځکه چې هغه په خپله له ځواب ورکولو پرته په هیڅ شماره شي »

کله چې په ۱۹۵۰ کال کینګ پنسلوانیا په چسترکې ( دیوانیتی ات کروزر تکنالوژیکل سیمیناری ) په باره کې دخپلې بچلر ډګری لپاره په زده کړو بوخت و په همدغه مهال ده موستې د موستې په بل کالیج کې ولیده چې پروینااوو باندې بوخت و. کینګ دموستې لکچر په لیوالتیا سره واورید خو زیات اغیز یې پرې ونه کړ. ان چې له موستې سره په استدلالونوکې هم ښکیل شو. په کروز ر کې یې دزده کړو پرمهال په خورا جدي توګه دګاندي ساتیاګره ترلاس لاندې ونیوله اوهغه یې ولوسته . دکینګ دهمدغو سرګرمیو شپې ورځې وې چې پردغه مهال له هندڅخه دهند په سفرتللی یوه بل نیګرو، ډاکتر (موردیسیا جانسون ) ،چې وروسته د هاورد پوهنتون هغه چې له تاریخي پلوه دتورانو کالیج دی او په واشنګتن ډی سی کې پروت دی مشرو ، هم راستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مارتین لوتر کینګ اومهاتما



دګاندي دنه زورزیاتي له امله پرکینګ باندې دجانسون د ویناوو نیغه اغیزه ددې لامل شوه چې په بیړني توګه دهغو کتابونو په لټه کې شو، هغه چې دګاندي په باره کې لیکل شوي اوهلته موندل کیدای شول . ده په دغه اړه یودپاملرنې وړ کتاب له جورج داویز ځخه چې په کروز کې دده خورا نژدې استادو ترلاسه کړ . کینګ د داویز ددغه اوپرګاندي باندې دنورو کتابونو له لوستلو وروسته په جدي توګه په دې باوري شوچې که مینه اوخواخوږي دنه زورزیاتي مقاومت له غورځنګ سره مل اوعملي بنه ومومې په دغه ترځ کې به دمبارزې پایله له شکه پرته پیاوړې ، اغیزمنه اوپه زړه پورې وي .

کینګ کیدای شي په دې هم دګاندي د درسونو تراغیزلاندې وي چې ده ګاندي اوخپل ژوند ترمنځ یولړ ګډې ځانګړنې له ځان سره درلودې ، دوی هغه ځوک وو چې درنګ ضد مبارزه یې دتوپیرپالو متعصبینو په وړاندې پرمخ بیوه ، دواړو ان په ولسي کچه دسپینود ستم اوزور زیاتي تجربې له ځانه سره درلودې ( دلته زه هغه ټکی ته اشاره کوم چې مهاتماګاندي په جنوبي افریقا کې یوازې په دغه ګناه چې ده ځانته په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی درجه کې ځای نیولی و له اورګاډي ځخه راواچول شو. خو کینګ پرهغه مهال چې جورجیاته اوترځان یې لویه پرده ډوله تکه راتاوکړې وه له همداسې یوې پیښې سره دسپینوله خوا مخامخ شو) ، دواړو دځانګړې تشدد (هغه چې ددوی ژوند یې په خپله ادعاکوي ) خورا سخت زغمونه له ځانو سره درلودل او په پای کې دواړه هغه څوک وو چې دخپل ایمان اوعقیدې په زور یې ځانونه دنورو دچوپړ اوخدمت پراخ بهیرته ور واچول .

هغه په خپل لومړني کتاب ( دآزادۍ په لور ګامونه ) کې خپل تش په نامه ( دنه زورزیاتي په لور سفر ) په اړه کرونولوژیکه څیړنه کې یولړداسې اشارې وړاندې کړې چې دهغو په ترڅ کې یې دګاندي په لوړو ستاینو باندې لاس پورې کړ

« ګاندي دتاریخ په اوږدو کې لومړنی څوک و چې دمسیح مینه او اخلاق یې په خورا جالبه اوځانګړې لیواتیا سره د انفرادیت اواغیزمنې ټولنیزې ځواکمنې پرپولو باندې په پراخه کچه زمور په وړاندې کیښودل ».

کله چې ګاندي په دې ټینګار کوي چې له خپل دښمن سره مینه ولره ، دغه ټکی په خپل ذات کې د کینګ له مسیحي ایدیالونو سره په کټ مټ ډول سر لګوي . ګاندي له دښمن سره دمینې عملي لاره کینګ ته ور وښوده ،کینګ په دغه ترڅ کې ترهرڅه دمخه دګاندي دټولنیزې جوړونې هڅونکې مینه دځان کړه اوهغه یې دخپلې تګلارې په توګه و منله . هغه ،دغه ټکي ته ځیرو چې دګاندي ایدیا دبدۍ اوشیطاني هڅو په وړاندې کوم غیرفعال نه زورزیاتی مقاومت نه دی ، بلکه هغه په دې باوري وچې دا په خپله دشیطاني بدۍ او هڅو په وړاندې یو فعال اوهڅاند مقاومت دی ، چې له پراخې ملي او ټولنیزې لیواتیا سره ملتیاکوي ، داګاندي دی چې دتیري پرځای په هرڅه کې دلومړیتوب حق زغم اوتحمل ته ورکوي . " لکه څنګه چې زه دګاندي دفلسفې په ژوروکې ډوب یم ، زما ..زیاته اندیښنه په دې کې ده چې دمینې ځواک مخ په ځوړیدوشو او ما دلومړي ځل لپاره دادرک کړه چې دمینې مسیحی دوکتورین او نظریې په نیغه توګه د ګاندي دنه زور زیاتي د تګلارې تراصولو لاندې دزورزیاتي ځپلولپاره دآزادۍ په لاره کې ترټولوښه او درنه وسله ده "

(c) ketabton.com: The Digital Library

کینګ په هندکې دګاندي دتګلارو دبريو تراغيزلاندې راغی او دګاندي درښتیاینې اصول او تګلاره چې پرمينه ،رښتیاینه او ځاني قرباني بانـدې ولاړه وه دځان لپاره ومونده . کینګ دعدالت اوانصاف غوښتنې لپاره داسې دوکتورین ومونډل ، چې نه یوازې له مسیحی باورسره یوشان وو بلکې په امریکا کې یې دسیاسي قانونیت اوروا حقونو له آرونو سره هم یورنګي درلوده . په لومړي ګام کې دکینګ لیوالتیا په تمامه مانا یوه نګه اکادیمیکه لیواتیا وه. دی په دې باوري نه و چې دګاندي دمقاومت طرحه به داسې یوه طرحه وي چې هغه به د امریکا په کچه هم دپراخو پرګنو لپاره په درد دوا شي .

برسیره پردې هغه فکرکاوه چې دګاندي میتود اوتګلاره کیدای شي یوازې په انفرادي برخه کې اغیزمنه وي ، ځکه نو دوی په دغه برخه کې په دوه لارې کې وو چې آیاداتګلاره به امریکایی نیګروګانو اودهغوی پراخې پرګنې چې دخپلـواکیاوبرابری لپاره یې متې رابډوهلې په هغه شان چې ددوی هیله ده لارښونه وکړای شي . پردې ټولو برسیره ، هغه دا دلیل هم وایه چې ګاندي دنه زورزیاتي غورځنګ په داسې یوه ټولنه کې لارښونه کاوه چې دهغې ټولنې ډیرکی په خپله هندوان او په مقابل کې یې یو کوچنې لږکی چې هغه انګریز ي سپینان وو په مخ کې درلود ، خو امریکایی نیګرو ګان بیا په خپله دامریکايي شمیرنې په سلوکې له لسو تر دوولسو پورې دي چې په یوه خورا واړه لږکي کې راځي . برسیره پردې کینګ داهم احساسوله چې له ګاندي سره دهغه دمقاومت په ترڅ کـې دهغـه خبـره نـه یـوازې پـه هنـدکې انګریـزي واکمنانواوریده بلکې له هغه سره له هند څخه دباندنیوخلکو اوپه خپله دانګریـزې ولس اولويو مخکښو کسانو خواخوږي او ملتیاهم وه . کینګ پرهمدغه ټکـي بانـدې باورنه درلود ، هغه شک درلود اوداېې ویـل چـې دغـه تګـلاره بـه پـه امریکـاکې دزورزیاتي په مقابل په تیره بیا په جنوب په هغه ځای کې چې تور یوازې دیوې ښځې دنوکرپه توګه دهغې لاس ته ګوري کار ورکړي اوکه نه ؟ په هـرډول دکینـګ هغـو تجربو چې دالاباما په مونت ګومیری او هند ته دسفرپه ترڅ کې یې دځان کړې ددې لامل شوې چې دده نظریه یې په دایمي توګه د ګاندي دعدم تشدد دتګلارې په لور ورواړوله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مونټ ګوميري اوهندوستان
# اود کينګ بدلون

په ۱۹۵۴ کال کې کله چې کينګ خپله دوکتورا په تکنالوژي کې له بوستون پوهنتون څخه ترلاسه کړه ، له هغې سره سم يې د مونټ ګوميري ،هغه ځای چې ديوې لنډې مودې لپاره دکورنی جګړې په شپو ورځو کې د کانفدرسی پلازمينه و، پـه ديکسـتر اويونيو بپټست چرچ کې دهيد پوستر په توګه دنده پيل کړه . دلته خورا زيات توران اوسيدل چې هغوی ټولودسپينوله خوا د ښکيلاک او زورزياتي سختې اوظالمانه شپې ورځې زغملې . دمونټ ګوميری دبسونو خبره په دغه اړه ديوې عينی پيښې په توګه ديادونې وړده ، چې هلته دا منل شوې وه چې تو ران بايد دبس دمخې پرڅوکيوباندې کيننې ، دبس وروستې برخه ددوی لپاره وه ، خوکه چيرې به سپين په بس کې ولاړ و تور حق نه درلود چې دهغه ددريدو په حال کې بايد هغه پرڅوکی باندې ناست پـاتې شي . دبسونو چلونکي چې ټول سپين وو ، له تورو څخه غوښتنه کوله چې دبس کرايه بايد دمخنی دروازې په پيل کې چلونکي ته وسپاري ، اوبيا ددوروسـتی دروازې لـه لارې بس ته ورننوزي . کله کله خو به داسې هم کيدل چې بس چلونکو به کرايه ترې واخيسته ، هغو به چې ترڅو وروستی دروازې ته رسيدل دوی به حرکت وکړ اوهغوی به يې په ډنـګ ډوال بانـدې پريښـودل . دمونټګـوميري توروپوسـتو پـه ورځ کـې ځوځوځلي دلته دسپين پوستوله خوادغه شان زورزياتي په خورا بد شان سره چې هغه ته سړی انساني چلند نه شي ويلای دمونټ ګوميري دتوپيرپالو سـپينوواکمنو له خوا په خپله ټوله ناولتيا سره زغامه .

خوکله چې په ۱۹۵۴ کال کې يوه آرامه خو پرتمينه ميرمن چې( روزه پارک ) نوميده په دغه ګناه چې سپينو ته يې دخپلې څوکی له پريښودلو څخه انکار وکړ بندي شوه . په دغه وخت کې په مونټ ګوميری کې دتورپوستو شميرپه عمومي توګـه زيـات و، نيګرو ټولنې دخپلو وزيرانو او خپلوکليساوو له لارې دتـول ښـار پـه کچـه پراخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریکړون له بسونو سره وکړ . دوی پرهمدغه مهال مارتین لوتر کینګ دخپلې نوې جوړکړې ټولنې دمشراولاربشود په توګه وټاکــه ، اوپرهمدغــه مهــال دی پــه مونــټ ګومیری کې نوې کس و چې دلته یې له یوې سیاسي او نورو ډلواو ګروپونو سره هــم اړیکي نه درلودل . دمونټ ګومیری دبسونو پریکړون دکینګ لــومړنې تجربــه او پــه دغه ترڅ کې لومړنی هڅه وه چې دده دملي اونړیوال کرکترپه جوړولو کې یې مرسته وکړه اوپه متحده ایالاتو کې یې دیوه مورالي مشرپه توګه راوپړکاوه .

په پیل کې پر مونټ ګومیري باندې دګاندي اغیز خورا لږ و، دبسونو پریکړون دګاندي ډول مقاومت پرتګلاره باندې نه جوړشوی واو نه هم لاربشونه ، سره له دې چې کینګ ګاندي ته درناوی درلود ، هغه خپل یوه ملګري ته داټکی په ګوته کړ چې دی ځنګه کولای شي دګاندی تګلاره اواصول په دغه ترڅ کې وکاروي . خوله هغه وروسته چې یوه سپین مونټ ګومیری ایدورتایز ته یې یولیک ولیکه او په هغه کــې یــې دبســونو پریکړون په هند کې دګاندي له کړو وړو سره پرتله کړ ، همدغه ټکی و چې دمونــټ ګومیری پرغورځنګ باندې دګاندي داغیزخبره ورځ پــه ورځ پراخیــده او زیاتیــده.

لکه ځنګه چې کینګ ویلي ، چې دګانــدي نــوم او دهغــه دعــدم تشــدد مقــاومتې غورځنګ په مونټ ګومیری کې هلته چې ددغه ځای خلکو دغه نوم تردغه دمه ګرد سره نه واوریدلی په پراخه کچه نامتوشو ، دومره چې په هرځای کــې هغــه « دهنــد دتورپوستوکوچنی روحاني » له زیات درناوي سره پیژندل شوی و. ان چې مطبوعاتو هم دمونټ ګومیری داعتراض په تــرڅ کــې ، پــه هنــدکې دانګریزانــودواکمنې لــه زورزیاتې سره دګاندي پریکړنونه او لاریونونه په الاباما کې دســپینو دزورزیــاتې د جوړښت له کړو وړو سره پرتله کول .

پرهغه مهال چې پریکړون لا روان و کینګ « دژورتیا پــه تــل کــې » دګانــدي داصولو اوتاکتیکونو په ژورتیاکې ډوب او دهغوتراغیزلاندې راغلی و. دګاندي داصولو دوراندیزونو په پام کې نیولو سره کینګ په دې باوري و چې ، څه چې ده په مونــټ ګومیري کې ترسره کړل هغه « دبدی او شیطاني هڅې په وړاندې دمینې هڅونکې مقابله وه».

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه یوې غونډې ته هغه کیسې ټولې وکړې چې څنګه ګاندي وکولای شول دنه زورزیاتي مقاومت له لارې انګریز ي امپراتوري په هند کې دپای پر ټکي باندې ودروي . هغه په دغه اړه داهم په ګوته کړه چې :
« زه ګاندي ته دمسیح پرلاره ورغلم » ځکه نو ده په دغه برخه کې د مسیحیت په پیاوړتیاکې دځپل غورځنګ له لارې ونډه واخیسته »
کینګ وویل چې مونټ ګومیري « له ماسره دامرسته وکړه چې زما هغوپوښتنوته یې روښانه ځوابونه راکړل چې ما دعدم تشدد په برخه کې په کتابونوکې لوستې وې »
په رښتیا هم کینګ هغه فکري بهیرته ور واوښت ، هغه ته چې دی دهغه په وړاندې دیوه ګاندین په شان نه وزیږیدلی . کله چې ګاندی په (سرمون ان ده مونټ ) کې دمسیح ښکلا ولیده ، هغه یې دیوه هندي اصل او باور په توګه ومنله ، خو کینګ چې بیاکومه ښکلا په ساتیاګره کې ولیده دهغې له مخې یې په خپلو امریکایی پلویانو او اوریدونکو باندې ټینګار وکړ چې دوی باید ګاندي ته له مسیح اودهغه له نظر یاتو سره په موازې دریځ کې وګوري . کینګ ان ګاندي ته دا ویاړهم ورپه برخه کړ چې له ده څخه وروسته یې دبشري حقونودنوي سازمان له پاره هم د ده نوم وکاراوه . دبشری حقونو لپاره دګاندي ټولنه کینګ ګاندي ته دهغه درناوي له مخې پرانیسته چې ده دبشري حقونوپرغورځنګ باندې خپله درنه اغیزه ښندلې وه .
دمونټ ګومیري دبسونو له بریالي پریکړون څخه وروسته (سره له دې چې دیوه وژونکي یرغل په ترڅ کې سخت ټپي هم شو ) کینګ له خپلې میرمنې (کوریتا سکاټ کینګ )اوځپل نژدې ملګری پروفیسور (لورنس ریدیک ) سره یوځای دهندوستان سفروکړ . هندته دکینګ سفر یولوی ویاړ او تجربه وه چې دی یې د (په نه زورزیاتي سره داوښتوپه لور په لوړتیا) کړ، دده له لویو هیلوڅخه وه چې باید هندوستان وګوري ، خو دده مهال ویش ده ته اجازه ورنه کړه چې دی باید د ۱۹۵۹ کال ترفبروري اومارچ پورې هلته پاتې شي .هندته دهغه د رارسیدو پرمهال دهند له لومړي وزیر جواهرلال نهرو سره دکتنې په ترڅ کې کینګ وویل چې :
« نورو هیوادو ته کیدای شي زه دیوه سیلاني په توګه سفروکړم خو هند ته زه لکه دیوه زیارت کونکي په توګه راغلم » . هند ته دکینګ سفر یوه روحانی اومعنو ي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هځونه وه  داسې چې دهغه په ترخ کې دی دګاندي پرایدیالونو باندې نورهم باوري او سمبال شو. هغه دټول هند په اوړدو کې دګاندیوالو هڅو له فعالینواوهځونکو سره وکتل ،کینګ په انفرادی توګه دزیاتو شیانو له لیدو اوهڅونو وروسته ، په دغه برخه کې ډیرخه  هغه مهال وویل چې کله دی بیرته متحده ایالاتوته ستون شو.  هغه دغه ټکی په ګوته کړ چې  څنګه هندیانو اوانګریزانو له یوه اوبل سره  په برابری کې چال چلندکاوه ، او دیوه  بل په وړاندې یې  دهغو ی کړنې په یوځه  بیل ډول سره په ګوته کړې  ، او دایې څرګندده کړه چې داډول اړیکې په خپله دهغې وینې پایله ده چې ګاندي دهغې له مخې د مخالفانو په وړاندې  دعدم تشدداوخواخوږۍ له اصولو سره سمه کاروله  . کینګ همدارنګه ددغه کار درناوی کاوه چې څنګه ددغه هیواد (مشرانو خپل مورالي ځواک اووړتیا دخپل قانون ترشا کارولی دي) هغه همداسې دې ته هیله من اوخوشاله و چې  :

( له لومړي وزیرڅخه تر کلیوال  پورې ټول  دکښتنې پاټکې په وړاندې له کرکې سره جوړنه دي  ) .اودهغې پرضد خبرې کوي . دی  په خپله ددې کتونکی اوشاهد و چې نهرو په خپله د کوزنې پاټکی  په وړاندې پرهغه مهال چې دملي خپلواکۍ دنظریې دپرمختیا او پیاوړتیا په اړه یې خبرې کولې دهغوی په وړاندې دکرکې او نه درناوي تګلاره په کلکه  غندله . کله چې کینګ امریکا ته راستون شو، ده دمتحده ایالاتو پرمشرانو ایزنهاور او جانسن باندې غږ وکړ چې  باید  دامریکا دکوزنې او ځپل شوې پاټکې لپاره  چې  د رنګ او توکم په ګناه ځورول شوې اووروسته پاتې کړل شوې دي یوڅه وکړي  ، ده پردغه مهال هغه هڅې چې دهند حکومت په  دغه برخه کې ترلاس لاندې نیولې وی  ، دیوې بیلګې په توګه  د متحده ایالاتومقاماتو ته چې  باید هغوی هم کټ مټ هڅې   دامریکایې ځپل شوې پاټکې په وړاندې  په عملي توګه ترلاس لاندې ونیسي ورپه ګوته کړې .

په رښتیانۍ توګه دا هند و ، نه یوازې مهاتما ګاندي چې کینګ یې دیوې بیلګې په توګه   په څه ډول  دیوې ځپل شوې ټولنې لپاره په خپله کارخانه کې  جوړاو وروزه . کینګ هند ته دخپل سفرپه ترخ کې پردې نورهم باورمن شو چې  عدم تشدد دخپلې رښتیاینې له مخې یوازنې وسله ده چې ځپل شوې پرګنې یې په ټوله  نړۍ کې دخپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتنو دترسره کیدو لپاره کارولای شي . کینګ په دغه سفرسره د (امریکایی ګاندي ) لقب دځان کړ ، داخورا په زړه پورې خبره ده چې کینګ په خپله دامریکا دتاریخ په اوږدو کې دیوه ستر لارښود په توګه دا ومنله چې مهنداس ګاندي :
« له هرپلوه او په هره کچه دنړۍ دتاریخ په پاڼوکې یوله هغو کسانو څخه دی چې دنیم درجن لویو کسانو په شمارکې راتلای شي ». په دې باید باوري یو چې دکینګ عمل دبشري حقونو په باره کې هغه څه دی چې دګاندي پرتخنیکونو باندې ولاړدی . پریکړونونه ، لاریونونه ،ورځ شپه لیکنې (شب نامې او روزنامې ) ان عامه روژې نیونې داټول هغه لاسوندونه اونښې دي چې په امریکاکې یې دبشري حقونو پرغورځنګ باندې دګاندي دتګلارې اغیزبللی شو.
خودکینګ په هځونکو پریکړوکې یوه چې هغه تریوه حده ناسپړلې او ناروښانه پاتې وه هغه په زندان او جیل ورننوتل و و، چې دنه زورزیاتي له خورا مهمو ډولو څخه ګڼل کیده . کینګ هم لکه د ګاندي په شان زیات ددې لپاره لیوال نه و چې باید زنداني شي . ده ته څرګنده وه چې په جنوب کې د زندان په سلولونو کې نیګروګان څه شی ځنګه زغمي .کینګ به خپلو پلویانو ته ویل چې باید زندان ته ولاړشي خوهلته باید هغه څه ترسره شي لکه چې ګاندي ترسره کړل :په هیله منې هوا اولیواتیا کې ، هغه له دوی سره استدلال کاوه ، چې دوی باید داومني چې په زندان کې خپله ټوله موده باید په یوه ځای کې تیره نه کړي ، بلکه : « هغه باید دشرم زندان د آزادۍ دجنت او انساني پرتم په لور واړوي » همدارنګه کینګ هم زندان ته راغی او هغه یې دآزادۍ تجربه ځای وباله . دا زندان و چې ګاندي د
( هنری دیوید توریو )لیکنه چې د عامه سرکښۍ په اړه وه ولوسته او ده ته یې داتوان ورکړ چې دخپل مرام په لور نورهم په بري سره خپل سفراو ګامونه اوچت کړي . اوداهم جیل و چې کینګ هلته ( د برمینګهم له جیل څخه لیک ) هغه چې د بشري حقونو دغورځنګ لپاره خورا مهم لارښود ولیکه . دهغه په ترڅ کې چې ده دهغه لپاره په غیرقانوني توګه کاغذ وموند او پرهغه باندې یې دخپل زندان شپې ورځې تیرې کړې . په دغه لیک هم دګاندي په هنګامه یانې ، رښتیا، انصاف، ځان تیریدنه او نه زورزیاتي باندې تینګارشوی دی . دبیلګې په توګه کینګ په روښانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه له ګاندي ځخه دمننديويې په ترځ کې وليکل : « زه په ټينګار سره داخبره کوم او وايم چې عدم تشدد داغواړي چې مورږ بايد دهغه په اړه داسې رښــتياني وو لکــه څنګه چې دهغه پای زمورږ هيله اوغوښتنه ده » .

خوداپوازي دګاندي تاکتيکونه اوتګلارې نــه وې ، هغــو چــې پــه کينــګ کــې يــې يولړداسې ځانګړني را وپــارولې چــې هغوکينــګ تــه دبشــرې حقونــو دغوښــتنې اوغورځنګ په ترځ کې دمشرۍ لاره برابره کړه . بلکې خبره تړوله دهغو په عملي کيدو وه ، ځکه چې هغه اوس په عملي توګه دکينګ په ويناوو اوليکنو کې په پرلــه پســې توګه عملي کيدې . هغه تل داخبره دګاندي له خولې په هرځای کې تکرارولـه چــې که دوينو سيندونه هم دتورانو دخپلواکۍ په وړاندې وبهيږ ي بايد چې خپلې وينــې يې وي نه داچې دخپلو دښمنانو هغه دې تويې کړي .

تردې هم لامهمه داچې دهمداسې طرحو په رڼاکې ، دګاندي دمينــې منطــق زيــات خواخوږي اوپلويان ومومدل ،په دې چې کينګ دهغو په رڼاکې دامريکا له پاره خپــل خوبونه ليدل . داسې چې دهغو په رڼاکې يې بايدامريکاداسې جوړه کړي چــې هغــه دده دمينې وږ تږولنه وي . داسې يوه تږولنه چې کينګ هغه دخپلې نامتو وينا په تــر ځ کې (زه يوخوب لرم ) په ډاګه کړه . خلک بايد له شکه پرته (دکرکتر په ننيوځانګړنو باندې قضاوت وکړي نه داچې دهغه په رنګ او پوستکې باندې ځان بوخت وساتي ) .

پر کينګ باندې دګاندي داغيز يوه بله بيلګه دويتنام دجګړې په اړه دهغــه مخالفــت وچې دهغه په پايله کې يې دولس مشر جانسون اونورونيګرومشرانو ملاتړ لــه لاســه ورکړ . ځکه هغوی ورته ويل چې دجګړې په اړه خوله پټه ونيسې خو کينګ داخبــره نه منله او خپله خبره يې کوله ، دده له خورا مهمو ويناوو ځخه يوه هغــه وه چــې پــه هغې کې يې وويل : (انصاف نه ماتيدونکی خيــزدی ، ناانصــافي پــه هرځــای کــې دانصاف له پاره خطره ده ) .

کينګ همدارنګه د کاوږديک په اړه هم دګاندي دنظريې پر پله باندې ولاړ دهغه ځــه په باره کې چې ګاندي به ويل که چيرې ځوک دکاوږديک او تشدد تــرمنځ دځــاني دفاع په موخه ټاکنه کوي ښه به داوي چې تشدد وټاکي ، په ۱۹۶۵ کال کې کينــګ ديوې مرکې په ترځ کې دګاندي نظر ومانه ځکه يې وويل : « کله چې زه دتشــدد پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه خبرې کوم هلته يوه بدې شته چې هغه ترتشدد او زورزياتي هم سپيره اوناوړه ده چې هغه ډار دی ». دکينګ او ګاندي دواړو لپاره دهڅوني اوتشويق تګلاره دتشــدد تر ردولو زياته مهمه اودپاملرنې وړوه .

اوپه پای کې ، کينګ له ګاندي سره خپله يوه پياوړې اودحيرانتياوړکړنه شريکه کړه چې هغه دپياوړو سمبولونوپه عمل کې په سپيڅلې توګه عملي کــول وو. دواړو پــه خورا وړتيا سره دناوړې بې انصافۍ په وړاندې چــې ددوی دواړوخلکــو زغملــه پــه يوفکراونظرسره ودريدل . دواړو د خورانواوبيوزلانولپاره متې رانغښــتې اودهغــو پــه استازيتوب يې هرې خوا ته نه سترې کيدونکې منډې تــړې ترســره کــړې اودواړو دژوند کولو هغه ډول لکه چې خورانو دځان لپاره درلود وټاکه . ګاندي پــه کليــوالۍ جونګړه او کينګ دشيکاګو په چوپړيوکې استوګنه کوله . دوی سفرهم لکه دعــامو اوخواروخلکو په شان کاوه . ګاندي داورګاډي په دريمه درجه خونه اوپه پلــې توګــه سفرکاوه همدارنګه کينګ دبس او ياهم دکچرې په واسطه له يوه ځايه بل تــه تــه . دوی لکه عامووګړو غوندې کالي اغوستل ، ګاندي ساده خامتــا. اوکينــګ بياخپــل سګنچردهقاني سرترپايه خورې جامې اغوستې . دوی به لکه دعادي خلکو په شــان کارکاوه، ګاندي به په توده هوا کې په خپل خرخې باندې لګيا و اوهغه به يې خرخاوه اوکينګ به په تودو لوونوکې له مهاجرو فارمي کارګرو سره لوونه کول . دواړه پــه دې توانيدلي وو چې له خپلې سياسي کلتــوري زيرمــې څخــه خــورا درانــه او پيــاوړي سمبولونه راوټاکي .

دګاندي دمالګې لاريون دبيلګې په توګه دهم غاړې اوهــم آهنګــۍ پــه تــرڅ کــې هنديانوته دولسونو له پاره په ټول هيواد کې يودپاملرنې اودرناوي وړآر و. همداسي کينګ په خپل وار سره په دې وتوانيده چې د مسحيت او امريکايي مشروطيت آرونه هغه چې دواړه سپين اوتور ورته ليوال او ترې اغيزمن وو پــه خــورا مهــارت ســره وکاروي . کينګ ته داوياړ ورپه برخه شو چې دبشري حقونو پــه لاره کــې يــې دنــه زورزياتي د درنې وسيلې په برکت کانګرس دې ته رامات کړ چــې دبشــري حقونــو قانون دپه ۱۹۶۴ اودرايې ورکولو حق دې پــه ۱۹۶۵ کــې پــاس اوومنــي . پــه دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخوکې مورِ ته دګاندي هغه اغيزپه څرګنده په ډاګه کيږي  چې دهغه دلــورِ فکــراو معنوي ځواک ونډه يې په ټولنيز اوسياسي مقاومت کې بللای شو.
خوکله اوپه کوم ځای کې مورِ  دکينګ تګلارې له ګاندي څخــه بيلــې بلــلای شــو ؟ ترهرڅه دمخه دغه يوټکې بايد ووايو اوهغه داچې کينګ کله هم دګاندي کار بن کاپي نه و، دبيلګې پــه توګــه کينــګ او دون ګــارد دبشــري حقونودغورځنــګ  زيــاترو مشرانودپاملرنې او اړتيا وړ څه ونه موندل . سره له دې چې هغه کولای شول چې پــه لوړه کچه واوسيږي . کينګ په عادي  کورکې واوسيد، دعادي موټرسپرلي يې وکــړه اوپه عمومي توګه يې ځان دلوړې له منګولو څخه په يوه خوا نه کړ.
کينګ سره له دې چې دګاندي تاکتيکونه يې عملي کړل ، خو  په ډيرو برخــوکې لــه هغه څخه  بيل و، ګاندي  ددې لپاره چې په هندکې دانګريزانو واکمنې ته دپای ټکــی کيږدي ، هغه دنه همکارۍ  اوولسي سرکښۍ تګلاره وکاروله ،ده خپلــو پيروانــو تــه داخبره کوله چې دوی بايد له انګريز سرکارسره له هرډول همکارۍ څخه ډه ډه وکړي ځکه چې هغه انګريزديوه شيطاني ځواک په توګه منلی و. خوکينګ بــرعکس دغــه تګلاره په دغه شان چې واکمن سستم دې  دپای پرټکي باندې ودروي  ترلاس لاندې ونه نيوه . په دغه برخه کې هغه دسم ســمکي اوځــانګړو دموکراتيکــو ژمنواونظريــو وړتيااوګټورتيا په پام کې ونيوه . کينګ يو ..... امريکايی هيوادپال و ، داسې چــې پــه امريکايې ځانګړتيايې باور درلود اوپه دې هيله و چې متحده ايالات بايد دنوروهيوادو لپاره بيلګه ييزځای  لاربسودځای  ولري . لکه څنګه چې هغه په خپله هم په امريکاکې دمشروطه واکمنۍ له ليوالواوميند والو څخه و. دده نه زورزياتی له همدې امله يــوازې ددغې هيلې له پاره و چې تورانو ته بايد په خپل هيواد کې دامريکايی دموکراسۍ پــه زړه کې دخپل خوب عملي تعبيروروښيی اوحقونه يې بايدپه هغې کــې  ديــوه پــوره استوګني په توګه خوندي وی .
اوپه پای کې دخلکودويښتيا په وړاندې دواک کولو په ترخ کې هم کينګ لــه ګانــدي سره توپيرونه درلودل . کله چې ګاندي کليوالو ته دا درسونه ورکول او  په دغه ټکــې يې ټينګارکاوه چې دوی بايد پرځان باندې بسياشي ،خو کينګ په دغه برخه کې پــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه ټکي باندې ټينګار کاوه چې دا دفيدرال حکومت دنده ده چې دامريکايې بيوزلو تورو اوسيدونکو لپاره زده کړې ، کورونه اودندې ومومي .

آيا ګاندي له ننيو متحده اياالاتوسره څه تړاو لرلای شي ؟

کينګ ويلي چې دګاندي انقلاب په هندکې دهيلې او مينې پربنسټ و، هغه وايي چې په امريکا کې دعامه حقونوغورځنګ هم په کټ مټ آرباندې ټينګارکوي :« د دوديزو انقلابونوځخه ديوه مثبت بدلون په توده کې دواک داوښتون پــه تــرخ کــې مــوږهم دهيلې آر په پام کې نيولی دی » . کينګ غوښتل چې دغه هيله دګاندي په ټولنه کې دبشري حقونو داعادې آر دبسيايني داصل پربنسټ پر يوه ولسي غورځنــګ بانــدې بدل کړي .

په هرډول دغه غورځنګ نن هم پــه متحــده ايــالاتوکې دګانــدي دهيلــې اومينــې دوکتورين پرمخ بيايي اودکينګ په وژنه باندې چې په ( ميمپيس تينســي ) کــې د( لورين موتيل) په برنده کې په ١٩٦٨ کال کې عملي شوه له پښو را ونه لويد.

نن سبادبشري حقونو افريقايي ــ امريکــايي فعــالان لکــه ريو.جيســي جکســن او ريو.الشارپټون ، دګاندې دهيلې اومينې دآرونودعملي کيدو پــه تــرخ کــې غــواړي دافريقايانو او امريکايانولپاره دهيلې زيری شي ،دوی سره له دې چې دخطرونو پــه کړليچونو کې ځان ګوري او په دغه برخه کې دنه زورزياتي په رڼاکې ګامونــه پورتــه کوي . ان چې کله ده دولس مشری لپاره په ١٩٨٠ يمه کې ورمندې کړې پرهغه مهال يې په خپلو اوريدنکوباندې غږ وکړ چې : ( هيله ژوندۍ وساتی ) .

برسيره پردې نورهم زيات اسناد شته چې دهغو له مخې سرې دمهاتما ګاندي اړيکي له متحده اياالاتوسره په څرګنده په ګوته کولای شي ، په ٢٠٠٢ کال کې ټايم مجلــې ګاندي (دپيړۍ سړی وباله ) دټايم بل وړونکی البرت انشتاين ګاندي تــه ځــانګړې ارادت اودرناوی درلود هغه په دې باور وچې ګاندی دخپل عصراوزماني يوه څرګنــده ځلا و. په ١٩٨٦ کې جن شارپ دامريکا دنه زورزياتی نامتو اوپيژندل شوي سکالر له هارورډ سره تړلې دالبرت انشتاين دنه زورزياتي پروګرام پرانيست هغــه چــې اوس دالبرت انشتاين دانستيتوت په نامه سره چې دنه زورزياتي په برخه کــې دڅيړنــواو تحقيقاتو کارپرمخ بيايي . متحده ايالات هم دګاندي په نامه دبيلابيلو جوړښتونولکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګاندي مرکزونو ، دګاندي کتابتونونو، دګاندي یادګارونو ،دګاندي کنفرانسونو او دګاندي خپرونوچې داتول د ګاندي دمینې ، رښتیاینې اونه زورزیاتي نظریې څرګندوي میلمه دي . چې دلته یوازې دیوځو دنومونواو کړنو په اړه خبرې کوو.دګاندي دیادون تولنه دبیلګې په توګه په ۱۹۵۹ کال کې جوړه اوپه ۱۹۷۶کال پرانستل شوه ، دګاندي مرکز بیا له واشنګتن ډي سي څخه یوخه دباندې دی په دغه اړه کارکوي ددغه مرکز دویب پاڼې له مخې

( Gandhimc.org )

ښکارې چې ددغه مرکز هڅه اوددنې دادي چې باید دګاندي دفلسفې ، نظریې ، ژوند خدمتونواو درسونواوهمدارنګه دهندي کلتوراو کلتورې میراثونودپیژندنې په برخه کې هلې ځلې وکړي .

په ۲۰۰۰ کال کې مورهاوس کالج ،د کینګ ګاندې دبیاپخولاینې مرکزپرانیست هغه چې دنده یې دکینګ هیله وه .همدارنګه په اتلانتا اوجورجیاکې دکینګ مرکز دکینګیانواوګاندیانو دنه زورزیاتي اوعدم تشدد تاریخی یادګاردی .په نیویارک ستې کې د ای. جې . موستې انستیتوت دګاندي ډوله نه زورزیاتي او پخولاینې اصولو ته وده او پراختیاورکوي . برسیره پردې دلته دګاندي کنفرانسونه هم شته چې هغوی هم کارپوهان اوهم عملي کارکوونکي په دغه ترخ کې سره راټولوي څوله یوه اوبل سره دنظر یاتو د راکړې ورکړې لپاره ناستې ولاړې ترسره کړي ، دوی په اوسنې عصرکې په نړیواله کچه داتومې ناتار او ترهه ګرۍ دجګړې په اړه دګاندې دنظریو په رڼاکې دلارو چارو په کاربانډې اخته دي .په یوه همداسې کنفرانس کې چې په ممپیس تینسې کې د ۲۰۰۷ کال په اکتوبرکې جوړشو ، تر ۷۵۰ زیاتو سکالرانو،عملي برخه والواو زده کونکو ګډون کړی و چې هغوی دکینګیانواوګاندیانودنه زورزیاتي په دغو سیمینارونو اوورکشاپونه کې برخه واخیسته .

دګاندي په یاد دنمانځنې یوه غونډه دامریکا دعامه فضا دڅانګې له خوا جوړه شوه ، دغې غونډې پرموړ باندې غړ وکړ چې دګاندي ایدیوته باید کاروشي ، په هوستون اوتکزاس کې دګاندي کتابتون په جنوبي تکزاس کې دګاندې دمیراثونو او نظریودخوریدو اوساتلو سپارښتنه کوي . هرکال په اکتوبرکې دګاندي کتابتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښارپه کچه د ( یوزر شمې دسولې لپاره ) ټولون دمهاتما ګاندي دزيړيدودکاليزې په وياړ جوړوي . دهوستون ښاروال بيل وايت څوک چې دګاندي دنه زورزياتی دتګلارې په ترڅ کې يوپياوړې وکيل اودمتحده ايالاتو دکانګرس غړی هم دی هرکال په دغه غونډه کې چې دزرګونو ګډون کونکو په ګډون سره جوړيږي برخه اخلي .

اوپه پای کې ددغه اصل داهميت په پام کې نيولو سره په متحده ايالاتوکې سړی کولای شي يواوږد لست ددغه پراخ غورځنګ په اړه چې دګاندې او کينګ دنه زورزياتی نظرياتواوتاکتيکونو دپراختيا په ترڅ کې په شعوري او غيرشعوري دپاملرنې وړ دی په ګوته کولای شي . ددغو نښو ترټولو مهمه اودپاملرنې وړ يوه ډيره نوې چې د ۲۰۰۷ کال په سپتمبرکې رامنځ ته شوه داده چې دهغې له مخې په لسګونو زروامريکايانو د لويزيانا په ( تينې ټاون جنه ) کې لاريون و چې د افريقايي ـــ امريکايي ښوونځي له شپږو زده کونکوسره د توپيرپالوغيرعادلانه چال چلند له امله ترسره شو. په ښونځي کې يوشميرتورو له سپينوسره دجګړې په ترڅ کې شکمن سپين له ښونځي څخه وايستل خو په ځنګ کې يې په کټ مټ جرم کې شپږتنه توران د سرې وژنې په نامه ترمحاکمه لاندې ونيول . غونډې يالاريون دتش په نامه ( جيناسکس ) په وراندې رامنځ ته شو، داسې چې دتورو اوسپينواو دبشري حقونو دلاروپانو لکه ، ريو جاکسون او شارپتون لپاره په ځانګړې توګه دکينګ اوګاندي دنظرياتو ترسيوري لاندې دپاملرنې وړو. لاريون په عمومي توګه دعدم تشدد له اصولو سره سم ترسره شو،دوی په عمومي توګه داغوښتنه درلوده چې سمه ييز وکيل بايد دافريقايي - امريکايي زده کونکوپردوسيه باندې بياکتنه وکړي اودهغودجرم دسزا کچه بايد راټيته کړي .

سره له دې چې يوشميرغورځنګونه لکه (جينه سکس ) ګاندي پلوي نه وو خودوی چې کومه چاره اوکړنه ترسره کړه په هغه کې دګاندي دتګلارې اونه زورزياتي روح په تمامه مانا په پام کې نيول شوې وه . دوی دنه زورزياتي تګلاره ترهغو وخارله ترڅوېې توپيرپالې بې انصافي پرهغه باندې سمه کړه.

دګاندي اوکينګ ميراث کيدای شي په امريکايي بدن کې د بډوګی په شان خپله دنده دتوپيرپالې روحيې ،سياست اونورو ټولنيزوستونزودپاکوالي او تصفيې او زمور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوينې دنګه والي اوپاکوالي په برخه کې په پرله پسې توګه ترسره کړي . سره له دې چې زموږ يوشميرزيات په دغه اړه ځانونه ناګار اوناخبره اچوي . په داسې حال کې چې زموږژوند پرته له هغو ناشونې دی .**

---

**دغه مقاله په ۲۰۰۸ کال د (هندليد ) له مجلې څخه چې دهند دباندنيوچارو وزارت له خوا خپريږي له انګريزي ژبې پر پښتوژباړل شويده .**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم څپرکی

## دګاندي مرغلرې

« سړی په رښتیاهم خپلوخلکو ته دخدمت له کچې سره دلوړتیا اواوچتیا وړکیږي
.»

مهاتما ګاندي

« نه زغم په خپله دتشدديوډول اوچلن دی چې درښتیا اودموکراتیک معنویت پـه وړاندي خنډکیږي »

مهاتما ګاندي

« ساتیاګره یعني دنابرابرۍ په وړاندي جګړه ده داسې چې یوڅوک په خپله خوښه ځان دهغې زغم ته ور وسپاري ».

مهاتما ګاندي

« کمزوري کله هم بښونکی نه وي بلکه بښنه تل دپیاوړي ځانګړنه ده ».

مهاتما ګاندي

« که همکاري یودنده ده ، ما دنه همکارۍ دنده هم تر سره کـړې کیـدای شـي پـه ځانګړو شرایطوداهم ددندي یوډول وي »

مهاتما ګاندي

« که موږددې ترمنځ توپیروکړای شوچې موږ څه کوو اویاد څه کولو توان لرو،پـه دې توګه کیدای شي چې دنړۍ ستونزې په یوه خوا اوحل شي » .

مهاتما ګاندي

« په یوڅه باندې باور اودهغه بیا نه ایله کول رښتیاینه نه ده».

مهاتما ګاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

« په میړانې سره رښتیانی زغم ان دتیړو زړونه هم سوځوي او هم یې ویلې کوي »
مهاتما ګاندي

« ترهرڅه لومړنې زغم اوتحمل د فکرزغم اوتحمل دی ».
مهاتما ګاندي

« زه تشدد ردم ځکه کله چې هغه دښو کړوپه وړاندې راڅرګندیږي ،ښــه کــړه پــه داسې حال کې موقتي وي،اوشیطانې کړه یې په وړاندې دایمی کیږي ».
مهاتما ګاندي

« مهاتما ګاندي راغی او دهنددملیونو په دروازه کې ودرید،ځان یې لــه دوی څخــه یووباله ، دوی ته یې ددوی په ژبه خبرې وکړې ... ځوک چې په تلپاتې توګه دهنــد دېراخوپرګنو له خوا په درنښت ومنل شو. رښتیا رښتیا پاځوي.
رابیندرانات ټاګور

« زړورتیا، واک ته رسیدل ،اتلولي اوپردې ټولو برسیره ځان تیریدنه هغه وړتیــاوې دي چې زمونږ لارښوونکي یې باید ولري».
مهاتما ګاندي

« پیاوړتیا له فزیکی وړتیا څخه نه رامنځ ته کیږي، بلکه هغه دپیاوړې ارادې بریاده».
مهاتما ګاندي

« مونږ پریږدئ چې په پوره اندازه میړني ووا په تلپاتې توګه مړه شو،خو یوڅــوک هم مه پریږدئ چې ددغه تلپاتي په لورګام واخلي ».
مهاتما ګاندي

« دبیان او قلم آزادي دخپلواکۍ بنسټ دی »
مهاتما ګاندي

« که چیرې په دویم کس چې ته یې ګورې دخدایي نښې ونه ګورې ، دهغــه پــه تمــه کیدل دوخت خرڅول دی ، راتلونکې ته یې ګورئ ».
مهاتما ګاندي

« خوشالۍ هغه مهال ده چې کله یوڅوک څه فکرکوې ، څه وایي اوڅــه پــه هــم غاړۍ سره ترسره کوې ».
مهاتما ګاندي

« دهرچا خپل مذهب دهغه اودهغه دهستوونکي ترمنځ خبره ده، نه دنورچا»

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهاتما ګاندي

« که زه دیوه لیوني سړي په ګولۍ باندې ووژل شم ، زه باید په هغه شیبه کې وخاندم . په هغه حال کې به په ماکې هیڅ ډول قهرنه وي، خدای به زما په زړه اوشونډو باندې وی.خوته له ماسره یوه ژمنه وکړه چې : که داسې څه واقع شي چې یوه اوښکه دهم توې نه کړې ».

مهاتما ګاندي

« سوراج (خپلواکي ) د ویښواوبیداروخلکو له پاره ده ، نه دخوبولیواو بې پرواو لپاره»

مهاتما ګاندي

« ګاندي په سیاسي تاریخ کې یوبې ساری څوک دی،موږ نیکمرغه یو اوله تقدیرڅخه مننه کوو چې یوچې پرموږ یې دغه دعصررڼا ولورله ،هغه چې دنویونسلونو له پاره به یوه رڼا اوالهام وي »

البرت انشتاین

« هغه به ماته پیاوړتیا راکړي اوماته به لار راوښیي ،ترټولوپیاوړي وسله دزړه اونفس خفي عبادت دی ، ځکه نو دسولې اوآرامۍ شتون تل په خدای کې دی ».

مهاتما ګاندي

« غواړم چې دټولو وچوکلتورونه چې څومره شونې وي زما پرکورباندې خپل سیوري په آزادۍ سره راوغوړوي ،خو زه به کله ځان ته داحق ورنه کړم چې خپله پښه دچا په لورچې زما دمبارزې خنډشي وراوږده کړم» .

مهاتما ګاندي

« که زموږ موخه داوي چې دغې نړۍ ته رښتینې سوله وښیو، که موږ په دې برلاسي شو چې دجګړې پرضد رښتینې جګړه پرمخ بوځو، زموږ له پاره وړده چې له ماشومانودزړه خبرې پیل کړو».

مهاتما ګاندي

« هغه اتلولي چې په تشدد سره ترلاسه شي دهغې پایله ماته اولندمدتې ده».

مهاتما ګاندي

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماخذونه :

قرآن کریم ، (سیقول ، ۱۵۲ او ۱۵۳ ایاتونه ))۱(
(۲) انجیل ، ( رومن ۱۲. ۱۶. ۲۱ )
(۳) نیتیرا کایام نتیا ، دجن مذهب لاربښونکی کتاب ، ۲۰۳ مخ
(۴) بنګلا ادب ، ( په اردو ژبه )
(۵) حمزه شینواری ، کلیات ، دکابل چا پ ۱۳۸۷ .
(۶) مولانا ، مثنوي معنوي ، تهران چاپ نیکلسو)ن
(۷) اشرف خان هجري ، دیوان دپیښور چاپ ،
(۸) عبدالغفارخان ، زما ژوند اوجدوجهد ، دکابل چا پ ۱۳۵۹
(۹) نیکلسون ، رینولد ، اسلام وتصوف ، ترجمه محمدحسین مدرس نهاوندي ،تهران ۱۳۴۳
(۱۰) سید شاه حسین احمد ، تصوف عهد بعهد ۲۰۰۱ ( په اردو ژبه ) پتنه بهار،
(۱۱) ضیا الحسن فاروقی ، شهید جستجو داکترذاکرحسین،( په اردو ژبه ) ډیلی .۱۹۸۸
(۱۲) رحمان بابا دیوان ، دکابل چاپ (۱۳۵۶) .
(۱۳)تاریخ هندوستان ( رود کوثر ) ، ډیلی ، ۱۹۹۸،
(۱۴)بی آر ننداا ، مهاتماګاندي .(په اردو ژبه ) ډیلی ۱۹۸۶.
(۱۵) کیخسرو اسفندیار دبستان مذا هب چاپ تهران ۱۳۶۲

(16) Majumdar ... An Advance History of India.

(17) S.P. Kanal , Quest for trust , New Delhi , 1976 P 738)
(18) Calvin Kytle Gandhi Soldier Of Nonviolence 1982. P 93 U.S.A
(19) Gandhi .M.K An Autobiography introduction P. 11
(20) Mahatma Gandhi, What is Hinduism? 2004 New Delhi
(21) R .Tagore, GITANJALI , 2000 New Delhi
(22) Yogi Philosophy , by Yogi Ramacharaka, Bombay 1977.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Mahatma Gandhi, New Delhi, 1945. (23) Select Works of

(24) Select Works of Jawaharlal Nehru New Delhi , ?

(25) Anwar Sheikh ,THE VEDIC CIVILISATION , U.K 2003 .

(26) Encyclopedia Britannica ( 23 Volumes) 18 edition

(27) The Bhagavad-Gita New Delhi , 19977

(28) Young India , Ahmadabad Wednesday 11th August 1920.

(29) B.S.Upadhyaya. FEEDERS OF INDIAN CULTURE. New Delhi 1989.

(30) India perspectives (magazine from external ministry of India) Jan - Mar , 2008

(31) Washington post , march 30 , 2008 ,

(32) Hindustan Times , August 15 2010

(c) ketabton.com: The Digital Library

## About the Author :

"Professor Abdul Khaliq Rashid was born in 1957 in g Ghazni (Afghanistan). He had his early education in the historical city of Ghazni and left for Kabul for higher education in 1975. He obtained his Master's degree from the University of Kabul in 1979. He has attended international seminars in Uzbekistan, Tajikistan, Turkmenistan, Pakistan and India. Professor Rashid is a prominent figure in the world of Pashto and Dari Studies. Presently he is a Visiting Professor in the Center of Persian and Central Asian Studies in Jawaharlal Nehru University, New Delhi wherein he has developed the Pashto Programme of study up to Advanced Diploma and B.A levels. He is keen to promote Indo-Afghan relation in academic and cultural spheres. He is deeply interested in Sanskrit studies. He has authored several books and research articles pertaining to Pashto and dari studies. His works include; Criticism in Pashto, Resistance Literature in Pashto, History of Pashto Criticism, and he has translated Megkhdutam and Vikram Urwasiya of Kalidas in to Pashto and Dari. He has penned five collections of short stories and four novels in Pashto. Professor Rashid has been awarded a Ph.D. degree by Jamia Millia Islamia; New Delhi on his outstanding work: 'Iqbal's Contribution to Afghan Studies.' He is indeed a devoted scholar, amicable colleague and a loving teacher."

(c) ketabton.com: The Digital Library



**له تارا ګاندي (دګاندی لمسی) سره د لیکوال عکس**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی


د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (میرحمزه سامزي) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



# MAHATMA GHANDHI
## Life, Thoughts and Struggle

BY:PROF. ABDUL KHALIQ RASHID

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۱۸

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**